د آزادی په تلاش



Download from:aghalibrary

اکبر شاه میا بدر بنی

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033267 5

د آزادۍ په تلاش

اکبر شاه میاں
بدر نبی

PROPERTY OF ACKU

Download from:aghalibrary

بیا چاپ :
د قومونو او قبایلو د چارو وزارت
د نشراتو او فرهنګی چارو ریاست

۱۳۶۵

زه ددې کتاب ټول د تحریک آزادۍ د ښځه ملګرو په نوم کوم چا چې د ملک د ننه
او بهر د وطن د آزادۍ د پاره ځاني او مالي قربانی ورکړې دے

«اکبر شاه»

ACKU

Download from:aghalibrary

دیباچه

«د آزادی په تلاش» د پښتو ادب په ګلدسته کې دیوې سفرنامې په حیث ارزښتناک او د قدر وړ ګل دی چې ادبي مقام او حیثیت څخه یې انکار ممکن نه دی، لیکن دا د نثریاتو اکتساب یو تاریخي، سیاسي ارزښت او قیمت هم لري چې بشپړ څیړنه یې اوږدې بحث ته ضرورت لري. مګر چونکه میا اکبر شاه چې دنومورې کتاب مولف او د دې ټولې سفرنامې مرکزي کردار دی او هغه د هندستان د آزادۍ د نهضت او د پښتنو د ملي بیداري په یوه تاکلي مرحله باندې شوروي اولس ته د خپل وطن او خلکو د آزادۍ په تلاش کې وتلی دی، نو ځکه زه لازمه بولم چې په لنډ دول هغه بهرنیو او دننیو عواملو باندې د پس منظر په توګه رنا واچوم کوم چې له کبله چې میا اکبر شاه مجبور شو، د هغه تاریخي ویاړلي سفر ته ملا وتړي او د هندستان د ملي - اجتماعي آزادۍ غوښتونکي نهضت کې او په تیره بیا د پښتنو په ملي انقلابي نهضت کې د هغه شان په پښتو ادب کې خپل نوم ثبت کړي.

د پیړنګي استعمار د منګولو څخه د هندستان د آزادولو هڅې د هغه د رڼې څخه پیل شوې څه وخت چې استعمار د هند خلک (د بنګال خلیج څخه د اخلې تر خیبره پورې) غلامان کړل او د هغوی په طبعي او انساني شتمنیو باندې قابض شو، شلمه پیړۍ چې د انقلابي بدلونونو او د ملي - اجتماعي نهضتونو د پیرپوړې وه - پیل کیده او سره په هند کې هم د آزادۍ څپې موج راپورته شوا و کورنۍ پښتانه چې تر اوږدې

مودی پوری یې وسله والی روایتی مبارزې کړی وی، هم دوه غه بدلون نه یې تفاوته پاتې ټشول اوا ولږ زیدل . په روسیه کې روانو انقلابی پېښو او په خصوصیت سره ستر سوسیالیستی انقلاب دمتولې نړۍ غوندې آبرتانوی هندوستان باندې هم ژور اثرات واچول .

هندی انقلابیان حتی د سوسیالیستی انقلاب څخه د مخه هم د بلشویکانو د انقلابی مبارزو تر تاثیر لاندې راغلی وو او په هغوی کې ځینې کسانو چې د هند څخه بهر د ملی انقلابیانو برلین کمیټی کې منظم وو، په ستاک هولم کې د بلشویک ګوندسره تماسونه ټینګ کړی وو او حتی ځینې کسانو یې هڅه کړی وه چې د بلشویک ګوند موسس اوربرولادیمیر ایلیچ لینن سره مخامخ وویني اګرکه په دې لړۍ هغوی بریالیتوب کې کامیاب شوی نه وو .

څه وخت چې په روس کې ستر سوسیالیستی انقلاب بریالی شو نو د هغه تر تاثیر لاندې هندوستانې انقلابیان دې ته اړشول چې د هند د آزادۍ د پاره نوې لارې چارې ولټوي . د دغو د جملې څخه لاندې د ول انقلابیانو شوروی روسیې ته مخه کړه او دیرو یې مارکسیزم - لینینزم خپل کړ :

(۱) هغه هندی ملی انقلابیان چې د لومړنۍ جهانی جنګ په دوران کې جرمنی، امریکا، ترکیې او افغانستان کې په فعالیت بوخت وو چې یا د برلین په کمیټه کې تنظیم وو او یا یې په کابل کې « د آزاد هند موقتی حکومت » کې کار کولو او بیا د روسته د اکتوبر انقلاب تر اغیزې لاندې راغلل لکه و . چټوپادیایه ، مولوی برکت الله ، ایم . پی . بی پلی ، اچاریه ، ایم . این . رای ، ربانی مکرجی او نور .

۲- هغه ملی انقلابیان چې د پان اسلامی خلافت نهضت پورې تړلی وو د ۱۹۱۴ - ۱۹۱۶ کې د بهر دنیاته لاړل او یا یې د هجرت په نهضت کې ګډون وکړ

اودبلشویکانو دبریالیو مبارزو ترتاثیر لاندی بول شول لکه محمد علی سیاسی، رحمت علی خان، داد افیروزالدین منصور، عبدالمجید، خوشحالخان کاکاجی، شوکت عثمانی، میااکبر شاه اونور.

۳- غدر پارټی چې په امریکا کې پنجابی سیکانو کارګرانو له خواجوړه کړی شوی وه، هند کې د ۱۹۱۵ کال دناکام پاڅون په نتیجه کې رنګه شوه اوځه موده وروسته پس دسنتوخ سنګھ (جنرال سکرتری)، اورتن سنګھ له خوا سره دوباره منظم شوه او ۱۹۲۲ کال کې - کمونیستی انترناسیونال سره په تماس شوه.

۴- د دغه انقلابیانو څخه ترټولو مهم ګروپ په هندوستان کې وو چې د کانګرس چپ اړخ، بیلابیلو تروریستی سازمانونو، خلافت نهضت او پنجاب کې اکالي نهضت چپ اړخ سره بې تعلق درلود. یا هغه ګروپونه او افراد وو چې د ګاندی جی د عدم تشدد فلسفی نه بیزاره شول او یا په آزادانه دول علمی کمونیزم خواته متمایل شول چې د هندوستان په بیلوبیلو ځایونو کې بې مختلف کمونیستی ګروپونه جوړ کړل لکه د انګی (بمبی)، سینګاراویلو (مدراس)، مظفر احمد (کلکته)، اولاهور کې انقلاب ګروپ.

هسې خو د هند کمونیست ګوند د ۱۹۲۵ کال د دسمبر ۲۶ نیټه د خپل تاسیس دورځې په حیث ګرځولی دی، مګر اصلاً دغه ګوند په تاشکند کې د اول ځل د پاره د دوهم انترناسیونال نه پس د عبدالرب پیښوری او اچاریه په تینګار د ۱۹۲۰ کال د اکتوبر په اوومه نسمه (۱۷) د ایم. این. رای (اصل نوم: نریندره ناتاچاریه) او د بانی ګرجی له خوا تاسیس کړی شوچې په هغه کې اکثراً د افغانستان د ولایتونو څخه راغلو هندو مهاجرینو برخه واخیسته چې د خلافت نهضت زیږنده وو او چاچې غوښتل دارالحرب (هند) پریږدی، ترکیې ته لاړشی او هلته د کمال پاشا په پوځ کې برتی شی او انګلیسی

استعمار پرضد مبارزه وکړی.

دد غه کسانو څخه چې پې دګوند د غړیتوب ویار ترلاسه کړو، یومیا اکبر شاه هم و، او نورغړی پې شوکت عثمانی، غوث الرحمان سلطانمحمد میرعبدالمجید دادافیروزالدین منصور (وروسته د غربي پاکستان د کمونیست ګوند جنرال سیکرتری)، فدا علی ذاهب اولږه مودې وروسته رفیق احمد، حبیب احمد سلیم، فضل الهی قربان، عبدالله صفدر، محمد علی اورحمت علی ذکریا وغیره وو. د هند کمونیست ګوند د ۱۹۲۵ کانپور کنفرانس خپله تاسیسي غونډه ځکه تاکلی ده چې په دغه کنفرانس کی لومړنی باقاعده مرکزی کمیته انتخاب، اساسنامه مرامنامه جوړه شوه. لیکن ددی باوجود تاشکند کې د هند د کمونیست ګوند تاسیس خپل ځان ته تاریخی اهمیت لری او د هند د انقلابی کمونیستی جنبش کې یوزرین باب جوړوی.

کوم خلک چې د هندوستان څخه بهر په مبارزه کی اخته وو، فقط فراریان نه وو بلکه په ربښتیا سره پی غوښتل چې خپل وطن آزاد او آباد کړی. د دوی څخه برلین کمیته چې په داسی وخت کی جوړه شوه چې په روس کې لاستر سوسیالیستی انقلاب بریالی شوی نه و او د داسی کسانو څخه جوړه شوه چې هغوی پدی مفروضه باندی عمل کولو چې «زموږ دښمن (برتانیه) دښمن (المان) زموږ دوست دی»، او چونکه په اولنی جهانی جنګ کی د آسټریا - جرمنی سامراجیانو برتانوی امپریالیستانو خلاف د جنګ اعلان کړی و نو د دوی د اطمع بی ځایه نه وه چې جرمنی به هغوی سره د برتانوی استعمار پرضد جدوجهد کی وسله والـه مرسته وکړی. د دې حقیقت په رنا کی برلین کمیته منځته راغلی وه او په کابل کې «د آزاد هند موقتی حکومت» مشر تابه ورسره باقاعده

په تماس کی وُ.

کابل کی «د آزاد هند عارضی حکومت» (۱۹۱۵-۱۹۲۲) دوی خلکونه جوړوُ: راجه مهندر پرتاب (جمهور رئیس)، مولانا برکت الله (صدر اعظم)، مولانا عبیدالله سندی (کورنیو چارو وزیر)، مولوی بشیر (وزیر جنگ)، چمپا کرامان پیلای (بهرنیو چارو وزیر)، شمشیر سنگه مشهور په ماتور سنگه، خدا بخش، محمد علی (وزیران)، اونور غړی بی رحمت علی ذکریا ظفر حسن، الله نواز، هرنام سنگه، گوجر سنگه مشهور په کالو سنگه، عبدالعزیز، عبدالباری اونورو وو.

کابل کی دعارضی هندی حکومت مشر راجه مهندر پرتاب غوښتل چی جرمنی ته لاړشی، برلین کمیټی سره وویني او د المانیا نو څخه وسله داخلی او د پښتنو قبایلی سیمو او پښتو نخوا دلاری برتانوی هند پرضد آزادی مبارزه پیل کړی، مګر په روس کی د زار (ځار) حکومت ورته اجازه ورنه کړه چی دروس دلاری جرمنی ته لاړشی. د زار شاهی نسکورید و نه پس د فروری بورژوا - دموکراتیک انقلاب د بریالیتوب نه وروسته کریسینکی حکومت هم دنومورې خواست ونه مانه. فقط په روسیه کی د انقلاب څخه وروسته بلشویکانو ورته اجازه ورکړه او د مرستی لاس یی ورته وغځاوه.

د راجه مهندر پرتاب ترمشری لاندی لومړنی نماینده هندی هیئت شوروی روسیی ته لاړ او لینن سره یی ملاقات شرف وروباخښه. دی هیئت کی مهندر پرتاب نه علاوه مولوی برکت الله، مولوی عبدالرب پیشاوری، پراتیوادی بابا نګر تړل اچاریه، دلیپ سنګه گیل او ابراهیم (پښتون) شامل وو. وییل گیږی چی دی بیات د شوروی روسیی او افغانستان ترمنځ په روابطو کی دلانړه یکت پیدا کولو په لاره کی خپل رول هم ولوبا وه.

د ثلثة مولوی برکت الله د ملګری چیچرین په خواست «بلشویزم او اسلام» ملتونه» ترنامه لاندی رساله هم ولیکله چې په هغې کې یې په دلایلو ثابته کړې وه چې بلشویکان او هغوی فلسفه د اسلامی ملګرتیا په خیر تمامیزی او دا چې مسلمانان باید د امپریالیستانو د تبلیغاتو په چال کې و نه ښلي.

هغه خوا په هند کې د آزادی نهضت اوج مونډلی و. ۱۹۱۹ کې ګاندی جی د رولټ ایکټ (د دموکراتیکو آزادیو د لامحدود قانون) خلاف د ساتیا ګراهی د نهضت پیل کړی و د پارهٔ عزګرۍ و. پنجاب کې د جلیانوالا باغ - تراژیدی چې په هغې کې زرګونه آزادی غوښتونکي هندیان د انګریز پوځ د لاسه قتل عام شوي وو، منځ ته راغلی وه. د کارګرانو اعتصابونه او هړتالونه روان وو.

۱۹۲۰ کې کانګرس د سوراج (خپل راج، خپل حکومت) نارې پورته کړه او د دې نه وروسته ګاندی جی خپل مشهور تاکتیکونه غوره کړل او کانګرس یې د رښتیا سره په یو عوامي او توده ای سازمان کې بدل شو. د غه نهضت چې د سوراج د پارهٔ، پنجاب کې د ظلم او تشدد خلاف او د خلافت جنبش په حق کې یې په درې ګونو شعارونو را پورته شو، دیرزر خپور شو او په هندوستان کې یې ساری هندو - مسلمان د وحدت علامه وګرځید.

انګریزي استعمار چې او د ترکیې عثمانیه خلافت د ری وری کړ یعنې مکه او مدینه د ترکی د سلطان د لاسه ووتل. دې حقیقت په هندوستان کې مسلمانان را و پاروول چې ګاندی جی او کانګرس یې ملاتړ وکړو او د غه شان د خلافت نهضت پیل شو. د خلافت نهضت په نتیجه کې د هند څخه افغانستان ته هجرت نهضت وزیږید او لسونه زرګونو (دیرش نه واخلی تر پنځوس زر و پوری) مسلمانانو -

افغانستان ته هجرت وکړ. په دغو مهاجرو کی یو میا اکبر شاه هم و.

دغه دوران کی په پښتنو کی هم دباچا خان او حاجی صاحب د ترنګزو په مشری کی د پښتو اصلاحی او سماجی نهضت روان شوی و، پښتانه د سیاست په ډګر کی د سیاسی - انقلابی نهضت ته دور دا خلید و په دې دلیل کی وو. باچا خان هم د هجرت نهضت سره ملګرتیا وکړه او پخپله افغانستان ته راغی چی د هغی جریان هغه «زما ژوند او جدوجهد» کی بیان کړی دی.

دلته زه دا بحث کول ضروری نه ګڼم چی څنګه د خلافت له منځه تللو نه پس د ترکیی مسلمانانو آزادی واخیسته، سلطنت یی د همیش د پاره لغوه کړ او یو سیکولر، آزاد او شوروی دوست حکومت یی منځ ته راوست. البته د ترکیی پیښو چی کوم نهضت په هندوستان کی پیدا کړو او بیا د هغی په نتیجه کی مهاجرت وشو چی د هغو مهاجرینو څخه ځینی کسان (انیانه واخلی تر ۲۰۰ پوری) شوروی روسیی ته لاړل، کمونیست ګوندیی جوړ کړ، سیاسی او نظامی درسونه یی ووی او بیرته هند ته راغلل او د هند انقلابی نهضت په تاریخ کی یی نومونه ثبت شول. د دغه مهاجرت کیسه میا اکبر شاه پخپله کتاب کی په مفصل دول ښکلی ده او زه پری تبصره کول بی ځایه بولم ځکه چی لوستونکی به یی پخپله ولولی.

روس کی د سوشلست انقلاب نه وروسته انګریزی استعمار - چیانو د ایران، ترکستان سرحد دلاری د مشهد څخه ګلګت چترال ترکستان سرحد دلاری د کاشغر څخه په شوروی ترکستان کی وسله والی مداخلی تنظیم کړی، مګر دیر زر یه دغه ناوره کار کی پای ته راغلل نو بیایی وغوښتل چی هندوستان خصوصاً پښتنی سیمی د انقلابی نظریاتو او افکارو د تاثیر نه لری وساتی. د دی غرض د پاره یی په ۱۹۱۹ ع

هندوستان په مرکزی سطح اوصوبایی سطحو CID (مرکزی استخباراتی دیپارتمنت، کی دا ینتی بلشویک دیپارتمنت ترنامه لاندی بلشویک ضد شعبه جوړه کړه د دغه شعبی کارتول انقلابی فعالیتونو باندی څارنه او دهغو څخنیوی کول وو. څه وخت چی په کوزه پښتونخوا کی د خدایی خدمتگارو نهضت منځ ته راغی او خدایی خدمتگارو د خپلی مبارزی سری جامی اغوستل شروع کړل او د انگریزی استعمار له خواجوړی د غه شعبی پری د خپلو تنخواخورو ملایانو اوپیرانو په ذریعه د بلشویک ایجنټانو تورونه او د کفر فتوی ولگولی، د غه راز چی میا اکبر شاه او نور ملگری یی بیرته راستانه شول نو د د غه دیپارتمنت له خواجورشوی د «پینورد سیس محاکمه» کی راگیراوسزا کړل شول.

«د آزادی په تلاش»، چی د هغی نه په یوه تاکلی تاریخی مرحله باندی د پښتنو اجتماعی ـ سیاسی شعور د راخرگندیدو اندازه لگی او شوروی سره د پښتنو او افغانستان د نزدی والی او پیوستون اظهارتری کیږی، د میا اکبر شاه یو تاریخی شهکار دی چی د پښتنو انقلابی مبارزو په بهیر کی څان ته مخصوص مقام لری او مولف یی د پښتنو انقلابیانو په اولنی قطار کی و درولی دی.

زه د افغانستان د موکراتیک جمهوریت څخه او په تیره بیا د قوم نو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنگی چارو ریاست څخه د دی ارزښتناک کار یعنی «د آزادی په تلاش»، دیبا چاپولو له کبله مننه کوم او د ورته د اسی آثارو په راژوندی کولو مبارکی وایم.

په درنا وی.
جمعه خان صوفی
کابل ۱۹۸۷ د فروری لومړی نیټه

سریزه

په پښتو معاصر ادبي بهیر کې د عصر د غوښتنو، عواطفو، او انساني هوډ په زړه پورې او بیلګه ایزه انځور د غه اثر «د آزادۍ تلاش» دی.

په د غه پرله پسې انساني تلاش کې، هغه تلاشونه او هڅې تر سترګو کیږي چې د غه اثر ـ ترلیکلو د مخه پښتو ادبیاتو ته د سنو مخه نه وه او نه د میاں اکبر شاد غوندې نورو لیکوالو په دې دول اثر باندې د خپل قلم څه نوکه چلولې وه. د غه ژوندۍ لیکوال چې په خپله د هند ذهبي و چې له حاسو او مبارزو زلمو څخه و او تر اوسه لاژوندۍ دی د کولای شول چې په د غه ځانګړې ـ محاله واتن کې د اسې اثر رامنځ ته کړي چې په هغه کې خپلواکي، د رورولي، انسانیت او هنري بنکلاوې ټول سره او دول شوي وي. ځکه د د غې ارتیاشته چې په د غه اثر باندې په تیرو بیا اوس چې زمونږ د معاصرو هنري ادبیاتو په برخه کې خبرې ډیرې خوښوونکې ولیکو:

«د آزادۍ تلاش»، یو په زړه پورې هغه معاصر ادبي اثر دی، چې په اوسنۍ عصر کې هغه باید پښتون له نظره ونه غورځوي. ځکه دا دول هنري بیلګې نه یواځې مونږ په معاصر هنري نشر کې دمامانو جوړې نه مخې ډیر لږ ډې لري، بلکې د هند ذهبي و چې پر تیرو شپیتو کلونو کې بل ځای دا دول اثر نه دی رامنځ ته شوی، د غه اثر که چیرې د شکل په لحاظ او د هنري ځانګړتیاو له مخې وګورو، د لیکنې دول له مخې یوه سفرنامه ده او چې په معاصر ادبي بهیر کې د سفرنامو ډیرې بیلګې لرو، او په دې خاطر چې د د غې ځانګړې هنري سفرنامې د یځ مونږ ته څرګند کړي دي د «زرینې څانګې»، د لیکوال د لیکنې لولو چې لیکي:

«... په نوی بڼې طرز د پښتو لومړنی لیکل شوی سفرنامه د میان اکبر شاه - «آزادی تلاش» دی، چې په عین حال کې دا سفرنامه خوږه په فن پوره، پخه او بوږه نوونکی سفرنامه هم ده ...»

په دې توګه موږ وینو چې هم میان اکبر شاه او هم د ده سفرنامه له ډیرو کتنو سره مخامخ شوی او په اصطلاح له اوو څرندو تېلې ده. نو ځکه دی پوخ شوی او د ده سفرنامه پخه راغلې او پښتو ادب کې دا سفرنامه د کم او کیف له اړخه بې جوړې ده.

د «آزادی تلاش» په پورتنیو لږ څو نورو برېښه دا سیاد بڼه وخت د سیاسي شرایطو او په تېره بیا د هند په نیمه وچه کې د څېلواکۍ غوښتونکي غورځنګ د مبارزینو ډیرا وچت څرګندوی اثر دی. ترکومه ځایه چې دا اثر له محتوا څخه ښکاري نو دا ماناد سړي ذهن ته ورجوتوی چې دا سفرنامه دیوه مبارز اتل د اتلوالي مبارزو سیاسي هنري انځور دی. ځکه کله چې دلیکوال سرېزو لوګو نو هغه هم په دې باب لیکلي: «په ۱۹۱۹ کال کې مالسم جماعت پاس کړو، اسلامیه کالج پېښور کې په یو لسم جماعت کې داخل شوم د دغه زمانې د پاک هند برصغیر کې د انګریز حکومت و... په دغه رڼو کې افغانستان د خپل استقلال د پاره د انګریز پر خلاف پر جنګ مشغول و. زموږ کالج د انګریز د ظالمانه رویې بر خلاف متواتر ې جلسې کولې، موږ د موقع غنیمت وګڼلو صلاح مو وکړه چې د وطن د آزادولو په موقعه ده، موږ څلور ملګري د خپل وطن د آزادی د پاره د تلاش کې ووتو، زموږ خیال وچې موږ به د افغانستان د حملې اور فوج په ملګرتیا کې د آزادی د پاره د جنګ کې حصه واخلو، خو موږ ته نه وه معلومه چې زموږ د آزادی تلاش به تر افغانستان

محمد ودنه وی او د کابل، بلخ، بخارا، سمرقند، تاشکند، ماسکو، باکو، قفقاز او ایران کې د مصیبتونو برداشت کولو نه وروسته زه بېخپل وطن ته په (۱۶) اګست (۱۹۲۲) راستون شم. اګرچې «آزادی، تلاش» ماپه کال ۱۹۲۳ او ۱۹۲۴ کې لیکلی وه خو ترخلویښت کاله می چاپ نه کړی شو ...»

دلیکوال له سرېزی نه موږ په دېرځه پوهیدای شو، دده سرېزه موږته دخپل اثر په زړه کې د مختلفو تولنیزو ټولنیزو روندهندارو راځلوی، داځکه چې «آزادی، تلاش» لیکوال مختلف بنارونه او د مختلفو سیمو اونو خلک دخپل ژوند یالی سفر په ترڅ کې لیدلی دي، همدا وجه ده چې نو موږی اثر په پښتو ادبیاتو کې دېر اهم ځای لري. ځکه کېږی شرایطو له دې سره مرسته کړی وای ممکن دده «اثر به هم مغولو مرنیو کلونو کې خپور شوی وای، خو داکار ونه شو چې علتونه یې بیا هم په خپله دلیکوال په مبارزه او دښمنه په سیاسی څېره کې موندلای او څېړلای شو.

په پښتو معاصرو هنری ادبیاتو زما په فکر شاید دا لومړنی لیکل شوی اثر وي چې هسته د محلفو ملتونو د خلکو په تولنیز شعور او تولنیز جوړښت باندی په هنری دول دېرځه لیکل شوي دي. په دغه اثر کې موږ کولای شو د اکتوبر له ستر انقلاب څخه زیاته دی خواته شوروی اتحاد نوی جوړښت، دایران د خلکو حالت، د افغانستان د خلکو تولنیز اړیکې او د هند په ټیمی وچې کې روانې ټینګښتونه «آزادی، تلاش» که په تولنیز لحاظ یو بې ساری اثر دی په هنری لحاظ هم داسې لوړ هنری ځواک په کې کار ول شوی دی چې ان سیاسی مسایل یې هم ډول ډول خوندور کړی

دي په دی مانا چې هم لوستونکی بوږنوی او هم خوند ورښيي . دلیکوال هو راوتینبت خوښوتوکونه دی چې دده ارمان لا اوچت څرګندوي . ځکه میا اکبرشاه او دده ملګری - خوځه ساده مسافران نه وو ، هغوی د اسی سپیځلی سیاسی اهداف درلودل چې دپوره کولو په خاطر یې نه یواځې ملی شعور راو پاراوه بلکی دنړیوالو غورځنګو څپې یې هم راځپاندې کړې ، د مختلفو غورځنګو غږ یې لرخیل اوچت شوی غږ سره ملګری کړی دی . هری سیمی اوهر سیمیزه چې رسیدلی دخپلی آزادی ، ناوی یې په ویر وسختو حالاتو کې هم له یاده نه وه ایستلې ، د آزادی ناوی یې هم غوښتې او خپل اثر ته یې هم رنګینی ورکړی ده . ځکه نو دا دول انځورونه یې هم راانځور کړی دی چې : « ... بحر وختی په تیاره کې باد بانونه پورته شول ، بیړی مخ په قبله روانه دښندر نه وته ، سینه پلن وه ، ماتوکان ګیت کې وه ، ځای پرځای ولاړ مخلی یې کتل اولږ ساعت په قرار شول - بیړی بی فکره یو بلی پسی روانې وې . د سحر باد نرۍ نرۍ چلیده ، ورو ، ورو رنا کیده - او د سینه شنه غاړه رابنکاره کیده ، ... موږ په عجز وانکسار درب لایزال نه په اوچت آواز دعا وغوښته ، خدایه !

زموږ خو وطن آزاد کړې چې موږ هم دنورو قومونو په شان د عزت عمر تیرولی شو ...»

د آزادی تلاش » د هغو تلاشونو نتیجه ده چې د هندو نیمی وچې د خپلواکی په خاطر نه یواځې د هند په نیمه وچه بلکی د منځنۍ آسیا او د [illegible] د سیمو د کی څپاړه شول .

یو شمیر پښتانه مهاجرین د دغه کار په خاطر تر شوروی اتحاد پورې ورسیدل ، کیدای شي د نامتو مبارز راو په شوروی اتحاد کې د تاجکو خلکو د نوی جمهوریت د جوړیدو دلاری نه ستری

کیدونکی څیری نثار محمد خان افغان نوم هم په دغه برخه کې یادکړو . دغو مبارزینو د هند د خپلواکۍ په خاطر د یرې ځان تیریدنې وکالل چې په دغو ځان تیریدونکې میاں اکبر شاه او د دغه مشهور اثر « د آزادۍ تلاش » هم تلپاتې دی .

موږ په خپلو ادبیاتو کې د اثر د انترناسیونالیستي ځانګړتیاوو په زړه پورې بیلګه کتلای شو ځکه چې دغه اصل د معاصر وځیز واد بیاتو به برخه کې په دغه اثر کې د یر ښه اوان لومړی ځای کې شوی دی ، او دغه ځانګړتیا په کې حلیدلې ده . چې د اتو پلې حلې بیا هم د اثر د لیکوال شخصیت سره نه شلیدونکې اړیکې لري .

میاں اکبر شاه په دغه اثر کې د اسې انسان دی چې په پښتو معاصر و ادبیاتو کې لې د انسان دنیکمرغۍ او د انسانی شرافتونو په لور د **انسان تکل** انځور کړی دی . دغه اثر په پښتو ادبیاتو کې لومړنی اثر دی چې په سبغه کې له شوروی تولنې څخه د لینن نوم ، انقلاب ، اکتوبر ، سوسیالیزم او د سوسیالیستي تولنې انسانی اصطلاحات او مفاهیم ټغښتل شوی دي . که چیرې له زیاتو څرګندونو تیر شو نو راځئ یو ځل بیا د دغې **خبرې** یاد ونه : د یو د تاریخي حقیقت ، په توګه وکړو چې پښتنو قبایلو تل له شوروی خلکو سره خپل د رور ګلویزارۍ ټینګ **کړی** . زیاتو پښتنو مبارزینو د اکتوبر د انقلاب په شپو د رځو کې شوروی ته سفرونه کړي ، له سبغوی سره یې د سبغوی په بریاد وکی د ښه دوست په توګه برخه اخستې او هم یې د سبغه د انقلاب له اتلانو سره تجربو څخه ګټه اخستې ده . زمونږ د پښتنو زیاترو مبارزینو لکه خوشال خان کاکاجی ، میاں اکبر شاه ، عبدالاکبر خان او نورو تل سبغه

ACKU

شپیږ

څیړې دي چې شوروی ته د لینین په عصر او د انقلاب په لومړیو شپږو کلونو کې تللی چې خوشال کاکاجي له هغه سره لیدنې کتنې هم کړې دي . او د اپخپل وارد پښتنو او شوروي نورو روسي اولږو یاره یک میراث ګنډای شوچې په همدغې ستري دالۍ سره د دغه کتاب د څېړولو ارتیا رامنځ ته شوې ده .

هو ! د همدغه ستر انساني او ورور ګلویز ارمان په خاطر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د قومونو او قبایلو چارو وزارت د څېړنو او فرهنګي چارو ریاست د څپلې انقلابي ادبي او فرهنګي پالیسي په رنا کې د دغه مهم پښتو اثر په بیا چاپولو پیل وکړچې د دغه کار په پی د پښتو معاصر ادبي بهیر په انټرناسونالیستي اړخ کې یې ساري ګام اوچتول وي .

د راندې د داسي انساني مرغلرو د هلو لو په لور !

پوهنیار خالق رشید

---

*د پښتو ژبې د دغه نامتو لیکوال د ژوند په باب تر اوسه پورې په بره او لرې پښتونخوا کې چاکومه لیکنه ندې کړې . زمونږ په تولوتذکرو کې د دغه ادیب یادونه نه ښیچاندې کړې . یواځې بریښ څپېل اثر کې چې « زرینې څانګې » نومیږي ، د دې د سفرنامې یادونه کړې او هغه هم پې د پښتو معاصر سفرنامو په ډله کې ډیره لږه او په تولو څانګړتیاوو پوره بللې نه دا چې ولې زیاتر و لیکوالو د دې سوانح نه دي ثبت کړې ممکن څېنې ته په لاس نه دي ورغلې او څېنې ممکن د څېنو اید یالوژیکې عواملو پر بنسټ نه دي یکلې .

فهرست

پیژندگلو	ط	ملاقات	۳۵
وطن نه روانگی		نور محمد جرین	۳۷
د مصنف لاره (نقشه)		د جلال آباد نه کابل تر	۴۱
اسلامیه کالج پیښور	۱	مونږ افغانی رعایا شو	۴۱
د اتمانزو نه تنګ	۷	د مولانا خوب	۴۲
د انګریزی برید نه اوړیدل	۹	خاک جبار	۴۳
د دوو برجونو کلی	۱۸	کابل	۴۵
د مهمند وطن	۲۰	قاضی عبدالولی	۴۵
لګړی	۲۲	مولینا عبیدالله سندهی	۴۸
باجوړ	۲۳	محمد شفیق	۵۰
یو وطنی سره ملاقات	۲۴	مولینا عبدالرب	۵۲
ناوګئ	۲۵	افغانستان	
چمرقند او هندوستانی مجاهدین	۲۷	مولوی عبدالرب سره	
د سرفراز خان پښیمانیدل		ملاقات	۵۷
او وطن ته تلل	۲۹	د کابل خوږ باد او خوږی اوبه	۵۹
د کونړ وادی	۳۱	کوه دامان	۶۰
جلال آباد	۳۲	جبل السراج	۶۱
نادر خان سپه سالار سره		امین الله خان مهماندار	۶۲

ACKU

د سرور خان قلعه	٦٤	موږ کنځلی خو و	٩٧
جبل سراج کې د مهاجرینو ژوند	٦٥	د کرنیل سره ملاقات	٩٨
د مهاجرو کمیتی	٦٦	بازار ګئ	٩٩
د مهاجرو فوجی تربیت	٦٧	موږ په بادشاهی لارشوکینو	١٠٠
سعید خان	٦٩	نارین	١٠١
نوی نوی مهاجرین جبل سراج ته راروان	٧٠	یو ملګرے نه موږ نه جدا کینے	١٠٣
افغانستان او انګریز او د ملکی خبرې جبل -		بغلان	١٠٤
سراج باندې شین تنده	٧١	د بغلان کوتوال سره پیښی	١٠٦
حاجی معراج الدین نه موږ		د شینوارو په چراګاه سیزلو	
رهنمائی کوے	٧٣	موږ ته سزا	١٠٨
افغانستان نه د وتلو راهداری	٨٢	یا چار یار	١١٣
د جبل سراج نه موږ پسی د کرنیل		غیبی امداد	١١٥
رئ حکم	٨٥	غور	١١٧
موږ د کلبها نه څرنګ بچ اوخو	٨٦	ایبک	١١٨
د راهداری د کتلو څوکئ	٨٧	تاش قرغان او د راهداری	
د پنجشیر دره	٨٧	څوکئ	١٢٠
زه او صادق د ملګرو نه روستو		د مهاجرو د قافلی خبر	١٢١
پاتی کیدو	٩٢	افغانی ترکستان	١٢٢
خوش آمدید مهمانهای ما	٩٣	مزار شریف	١٢٣
د کوه هندوکش دپاسه اوړو	٩٦	مزار کښی نه موږ کرنټاری	١٢٤

ج

شین ستر کی مسافر ۱۲۶
سرفراز خان اوسکندر شاه حوالات ۱۳۰
کښی بندیان شول ۱۳۱
روسی سفارتخانه ۱۳۲
دسخی سرور صاحب زیارت ۱۳۲
مزار شریف اوبلخ ۱۳۳
سرفراز افندی ۱۳۴
سیاه گرد ۱۳۵
سویټ یونین ترمذ - بخارا
ترمذ ۱۴۱
دترمذ انقلابی کمشنر ۱۴۲
موږ ته فوجی سلامی کیږی ۱۴۳
دکمشنر انقلابی تقریر ۱۴۴
سبحان الله خلفاے راشدین کا زمانه وهی ۱۴۵
زه دنبر اوچیچلم ۱۴۸
تفریح طبع ۱۴۹
دترمذ نه رخصت ۱۵۱
د جنگ بوے راغلو ۱۵۳
کلف ۱۵۳
موږ دترکانانو لاس کښی بندیان شو ۱۵۴
دروسیان موولی راروستی دی ۱۵۵
"هائیکو یا الله" ۱۵۸
سرای نظام بیک ۱۶۰
په سختی کښی دبنده خدای رایاد شی ۱۶۱
زموږ امتحان ۱۶۲
موږ ته نه سزاے موت راکیدے شی ۱۶۴
موږ ته بیا غیبی امداد راورسی ۱۶۷
موږ بخارا ته روانیږو ۱۷۰
په موږ بیاد مرګ سختی راغله ۱۷۳
دترکمانانو په کیمپ کښی ۱۷۵
دکلانتر په زمکه زمینداره کوو ۱۷۹
عبدالرحمن قتل کیږے ۱۸۰
اخون په اصلی رنګ کښی راښکاره شو ۱۸۲
بیاد جنګ خبر راغی ۱۸۴
داخون نه تیښته خو مجبوراً بیرته راتګ ۱۸۹
دبوسو په کوته کښی بندیان شو ۱۹۱

ACKU

دبرسود کوتی د بند نه خلاص شو ۱۹۴
د آموسیند غاړه ۱۹۶
موږ نوی جدیدی فوج ته ۱۹۹
اورهسیدو ۲۰۲
کرکی تر روان شو ۲۰۴
د کرکی چهاونړے ۲۰۴
د کرکی کمشنر ۲۰۴
موږ ترکمانانو سره جنګیږو ۲۰۶
لطیف تاتار ۲۱۰
لطیف پروپیګنده شروع کړه ۲۱۵
زه ناجوړه شوم ۲۱۷
جنګ او تفریح ۲۱۸
د کرکی نه رخصت ۲۲۲
چارجوے ۲۲۷
مهاجرو کښی بیلتون راځی ۲۲۹
سرم له سپین ږدک دے ۲۳۲
د آموسیند غاړه ۲۳۳
بخارا ۲۳۴
د بخارا انقلاب ۲۳۵
د بخارا تعلیمی حالت ۲۳۷
د انقلاب تحسنه ۲۳۹
بخارا کښی د افغانستان سفیر سره ملاقات ۲۴۰
تاشقند ۲۴۱
هند وستانی انقلابی مشران ۲۴۲
ایم. این. رای ۲۴۳
مولانا عبدالرب ۲۴۵
مولانا فضل حق ۲۴۶
تاشقند کښی زموږ د پاره د هوائی جهاز ونو مدرسه ۲۴۹
هند ے فوجی سکول ۲۵۳
زموږ عام شروند ۲۵۵
د ترکستان اقتصادی حالات ۲۵۶
ترکستان لنین اکیډیمی ۲۵۸
اکبرخان غیب شو ۲۶۱
د جونړې هیلو د نړی سره محبت ۲۶۵
باکو ۲۶۶
د چهارجوے جدا شوے یارانو سره بیا ملاقات ۲۶۷
په مصطفی کمال پاشا د بم حمله ۲۶۸

ACKU

ھ

د باکو کانفرنس ۲۷۲
د باکو بنار ۲۷۴
د سوویت د ناکه بندی اثر ۲۷۶
ایم. این. رائے راته نعم البدل پیش کړو ۲۷۸
تاشقند کښی فټ بال ۲۷۹
تاشقند کښی زمونږ تفریح ۲۸۰
د ترکستان د آزادے کلیز پریږد ۲۸۴
روس ۲۸۶
ماسکو ۲۹۱
مشرقی یونیورسټی ۲۹۲
د ماسکو موسم ۲۹۵
ماسکو کښی د قومی خدمت جذبه ۲۹۶
سوویت روس کښی د جسمانی ورزش مهم ۲۹۷
قحط ۲۹۸
د سوویت نوے اقتصادی پالیسی ۲۹۹
ماسکو کښی زمونږ اخرے ورځی ۳۰۱
آسیا اسیان ۳۰۴
وطن ته د واپسی تکل

وطن ته ستنیدنه ۳۱۷
نړیوی یف سره ملاقات ۳۱۹
پیټرګراد ته روانګی ۳۲۰
د ما سخته پیانو، باجه او کډا ۳۳۰
د آسایان تصویر ۳۳۳
د ماسکو نه روانیدو ۳۳۵
خارکوف ۳۳۶
منزلنی وادے ۳۳۸
د ګاډے کار پیدا کښی ملاسته ۳۴۰
د تهران د روسی سفیر د بنځی سره ملاقات ۳۴۲
باکو ته رسیدل ۳۴۳
ګولایت (سیل) ۳۴۶
د ودے ۳۴۸

د سنجر د پردے برخلاف احتجاج ۳۴۹
د باکونہ لاړہ موندل کوان شو ۳۵۰
د باکونہ تفلس تہ ۳۵۲
د نمایندگانو کانگرے ۳۵۳
تفلس ۳۵۵
اروان ۳۵۷
ارمنستان کښی قحط ۳۵۹
انقلابی ریل گاډے ۳۶۱
دانجنړې رائیورتہ بلدے ۳۶۲
نقشبند او ایرانی شرلی شوے
انقلابی کمیتی ۳۶۴
بیرتہ باکوتہ ۳۶۵
د شرابو نشہ او انقلاب ایران
ژوندہ باد! ۳۶۷
بیا تفلس ۳۷۰
بیا باکو ۳۷۱
مجید او دھغہ ملگرے ھم
بیرتہ راغلل ۳۷۲
سلیمان ذکریا ۳۷۵

ایران

بندر انزلی ۳۷۹
جوانر ۳۸۳
گیلان - رشت ۳۸۶
مرزا کوچک خان او رضا خان
سالار ۳۸۸
د کوہ البرز پہ لاړو کښی
ایسار ہیدل ۳۹۱
بین الاقوامی جمع ۳۹۲
پہ خپلہ خپلہ ژبہ کښی
سندرے ۳۹۴
گدا ۳۹۸
بیگم تمباکوف را پسی
را اورسیدہ ۳۹۹
موټر مخکښی نشی تلی ۴۰۲
پہ اسونو سورلی ۴۰۲
د ایرانی کرسی لاندی شپہ ۴۰۲
قزوین کښی د آغا ے کلان تجا
گرفتاری ۴۰۴
تجارتی سفیر ھندوستانیانو تہ

ACKU

ز

شیطانان والی ٤٠٥
په قزوین کښی افلاس ٤٠٧
طهران ٤٠٨
آغا سالار رضا خان او د
ایران سیاست ٤١١
د روسی سفیر له خوا آغا سالار
تر دعوت ٤١٢
د ایران د تباهی اسباب ٤١٣
د طهران معاشره ٤١٥
د نهمو جلوس او اقتصاد ے
مطالبات ٤١٩
د شیخ السلام جواب ٤٢٢
متاع یا صیغه ٤٢٤
په ایران کښی شهری آزادی ٤٢٥
سلطان محمد علی خان ٤٢٧
صوفی صاحب ٤٢٨
د ایران فوج ٤٣١
فوجی کلیزه دستوره ٤٣٣
د ایران صنعتی ترقی ٤٣٤
تعلیم ٤٣٥
تهیتر او سینما ٤٣٦
د طهران نه روانیدل ٤٣٧
قم ٤٤١
اصفهان ٤٤١
امپیریل بنک آف پرشیا ٤٤٤
سراب خوری ٤٤٦
د اصفهان نه روانیدل ٤٤٨
یزد جرد (گرد) ٤٥٠
د طهران نه تر شیرازه
سړک ٤٥١
شیراز ٤٥٣
د شیراز نه تر بوشهره ٤٥٨
کازرون ٤٦٣
د قافله سالار افسر ے خیمه
کښی میلمه شوم ٤٦٥
اووم پړاو ٤٦٧
براز ون ٤٧١
شیخ محمدی ٤٧٣
بوشهر ٤٧٨
حاکر فنارې ٤٨١
د حوالات نه تیښته ٤٨٤

ACKU

ح

خلیج فارس

د بوشهر نه وطن ته ۴۹۵
د ایران په پریښو خفه شوم ۴۹۸
د جهاز په تخته ۵۰۰
د دویمی درجی ټکټ ۵۰۱
د جهاز سیکنډ کلاس ۵۰۲
حماد ملګرو په خپلو کښی جنګ ۵۰۴
مسقط ۵۰۷
بحیره عرب - د بلوچستان غاړه ۵۰۸

خپل وطن

د کراچی بندر انړه څرنګ بچ اوخم ۵۱۱
د افغانستان یو هزاره اوپیژندم ۵۱۲
په کراچی کښی ملاشوم ۵۱۳
کراچی کښی افلاس ۵۱۴
د کراچی نه لاهور ته ۵۱۶
لاهور ۵۲۰
ګوره کان مې په ګټلو اولی ۵۲۱
د سی. آی. ډ سپرنټنډنټ خان- بهادر عبدالعزیز سره ملاقات ۵۲۳
حاجی معراج الدین ۵۲۵
لاهور کښی د سلطان محمد بابو انتظار ۵۲۹
مسجد وزیر خان ۵۳۱
د جهانګیر مقبره کې د آمونز صحبت ۵۳۳
پولیس راپسی دے ۵۳۵
بابو صاحب سره ملاقات ۵۳۷
د لاهور نه کلی ته روان شوم ۵۳۹
حماد و پروکسوالی هندو جماعتی ما پیژنی ۵۴۰
زیارت کښی فخر قوم سره شپه ۵۴۲
کلی حماد رسیدو نه اول خبرو ۵۴۳
انړه بندے شوم ۵۴۵

ACKU

پیژند ګلو

په کال ۱۹۱۹ ء کښی مالسم جماعت پاس کړو.
اسلامیه کالج پیښور کښی په یونیورسټی جماعت کښی
داخل شوم. دغه زمانه کښی دپاک وهند بر
صغیر کښی د انګریز حکومت وو. د انګریز سلطنت په
ټوله دنیا خور وو. مشهوره وه چه "سلطنت انګلیسیه
برتیش ایمپایر (British Empire)، باندِ نمر نه پریوځی."
نړۍ کښی د هر براعظم په څه نه څه حصه د انګریز
حکومت وو. ایشیا کښی د پاک وهند په ټول
برصغیر ئے د اسی ایخ په نیغه حکومت کړلو چه د
اسسټنټ کمشنر نه پاس پاس په هره عهده به یا
انګریز اویا د انګریز د خوښی سړے مقرر وو.
د اول جنګ عظیم قدرتی اثر دا و وچه د برصغیر

خلق راپیدارشول . اوځای پرځای ئی جلسی شروع کړی . خلقو د آزادئ خواهش ظاهرولو.

په کال ۱۹۱۹ ، کښے امرتسر کښے د جلیانوالہ باغ کښے یوه عظیم الشانه جلسه وه. ګوره فوج د جنرل ډائر په رهنمائی توپکو، مشین ګنونو سره حمله اوکړه اود زهرونه زیات خلق شهیدان شو.

د انګریز دَدی ظالمانه عمل اثر په ټول برصغیراوشو. خلق راپیدار شول . اوپه هر کالج کښی طالب علمانو مظاهرے اوکړے . د اسلامیه کالج پیښور طلبا، بے اثره پاتے نه شو . څرنګ به بی اثره پاتے شوے وے. پښتون همیشه د جارح اوغاصب مقابله کړے ده. اودکومی وخت نه چه انګریز د پښتون په وطن قدم اینبی دے. دَهغ وخت نه د انګریز مخالفت کښے پښتنو غزاګانی کړے دے.

په دغه وخت کښے افغانستان د خپل استقلال د پاره د انګریز برخلاف په جنګ کښے مشغول وو. زمونږ کالج د انګریزانو د ظالمانه رویئ برخلاف متواتر جلسی کولے . مونږ موقعه غنیمت اوګڼله صلاح مو اوکړه چه د وطن د آزادولو ښه موقعه ده . مونږ څلور ملګری

ک

د خپل وطن د آزادئ په تلاش کښے اووتو زمونږ خیال وو چه زمونږ به د افغانستان د حمله آور فوج په ملګرتیا کښے د آزادئ په جنګ کښے حصه واخلو خو مونږ ته نهٔ وه معلومه چه د آزادئ تلاش به تر افغانستانه محدود نهٔ وی. اودَ کابل. بلخ. بخارا. سمرقند تاشقند ماسکو. باکو. قفقاز اوایران کښے د مصیبتونو برداشت کولونه وروستو زهٔ به خپل وطن ته په ۱۶، اګست ۱۹۲۲ء راستون شم.

اګرچه "د آزادئ تلاش" ما په کال ۱۹۲۳ او ۱۹۲۴ء کښے لیکلے وو. خوتر څلویښت کاله ېم چاپ نکړے شو. د سفرنه زه په کال ۱۹۲۲ء کښے خپل کلی بڈهنبوته واپس راورسیدلے وم. درے څلورو ورځو کښے زه د سی. آئی. ډی انسپکټر شیخ عبدالعزیز اونیولم او ځان سره ئے پیښور ته بوتلم. زهٔ او ځما ملګرے کوهر رحمان خان. د درویش. سلطان محمد خان د ریحانی. ایم. اے مجید د لاهور. فیروز الدین منصور د شیخوپوره. رفیق د بهرپال او سید حبیب د شاه پور د تعزیرات هند د ۱۲۱ الف لاندِ چالان شو. اوانګریز سشن جج فریزر دوه دوه کاله قید کړو

ل

مونږ پیښور جیل کې د مبنۍ څومیاشتې هره ورځ ۲۵ سیره څلوېښت جوار اوړل . او د نورو کاغذونو په څېړلو کښې مو مشقت کولو. خو پس د څلورو میاشتو د مشقت او مصیبت نه وروسته جیلی هسپتال کښې منشي مقرر کړم . هسپتال کښې بیا هم کله کله مونږ ته اومونډله نو خپل سفر به هم په تحریر کښې راوستلو. قلم دوات کاغذ سائل سخت جرم وو. خو د پیښور د سنۀ وی، هغه به راله د بازار نه کاغذ راوړه اولیکلی او صفا کاغذونه به ئې په خپله د سپښرئ کښې ساتل. د قید پوره کیدونه اول ما د کتاب مسوده پوره کړه ، او د خلاصی نه م وړاندی کوربه لیږلی وه .

کال ۱۹۳۸ء د سابق سرحد صوبه کښې د کانګرس حکومت وو. مونږ د نورو سرحد کاڼی سیاسی کارکنان د غله د هیرکسان تحریک کښې ګرفتار شو ، او قید شو. د پیښور جیل د سنه د قیدیانو ډاکټر خان صاحب وزیر اعلیٰ وو. ډه چې خه رنګ د باهر انتظام بدل کړو د غسې ئے د جیل د سنه د قیدیانو دورځې شروند کښې هم اصلاحات اوکړل. سنۀ موقعه وه ماتر فائده واخیسته. پنسلی مسوده م په صفا کاپئ اولیکله . انګریزی حکومت ظالم او جابر

حکومت وو. نۀ پوهیدم چې څما کتاب به ضبط شي په دی وجه ما د شائع کولو کوشش اونکړو.


په کال ۱۹۴۰ء کښے ما اوځما ملګرو محمدشاه میان ډیرو اوماسټرحاجي محمد ډاکوړی یو خلاف قانون اخبار "د جنګ بګل" شائع کولو. سی.آی ډی د اخبار او د سایکلوسټائیل د پاره څما اوځما د دغے دوستانو د کورونو تلاشی اوکړله. ددے کتاب صفا مسوده ئے څما د ماما د کورنه یوړله. اوځومیا شتے پس ئے زۀ اومحمدشاه سره د نورو ملګرو "دیفنس آف انډیا رولز" لاندی نظر بند کړو. یوځل بیا ما د پنسلی مسودے نه د نقل کولو موقع بیا موندله.

کال ۱۹۴۷ء کښے فیرنګے ورک شو موږ آزادشو. خو زړتر زړه معلومه شوه چه کومو خلقو د آزادئ د پاره قربانئ کړے وے د هغوی نه خیر نۀ وو. اونۀ د کتاب د پاره سمه فضاوه. خو آخر زمانه بدله شوه. د پاکستان خارجه پالیسی سنۀ شوه د روس د لتریچر سره د امریکی د لتریچر په شان یکسان سلوک شروع شو. د مودو د انتظار نه روستو د پاکستان د آزادئ خارجه پالیسئ په وجه "د آزادئ تلاش" د پاره مناسب او موزونه فضا جوړه شوه او مونږ هغه ستاسو په لاس کښے دی.

(میاں اکبرشاه)
بدرسنبی

وطن نه روانکی

ACKU


کازان
ماسکو
شوروی اتحاد
لهستان
خارکوف
کیف
منزلی وادی
مغولستان
هنگری
رومانی
تفلس
باکو
تاشکند
بخارا
ترکیه
انقره
عشق آباد
مرو
کابل
چین
عراق
ایران
تهران
مشهد
افغانستان
پشاور
لاهور
دهلی
هندوستان
بندرعباس
بوشهر
خلیج
کراچی
عربستان
بمبئی
دهند اقیانوس
د مصنف لار
دهیواد نوپولی

اسلامیه کالج پیښور

یوے میاشتے نه د محمد اکبرخان په انتظار کښے وم. نهٔ په هاستل کښے مِ نهٔ په قرارو او نهٔ د سبق په کمرو کښے مِ د پروفیسرانو سبق ته خیال و اکثر پروفیسران، خصوصاً لالا عبدالرحیم پوهیدو چه حُما نهٔ په قرار نهٔ دی، میاشت په ما اوغمیدهٔ د محمد اکبر نه مِ طمع قطعی شوه. دکالج فیس دوه سوه روپے جوړیدو. هغه د ما سفرد پاره د خان سره ایسار کړی وو. اوس مِ د کالج اکاونټنټ ته ورکړو. او ما سره صرف یوکم دیرش روپے پاتی شوے. ورځے شپے تیریدی محمد اکبر مِ د خیاله اووت او ورسره د کابل تلل. فکرونه اوړے وم چه کوم خوا سراوباسم. د سبق کمره کښے دتولو هلکانو نه ورسته ناست وم. د پروفیسر تقریر ته مِ غوږ

نه وُ خپل فکر کښے ډوب وم چه ناڅاپه سید سرورشاه هزارے ته راننوتو. اوما ته ئے د بهر تلو د پاره اشاره اوکړه.

کتاب مِ په ځاے پریښو. اووتم - پانړکو سره یو ښکلے ځوان ولاړ و، مسکے مسکے مخ ته راغی، بغیر د تعارفه مو یوبل او پیژندل. بی انتها خوشحاله داوړه جیمسفورډ هاستل ته ځماکمړی ته ورغلو.

دوه جوړے سپینے جامے یوجوړ خړه ملیشیا. یوجوړ څیلے اویوکم دیرش روپئے مِ د ځان سره واخیستے. په زړه داډه روان شو. په زړه کښے مِ دیولمحی د پاره هم د اخیال راغی چه د داسے نامعلومه مهم د پاره دا سامان او پیسے کمے دی. دا چاته معلومه وه چه ځمونږ نصیب په کومو ځایونو خوړو.

د کالج نه بهر لوئے سړک ته راووتو. اوچپلو پښو - پیښور لورے ته مولاړ واخیسته. دا بادشاهی سړک دے د پیښور نه کابل ته دغه لاره. خوخلق پرِ کم ځے راځے، د سورلئے انتظام نشته. کله کله د کالج شتمن هلکان د پیښور نه پوره ټانګه راولی. یوه نیمه روپئے ورکړئے عام هلکان دے کرائے ته ځان نه شی نیولے.

ځما خیال و، که داسے ټانګه چا راوستے نو ځمونږ

د پاره به اسانه په لږه کرایه واپسې تانګه اوځي.

نور ماته معلومه شوه چې خما دا ملکري سرفرازخان دے. مونږ په خبرو کښے پېښور ته اورسېدو. د بالاحصار نه نمرخاته ته لوے خالی میدان د هشتنغر د پاره د تانګو اډه ده.

"هشتنغرته". "هشتنغرته" تانګے والاؤ چغے وهلے.

مونږ دواړه یوه تیاره تانګه کښے سوار شو شپږ آنے یوکس وو، خو مونږ د پیسو پروا نه کوله. په تانګه کښے سرفرازخان د ملکرو تعارف راسره شروع کړو.

"محمد اکبرخان خو ته پېژنے؟"

"هو" ما وړله ځواب ورکړو.

او د نورو ملکرو تعارف هغه داسے شروع کړو:

"ګوهر د پیر بهادر هلك دے. نږه او هغه دواړه رساله کښے نوکران وو. دوه دوه کاله مو پکښے تیر کړے دے دواړه شاهسوار یو" سرفراز سینه راوویسته. او داسے ښکاریدله لکه چې په اس سور نیزه په لاس دے.

"ګوهره! خما او د ګوهر د پاره خو اسانه ده. ورته لوسره په افغانی رساله کښے داخل شو. خو مونږ د پاره د تربیت ضرورت نشته نیزے په لاس. توپک په زین کښے اسونو

ته به پوهه ورکړو. اوګوره به په نیزه تومبلے هوا کښے اویژان وے."

د سرفرازخان خبرے په ما داسے لګیدے لکه چه حقیقت وے.

خموښ یو بل ملګرے سلطان محمدخان دے دے خو خانزاده، خولې بے پرواه دے، سرفراز خبره اوښده نه کړه.

"یوبل هم دے هغه خما نوکر دے شرابے دی خوخما نه بله نه شی کولے."

چه ناګمان ته اوږهیدو. نوکے ته محمد اکبر په تانګه کښے سورراغی. اوخموښ سره تانګه کښی کښیناستو.

"ورورہ! ته به هم شپږ آنی راکئی." تانګی والا محمد اکبر تړخ راواړولو.

"فکر مه کوه" ماجواب ورکړو.

ورو ورو تانګه کښی مجلس شروع شو خوسرفرازخان غلی وُ داسی معلومیده چه د محمد اکبر مخکښی هغه خبری کمی کولی.

د چا هسے نه بله تانګه کښی کښیناستو.

محمد اکبرخان خما نه پُښتنه اوکړه:-

"اکبرشاه ! ته عبدالغفارخان پیژنی ؟"

"هو" ما جواب ورکړو.

"سلطان محمد بابو صاحب چه کله د نوښار تعلیم القرآن هائ سکول سالانه جلسه کئ، نوعبدالغفارخان یکښی تقریر کئ . اودهغه په تقریر د نوښارخلق سکول ته ډیرے ډیرے چندے ورکئ ."

ما ورله ورو ورو جواب ورکولو.

"سلطان محمد بابو صاحب څوک دی." محمد اکبر پښتنه اوکړه

"ته سلطان محمد بابو صاحب نه پیژنی ؟" ما په حیرانتیا تر پښتنه اوکړه .

"نه ورورہ ! زه ئی هم څه پیژنم ."

"سلطان محمد بابو صاحب نوښارچاونړے کښی اوسئ، اود فیرنګیانو کلب کښی په اتیا روپئ میاشت نوکردئ، خو دیر سبئ سړے دے دچاونړے مسلمانان تر د ایتوارد چوتئ په ورځ چارچاپیره ناست وی . هغه د مسلمانانو تعلیم دپاره هروخت کوشش کوی . کله کله دچندو دپاره جلسے کوے . دمردان هشتنغر اوپیښورخلق جلسو ته راځی . ښې چندی ورکوی . نوښارچاونړے کښی هائ سکول او د نوښار کلی کښی تیکنیکل سکول چلوی." ما ورته دبابو صاحب

تعارف اوکړو .

"عبدالغفارخان هم په تعلیم ډیر تمسین دے . ډهشتنغر په علاقه کښی ده اود ترنګ زو حاجی صاحب ډیرے مدرسی جوړے کړے دے . اواوس زهموښز افغانستان ته د رهسیدو انتظام هم دهغهٔ په لاس کښی دی ." محمد اکبرخما د تسلئ د پاره د عبدالغفارخان دښهٔ سړے توب بیان اوکړو .

موښز اتما نزوته لږ ساعت کښی اورهسیدو . نږه لی ډیو بل خان خاے ته بوتلم . چه دهغهٔ نوم هم عبدالغفارخان و، ډیر ښه سړے و، دکټه را پاسیدو . ما سره لی جوړتازه اوکړل اوترڅو خصتیدو نږه دهغه میلمه وم .

موښز درے ورځی اتما نزوکښی تیرے کړے . اکثر به یوځای کیدو . ټول ډیرخوشحاله وو . اود انګریز نه د وطن آزادولو د پاره مود افغانستان د ورونو نه ډیر اوچت توقعات وو .

داتمانزونه تګ

په خلورمه ورځ په ۱۶ مئی ۱۹۲۰ ، موبنز داتمانزونه روان شو. په سړک په تانګه کښې سوارۀ نه شو. داتمانزونه قبلی لوریته روان شو. غرمی غرمی ته د عمرزوینه قبلینزے خواته یوخوکوټی وے. هغوته د اوبوڅښلو د پاره ورغلو. جمات کښی کوهی و، څه ګورم چه په کوهی ځموبنز دکلی بندبنسویو کس ولاړ دے. اوبه راواوباسی د هغۀ نوم نرے و اوکلی کښی ځموبنز همسایه و، چه نړه ئے اولیدم، حیران شو چغه ئے کړه :-

"ته کابل ته ځی. نړه ځم اومیان صاحب خبروم."

"نه! نړۀ کالج ته ځم. موبنز د سیل د پاره راغلی یو."

ما ورله جواب ورکړو.

"نړه نه شم پاتی کیدے، نړه به خواه مخواه میان صاحب

خبروم. کښی صبا چه هغه خبرشی نوما نه به پښتنه کوی چه تاولی راوانه سهولو. اونه دِ ولی خبرنه کړم. نرے دیرگرم شو.

خوما ورو ورو رضا کړو. چه نه کالج ته ځم اوته که پخپله حال اونه وائی. نوځوک خبرییزے؟

لږ ساعت کښی ما نرے رضا کړو اورخصت ئے کړو موبز پټو پټو کښی سبه مزل اوکړو. مازیگر ناوخته کتوزوته اورهسیدو. اوماښام تیاره په صدر کړے شنوتو. بدرګی وال یو دیرے ته ننه ایستو. دیره کښی هیڅوک نه وو. موبز کتونو کښی اوغزیدو. سخت ستړے وو. دانمانزو نه سحر راوتی ماښام صدر کړے ته ورا اورهسیدو.

دانګریزی بریدنه

اوریدل

مالا ملا په کټ کښی نه وه نیغه کړے چه یوهلک مهمند دتنارهٔ کړی دودے په شا خموښ کوتی ته راننوتو. پاسئ چه څو.

موښ سپک پاسیدو. پوه شوچه بدرنګی وال بدل شو، مخکښی د مهمندو علاقه ده. اوهلک به ضرور مهمند وے.

دصدر کړے نه مخکښی د لیکنډے غړوېخ کښی د مهمندو اوانګریزانو بریدباندے دکنډه ټار شپول ته لږ ساعت کښی اورسیدو. وخت دما سخوتن و، اسمان د وریځو ډک و تیارهٔ وه. کوته نه شولیدے. پاتک ته اورسیدو.

داسمان په پرق کښی مو دده اوچت اوچت برجونه اولیدل. یودپاتک یوخوا، اویوبل خوا.

ورته ووئیل خبرے مه کوئے . په برجونو کښی به پهره دار نامت وے ." طاؤس خان (دغه د نوے بدرنگی وال نوم وو) راته اووے .

مونږ پی کش کړپ ، غلی غلی د پاڼک نه پورے وتو . په برجونو کښی هیڅوک نه وو .

د پاڼک نه څنګښی غاړے ، دغرونو سلسله ده چه د انګریزکښی تاریخ کښی خورځے . په دے تاریخای په مخای برجونه دی ددومره انتظام سره د طاوس خان په شان د پښتنو شپاږسو کالو هلکان اود شپیتو شپیتو کالو بوډاګان د نیمی شپی په دے تاریخ اووړے اود انګریزپه پاڼکونو اوچاوڼرو حملی کوے . د قبائلو د آزادئے جذبه د دنیا په مخ بی مثاله ده .

مونږ د پاڼک نه لرے اودریدو . وطن ته موخ کړو خوشحاله ووچه د فیرنګی د جال نه بهر شو ، دوه کینتی مو نوره لاره اووهله . مونږ لاره نه لیدله ، تیاره وه کوټه ونه شو لیدے . خوطاؤس موڅښی روان و . مونږ خیال کښی هم نه راتله چه طاؤس خان ماشوم دے ، هلک دے ، لاره خطا نکړے . حالانکه طاؤس خان د اوسپنی څوان جوړکړے و ، هیڅ حرکت د هغه داسی نه و چه مونږ

په نهۀ کښی د هغه د رهنمایئ په لیاقت شک پیدا شوی وی.
لس بجی وے چه طاؤس خان ماته راننزدے شو، په غونډ کښی یئ را ته اووے :-

"مخکښی د غلو ویره ده ، وختی دے غله کله کله لاړ وهی ، دلته د اوبو یوه ندۀ دے په هغی به اوبه وڅښو، اوبیا چه شومه دم شی نو مخکښی به روان شو."

ماا وملګرو داخبره خوښه کړه ، د ډوډۍ نه وروسته تر کښینا ستو. طاؤس خان ډوډۍ راپرانسته ، خُموښ مخکښی ئے کیښوده . پستی د غنمو ډوډۍ وے سپورے موخړے خو د نیا یو نعمت به دومره خوښ نه و. طاوس خان موهم خُان سره کښینولو.

"ما سره هم ډوډۍ شته" طاوس خپله غونډه هم راپرانسته . اوچ سوکړک و، خُموښ د ډوډو سره ئی کیښو، اودخپلی ډوډی نه ئے تکړه ماته کړه . خوراک ئے شروع کړو. موښ وړو په حکمت د هغه اوچ سکړک ډوډے ته کړو . او ورته مو اووے چه دا به بیا اوخورو، طاؤس خان پوهه شو، وے وئیل :-"

"خیر دے ، نه به ئی اوخورم ، تاسو خُما ډوډے ډډے ته کوئے مه."

خو طاؤس خان خپله سکرټ بیا اونه لید او خُموښز په اصرارے خُموښز سره دوډے اوخوړه. د طاؤس خان سکرټ بې د اوبود امداد نه به خُموښز ه ستونې کوز شوے نه وه. موښز د طاؤس خان په صلاح د دوډے د خُائے نه پاسیدو او یو خوخوپے کښې څملاستو. طاؤس خان تیزې راوړے، هریو ته ئے د سرلاندې کیښوے.

"تاسود بالښتونو عادت یئ؟"

موښز اوخندل. طاؤس خان نه پوهیدو چه په تیزه موښز کله سره دیر ساعت کیښوے شوے. د غه ساعت، طاؤس خان چه خُموښز سره دکوم اخلاص اظهار اوکړو هغه به خُموښز هیر نه شی. داسی معلومیده چه د ریښمو بالښتونه ئے خُموښز د سرلاندے کیښول.

گوهر رحمان دوډے نه وروسته سگرټ راویست اوبل ئے کړو، خوزهرے مړکړو. طاؤس محتاط ناست و. سگرټ څښلوته ئے پرے نښو. "لگیدلی سگریټ دلری خایه ښکاړے." موښز غلی پراته وو. طاؤس خان دیوبل غوږ کښې هم خبروته نه پریښو.

دولس بجی روان شو.

مخکښې غرداسی سخت وو چه انګریز په دے لاره

مهمندو هیچرے حمله نۀ وه کړی . خو طاؤس خان لکه دهوئی پرِ ختو. ما کوشش کولو چه پاتی ترِ نه شم ملګرے مِ ورو ورو ورستو پاتی کیدل خو طاؤس خان چه به کټ پیر ته او- رسیدونو او به درېدو.

یوځائے موبنز دواړه د ملګرو په انتظار کښی ناست وو، طاؤس خان ځما نه پُښتنه اوکړه .

"وروره! تۀ افریدے ئے ؟"

"نه خنګ یم" ما ورته جواب ورکړو.

"تۀ د نورو دکلی نۀ ئے ؟ دوئے په پښتو خبری نه کئی." طاؤس خان بیا پښتنه اوکړه ،

"هو. موبنز د بیل بیل کلی یو. خوخواږه وروڼره یو." ما اووے .

تیاره شپه وه ، موبنز درسته شپه روان وو. طاؤس خان کۀ به خو قدمه محکښی شو ، نو بیا به اودریدو . لاړه تنګه وه ، دوه کسه پرِ یوځائ نۀ شوتلی . موبنز یو بل پسی روان وو، طاؤس خان به لاړه ښئیله .

موبنز لاغره کښی روان وو ، چه سحر شو، نمر راوخت، طاؤس خان دغرۀ نه راته خپل کور اوښئیلو ، لرے لاندی ښکاریدو. وړه شان قلاوه ، د بچاؤ برج پکښی ولاړو،

اتهٔ نهٔ بجی مونږ د طاؤس خان کورته اورسیدو، د دروازے نه بهر ے پلار ولاړ و ، چه مونږه ئے اولیدو، نو نږ نږ را مخکښی شو۔ د پښتو خلویښتو کالو به و، خاشخاشی ږیره لری وه ۔ مونږ ئی په عزت بوتلو۔ د دروازے مخکښی کښته ئے واچول ، مونږ ئی کښینولو۔ طاؤس خان کورته ننوتو ۔لږ ساعت کښی د تنور گرمی گرمی دوډئے په شکور کښی د طاؤس خان پلار راوړے۔ ورپسی طاؤس خان لوئے کالوخانی تالی کښی گرم پټے ورباندی غوړے اچولی راوو تو د طاؤس نیکه بغیر خمونږ د پښتنی دودئے په پیو کښی واچولی او مونږ ته د غه خوراک ډیره مزه راکړه ۔د طاؤس خان نیکه خمونږ سره په دودئے کښیناستو۔ مونږ ورله بار بار اووے خو طاؤس خان خمونږ سره کښی نه ناستو۔

"طاؤس خان به نیا سره دودے اوخوړی" بابا اوخندیدو

طاؤس خان د څوارلسو پښتلسو کالو ځلمی هلک وخط ئی نه و راغلی، شوندهٔ ئے نه وه شنه شوی ، خو په کوم بنه سرپیتوب چه هغه خمونږ د غه شپه رهنمائی اوکړه مونږ به ئے هیر نه کړو۔

د طاؤس خان نیکه د او یاؤ کالو اوچت نری سپین ږیرے بودا و، بنه چست و۔

"د طاؤس خان نړه غواړے چه تاسو حاجی صاحب
ته اورسئ ، خواوس تاسو خما میلمانه ئ یئ ، د طاؤس خان کار
ختم دے ، نړه موبه حاجی صاحب ته رسوم ." هغه اووے.
لږ ساعت چه تیر شو ، موبز د رواښیدو خواهش
ظاهر کړو ، د طاؤس خان ښکلئ چه پوه شو چه موبز نه ایسا-
ریږو ، نواوے وے " ځئ چه ځو." موبز پاسیدو .
ما د ملیشیا نوے جامی د پښو کی نه "زړا اوویستے او
طاؤس خان ته م لاس کښی کیښودے خوهغه په شا شو. داخیتو
نه ئ انکار اوکړو . محمد اکبر نړه تر مینځه شو طاؤس خان
ئے غیږکښی اونیو و اوجامی ئے ورحواله کړے . بیاهم
طاؤس خان نه اخیستی ، خوچه بابا پوه شو . چه موبز
خفه کیږو ، نوهغه ورله اووے .
" طاؤس خانه میلمانه مه خفه کوه چی دوے
درلوه په خو ښئ درکئ نو وائے خله ."
بابا مخکښی ، موبز ورپسی . څلور پنځه میله مزل
مواوکړو . یوه کلی ته اورسیدو ، د کلی نه بهر یوه چینه
وه ، اوبه ښه ښیدی ، د تونانو سوری ته د چینی په غاړه څلور
شپږ کسان په کتونو کښی ناست وو . هرکس سره توپک
په کټ پروت و .

خموښ سلام ئے واخیست، اوچت راپاسید او موښ ئے د کتونو سرته کښینولو.

یوکس راپاسید و، کورخواته روان شو.

"کورته مه ځه کښینه. موښ دایسار یدو نه یو. دلتا- وُس خان نیکه ورله آواز ورکړو.

"داسی نه شی کیدی، دودئے به خورئے هله به ځئ تاسره میلمانه دے". یومشر اووے.

"موښ اوس دبابا سره دودئے خوړلی ده. ستاسو دیره مهربانی ده." ما ورله جواب ورکړو.

موښ لږ ناست وو، چه یو سنگتی[1] (سنگینے) په منډه راغی. وے وے چه "زه په کندؤ کښی چا اوشوکولم. شړئ مئ رانه واخسته."

دستر گورپ کښی څیړخالی شو. سړوتونک په لاس کتونونه اودنکل. اولکه د غښتی په بره اونرغلیدل.

موښ هم ورسره پاسید و، اوورپسی روان شو. لږ ساعت کښی دکلی سړی بیرته راروان وو، خندل ئے. چه هلکان وو. څوځو څیړی مواووهل، اوتوبه موپراووستله

---

[1] پاس غړه کښی دپښتو، مردان خلقوته سنگتنے وئیلی شی.

پرے موخُل ."

مهمند خپله علاقه کښی جرم نه شی پرداشت
کولی ، داسی واقعه د خپل قام او تپر بی عزتی گنړی .

ACKU

دد ووبرجونوکلی

ماسپینین موښ دکندو نه واوړید و اود قبیلی دیرکلی لوئے میدان راته لاندے پروت و.

ترمازیګره موښ دد وبرجونو کلی ته اورسید و، یوجومات کښی موشپه اوکړه د ورځو دزوره موخوب اونه کړی شو.

وئیلی شی چه د غه کلی کښی څوك په خپل مرګ نه مړے هرسړے ددښمن په ګولئ مړے. چه تیږه ئے نه وے اینی نوصرف ښځی خرګندے ګرځیدے شی. او ړے چه یوبل وینی، نودهرلورے نه په یوبل دنړے کوے. خو قبائل خپله اندرونی علاقه کښی بدامنی نه پریږدے چه ددواړو برجونوجګړه شی نوکه چرے د چارچاپیره کلی ئی نه شی بندولی، نوبیا د قبیلی مشران مینځ کښینی اوروغه اوشی.

ددے دواړو برجونو ترمینځه د ترنګزو حاجی صاحب تیږه ایښې وه . اوخه موده پس دیو برج خلقو دا تیږه ماته کړه . حاجی صاحب ورله خبر اوکړو. خوجنګ بند نه شو.

د قاعدے مطابق حاجی صاحب د چارچاپیره کلو نه مشران راواوغوښتل اوداتیا سلو کسانو سره د کلی ته راغی اوکوم برج چه تیږه ماته کړے وه . په هغوے میلمه شو. او چه ترسره می د برج خاوندانو د قام منلی شوے جرمانه ادا نه کړے . نو حاجی صاحب سره ددغه کسانو پرمیلمه و، بیا تیږه کیښوده شوه او حاجی صاحب او میلمانه رخصت شو.

د مهمند وطن

د مهمندو قبیلی دنا وګئ باجوړ نه تر دریائ کابل تقریباً پنځوشت میله اوږد وطن دے . اود دوے د علاقی پلنوالی به هم دغسے وے . غروند ئے اوچ دے . ونی پکښی کمی دے . خود وطن مینځ کښی ئے لوئے زرخیزه میدان دئے، چه کال کښی صرف یود غنمو فصل کوے . خوکه باران اونه شونوبیاسوکړه ده . په میدان کښی خلق دجیورونو اوبه څښی .

مونږ د برجونو دکلی نه سحر روان شوکچه غرمی پوری مومزل اوکړو . دیوجیور غاړی ته داوښی سوړے لاندی ورجار وتو . دجیور په غاړه دوښی سوړے ته څوکسه ناست وو، لرونه ورسره وو . دمهمئ کولی ، بابا ورته په اوچت آواز " ستړے مه شئ " اووے .

" په خیر راغلئ " لوګړے راپاسیدل ، جورښتانه ئے راسره اوکړل ، مونږ اوبه اوڅښلی ، اود روانیدو دپاره پاسیدو

"کښینئ۔ کښینئ" لوګرو راته اووے۔ "دودے راغله، چه اوخورئے نوبیائ۔ هرڅه چه تیار وے هغه دیار وے۔"

مونږ اوکتل زنانه دودے په سرجیور ته راروانی وے۔ بابا جواب ورکړو، چه "مونږه څو۔ دودے به مخکښی چرته اوخورو۔ تاسوبه په نیمه خیټه پاتی شی۔" خولوګرو بیا بابا رانیولی و، په کنډ ولی کښی ئے اوبه د جیورنه راالخیستی وے اولاس ئے ورله وینځل۔ بابا څومونږ په لورے اشاره اوکړه چه "د غه میلمانه دے، زه میلمه نه یم"

نرېل لوګرے بل کنډ ولی کښی اوبه راالوچتی کړے اونږمونږ لاسونو ته ئے اچول شروع کړل۔

یو په ست سنه سنبکارے، بل په نه خوراک۔ خومهمند ته څوک انکارنه شی کولی، راته لاس ئے په زور اووینځل اودودئ ئے راته کیښوه، زمیندار په خپله وروستو شول، اومونږ ته ئے اووے تاسوخورے څومونږ د پاره نوره راځی۔"

مونږ سنه اوښے وو، د غنمو دتنور دودے اوبیا د مهمند دلاس پخ شوے۔ یولوګرے راسره کښیناستو، هغه دودے د پاره به هسې لاس تهیتولو، خومطلب ئے څومونږ مړول وو، مونږ ئے هله پریښوچه سنه ماړه شو۔

په ماوطن کورکښی دودے دومره چرے خوږه نه ده لګیدلی۔ رښتیا

خبره داده چه نړه اوږدے وم او دوه ځله هم سپاسته اوخوږده، نو ولې به
راباندے سپه نه لګیده.

لکړے

دزمیندارونه موږ رخصت واخیستو او مخکښې روان شو
مازیګر موږ د حاجی صاحب ځاے لکړے ته اورسیدو. کلی نزدے
نه شکاریدو. د غره خواوه د حاجی صاحب لوے کور دے، اولوے
ځمات دے. ورسره نزدے د متعلقینو کورونه دے.
د حاجی صاحب نائب زمونږ ځمات ته راغلو او موږ ے خپل
ځاے ته بوتلو. دا ټاټنزو د خان عبدالغفار خان چیتئ ے اوکتله. او
ځمونږ ئ ډیر عزت اوکړو.
بله ورځ د حاجی صاحب سره ځمونږ ملاقات اوشو حاجی صاحب
موږ نه د عا اوکړه.
"ځلمو ستاسو ارادے ښې دے. خدائے تعالیٰ دستاسو همت او
مستقل مزاجی قائمه وساتی. دانګریزانو وطن آزاد ولو د پاره ستاسو په شان
تعلیم یافته ځلمی پکار دے. تاسو په ډیر سخت وخت افغانستان ته روان
شوے یئ د جهاد بیرغ اوچت دے. خدائے ج دانګریزانه د
مسلمانانو ملکونه آزاد کړے.

باجور ۴

موږ شپږ ورځې د حاجي صاحب سره تیرې کړې خو ږ
درسیدو په درېمه ځلورمه خبرراغې چې د باجور ماذون صاحب د
دنیا نه رحلت اوکړو، حاجي صاحب د جنازې دپاره روان شو.
ځما دپاره هم یوشین آس زین شو. د ماذون صاحب ځاے
تقریباً ځلس دولس میله لرے و، دلته ما ته د حاجي صاحب د طاقت
اندازه اولګیده. جنازه تیاره وه چې یو سو رآس په دوړه راپرینې
راورسیدو، د حاجي صاحب خدمت کښې پیښ شو، عرض مې اوکړو
"که اجازت وے نو د جارخان سره د دیر شو کسانو جنازې
کښې شاملیدو دپاره راځې."
حاجي صاحب اجازت ورکړو، لږ ساعت کښې د جارخان
په یوه جابر آس سو رراغې. د باجور تولو کښې لوے خان دے.
څو ورځې وړاندے ده د حاجي صاحب سره یو خونړیزے جنګ
کړے و، هله روغه اوشوه چې د جارخان لیکلی لوظنامه ورکړه

چه به د انګریز نه مواجب نه اخلم او هیڅ فایده به ترې نه قبلومه.

یو وطنی سره ملاقات

د جنازې نه وراندې زه یوځای ولاړوم. د باجوړ میدان باندې م نظر زغلولو، یوسړی راته راغی ښه ستړی مشی ئې راسره اوکړل، ده د جامو او خبرو نه معلومیده چه د ے باجوړی یا مهمند دے. د پیښور لاد مردان د علاقې ښکاریدو. په خبرو خبرو کښې ئې ځمانه پښتنه اوکړه چه:

"ورورہ! دکوم ځائے ئے او چیرته ئے؟"

ما ورله جواب اوکړو:

"ځه د بدرښود ختکود علاقې یم. زه او ځمانور ملګرے افغانستان ته د جهاد د پاره ځوچه د افغانستان سره یوځای شو. او انګریز د خپل وطن نه اوباسو. او د اسلام بادشاهے قائم کړو."

"ورورہ! د اسلام بادشاهی کښې به تاسو تنګ شئ باد- شاهی د خلقو پکار ده، چه د خلقو د فائدے او آرام کار ونه پکښې کیږی." مړے ډیرے ښې ښې خبرے اوکړے، چه ځمانه پاره نوے وے. زه ئے حیران کړم. هغه لا خبرے ختم کړے نه وے چه ماته آواز اوشو چه حاجی صاحب روانیږے.

زه چې د حاجي صاحب ځای ته راتلم نو نه حاجي صاحب
و، اونه ځما آس و، خو یو سړے چې هغه هم ولګړونه حاجي صاحب
سره جنازے ته لاړو، راسره ملګرے شو موبنږ دواړه په خپلو
پښو واپس راروان شو.

ناوګئ

لږ ساعت کښې موبنږ ناوګئ ته راورسیدو. ناوګئ د پښتنو
په تاریخ او په وطن کښې اهمیت لرے، د پیښور د طرفه د انګریز
فوج د مهمندو غړه پورے راتلی شی، بیا د مهمندو توره ځے غړه
ختوته نه پریږدے، د غسې ترملاکنده انګریز لاره صرف دملاکنده
په کنده اوجوړه ده. یو ځل انګریز د ملاکنده نه د تیمرګرے په
لاره باجوړته ختی و، او د باجوړ نه د ناوګئ، په لاره د مهمندو
په وطن ځے حمله اوکړه، مهمندو په بې عزتی سره د خپلی علاقی
نه راویستی و، د انګریز د تیښتی لاره هم دغه وه، بیا په ناوګئ،
باجوړ، تیمرګرے او ملاکنده بیرته پیښور ته راوتښتید و.

سکندر اعظم هم د ناوګئ په لاره باجوړته راننوتی و، اود باجوړ نه بیا تیرګړے ، ملاکند ، شهباز ګړے اود هند په ګودر اباسین نه پورے وتی و .

بابر د یوسف زو پښتنو سره د سخت جنګ نه وراندے د ناوګئ په لاره باجوړته ننوتی و ، اوبیا د تیرګړے په لاره ملاکند شهباز ګړے اود هند په ګودر اباسین نه پورے وتو .

اوس یوزبه قبلا اوبرخو ورانی ویجاړے کندے د ناوګئ په نامه ولاړدے .

ما اومنله چه ناوګئ به د انګریزنه وراندے یو قابل دید ځائے و ، زهٔ ورته اوس هم اهم ځائے وایم ، اوچه وطن آزاد شی نو د ناوګئ اهمیت به زیات شی . د جلال آباد نه په زړه زمانه کښی یوه لویه لاره مهمندو په وطن د ناوګئ په کلی باجوړته او د باجوړ نه د تیرګړے په لاره ملاکند په کند او د شهباز ګړے او هند په ګودر تیکسلا او هندوستان ته تله .

ناوګئ به یو وخت د دے لرئے شاهراه په غاړه یو آباد بنار شی . هغه سړی کمال کړے دے چاچه د د غه ځائے نوم ناوګئ اینبی دے ، که باجوړئے چت اوګنړے نو د غه ځائے ناوه ده ، باجور اوچت دے اود مادون صاحب مرحوم ترکلی پورے د باران اوبهٔ په د غه ناوه مهمندو ته پریوځی . ناوګئ سره د مهمندو د غرونو د یوالونو یو بل ته رانزدے شوے دے . صرف سل قدمه

پلنه لارده چه محمند واو باجوړ یو ځای کړے دے دباجوړ
دچت ناوه محمند ونه د باران اوبه غورځوے .

د ملګرو نه مو د چارچاپیره کلوا و علاقو په حلقه پښتنه
کوله اوراروان وو . بنځوسړو به په لاره د ملګرے نه
تپوسونه کول ،

"دا پیښور ے دچا میلمه دے ؟"

هغه به جواب ورکړو .

"د حاجی صاحب"

مونږ تیاره ماښام لکړونه اورسیدو .

چمرقند او هندوستانی

مجاهدین

محمد اکبرخان ناجوړ شو، سلطان محمدخان ورته اووے
چه یوورځ به حاجی صاحب سره نوره تیره کړو . اوچه ته جورشی

بیا به خو. خوهغه منظوره نه کړه. جواب ئے زرور کړو چه حسور شوے پروګرام نه دے ورانول پکار.

په شپږمه ورځ د حاجی صاحب نه رخصت شو. یوخط ئے راکړو. چه هغه په یاغستان او افغانستان د راهدارے نه کم نه وو. بلکه زیات و. چه موبږ کوم ځائے ته به اورسیدو نو د دے خط په برکت به موبږ میلمانه ګنړلی شو. شپږ عزت به مواوشی، او د دودے اوسورلئ فکر به راسره نه و،

محمد اکبرخان د پاره موکچره په کرایئ واخسته. د کچرے مالک یوسیک وهغه هم یوولس ورځے تورپک په اوږه راسره روان شو. موبږ ئے غرمی غرمی ته چمرقند ته اورسولو.

چمرقند د افغانستان او مهمند و په برید پروت دے، دلته اوبار پورے مجاهدین اوسی. اوپه هره غزا کښی د پښتنو غازیانو سره ځنګ په ځنګ جنګیږے.

چمرقند د مجاهد اعظم هدے صاحب د انګریز برخلاف یو لوے مرکز و.

مجاهدین څوکاله وړاندے د سمسی بنیرنه راغلی دی د هندوستانیان دے. اوس هم د هندوستان نه ورته باقاعده دومره پیسی په لاس راځی چه دوے پرتورپک کارتوس اوځان د ژوند ے سائلو د پاره دودے اخستی شی. افغانستان ئے هم حوصله افزائی کوے.

مجاهدین . نولسمی صدئے د پرومبئ نیمه کښی سید احمد بریلوے "او اسماعیل" شهید پاتی شوے لښکر دئے ، چه دهزارے د بالاکوټ د جنګ نه ورسته په بند سمستی کښی دیره شوے وو او دَ سیک اوپیاد انګریز برخلاف د آزادے مثال ئے بل ساتلی دے . بیا د نولسمی صدئے په اخر کښی اتیا سل کسان چمرقند ته راغلی اود هدے صاحب په مرکز کښی اباد شوے دے .

تراوسه د هدے صاحب جُمات د دوے د استوګنی او مانځ ځائے دئے . کوټ هم شته ، چه مجاهدین پکښی اوسی . جُمات مضبوط جوړ دے . شهتیرونه ئے ناتراشه غټی غټی ستی دی د اباد ے د اسی جوړه ده چه دلرے ځائے نه نه ښکاریږے .

چمرقند به د سمندر د سطحی نه ضرور څلورپنځه زره فټه اوچت وے . د مئی په اخرے شپه موږ د شیبی په کوټو کښی برپښتو کښی پرانټ وو . اورتوله شپه بلیدو .

چمرقند بیا هم دغره د سرنه شنه ښکته دی مجاهدینو ویل چه دغره په سرتل د اوره پرته وی . د دیار وئی پر ولاړے وی ، او میلوګان پکښی کله کله لیدلی شی . دغره د سرنه د واورو یخی اوبه د جُمات په خوا کښی دایئ بهیږی . لاندی پر مجاهدین لږ شان کرکیله کوی . خو بیره مینځے ورسره نشته .

د سرفراز خان پښتیا د لووطن ته تلل

موږ د رخصت په تیارے کښی وو چه په دے کښی جمات

یو سړے راننوتو. محمد اکبر خان دهغه په لیدو پریشانه شو. درانلو سره دے سړے محمد اکبر ته یوه بنده چیتئ ورکړه. محمد اکبر چه دا پاسوله نو سلطان اوګوهرئے دده ته کړل. اوبیا پخه منته کښی موبز ته راغلل راسره کښیناستل.

محمد اکبر زر زر پلار ته یو خط اولیکولو:-

خوږه پلاره!

نهٔ دکورمنو وطن د آزادلو دنیک

مقصد دپاره راوتی یم. دبیرته درتلو

سوال نه پیدا کیږے. خما دپاره دعا کوه.

ستا خوئے:- محمد اکبر

سرفراز خان دے وخت کښی په عجیبه حالت کښی و، سلطان محمد خان اوګوهر رحمان خان پریږدم شو. هغوے ورته اووے چه کهٔ ته تلل غواړے نو دا دِ موقعه ده بیا دده نه وروستو به داسی موقعه ته موندے نهٔ کړے.

سرفراز خان معافی اوغوښته، وے ویل:

"خما نوکر د حاجی صاحب د خائے نه پټ اوتښتیدو ما ته اجازت راکړئے چه زه هم لاړشم."

موبز په خوشحالئ رخصت کړو.

دکونړ وادی

مونږ د عبدالکریم امیر مجاهدین اود مجاهد ونه رخصت وا-
خست. یو مجاهد ئے راسره کړو چه مونږ د سرکانئ کرنیل صاحب
ته اورسوے. جون په ورومبئ ورځ مونږ د چمرقند کنډاو په
لارافغانستان حدود ته ور واړیدو. دکنډاو نه مونږ د ریوګینتو
کښی د غرو یخ ته کوز شو. مجاهد ملګرے سرکانئے د چاونړے
دکرنیل صاحب خانے ته بوتلو سرکانئ کښی د افغانستان چاونړے ده.

دکونړ وادے د چترال د وادے نه سویل خواته د چترال
سیند دکونړ وادے کښی دکونړ په سیند یادیږے. د سیند نه نمر
خاته ته د چمرقند د غرونو سلسله ده. قبلی ته تر دکونړ لس اته زره
فته اوچت غرونه ځنګلونه ډک ولاړ دے. د چمرقند غرونو باندے
برف کم دے.

د سرکانئے مخامخ وادے پلنه شوے ده. خو د سرکانئ قطب
سویل ته تنګ دے.

کرنیل صاحب نه سرے و. بغیر ځمونږ نه بړئ دوه ے

خوږه . عالم اوقابل سړے و . اخبار به ورته باقاعده راتلو ښځه به ئے لوستو اوبیا به ئے په طریقه سمبال سائلو . ما به حسب معمول اخبار د لوستو نه ورسته یوخواته اوغوزولو . کرنیل صاحب به ورپاسید چه خپله به ئے اخبار اوچت کړو . سنبال به ئے پاس کیښو . پخبرو خبرو کښې خموښ یوملګرے ۱۸۵۷ ء د آزادے جنګ ته د "غدر" لفظ استعمال کړو . کرنیل صاحب ئے فوراً اصلاح اوکړه :

"ځلمیه ! د ۱۸۵۷ ء جنګ د هندوستان د آزادئ جنګ هغی ته غدر مه وایه ."

په دویمه ورځ موښ د سپیدې په غاړه کرښیدلو د کرنیل صاحب ځلمی ځوے ځما سره د سپیدې په غاړه ولاړو ، وروشان ځما نه ئے پښتنه اوکړه .

"ته په نقشه پوهیږے ؟"

"هو ! خوښه نه پوهیږم . خموښ مدرسه کښې دایو غیر لازمی مضمون و" ما ورله جواب ورکړو .

"زه په هغه ساعت پوه نه شوم چه د کرنیل صاحب د ځوے څه مطلب دے . خرچه افغانستان کښې م اپوټ سپوت اوخورل نو پوه شوم . چه افغانستان دا نه غواړے چه د بهمن د دغه ځایئ د مزکی ، غرونو اوسیند ونو نقشی اوباسی ، اوبیا د تر په جنګ کښې فائده اخلی .

په دریمه ورځ موښ سحر وختی په جاله سوار شو موښ

څلور کسه وو. دکونړ. سیند د خوږ په شان تیز رفتاره دے. ځاے په ځاے به جاله د موټر په رفتار تلہ.

په جاله کښې دکونړ دوادے د سبائیست اوشینکی اندازه لګیدے شی. قدرت هلته سبه سخاوت کړے دے. دوارہ غاړے شنی دے. غرونه شنه دے د سیند په غاړه توتان ولاړ دے. یوځاے وادے دومره تنګه وه چه مونږه د دوارو غاړو زمیندارو ستړے مشی اوکړه.

جلال آباد

مازیګر جلال آباد ته نزدے شو، دکونړ تنګه وادے ختمه شوه. د جلال آباد وسیع میدان شروع شو، جالی والا ډموټر د بیسو د سړه نزدے کوز کړو. د شپې د پاره د غرکلی ته لاړو. ما د سبام وختی یوجمات ته ننوتو. مونږ موا وکړو یوخواته کښینا ستو خلق ورو ورو د جُمات نه اووتۀ. موږ پاتی شو او یو ملا پاتی شو، هغه هم دوده ے ته کښینا ستو، دوه څلور کپی به ئے

کړے وے چې پښتنو ځے راته اوکړه.

"میلمنو دودے موخوړلی ده ؟"

ځما ملګرو چې په پښتو خبرے نۀ شوکولی، هرځائے به ما د هغوے ترجمانئ اونما ئندګی کولۀ اوزه به پرخوشحاله وم، خونن حیران شوم، نۀم "نۀ" وئیلی شول اونه "هو" پراولنی جواب مِ خولۀ نه جوړیده، اوپه اخرے جواب مِ د ملګرو اوډچلے خیتی د ښمنی نۀ اخسته. "ان ..... دودئے ؟" ځما جواب وو.

ملاپوه شو، دفغۀ مخکښی یوځی توکړے اولږشان ساک پروت و، راوئے وو.

لاندے کړی وه اوورکی وے، د ملا صاحب په مشوره د جماعت په چت سملاستو. په ځلورکسه راسره دوه کوهاتی ځاځه درومه وو، دواړه مولاندے اوغورول چه نیمه شپه شوه، یخنئ زور اوکړو، دواړه موپاس کړل، بیاهم ساړه وو. تمامه شپه دیخنئ نه اوده نۀ شو. داد افغانستان کرمه خطه د په جون په اوله هفته کښی مودیخنئ نه خوب اونه کړے شو.

د جلال آباد اوبیسود ترمینځه غرقه نالۀ ده، په جاله پورے وتل وو. جالی وان اوپیژندوچه مسافر دبل وطن دے، یو قران سړے ئے راته واخست، سحر جلال آباد ته ننوتو، یو سرائے کښی موکمره واخسته، اسباب موپکښی کینبو.

د یوکال نۀم ښیره پریښی وه. وطن کښی مِ دلرے کولو

خیال پیدا شوے و ، خوافغانستان ته په رواښید و کښی وم نو خیال م اوکړو چه د اسلامی حکومت زیرمه په مسلمان نای به ئے کلومه . سرائے کښی نا ئ گرځیدو ، صفائے راته لږے کړه ستړه جامی م واغوستی اود حکومت د افسرانو ملاقات دپاره اووتو چه ورته اووایو چه موبږ څه رنګ راغلی یو اوخه موپه زړه کښی دے .

نادرخان سپه سالار

سره ملاقات

د چمرقند نائب وکیل جلال آباد کښی و ، د مجاهدینو سره د ۱۹۱۹ ، جنګ کښی سپه سالار ښه خوشحاله و ، حکومت دهغوی دیر عزت کولو ، په دویمه ورځ غرمه دولس بجی موږ د ملاقات دپاره سپه سالار وخت مقرر کړو . په مقرر وخت موږ حاضر شو ، سپه سالار په ساده سپینه جامه په ساده کمره کښی ناست و ، د کرسئ پاسید و ، اوپه کمال خنده پیشانئے سره ئے راسره

جوړتازه اوکړل .

خماد ملګرو د خوشحالئ انتها نه وه . چه هغوے دا واوریدل چه سپه سالار په اورد وکښی خبرے کولی شی . په صحیح اوسلیس اردو کښی خبرے کولی . سپین د ململ پتکی ئے په سر و، سپک کابلی دوله پرتوګ ئے اغوستی و، چارچاپیره دکتابونو دکی الماری دے په خبرواترو کښی سپه سالار د هند وستان شمال مغربی سرحدی صوبه کښی دیره دلچسپی اخسته . محمد اکبر تر ئے اووی چه د هزارے خلق پښتانه دے ، پکار دے چه تاسو پښتو ژبی ته خاص توجه و کړئے ."

دافغانستان په نوے کامیابئے خبرے کیدے ، سپه سالار او فرمائیل چه دا درست ده چه موږ د دښمن نه نوے مزکه حاصله نکړه . خو موږ استقلال او آزادے حاصله کړه ، او دا د مزکی نه زیاته خوږه ده .

موږ ورله عرض اوکړو چه موږ د وطن نه په دی خیال راغلی یو چه موږ به په یاغستان کښی د قبائلو سره یو خائے او د افغانستان د حکومت په امداد خپل وطن آزاد وو او د ضرورت په وخت کښی به جلال آباد کښی حاضرے ورکړو . خو سپه سالار افسوس اوکړو چه د اعلیحضرت حکم دے ، چه مهاجرین به کابل ته ضرور ځی . سپه سالار موږ ته تسلی راکړه چه افغانستان به د موږ د تعلیم قدر اوکړے . سپه سالار د موږ

د پاره کابل ته ټیلفون اوکړو، چې "د پیښور د اسلامیه کالج څلور
ځلمی طلباء جلال آباد ته راورسیدلی دی، غواړي چې جلال آباد
کښې پاتې شي خو د نظارت خارجه نه جواب اوشو چې د اعلیٰ حضرت د
د حکم مطابق د اطلباء، د کابل ته راورخصت کړے شی."

کابل کښې موښږ ته معلومه شوه چې د سپه سالار ټیلفون
ځموښږ په بابت سبب اثر غور زولی و. مولوی بشیر د مجاهدینو
نماینده زور لګولی وچې موښږ د جلال آباد کښې پاتې کیدو د
پاره هغه داد عوایه اوکړه چې "د اطلباء مجاهدین دی" قاضی
عبدالولی خان صاحب د پیښور انقلابی نظارت خارجه سره متفق
و، چې موښږ د کابل ته لاړشو.

نور مهاجرین

د ملاقات نه پسته موښږ مهمان خانی ته واستولی شو.
لس دولس کسه نور مهاجرین مهمانخانی ته ځموښږ نه یو
ورځ وړاندے راورسیدلی وو، موښږ جلال آباد ته په پښتوښت

ورځو کښې رسیدلی وو. اوهغوے د پیښورنه د خیبر په لاره، جلال اباد ته درے ورځو کښې رسیدلی وو، چه کوم وخت مونږ د وطن نه راروانیدو، نو د عام هجرت صرف خبرے کیدے.

دے مهاجرینو نه معلومه شوه چه هجرت په منظمه طریقه شروع کیدونکی دے. د دے مهاجرو کښې نیم د تهکال د پیښور د علاقې اوسیدونکی وو اونیم د لاهور د پنجاب.

په دریمه ورځ غلام نبی خان بریکیدی مونږ میلمستیا اوکړه. مونږ تول مهاجرین ئے مدعو کړو، څوفوځی افسران اوهندوستانی انقلابیان هم موجود وو، هغه د هندوستان د آزادے خبرو کښې دا خبره څرګنده کړه چه د هندوستان د غلامئ په وجه ایشیا غلام دے. که هندوستان آزاد شو نو ایشیا به آزاده شی. مونږ چه پدی پوهه شو، د وطن د آزادے جذبه مونږه اوچته شوه.

جلال آباد افغانستان کښې دیر اهم مقام د انګریزی شهنشاهیت زیاتی خورد ے، په دے وجه افغانستان دلته سته فوځ ساتی اود جلال آباد نه چارچاپیره قبائیلوته دیر اهمیت ورکوے.

د جلال آباد نهرخاته اوسویل ته شنوارے، نهرخاته قطب ته مهمند پراته دے. د افغانستان داخله کښې تورزن قبائل پراته دے، هغوے هم د انګریز مقابله کښې تل جنګیدلی

دے . خوافریدے ، مهمند ، شنواری د جلال آباد ډال دے کله چه د انګریز سره جنګ وے نو افغانستان او یا غستان کښی هره قبیله د جهاد د پاره هروخت تیاره وے حقیقت دا دے چه پښتون د غلامئ ژوند نه شی برداشت کولی .

افغانستان د انګریز سره خوخو جنګونه کړے دے ، آزاد قبائل د افغانستان په بچاؤ کښی د خیبر ره کښی د انګریز لاره بنده کړے او ډیر نقصان ورا ورسوے .

وزیرستان ۱۹۱۹ء کښی د انګریز برخلاف د آزادے جنګ شروع کړے و . او تر اوسه جنګیږے .

د افغانستان د فوج سره نه وسله نشته . دے خبرے اول ځمونږ زړونه ډیر خفه کړه . خو زړ تر زړه مونږ پوهه شوچه افغانستان د پښتنو حکومت دے . هر پښتون سره توپک دے د جنګ په وخت کښی د انګریز برخلاف قوم او فوج او وژه په اوږه جنګیږے . او اندرونی معاملا تو کښی هغه د خلقو په رضا حکومت کوے . په خلقو ټیکسونه نه لګوے او هندوستان کښی انګریز قوم بې وسلی کړے دے . خزانه د قوم د دباوو لود پاره استعمالوے . او د غلامئ د زنځیرونو د مضبوطولو د پاره ئی خرچ کوے .

د افغانستان خلقو هیڅ ډے د انګریز مخکښی سر نه دے ټیټ کړے .

جلال آباد په وسیع میدان کښی اباد دے د کابل نه
سطح مرتفع تر جلال آباد ورو ورو راښکته کیږی ، او د جلال-
آباد میدان کښی ختمیږی . دکونړ وادے ورو ورو د کونړ نه
تر جلال آباد راتیتیږی او د جلال آباد میدان کښی غیبه شی .

کوه سفید د جلال آباد سویل لوری ته په قبله نمرخاته
اوښه اوښه پروت دے . د دے غړپه سر په کښ مئی کښی هم واوره
پرته وی . او سپین پرکیږی نه حکه ورته سفید کوه یا سپین غر
وئیلی شی .

د سپین غر نه د کونړ تر غروبو او د تورخم نه تر کابله داسی
میدان پروت دے چه هوار نه د دے خو او به ورله د زراعت د پاره
هرځائے پریوانه دے . او هغه وخت لرے نه دے چه د افغانستان
د میوے زراعت او صنعت به خلق حیران کړے . د میوے
پیداوار به دومره زیات شی چه د افغانستان نیستی به غوسه شی

جلال آباد د دے غونډے وادے په کوزنئ حصه کښی
د خیبر د رے مخامخ په هغه شاهراه پروت دے چه په قرون
وسطیٰ کښی پیښور نه کابل او بلخ ئے خپلو کښی یوځای کول
د پیښمی لار د سره د الار د بلخ په مقام یوځائے کیده . او په
پیښمی لار د یوروپ نه د ترکی ، ایران او ترکستان په لاره چین
ته تجارتی کاروانونه تلل . دے بنارونو کښی د دولت انبارونه
پراته وو . انګریز د الاره تباه کړه . او یورپ ئے د سمندر په

په اوږده اوږده هندوستان سره یوځای کړو. خو چې کله هندوستان آزاد شو نو دا زړه لار به بیا تجارځان ته راکاږي او جلال آباد به بیا د کتو قابل شي.

د جلال آباد نه کابل ته

په څلورمه ورځ مونږ د تهکال د ملګرو سره بګیو کښې سواره شو، منزل مقصود کابل ته روان شو. شل کا بلی روپۍ سړې سرد تانګې کرائی مقرر شوه. اوله ورځ منزل لنډو، شپه موفتح آباد ته اورسوله.

مونږ افغانی رعایا شو

په دویمه ورځ مانښام نیملی ته اورسیدو په تولار لکه د جلال آباد په شان مونږ د حکومت میلمانه وو. هرپراو کښې سرکارې مهمان خانې کښې راته خاص ځای او دودۍ را

کړے کیدے شوہ . پولاؤ عامہ میلمستیا وہ . لکہ دنورو پراوښو نیمله کښی هم سنهٔ مهمان خانه ده .

دما سنام دده وے نه وروستو موښ ستړے ستومانه اوده پریوتو ، ایله موستر کی خوښے کړے وے چه بیائے راپاسولو . په رعیت نامو ئے خموښ پوره پوره حیله درج کړه . هرکس ته خپله رعیت نامه حواله شوه ، افسر په خوشحالی موښته مشوره راکړه :

"وروڼو خپلی فائدے دپاره دا رعیت نامی ستاسی ساتئ دا به موداخله کښی هرڅاے پکار راځی .

دمولانا خوب

بیا اوده شو . یو مهاجر خمانزدے ملاست و ، موښ ورته مولینا وے ، ډډیلی باشنده و ، په وجود کمزورے نرے و موښ سنه بنځ اوده وو ، چه هغه چغی کړے ، نورے سوے ئی جوړے کړے ، زه هم د خوبه پاسیدم ، مهاجرین اولړیدل مولانا پاسیدو ، تورے شکورے ئے جوړے کړے دے . تښتید ورته جوړشو . مالاس ورواچول . دلاسه می اونیولو ، په دے ئے ، نورے کریفی کړے ، زه پوه شوم چه مولانا په خود کښی نه دے ، رانه په خلاصی کښی و ، چه سټ ئے په لاس راغی ، په مزکړم راکښوه .

مولانا رسیدو ، د کیدو ، وینی شو. خبرے ئے نشوے کولی
موښ ډیر عمڑن شو . حیران ووچرپه ملکرے موښ چل وشو ،
چابه ونیل چه مغزو کښی ورانی دے ، چابه وے چه اوویریدو.
اخر مولانا خوله اوسپړده .

"ما خوب اولیدہ چه دپیښور په سټیشن دکاړے نه
کوزیږم ، پولیس رابانده حمله اوکړه ، زه ئے گرفتار کړم ما دامداد
دپاره چغه کړه چه پدے کښی سپاهیانو د لاسه اودستهاونیولم
حکم واویلا اوکړه."

چه ملکروته دا معلومه شوه چه د مولانا په ستړ لاس
ایښی و. اود لاسه هم ماشیولی و. نو هغوے د خندا د زوره اوږه
غړپیدل.

خاکِ جبار

سحر وختی پاسید و ، هغسی لوړے جوړے وے ، یا
به ستغ ویابه زویږ ، په اکثره ستغونو کوزیدو ، اسپوډ کے

بگی نۀ شوے را سنبلی .

دفتح آباد نه د کابل سطح مرتفع ده ، لاره اوچه میره ده . څنی څنی ځایے کښی خورونه بهیږی ، دهغو په غاړه کرکیله کیږی ، غرمه غرمه مونږ په جگدلک اوسرخ پل تیر شو .

ماښام خاک جبارته اورسیدو ، په څلورمه ورځ کوزماسپنې د کابل خورد پتاړیخی دره تیر شو ، داهغه ځائے دے چه یو انګریزے افغانی جنګ کښی دولس زره انګریزے فوځ د افغانانو دلاسه داسی تباه شوے و چه دده دے فوځ د تباهئ قصه صرف یوه زخمی ډاکټر په آس سور جلال آباد ته انګریزے فوځ ته رسولی وه .

مازیګر مونږ بُت خاک ته اورسیدو کابل مخامخ ښکاریدو په کمرکی څومونږ د سامان تلاشی اوشوه . بیا هم مونږ تر هغه کښینولی وو چه ترکومه ځے "خیل" محصول نۀ واخستی .

د جلال آباد نۀ تر کابل توت بیدانه اوابه م هیرے نه شی . چه چیرته بۀ اوبه بهیدے توت بیدانۀ به څومونږ د پاره د کشش باعث و ، مونږ به د تاڼګی نه کوز شو ، اوبو کښ به توت ته اوختو ، په یو دوه څنډه به لاندے بخاد ونه ډک شول .

کابل

د کابل نه بهر سبزه چمنونه اوباغونه دے ، سویل او نمړیواته خواته تر غرونه دے . قطب خواته تر کندهاؤ دے چه دهغی نه واورے نوکوه دامان شروع کیږے . د کابل نه قطب اونمرخاته تر میدان دے چارچاپیره میوه زیاته پیدا کیږے دوه دے نه میوه ارزانه ده .

قاضی عبدالولی

کابل کښی د حکومت دلورے یوسرائے د مهاجرینو د پاره مقرروه . مونږ ئے هغی ته اورسولو . خو مونږ نه وراندے هغی کښی یو فرنگی میلمه هم دیره و . مونږ یو خو کمروباندی قبضه اوکړه چه په دے کښی محمد راښکاره شو .

د محمد دلیدو نه حیران شوم چه هغه څه رنگ دبدبه یو

نه کابل ته راورسیدو. پس دسترخے مشی اوجورتا زه نه ئے مونږ ته دقاضی صاحب عبد الولی خان دلورے د عوت راکړو. مونږ په خوشحالئ داد عوت منظورکړو.

محمد حماد کلی بدنبو و، حمانه یوکال وراند ے کابل ته راغلی و. اودقاضی صاحب سره و.

قاضی صاحب پیښورکښی هردلعزیز لیدړو، سنه ۱۹۱۹ء کښی جلیانوالہ باغ کښی انګریز چه کوم ظلم کړے ود هغی برخلاف ئے خوله پرانستی وه. اوبتیجه ئے داوه چه دپیښورنه کابل ته را اورسید و. هغه دګوجرانو په جامه کوتک په اوزه په یوپټه لاړه دپیښوره وتی و. اودتیراه په لاره افغانستان ته ورښونیدلی و. اود غسی خپل خوږ وطن ئے پریښی و.

قاضی صاحب خموږ دیرمدارا وکړو. دوه ورځی چه مونږ کابل کښی وو، دهغه میلمانه وو. دواړه ورځی هغه کوشش اوکړو چه حکومت مونږ ته اجازت راکړے چه مونږ کابل کښی پاتی شو. نظارت خارجه ته خموږ سره لاړو، خوداعلیٰ حضرت حکم و. چه مونږ به جبل سراج ته خو. نه چاداعلیٰ حضرت غوږونو ته خموږ سوال اورسولی شو. اونه خموږ د پاره دغه حکم بدل شو.

دقاضی خاے کښی په ورومبئی مانښام خموږ ملاقات د مولوے عبید الله سندهی اومولوے بشیرسره اوشو،

څه رنګ چې ما وړاندے ذکر کړے دے مولوے بشیر کابل کښې د مجاهدینو نمائنده و. او مولوے عبید الله سندهی زور د انقلابی کابل کښې د "موقتی حکومت هند" صدر و.

د قاضی حالات دایم. اے مجید موچی ګیټ لاهور دیو مضمون "محنت کش" لاهور ۲۷ مئی ۱۹۲۷ ء نه به ښه روښانه شی. مجید هغه ټولی کښې وچې کوم څو مونږ نه جلال آباد کښې پاتې شوے و. ایم اے مجید د لاهور موچی ګیټ اوسیدونکی دے. د قاضی صاحب داخلاص تعریف داسی کوے :-

"سحر څه هندوستانیان چې د حکومت افغانستان په ملازمت کښې وو او څنی یکښې څو مونږ واقف وو. مونږ ته په خیر راغلی او دعوت راکولو د پاره څو مونږ ملاقات ترې اغلل. د دوے دعوت مونږ منظور نه کړو. دوے ډیر اصرار کولو او مونږ عذر ے نه منلو په دے "څو" او "نه څو" کښې د قاضی صاحب عبد الولی خان دلوری نه چاته د حکومت افغانستان نه د "لوے خان" خطاب ورکړی شوے دے سړے راغلی چې قاضی صاحب موبایل دوے او د روټرے دا فطا- رے دعوت درکوے. مونږ هغه ته هم معذرت اوکړو خو کامیاب نه شو."

"ما بنام د نمر پریوتو نه اول مونږ د قاضی صاحب ځای ته لاړو. قاضی صاحب په ډیره مینه او محبت مونږ ته راپاسید و او راترغاړې وه. د روټرې ماتې نه روسته وایسته او ډټه خبرے شروع شوی .....

د مړې پس د قاضی اولنی عمر را معلوم شو. دوے خاص د
د پیښور اوسیدونکی دے. لوبه اونه ښکلی پښتون د ئے.

خمونږ د ملاقات په وخت د قاضی صاحب عمر د ۴۵
کاله و. دوے په ۱۹۱۲ - ۱۳ء کښی جنګ طرابلس کښی د غازے
انور پاشا سره هلال احمر کښی کار کړے و. یعنی دے هم د هغه
وفد یو فرد و. چه د د اکثر انصارے په سر کرد ګئ کښی طرابلس
اوبلقان ته لاړو دوے د مارشل لاء ورځو کښی د انګریزی پهره
دار و ستر ګی پندے کړے او افغانستان ته تر اووتو. خمونږ د
د ملاقات ورځو کښی د امیر صاحب خاص دربار یانو کښی شامل
و. د دوے ورځ خرڅ د حکومت په ذمه و. دوے د خپل حال
بیانولو دوران کښی هم داوئیلی ووچه د دربار ته کم خم. هغ
هم کله کله چه امیر صاحب م اوبلی.

مولانا عبیدالله سندهی

د قاضی صاحب عبدالولی خان په خانے کښی ناست وو
چه چا خبر راورو چه مولانا صاحب راځی. د مولانا لږ لږ حال
موږ ته چمرقند اوجلال آباد کښی معلوم شوے و. دے
کښی څه شک نشته چه د مولانا انقلابی ژوند موږ ته د
ملاقات نه ورسته او خصوصاً اوس کی معلوم شو.
خو بیا هم خمونږ په ځړه کښی دده شخصیت

دلید ودحد نه زیات شوق و. مولانا صاحب د عامو پنجابیانو په شان ددرنی سکی خاوند و، اوږده ګډه وده ږیره ئے وه، توږے توږے سترګے ئے لکه د غشو دسرے برپورے راپورے وتلی.

د مولانا بابت مشهوره وه چه هغه په ۱۹۱۴ ،کښی دیو انقلابی جماعت له خوا دیوه خفیه نمائنده په حیثیت کابل ته راغلی و، د بادشاه حبیب الله خان زمانه وه. دجرمنی وفد د فونهیینټک په رهنمائیئے کښی افغانستان ته راغلی و. چه هندوستان کښی د انګریزانو د مخالفینو سره تعلق پیدا کړے دانده معلومه چه مولانا د فونهیینټک سره څومره اوڅه قسم مدد اوکړے شو. خو دا یقینی ده چه مولانا خپله څوځو ځله هندوستان ته پت لاړو او د فونهیینټک ته کابل ته راغلی و، مولانا کابل کښی د موقتی حکومت هند" صدر و، چه هند وستان کښی به په انګریزانو چا بم اوغورزولو نوده به لاس اوچت کړو اوحاضرینو ته به ئے اووے چه:-

دعا اوکړئے چه مسلمانانو ته خدائے تعالی طاقت ورکړے چه د غښی بمونه په انګریزانو غورزوے"

یا که څوک به د آزادئے په لاره کښی شهید شونو داد عا به ئی اوکړه:

"شکر دے خدایا! چه یو هندوستانی ته دِ دا همت ورکړو. نورو ته هم دغسی لاره اوښائے"

مولانا د سیالکوټ د سکھانوپه کورنۍ کښې پیدا شوے
وو. پلار ئے زړتر زړه د دنیا نه رخصت شو، نو یتیم وپیژه
غازے خان کښې د ماما کور کښې لوے شو. وړوکوالی کښې مسلما-
نان هلکان دده هم جماعتیان و. هغوے د اثر او څه د اسلامی
کتابونو اثر و، چه مولانا مسلمان شو. او د ماما نه د مخ پناه کولو
د پاره د مظفر گړه ضلعی دیوبند ګ او عالم سره شاګرد شو. مو-
لانا زړتر زړه د شیخ الهند، د حکیم اجمل خان او د اسی
نورو آزادے خواه مسلمانانو نه زیر اثر راغلی و.

محمد شفیق

محمد شفیق سره خو ملاقات اوشو. دے پوخ تجربه
کار انقلابی و، چه موږ تاشقند ته اورسیدو نو دے هم د
ایم. این. رائے سره "ریفکم" کښې اوسید و، د ریفکم مطلب
"انقلابی کمیټی" کورد ئے. موږ نه ته به کله کله د ملاقات د پاره
"اند وسکی دومړ د "هند وستان کور" ته راتلو. محمد شفیق
سره زړه تاشقند کښې نږدے پاتې شوے وم. خو زړه پرے هیڅ ے
نه وم پوهه شوے چه محمد شفیق پښتون دئے یا د کوم ے دی
اکوم ے بد ډبنوته اته میله فاصله کښې دے
زړه چه وطن ته راواورسیدم د مقدمے په دوران کښې

چې یو ورځ موښ انه وارې ملګرې د پیښور د ستی مجسټریټ د عدالت نه بهر نرولنو او هتکر و کښی ناست وو. پولیس سنګینونه ایستلی چارچاپیره ولاړ وو، ځما پلار ما ته رانزدې شو، او وې ویل: "دا متردد اکوړې دے. دده ورور تاسو سره وو، دی دے د هغه بابت پښتنه کوے."

"موښ سره د اکوړې خوځوک نه و." ما جواب ورکړو.

"محمد شفیق تاسو سره نه و" رانه پښتنه ئے اوکړه".

"محمد شفیق ستا ورور و؟ هغه د اکوړې و؟"

زه حیران شوم. خوغږمی اونکړو. پوهیدم چې محمد شفیق انقلابی و، اود انقلابی تعلیم "ا ب ت ث" د هرے خبرے خفیه سائل دے.

محمد شفیق د ما سکونه ۱۹۲۱ء کښی د جرمنی په لاره هندوستان ته په بدله جامه کښی راغلی و، اود پیښور په لاره بیا کابل ته رسیدلی وو.

محمد شفیق بیا هرات ته رسیدلی و، چې ایران ته واوړیدو نود سیستان واکدار چې انګریزانو سیاست زیراثر و، دے ئے گرفتار کړو. محمد شفیق ئے پیاده بلوچستان کویټی ته بندے را اورسولو. پیښور کښی موښ د محمد شفیق په پند و اوپښو زولنو جوړ شوے خرا پونه اولیدل. خفه شو خوهم په هغه ورځ ورته پیښور جیل کښی نورے زولنی پښو کښی واچولی شوے.

کله کله ما فکر یوسی چه پښتنو او عامو هند وستانیانو چه کوم تکلیفونه د وطن د آزادے د پاره د هند وستان نه بهر تیر کړے دے د هغی نه د هند وستان لیکونکی نه دے خبر، او ځکه به د تحریر کښی راته ژشی. او دا به یو المیه (Tragedy) وے. چه خمونږ آئنده نسلونه به د دے نه خبر نه ژشی چه د غلام هند وستان په آزادے کښی انقلابیانو د هند وستان نه بهر څه قسم تکلیفونه ټیر کړے دے او قربانئے ئے کړے دے.

د هند وستان د داخلی انقلابیانو قربانئ او مصیبتونه خو به ضرور په تحریر کښی راځی. خو هغه هند و او مسلمان چه کوم د وطن د آزادے د پاره د وطن نه بهر ځانونه قربان کړے دی د هغوے حالات آئنده نسلونو ته رسول په عقل گران سودا نه کاری.

مولانا عبد الرب

مولانا عبد الرب پیښور کښی پیدا شوے او لوئے شوے وو. دے او کورنۍ بلوچستان کښی د برټش حکومت له خوا استینټ کمیشنرز و بیاد " اول عالمی جنگ نه وړاندے مولانا په بغداد کښی برطانئ په سفارت خانه کښی متعین شوے و. چه ترکومه د انګریزانو بر خلاف اعلان جنګ او کړو نو انګریزانو بغداد پریښو. او مولانا عبد الرب کونسلیټ کښی یوا ځی پاتی شو.

مولانا په ځای د متابعت د ترکو امداد شروع کړو. او خفیه رازونه ئے ترکو ته حواله کړل.

په مارچ ۱۹۱۹ء کښی د هندوستان د سر انقلابیانو یو ټولی تاشقند ته راورسیدلی وو. دا نړۍ ده معلومه چه دا ټولی تاشقند ته د کوم ځای نه راغلی وو. دے ټولی کښی د بهوپال مولانا برکت الله د اګرے اودھ متحده صوبې راجه موهند ر پرتاب، د پیښور مولانا عبدالرب اود اکوړے محمد شفیق شامل وو.

د مولانا عبدالرب بابت دا هم وئیلی شوچه هغه دلیته سره ماسکو کښی په دغه کال کښی ملاقات کړے و، او دا دلته ئے په درخواست ئے د هندوستان د آزادے تحریک باندے د معیارے کتابونو فهرست ورکړے و.

په جون ۱۹۲۰ء کښی مولانا عبدالرب سره مونږه د سویت روس سفارت خانه کابل کښی ملاقات کړے و، د دغه وخت مولانا بیاد کابل نه تاشقند ته روان و.

دا سی معلومیده چه کال ۱۹۱۹ء او کال ۱۹۲۰ کښی د سویت روس په نظر کښی د مولانا ډیر عزت و، او د روس په لیډرانو د هغه ډیر اثر و. مونږ د هغه په دعوت د تاشقند په خیال روان شوے وو. خو چه مونږ وراورسیدو نو مونږ ته معلومه شوه چه تاشقند کښی د هندوستان د انقلابیانو مشرے د مولانا عبدالرب په لاس کښی نه وه، یونټکالی ایم. این رائے د سویت د طرف نه

واکدارو. مولانا د روس دلیدرانو په نظر کښی پریوتی و. دی
خمونږ سره په یوځای ترکمره کښی په "اند وسکی د ومه"
"د هند وستان کور" کښی اوسیدو. وخت ئے تیرولو.

مونږ لا تاشقند کښی ووچه مولانا په ۱۹۲۱ء کښی
د تاشقند نه د ماسکو په لاره جرمنی ته لاړو.

ACKU

افغانستان

ACKU

ACKU

مولوی عبدالرب صاحب

سره ملاقات

کابل ته زموږ د سید وپه دویمه ورځ موږ سحر وختی دچا دځلی خبر شوچه ښ مولوی صاحب عبدالرب تاشقند ته رخصتیږی د مولوی صاحب حال موږ وراندی اوریدلی وو. موږ په دیر شوق د روس سفارت خانی ته ورغلو. هلته مو یوخو وطنیان اولیدل سنه په خوانی کښی وو. د سورلی په لباس کښی ولاړ وو. بی حده خوشحاله وو. یوخوا ته لس اته نرین کړی آسونه اوخوکچری بار کړی ولاړی وی نږدی نږدی زموږ تعارف ورسره اوشو. دوی څلور پښتنوریان. یومدارسی انقلابی چه نوم ئی آچاریه وو او دوه کسان د کوهاټ وو. چه په هغو کښی یوفقیر محمد نظیر او دویم عبدالکریم وو. اویو د بلوچستان وو. موږ د انقلابیانو سره خبری کولی چه په دی کښی یودرمیانه قد، غنم رنګ، سپینه برګ خاشخاشی ږیره اوپه عمر تقریباً د ۵۵ کالو سړی د سفیر د بنګلی نه راو وتو. دا مولانا عبدالرب وو. یوخوابل خواتری دوه فرنګیان راروان وو. معلومه شوچه یود روس سفیر وو. اوبل ئی ترجمان. چه د شلو کالو هلک وو. موږ ته دوی مخامخ اودریدل. سفیر په

خپله ژبه کښې یولنډه تقریر اوکړو . ترجمان ئے په انګریزے کښې ترجمه اوکړه . مطلب ئے داوو :

"جمهوریه شورایه روسی د مزدورانو اودهقانانو جمهوریت دے ځکه د دنیا د مظلومانو سره ئے همدردے ده . سویټ روس د هندوستان انقلاب ډیره په دلچسپی سره کوري . هندوستانی انقلابیان د سویټ روس خپل کور اوګڼي سویټ روس ذمه اخیستی ده چه دوے ته پناه ورکړي اود هند د انقلاب د پاره هر قسم امداد چه دوے ته ضرورت وے ، به ورکوے ."

مولانا عبدالرب په ولاړے ولاړے مختصر جواب ورکړو . دوران تقریر هم مولانا اعلان اوکړو چه سفیر ما سره وعده اوکړه چه کله هندوستان یان تعلیم یافته خلمی تاشقند ته راشی نو سویټ به ورته هلته یوه فوجی مدرسه جوړه کړے . چه په هغی کښې به پیاده اوهوائی فوجی ټریننګ ورکیدلی شی ."

مولانا نرهوښ سره هم یو مختصر ملاقات اوکړو . موښ ته ئی اووے چه تاسو کښ تاشقند ته راشئ نو هوائی تعلیم به حاصل کړے . مولانا بیا په خپل آس سورشو . داشاندار سورلی نرهوښ یه مخکښې د سفارت خانے نه اووته اود تاشقند په لور روانه شوه .

موښ کابل کښې صرف دوه ورځې تیرے کړے . ځکه د دے سبا سره حق له ځما مشاهدات سره سره دے . خودلته د کابل

حالات لوستونکو ته پیش کول دیر ضرورے نه دے . حُکه چه د کابل حالات په هره زمانه کښی سیلانیا نو د دنیا مخکښی پیش کړے دی.

د کابل خوږ باد او خوږی اوبه

موږ د جیټھ په آخرو ورځو کښی کابل ته رسید لی وو. د هارا ابتدا وه . موږ د وطن په دے ورځو کښی چه کوم موسم دے ، دهغی دبیا نولو ضرورت نه گڼرم ، خو دومره به او وایم چه د کرمئی نه سړے د دنیا کار روزگار نه شی کولی . ولی کابل کښی دے ورځو کښی شایسته موسم وے . نه موږ د وطن سپرلی دے .

د کابل ښار په نهه طریقه جوړ دے . خاے په خاے بازار باندے چهت لګولی شوے دے . نه حیران یم چه داچهت د باران نه څوک نه شی بچ کولی . صرف د نورنه د بچ کیدو د پاره ښه څپر ښکاره ، خو د نورنه د بازار پناه کول د صحت د پاره نقصان دے . حُکه دا د نورنه پناه کیدو د پاره نه ووجو رشوے حُما خیال دے چه وسط ایشیا کښی د بازار د پاسه چهتونه صرف

د واورونه د بازار بیچ کول مطلب کیدے شی . د کابل خوږ باد او خوږے اوبه د هرڅه نه په سړے زیات اثر کوے . د سطح سمندر نه ځما خیال دے چه کابل به پنځه زره فټه اوچت دے . اوړے کښی گرمی نه وے . خو کابل یخ هم نه دے . معمولی جامو کښی ښه گذاره کیږے . د گرمو جامو ضرورت نه وے .

د کابل صفائے ښه نه ده . خو صفائے دایشیا د یو زور پنبار هم ښه نه ده . افغانستان وروکی ملک دے او کابل د هغی مرکز دے . خو تجارت ئے هم دومره ښه نه وے چه د سنا رد بلدئے د پیرامدن اوشی او د یوروپ د سنا رونو په شان یو صاف ستهره سنا رجوړ کړے شی . د پیښور کابل تجارت په اوسنا نوا وکچرو کیږے نو ځکه بغیر د دیر حالات معلومولو وئیلی شو چه کابل دولتمند سنار نه شی کیدے . او ځکه سنا رهم زور دے . نوے عمارتونه پکښی کم دے . او که دے نو هغه حکومت جوړ کړے دے . د تجارت حال د کابل د بازار نه معلومیدے شی .

کوه دامان

پ د دریمه ورځ قاضی صاحب زمونږ د پاره تانگی اوکړے . اوسړے سړے یوه اشرفی دلاړے خرڅ راکړو . د کابل نه جبل سراج پنځوس میله دے . سړک ښه پوخ دے . اوپه ټول افغانستان کښی

داسرک دے چہ یوخ شوی دے ۔ اوپاخہ پلونہ پرے جوړ شوے دے ۔ دادَ جبل سراج ذ بریښنا کور ، بجلی گھر ، برکت دے ۔ په لاړہ کښی چا یکارلونے مقام دے ۔ پکښی ښہ بازار دے ۔ موبز پکښی دوہ گھنتی دمہ اوکړہ ۔ ښہ وختی ما نیګر جبل السراج تہ راورسیدو ۔ دلتہ یوہ فوځی قلعہ دہ ۔ اویوہ بلہ وړہ قلعہ دہ چہ ھغی تہ د سرورخان قلعہ وئیلی شی ۔ دے قلعہ کښی پاس بالاخانہ کښی موبز تہ ځائے راکړے شو ۔

جبل سراج

دادکوہ دامان یو مشہور صحت افزا مقام دے پکښی فوځی قلعہ وہ ، چہ ځلور سوہ سپاہیان پکښی اوسی ۔ جبل السراج کښی لوی بجلی گھر دے ۔ دا بجلی گھر د کابل ښار تہ رنړا ورکوے ۔ اوفوځی او سول کارخانی پرے چلیږے ۔ دَ کوہ دامان غونډہ وادے ، پنځہ ویشت میلہ پلنہ اوزدہ دحدنہ زرہیات سرسبزہ دہ ۔ دریاب پنجشیر اوتورے وړے وړے دغرہ نالی داسیراب کوے ۔ بیدانہ توت ، انګور خرمانے اوخربوزہ ئے پیدا وار دے ۔ غنم اوریژہ پکښی کیږے خو لږہ ۔ خلق په ژمی کښی په توت ، انګور اوتورو میوو ګذارہ کوے جبل ۔ السراج دغرہ په ښیمہ کښی اوچت آباد دے ۔ اوقلعہ سرورخان خوپہ داسی ځائے دہ ۔ چہ تول کوہ دامان تړے یوباغ ښکاړے ۔ موبز دلتہ دَ اړ په شروع اودچیتھ په اخر کښی راورسیدو ۔ دَ ماہ جون ښیمہ وہ ۔ اوروغہ میاشت موتیرہ کړہ موبز وطن کښی ھار پټول کال

کښی سخته ګرمی میاشت ده . خو جبل السراج کښی دغه میاشت دشپی دخاد ر ضرورت وے . اووځ ئے سبزه خوشګواره ده . صحت افزا مقام دے . موښ به درے ځله د ودئے خوړله . اوچه وریسی به مواوبه اوخښلے نو صفا به پوهشوچه هرڅه به هضم شول .

جبل السراج تول افغانستان کښی خاص صحت افزا مقام نه شی ګڼلی . قریباً تول افغانستان د صحت دپاره سبزه ځائے دے خو هغه ځایونه دکتو قابل دے چه کوم افغانستان کښی صحت افزا ګڼلی شی ویلی شو چه د امیر شهید حبیب الله خان دپاره به دکل بهار نه د څښلو اوبه تلی . کل بهار د جبل السراج سره څو څو میله کښی نهر خاته تیروت دے . مخکښی ئے ذکر شته .

امین الله خان مهماندار

حکومت د مهاجرو د انتظام د پاره یوکابلی امین الله خان مهماندار مقرر کړے وو . امین الله خان زیات عمر هندوستان کښی تیر کړے وو . او ځکه به پنجابئے او اردو سره پوهید و او

دغه د مهمانۍ د مقرریتیا وجه وه . ابتدائی ورځو کښې ځمونږ عزت نزیات وو . د جبل السراج د فوج کرنیل او د پولیس کوټوال مونږ ته دوه دے اوکړے . د کابل د هندوستانی انقلابیانو او د انقلابی جماعتونو نه مالی امداد مونږ ته راکړے کیدے شو . امین الله خان زمونږ خلور و ملګرو سره خصوصی مینه وه . مونږ به ئے د مازیګر چا سره چا پیره ګرځولو . اوویل به ئے " اعلی حضرت د تعلیم قدر کوے اوتاسو تعلیم یافته یئ . نو ضرور به تاسو ته ښې نوکرے درکړے شی "

جبل السراج کښې دوه سوه افریدے فوج کښې سپاهیان وو ، دا افریدے د کال ۱۹۱۹ء جنګ کښې سره د توپکو د خیبر الفلز نه افغانستان خوا ته اوړیدلی وو . د ے قلعه کښې نور سپاهیان کوه دامانی هم وو . کوه دامان کښې پښتونه شی وئیلی . د کوه دامان ژبه فارسی ده . خلق ئے تاجک دے . افریدے زمونږ په لیدو دیر خوشحاله شو . کله به دوے زمونږ اوکله به مونږ د دوے میلمستیا کوله . د افریدے سپاهیانو تنخواه لږه وه . شل کابلی روپئ . خو دوے جامے ئے سره کاږے وه . د ګډ غوښه اوورځے د سپاهیانو راشن ضرورے جزوو . د افریدو د ګډ غوښه خوښه وے . بیا هم افریدے خوشحاله نه وو . اوځکه کسان ترے وطن ته تښتیدلی وو . د افریدو د کوه دامان خلق خوښ نه وو او وجه ئے قوے تنګ نظرے وه .

دسرورخان قلعه

څرنګه چه ما وړاندے وئیلی دے . جبل السراج کښی د
فوجی قلعه نه علاوه د غلام سرورخان قلعه هم دلید وخاے دے .
مینځ کښی د سرورخان کوروو . اوچا پیره تړه هغه فوج اوسید وویلی
شی چه دامیرشهید حبیب الله خان په وخت کښی داخان حکومت
دارکړے وو . اوس په دے قلعه کښی دحکومت قبضه ده . زمونږ
نه وړاندے دے قلعه کښی د بجلی کهر عمله اوسیدله د دے قلعه
نه پاس د باد اموا ولاندے ترے د خرمانو باغ دے . اولاندے
د غړه ویخ کښی بجلی کهر دے . پاس د یودرے نه د واؤرویخی اوبه
راوځی . اول پرے د باد اموباغ اوبه شی اوبیاد اوبه د قلعه په مینځ ،
کښی رابهیږے اوپه هغی لاندے د خرمانو اونورو باغونه خرڅوبیږی
د ولی د ځلی نه ځیوه درنه وُلّه جدا کړے ده . اوداوچت ځاے نه ئی
په بجلی کهر ورشغولی ده . دے ولی ته چه سړے اوګورے . نوپه وله
د بجلی کهر په مکان دیرکم خرڅ شوے دے . خوبو عظیم الشان بجلی
کهر پرے جوړ دے . څلور لوئے لوئے څرخی په بجلی کهر کښی ولاړی

دے . اوس صرف دوه کار کوے اود افغانستان دَپاره تخت ضرورت یات پوره کوے . وئیلی شی چه دا بجلی گلهر جلال آباد پوره طاقت ورکولی شی .

جبل سراج کښی

دَمهاجرینو ژوند

په یوه میاشت کښی دوه سوه مهاجرد سروړخان قلعه کښی ځای شول . دَحکومت دخوانه د تولو مهاجرو دپاره جیره مقرر شوے وه . جیره کښی صرف د غنمو اوړه وو . خواړه زموږ د ضرورت نه زیات وو . دَ ژیاتی اوړو په بدل کښی موږ ته غوښی اوکله غوړے به واخستل . ځنی ځنی مهاجرو ته به چه دَ جاموضرورت وو حکومت به ورکولی .

موسم ډیر سړه وو . چه چرے راباندے خولی نه وے راغلی ځنی ځنی وخت به مویخنی هم اوشوه . اوشپه خو همیشه سړه وه . جبل سراج کښی دګډ غوسنه ډیره وه . ځلور آنی چارک وو . اوچارک زموږ ډپوخ سیرنه زیات دے . لږو ورځو کښی دجبل سراج سنه خوراک اواوبو مهاجرو پرکول . دَ وینی د زوره ے ځوښه شوه

موږ به هرمانۍ کړد جبل سراج نه چارچاپیره په میلونو کړځیدو.
اود غښتی موږ نه بې ورزښ هم نه وو پاتې. موږ چې هرځای کوه دامان
کښې کړځیدلی وو. نو چارچاپیره به رانه دانګو روبا غونډ وو. ډډې
ځای اوچ میوه ټول هندوستان ته رسی.

کله کله به موږ د مهماندارۍ دوربین نه هم ښه کار اخستلو
په اوچت ځای به کښینا ستو او کوه دامان به موتر لرې لرې پورې
پورې کتلو. موږ د غسی شپې وخت تیرولی او تعداد به مو ورځ
په ورځ زیاتیدو. د کوه دامان خوشحالی میوه ده. موږ صرف توت
او خرمانې کښې خپل نصیب ټول کړو. خو کوه دامان کښې د خوراک
او خوشحالی څیزانګور او خربوزه ده. چې موږ ترې محروم پاتې شو.
دهغې د پخیدو موسم نه موږ د رخصتیدو نه روستو وو.

د مهاجرو کمیټی

نه موږ په جبل سراج کښې لس ورځې نه وې تیرې چې د
مهاجرو شمار سلونه نړدې شو. تعداد زیاتیدو سره سره نکارنګ تکلیفونه
پیدا کیدل. هره ورځ نوې مسئلې راپیښیدلی. د ډډې دحل کولو
دپاره به د مهاجرو جمع کول ضرورې وو. هرسړې به د دخپل کار
دپاره مهماندارته تلو. خلقونه تکلیف وو. او مهماندارته هم
تکلیف وو. دیر پکښې بې تعلیمه اوسرکش هم وو. هره ورځ به ئې د
مهماندار سره جګړه وه. اود دې تولونه زیاته خبره داوه چې

مهاجرینو په خپلو کښی هم په پوټی پوټی خبرو جنګونه کول . نو ضرورت محسوس شو . چه یوه جرګه جوړه شی چه د مهاجرو کورنۍ مسئلی په پرده کښی کورکښی حل شی . یوه جلسه اوشوه . اودتولو په خوښی یوه نماینده جرګه جوړه شوه . ددی جرګی صدر نرموښ ملګری محمد اکبر قریشی اوتاکلی شو . داخوښکاره خبره ده . چه د مهاجرت طبیعت جنګی وو . اوځکه ئے هجرت کړے وو . د دوے طبیعت آزاد وو ځکه ئے د انګریز انوسره نه لګیده اودخپل وطن په پریښو مجبور شوے وو . نو په داسی حالا تو کښی د جرګی مخکښی د کارکمئ نه وو . یوه هفته کښی ثابته شوه چه د مهاجرو کمیتی سنه کارکوی . مهماندارهم خوشحال شو . چه د دیر تکلیف نه خلاص شو . اوموږ خوشحاله وو . چه مونږ پرده پاتی شوه .

د مهاجرو فوجی تربیت

جرګی سنه کارونه اوکړل . سره مبئ کارے داوو . چه یو مرکزے فنډ ئے جوړکړو . شته منو مهاجرینو پکښی چنده ورکړه اود کابل نه به چه نرموښ وطنیانو څخه امداد مهاجرو ته ورکول غوښتل نو دے جرګی ته به ئے راواستول . اوبل لوئے کار چه دے جرګی اوکړو هغه

مهاجروته فوجی ترینګ ورکول وو. مهاجرو په خپلو نړیوالو کښې یولوی خیال راوړے وو. اوهغه د وطن د آزادۍ د پاره غزا کول وو. نو ځکه هر سړے په خوشحالئ د فوجی تربیت د پاره تیار وو. مونږ کښې حاجی معراج الدین اوحاجی شهاب الدین د لاهور مهاجرین وو دوے عالمان وو. او مهاجرینو ورته د یر په عزت اود قدر په نظر سره کتل خصوصاً معراج الدین خوبوډا وو. خود واړو حاجیانو په خوښئ د د سپاهیانو ګیرت تربیت اخستل منظور کړل.

د جبل سراج وخ کښې د بجلی ګهر سره یو میدان وو. مونږ کښې قواعد (پریډ) شروع کړو. لږ ورځو کښې شل مهاجر سپاهیان سحر وختی به میدان ته راوو تل. او پریډ به ئې کولو.

مهاجرو کښې داسی سړے هم ووچه هغوے د انګریزانو فوج نه راتښتیدلی وو. هغوے فوجی تربیت ورکونکی شول. او د تول فوج کماندار د پنجاب د یونیورسټئ یو طالب علم عبدالرحیم مقرر شو. چه فوجی ترینګ ئے په لاهور کښې د یونیورسټی ترینګ کور کښې حاصل کړی وو. څو ورځو کښې د مازیګر هم قواعد شروع شو.

کمیټی نظارت خارجه ته د رخواست ورکړو. چه د مهاجرو د پاره توپکونه راکړے. خود ے د رخواست په نامنظور ولوڅه وخت اونه لګید و خو مهاجر داسی خلق نه وو چه مایوسه شوے وے.

کمیټی فیصله اوکړه. چه د توپک کار د د انګ نه اخیستئ شی. د توتانو نه ئے غټ غټ چوبونه راپرے کړل او یوه اوږده لکړه ئے د جهنډے

د پاره راپیدا کړه په وخت د قواعد به د اجهنډه د برسیښنا خانی په میدان سنبځه وه اوه ولکی به د قدم د درست کولو د پاره وهلی شو.

عبدالرحیم سنبه کامیاب وو. مهماندار او افغانی کرنیل به زموږ د قواعد کتلو د پاره د بجلی گهر میدان ته راکوزیدل. سنبۍ ساعت به ولاړ وو. زموږ د کوتک نه د توپک استعمال ډهغوے ډیر خوښ شوے وو. د کمیټی د حکم مطابق صرف زاړه اوناجوړه قواعد اپریدل، نه معاف وو.

سَعِید خان

په دے ورځو کښی یوسپاهی طبیعت مهاجر را اورسیدو. دده ترکوه و نوے بوټان په پښتو وو. حقیقت کښی د الوے بوټان نه وو. د بوټانو د پاسه د څرمنی پټۍ ے ترلی وے لکه چه په هندوستانی رسالو کښی ے سوار په پښتونه تاووے. دے هندوستان کښی رساله کښی جمعدار وو. نږے اوچټ ځوانی ے وه. چست چابک وو. د خپل سنه شکل، سنی ځوانۍ اوخورښے ژبی په برکت ده کافی مهاجرین خپل ځان ته راښکل. دده نوم سعید خان وو. دے د اکوړے نزدی د ډنگر زو اوسیدونکی وو. ده نهر تر نهره په صفا الفاظو کښی مطالبه اوکړه چه زه د مهاجرینو د فوج د کماندار ے حقدار یم اوکه ځما دا

مطالبه اونۍ منلی شی . نو پښتانه مهاجرین به بیل شی .

داخبره دمشرانو دیره خوښه نه شوه . خو بیلتون دبـــکه مهاجرو نه شوه برداشت کولی . نو سعید خان کمانداړ شو . دهغه حکم دهغۍ اوچت ګرنګ آواز سره مزه کوله . اوددے دپاسه دهغه اوږده اوږده بریت . نو مهاجرین په نوے انتخاب خفۍ نه وو .

نوی نوی مهاجرین جبل السراج

ته راړسی

هره ورځ به جبل سراج ته نوی نوی مهاجر راتلل . موښز به د ددوے د استقبال دپاره دوه میله مخی ته وتلو . ددوے په لیدو به موښز اول خوشحاله شوا وبیا به خفه شو دنوے کسانو په راتلو به موښز فخر کولو . په زړه کښی به موښ محسوسه کړه چه موښز صحی کار کړے دے . دوطن حال به هم راڅه معلوم شوا ودوطن مینۍ به موپرے ماته شوه . خو چه قلعه ته به اورسید و اوخپل خپل خاے کښی به خان خان له شو . نو په زړه کښی به موده اخیال راا وچتیدو چه موښز د وطن په پریښودو مجبور شوی یو . بیا دوطن لیدل یو خوب دے . اورو روبه موخوابه ملګری اوخپل خپلوان هیر شی .

یورپ ته کوم خوک لاړ شی نو اکثر ورسره دیرے پیسی وے . هره شپه تهیټرونه . سینما ګانی اودخوشحالی نورے ذریعی وے خو

د افغانستان په سخت وطن سختو غرونو اوناپیژندګلي کښې چې سړے مسافرشي . اود خوږ وطن ، سړه دخط وکتابت سلسلې هم نه وے . نوسړے هلته پوهه شي چې سفر سخت کار دے .

زهوږ وطن ته فاصله کمه وه خوحالا تو دا فاصله اوږده کړې وه . یوماښام په دودے ناست وم . چې چا خبر راکړو چې یوسړے دې لوئے لوړے بریت ئے دئے . سبکلی بزیره توپک په اوږه سبه ملګرې خوان دئے ، ستاپوس کوے . خپل نوم غلام یحییٰ سبا ئی اووائے چې ستاورورېم . ماډودے پریښوده . دا وخت برج نه په منډه منډه راکوزشوم . د ملګرے استقبال ته راوپریدم . د اسې ملګرے چې وارخطا یوخاے لوے شوے وو . اود تولوښه لویه خبره داوه چې هغه د هغه کلي نه راغلی ووچه نږه دهغې د حال اوریدو دیر مشتاق وم .

دافغانستان اوانګریزانو د صلحې خبرارسیدل

په جبل سراج باندې شین تندر

په دے شان په جبل سراج کښې ورځې تیریدے . موږ وو اوقواعد وو . لابه چارانته میلمستیا کړے وه اولابه موشوک میلمانه وه . هره خواخوشحالی وه . د جبل سراج سبه موسم خپل اثر ورځ په

ورځ ښځیلو په دویمه دریمه به جلسې وے ۔ موږ پوهه وو چه د هندوستان قانونی قیود په موږ نشته ۔ چه څه به موږ وهغه موږ ته ښکاره وو ۔ تقریرونو د موسیقی کارکولو ۔ آزادے لوے نعمت دے او یا د هغه خلقو د پاره چه آزادے ے نه وے لیدلی او ناساپه ے او موږ خان بی نخیره محسوس کړو ۔ او څکه دیر خوشحاله وو ۔

خو افسوس پرده زمونږ پورته شوه ۔ موږ په خیال کښی چه د مستقبل کوم تصویر وو هغه پاتی نه شو ۔ موږ په زړه نو کښی څه وو او راپیښ څه شول ؟ موږ زړه کښی څه کړل او څه ریبل او امان افغان " د کابل اخبار راته جوړ کښی څه را واچول ۔ د " امان افغان " خبر اثر د ومره زیات وو چه زه کله ئی هر څومره په تحریر کښی راولمه نه شی راتلی ۔ دے خبر مهاجرو اوچت کړل ۔ پیاده ے روان کړل ۔ او زے ترنے ے د افغانستان په غرونو او میروسر کړل ۔ ترکستان نه ے روس ته او رسول ۔ د قفقاز په غرونو ے پیاده اناطول ته ورواړول ۔ او بیرته ے مصیبت زده ، خو هوښیار وطن ته راستون کړل ۔ هغه خبر دا وو :

" زمونږ او د انګریز انو ترمینځ صلح اوشوه ۔ د راولپنډی په مقام به اوس زمونږ ه او د انګریز انو نمایندګانو ترمینځ گفت وشنید کیږے ۔ غیور افغان قوم به دخپلی توږے میوه زړه حاصله کړے ۔"

دا خبره نه وه یوتند ر ووچه د جبل سراج د خوشحالئی نه دکی فضا باندے راپریوته ۔ د هر مهاجر ځ د غصی نه تک سور شو ۔

یو پکښی اووے ، "حکومت افغانستان پښتون قوم سره دهوکه اوکړه ۰"
بل پرے چغه اوکړه ، "اسلام سره ئے اونه کړه څه ؟"
یو بل پرے آواز اوکړو ، "اوس هندوستان او افغانستان کښی څه فرق پاتی شو۔" او په خپله ئے جواب اوکړو ، "هیڅ ۰"

حاجی معراج الدین زمونږ رهنمائی کوی

په مهاجرولوے غم راغی ۰ هوښیار مشران په فکرونو کښی دوب سنکاریدل ۰ لږ ساعت کښی نا بللی جلسه شروع شوه ۰ محمد اکبرخان ناست وو ۰ خو د صدارت په خانے نه ۰ مهاجر په هوش کښی نه وو ۰ ولاړ په وار به یو یو پاسید و ۰ خپل خیالات به ئے ظاهرول او بیا به کښینا ستو خو ورو ورو د جمعی د جلسی شکل اختیار کړو او محمد اکبرخان خپل فرائض سنبال کړل ۰ د صدارت کار شروع شو ۰ او د یو کس نه به ئے زیاتی تقریر نه پریښودل ۰ خو د جلسی حرارت زیات شو ۰ نو صدر هم ضبط قایم اونه ساتلی شو ۰ دوه دوه څلور څلور کسان به په یو ځل په تقریرونو اخته وو ۰ جلسه په برخو کښی اوویشلی شوه ۰ هر یو تقریر کونکی خان خان ته بیل اوریدونکی مخاطب کول ۰ خو مطلب د ټولو یو و چه د افغانستان نهم هجرت پکار دے ۰ فرق دا و وچه چا به وے چه یاغستان ته تلل پکار دے ۰ لکه د چمرقند د مجاهدینو باقی څروند دانګریز برخلاف په جد وجهد کښی تیرول پکار دے چا به وی

چه وطن ته جاورتل اودوطن دننه د انګرین برخلاف جد وجهد سائل پکار دے ۔ داسی معلومیدہ چه لکه مهاجر دوه ټولی تقسیم دے ۔ خومتل دے چه: "سل دمړه سنه خو بود مه مړه ۔" یوسپین بزیری تجربه کار چه تراوسه فکر کښی دوب ناست وو ۔ سړے په زړه کښی نه ایستی وو ۔ د حاجی معراج الدین وو ۔ اود حج په وجه ے عزت هم زیات وو ۔ چاورته اووے چه حاجی صاحب ته هم دخپلو خیالاتو اظهار اوکړه ۔ نوے وخته مقران سترے شوے وو ۔ چه حاجی صاحب پرسیدو او آواز ے اوکړو "خاموش" نور نو مقران کښیناستل اود ټولو توجه حاجی صاحب خواته شوه ۔ حاجی توخی اوکړو غلی شو او مزکی ته ے کتل لکه چه څه فکر کوے ۔ مهاجرو هم په خود سا نیولی حاجی ته گورے ۔ حاجی صاحب رور و په غلی آواز داسی شروع شو:

"مسلمانو ورونو! تاسو غږی نه ترمانه یکړه څوکهنتی په یوځ خبرے اوکړے ۔ خو په څه نتیجه او نه رسید و ۔ سترے شوے او نور نه شئ ترغیدے ۔ نو ما سپین سرے سپین بزیرے بوداته مو ځ واوړولو نه ستاسو د توجه شکریه ادا کوم ۔ اوس چه زه هر څه وایم نو د خان نه ے نه جوړیم ۔ د الله تعالی حکم به تاسو ته اورووم ۔ موبز قول مهاجر یو ۔ او دا زموبز دعوی ده چه مو بز خپل خوبز و وطن او بال وبچ او خپل خپلوان صرف د هغه د حکم په متابعت کښی پریښی دے ۔ د حاجی صاحب آواز رورو اوچت شو ۔

"مسلمانانو وروڼو! موږ خپل خوږ وطن په سروستړګو پریښی دے زموږ خپل خپلوانو موږ ته په چغو چغو ژړل اوراته ئے پښتنه کوله - چه تاسو چه روان شوے اودرآتلو موږ یا امید نشته - نو موږ چاته پریږدے - موږ دستړګو نه هم اوښکی بهیدے - خود خدائے حکم وو او موږ ورته غاړه بسته وو - اوس نو ه تاسو نه پوښتنه کوم چه ولی موږ په دے حالاتو کښی خپل وطن پریښودو، موږ چا په زور دوطن راویستو؟ موږ یا ندے څه خاص ظلم وو چه موږ وطن پریښود؟

سرونړو خما سره ددے سوالونو جواب دادے چه اول خو غلام سړے مسلمان نه شی پاتی کیدے - حکم موږ وطن پریښو چه مسلمانے قایمه پاتی شی - دویم دالله تعالی حکم وو - او موږ او منلو - موږ پرواه اونه کړه که اولاد راته پاتی شواوکه مال - نو په دے حالات کښی رونړو! زموږ ستړګی په یو ملک خوړنید ے او هغه افغانستان وو کوم چه موږ ته پناه راکړه او زموږ نه ئے میلمستیا اوکړه موږ دافغانستان شکریه ادا کوو چه زموږ سره ئے نیکی اوکړه موږ مظلوما نو سره ئے امداد اوکړو - موږ مهاجرو ته ئے پناه راکړه - الله تعالی ددے عوض ورکړے - موږ بی وطنه مهاجرو - مسافرو موږ به ورته څه عوض ورکړو؟

"خوا ے افغانستانه! یادلره چه موږ دا اصول ما تحت قدم اوچت کړے دے اود اصول مطابق به داقدم مخکښی روستو ځی - موږ دالله تعالی حکم منلی دے - الله هند وستان ته دارالحرب اووے - اوافغانستان ته ئے دارالسلام اووے موږ ته ئے حکم

اوکړو چې اے مسلمانانو تاسو د ایمان بیج کولو د پاره خپل وطن پریږدئ
نو موږ پریښود . او راته ئے اووے چې څنګه افغانستان ته نو موږ افغانستان
ته هجرت اوکړو . کوم مصیبتونه چې په مهاجرو تیرشول . هغه دنیا ته
سپکاره ډیے . او مهاجرو دا مصیبتونه صرف د الله تعالی د رضا د پاره
برداشت کړل . اوس اے مسلمانانو! زه تاسو نه پوښتنه کوم چې په
کوم مقصد افغانستان ته راغلی وئے . افغانستان کښې پوره کیدے شئ؟
"نه! نه!" مهاجرو د چا رچا پیره نه چغې کړے . حاجی صاحب
بیا شروع شو :

"اے وروڼو! تاسو د "امان افغان" خبر اولوستلو چې د
انګریز سره افغانستان روغه اوکړه او مسلمان ئے تباه کړل دوے اول
مسلمان راالوړل افغانستان ته ئے راوستلو، رو روئے ورته اووے
لاس ئے پرے وهلو. خپل مطلب ئے پرے پوره کړو او اخر کښې ئے ورسره
څه اوکړل؟"

دلته حاجی صاحب غلی شو او په انتظار کښې اودریدو (او په
انتظار کښې اودریدو) چې مهاجر به جواب ورکوے . خو مهاجر هم
غلی پاتې شول . حاجی صاحب په تاوتریے بیا پښتنه اوکړه :

"اووایئ کنه! چې اخر کښې ئے ورسره څه اوکړل؟"

چې پوهه شو چې جواب ئے رانه کړو، نو په خپله ئے جواب اوکړو
"اخر کښې ئے په لته او وهلو. حاجی صاحب دومره په زوره لته اووهله
چې مخکښې ناست مهاجرئے په لته اولګیدو.

"نوائے رونړو ! اوس په هندوستان او افغانستان کښې څه فرق پاتې شو."

"هیڅ نه ! هیڅ نه !" چغې شوې .

"خوږه دَدے جبل سراج د قلعه نه دنیا ته دا اعلان کوم چې افغانستان هم دَ هندوستان په شان دارالحرب دے . اوس سوال دادی چه دافغانستان نه کوم خواته اوځو . هندوستان ته بیرته لاړشو؟ هرگز نه ! جاروتل د مؤمن سره نه سپاسے ."

حاجی صاحب مهاجر وته چارچاپیره اوکتل . "اے مسلمانانو! تاسو خبریئ چه نن په ترکو څه تیریږے . خبریئ که نه ؟ که نه یئ خبر نوږه موخبروم . د ترکو په کورو ویرد ے . هغه ترک چه د اسلام په ننګ ے همیشه توره را ویستی ده . اوخان ے قربان کړے دے . نن دهغه شروند په خطر کښې دے . اے مسلمانانو که ترک غلام شو . نو یادلرئے چه اسلام به په خطر کښې شی . خوستاسو به بیا څه حال شی . یادلرئے چه ترک نه وے نو څوک به ځان ته مسلمان نه شی وئیلی . د ترکو نه یونیان کافر چاپیره شوے دے اوخبره دے ته رسیدلی ده چه ترکو ځوانان د ملک د دفاع د پاره کافی نه دے . کافر یو په لس دے . خو خو ترک ننګیالی قوم دے . د ترکو خویندے میندے هم ننګیالی دی هغوے د اسلام په ننګ کښې ملا ترلی ولاړے دے . د اکوم غیرت دے چه موږ ته وانګ دیلئ په اوږه . د سپی څرمن په مخ په خیبر ورننوځو .

اے هندوستانیانو! تاسو د سبق نه هم پرے یئ . ده بے

غیرتئ هم څه حد وے . اے بی ننګو مسلمانانو! پکار دے چې د
جبل سراج په سیند کښی ځان ډوب کړے . چې مسلمان د خندانه شی،
او اسلام اونه شرمیږے ."

د حاجی صاحب ستر کی سره شوے . پتکی ئے روستو پریوت
دواړه لاس ئے موښتی کړل او ځله ئے د ځک ډک شوه. چې خبره کول هم
ورته سخته شوه .

"تا سو څما نه کمزورے یئ ؟ نه د پښتو سوکالو نرور کمزوری
صرف هډوکی او څرمن پاتی شوے یم . خو زه ځم ! نه ځم ! تر کوته
ځم د اسلام په ننګ جنګیږم . څوک شته چې ځما سره د اسلام په ننګ
اودریږے ؟"

"زه یم ! زه یم ! چغی شوے مهاجر د خپل خپل ځاے را
پاسیدل . "حاجی صاحب موښ د سره یو، تر مخ کښی شته موښ د پسی
یو. موښ د دنیا بل سرته هم تا سره تلوته تیار یو. ان کد کوه قاف نه
اوړیدل هم وے ."

حاجی صاحب یو ساعت غلی شو او بیا شروع شو،

"اے مهاجرو! ستا سو څه خیال دے چې تاسو اوس په
دارالسلام کښی یئ ؟ نه ! هیڅ کله نه ! افغانستان دارالسلام نه دے
دارالحرب دے ."

الله ! الله ! تولو مهاجرو اوسیلی اوکړل . حاجی صاحب
مخکښی اووے "هر څوک چې دلته مړشو. نو د سپی په مرګ مړشو."

مهاجرینو چغه کړه: "څې چې دارالحرب نه اوخو هسې نه چې درنګه مود سپې شي."

په مهاجرینو کښې غوغا اوچته شوه. کوتاه اندیښنو په یوه پسنه کډیدل شروع کړل. اوچغې ئے وهلی. "شاباش حاجی صاحب! شاباش حاجی صاحب! ناعاقبت اندیښنو کم عقلو حاجی صاحب په شا اوتهولو." آفرین دے شي په تا چې زهونږ دے صحیح رهنمائی کړو."

تعلیم یافته کسان چې د مهم په سختوا ونږ اکت پوهیدل. هغوے دوه دوه څلور څلور ځاے په ځاے ولاړ پس پس ئے شروع کړل نړه دے قول حال ته بقه خلق حیران ولاړ وم. شپې اخستی وم. زړه کښې م فیصله نه شوے کولی. پوهیدم چې ځما نه به ملګرے اوس جواب غواړے اوکه زه د هغوے نه جدا خیال ظاهر کړم. نو د هغوے او ځما د پاره به لوبه صدمه وے.

ځما په دوستانو کښې ځما یو پنجابی صادق نوم دوست وو. بی ای پورے ئے تعلیم کړے وو. سنجیده هلک وو. دکورداسپور اوسیدونکی وو. ځما سره خو اکښې ناست وو. مونږ لږ ساعت کښې دیوبل په ستړګو پوهشو. د قلعه نه بهر لاړو. او په لږ ساعت کښې متفق شوچې په دے بے سر و سامانئ کښې دا اوږد سفر ممکن نه دے په توره تیره وکښې غورزنګ وهل خودکشی ده. مونږ د واړه د مهاجرو په کم عقلتیا اوخندیدو او د هغوے په ناپوهئ مو په هغوے ترس راغلو. خوچا نه معلومه ده چې د نورو مهاجرو نه زهونږ په تند ے کهې سختی نه وے لیکلی. مونږ قلعه نه بهیرت

خو هم هغسے جوش و خروش او زوګ وو.

"په خیر! په خیر!" مویز سره غم شو چه ته کوم خواعیب شوی کوهر حمان راته د لرمے نه آواز اوکړو.

"او دلیدو د حاجی تس! څه رنګ مے معمه حل کړه. زه حیران وم چه مویز د چمرقند لوظ به څنګه پوره کیږی. کوهر راته لاس راکړو هغه بی حده خوشحاله وو. خما اود صادق دلیلونه ورته خندنی سنګار یدل.

"کوهره! داخبره پریږده. اوس فیصله ده چه څوبه. څومره مزه به کوے. هره ورځ به نوے غم اونوے خوشحالی وے. نن یو سنګار لیدلی، صبا بل سنګار لیدلی" کله....؟" کوهر غلی شو. چه ما خبره شروع کړه. اوراته مے پښتنه اوکړه چه تا څه وے.

ما جواب ورکړو "خو داهسی دکمرنه توپ وهل دی."

"هن! دکمرنه څرنګ توپ وهل دے. د دنیا سیل بی خطرے کیدے شی. کوهره مویز دکوره څه دپاره راوتی یو. بیا خو وطن کښی به په آرام ناست وو. کوهر اووے.

ما د دنے جواب ورکړو "نه ویریږم نه! اوند د سختونه روستو کیږم. څومویز یوازے نه یو مویز سره زاړه اوکمزورے کسان هم تیار دے چه دوے لاړه کښی ناجوړه شی، نوځه چل به کیږے. ترک لرے دے. پیاده به په کال کښی هم وراوښه رسو. لاړه کښی به څنګه هم رابانده ے راشی. واورے پرتے وے کمزورے او بوډا ګان به څه کوی د تفقار په غروتو به واورے پرتے وے دوبه پرے څرنګ وراورے؟"

PROPERTY OF ACKU 33267

"گوهر خان او خندیدل اووے وئیل :

"بودا کان نور څه غواړے ؟ داوړه خبره ده چه دوے په لاړه شهیدان شی ، او مونږ ئے اخوے خدمت اوکړو او بی څلی ئے پریږدو ، وروره ! ستا بابت چه په چمړقند کښی څما کوم خیال وو هغه مونږ درښایم چه په قریشی محمد اکبر پسی چتئ راغله نو څما نړه کښی ویره پیدا شوه، چه قریشی به بیرته لاړشی ، سرفراز خو څما کلی وال وو ، ما پیژندو ، څما په تانړه تینګ وو ، څما یقین وو چه ته دیر سخت سړے ئے "

په ماد ملګرے د غمنا کو خبرو دیر اثر اوشو . نړه ئے غمژن کړم عقل می دتیا رئے په حق کښی نه وو خو نړه م دګوهر خبرے خوښی کړی لس دولس مهاجر حیران چا رچاپیره ولاړ وو . عبدالله نوم یو بودا مهاجر چه هندوستان کښی ئے بیره ګیرے کاروو ، رامخکښی شو .

"گوره اکبر شاه ! زه یو کمزورے بودا سړے یم څما د سپینو دګوتو گوره . او د خپلی څوانئے خیرات او کړه او د جهاد کښی شامل شه "

ماد ے بودا ته جواب ورکول مناسب او نه ګڼل . خو نړه کښی م اووے چه اے بودا زه وینم چه ته به لاړه کښی اوبد اوبد پروت ئے نه به د ے اوړے شو . او نه به د ے پریښوے شو نو رو مهاجرو هم ما ته ترغیب راکولو . خو په اخر کښی یو یوسفزے سپاهی چه د صوابئے د علاقی وو او سنه مضبوط وو . داوبزے نه ئے او نیولم .

پریږده سړیه ! ته څان ته پښتون وائے . قسم م دوے چه د ترکو پورے دوے په اوږه یوسم . مونږ د وطن ته د دومره لرے راغلی یو .

اوس ترکوته تلل څه ګران کار دے ؟ چه ما په شا اوکتل نو محمد خان یوستړی ولاړ وو. ما اوخندل اوزړه کښې مې اووے چه ترکوته رسیدل محمد خان ته څه معلومه ده. ګرم نه دے .

افغانستان نه دوتلو راهداری

بله ورځ دمهاجرینو د کمیټی جلسه اوشوه . دوه اتیا کسانو نظارت خارجه ته د پاسپورټ د پاره درخواست اوکړو . عبدالرحیم د تهکال (ضلع پیښور) په فارسۍ شپه درخواست اولیکلو. درخواست مختصر خو دلچسپ وه حکه ځه لاندے لیکم (ترجمه)

"عریضه په خدمت کښې د اعلیحضرت امان الله خان شاه افغانستان

موږ لاندینی مهاجرو افغانستان د حکومت د میلمستیا و اسلامی همدردے د زړه د اخلاصه شکریه ادا کوو . موږ چه کوم مقصد باندے افغانستان ته راغلی وو هغه پوره نه شو اوس په دنیا کښې یو بل اسلامی ملک پاتی دے . چه هغی ته نه موږ ضرورت دے . هغه ملک موږ غواړے . هغه وطن مقدس ارض روم د ترکو وطن دے. په هغوے کافرو یونیانیو حمله کړے ده او دوطن ځه قبضه کړے ده .

په دے حالات کښې اوس په مسلمانو فرض دے چه د غه

جهاد ته خان اوږه سوے . موږ مجاهدین یو او خپلو سرونو قربانولو د
دپاره تیار یو . خو موږ سره وسله نشته دے افغانستان اسلامی وطن
دے . پس موږ او افغانستان داوږه جهاد فرض دے .

موږ حکه درخواست کوو چه موږ ته د دوه اتیا توپکونه د غزا دپاره
اوپاسپورټ د لارے دسفر دپاره راکړے شی مشکور به یو . موږ امید
کوو چه حکومت افغانستان به موږ ته د لارے خرڅ هم راکړے ."

مهماندار امین الله خان اول کوشش اوکړو چه مهاجرو د داخل در-
خواست بیرته واخلی . خو هغه کامیاب نه شو . عرض ئے د جمعی په ورځ
لیکلی شوے وه . نو د مهاجرو د پسولاند ے اوربلیدل شروع شول .
چا به وے چه بی راهدارئے خو چا به وے چه نه موږ ته غلطی ده .
موږ درخواست ورکړے دے . که نظارت خارجه اعلی حضرت ته درخواست
نه وے پیش کړے نو داد غه دفتر غلطی ده . پکار دے چه صبا روان شو .

جمعه هم تیره شوه . د خالی ورځ سحر وختی د عاملی جلسی منعقد
شوه . د جوش نه دک تقریرونه اوشول . تجویز پاس شو چه دوفد
مهماندار ته لاړ شی . چه په تیلیفون کښی د نظارت خارجه څخه خبر
اوشی د خبرونه چه هره نتیجه خیږے . نظارت ته دے اووئیلی شی .
چه قافله به دکل په ورځ روانیږے . د مهماندار په کوشش د راهدارئے
طمع پیدا شوه دے خبرے په جبل سراج کښی د الله اکبر غږے اوچتی کړی .

زه هم بی اثره پاتی نه شوم . محمد اکبر خان را پوښتنه اوکړه چه
نه موږ سره دے ملګرتیا پریښوده . ما جواب ورکړو چه نه !

تیاولی درخواست نه استوے . نړیه جواب راشی موبز به درته
خانے په خانے انتظار کوو." محمد اکبر تجویز پیش کړو .

"موبز د قافلی سره خو ما ورله جواب ورکړو چه په دے کښی
صادق یو مضبوط یا بونیولی راوستو. معلومه شوه چه هغه هم د
قافلی د جوش نه بی اثره پاتی نه شو. اودسو رلئی دپاره ے یا بواخستی
وو .

راهدارے دخالی په ورځ راهسیدلی وے . محمد اکبر ماته
اوښولہ. حکم نامه وه چه دوه اتیا مهاجر دے د افغانستان نه خارج
شی مختصر مضمون ئے داسی وو :

"هشتاد و دونفر مهاجرین هندے یا از راه هرات و یا مزار شریف
خارج بکنید ."

دے کښی دچا نوم نه ووکه موبز خوښه وه اوکه نه ووه خوښه
خودوه اتیا کسان به د افغانستان خارجیدل . روانید ونکی مهاجر
خبر کړے شول چه صبا به د اتوار په ورځ قافله د جبل سراج نه روانیږی
خلور مهاجر نور هم موبز ته راغلل چه موبز تاسو سره خو. د دوے
جبل سراج نه د راهسید و صرف یوه هفته شوے وه .

زموبز د نړیانی کسانو د قلعه نه وتل گران وه . خو چه په څه وجه
قافله دسحر نه مازیگر ته پاتی شوه . کومه پهره به چه په دروازه لګیدلی
وه . دهغوے خیال ووچه قافله به مازیگر نی . موبز شپږ کسان په
انوبها نود قافلی نه وراندے اووتو. او په لاره کښی خواړه کښیناستو

هرکله چه مهماندار ته معلومه شوه چه مونږ شپږ کسان زنانی اوتښتیدو
نو مونږ پسی ځه لس افریدی راواستول. چه هغوی مونږ ونیولو. افریدی
مونږ اولیدو. مونږ ته راغلل. څرنګ چه ما وویلی دی ذکر کړی دی. افریدی
زمونږ سره ښه وو. هغوی مونږ وطنیان ګڼلو. مونږ ځه پوهه کړو په مخه
ځه روانیدو اوویل اوبیرته لاړل دافریدو دهدایا تو مطابق مونږ قافلی سره
یوځای نه شو. تیاره مابنام مخکښی سرای کل بهار ته ښوتو. کل بهار د
کابل بلخ اومزار شریف په لویه لاره پروت دی. د کل بهار سرای کښی
زمونږ ملګرو په دیره همدردۍ سره زمونږ استقبال اوکړو. مونږ
سره ځه دهرقسم امداد وعده اوکړه.

د جبل سراج نه مونږ پسی

ذکر فتاری حکم

مونږ لږ ساعت ناست وو چه درے سرکاري ملازمان
سرای ته راننوتل اوحکم ځه وا ورولو.

"چه کوم کسان د ۸۲ نه زنانې بی اجازته د قافلی
سره روان دی هغوی د سحر وختی خان حواله کړی."

خو جواب ځه او موند وچه سرای کښی زنانی کسان نشته
ملازمان لاړل خو مونږ پوهه شو چه خبره آسانه نه ده. مهماندار د

دوه اتیا ؤنه زیاتی کسان نه پریږدے ۔ روستو معلومه شوه چه دکل بهار کوتوال په خپل خان سرلے ته راغلی وو ۔ اودو ۔ نور کسان ورسره ماسلان وو ۔

مونږ د کلبهار نه څرنګ بچ اوځو

تیر ماسختن ناوخته چه اکثر مهاجر اوده وو ۔ نو محمد اکبر مشران راغوند کړل ۔ سحر د سرلے نه د وتو په وخت نه مونږ ګرفتار ے یقینی وه هیڅ صورت نه معلومید وچه صبا به شپږ نیمیاتی کسان د کوتوال په پسترګو کښی خاورے واچوے او تیر و بیر به شی مشران نو فیصله اوکړه چه دچرګ بانګ مال چه دروازه لاښه وے دپرو په ذریعه دسرلے په دیوالونو واوړو ۔ او مخکښی په فصلونو کښی د د قافلی په انتظار کښی پټ کښینو ۔ اوچه قافله تیریږے نو روسره دے یو ځائے شو ۔

سحر وختی پاسید و ۔ د دیوال نه مودا وړید و تیاری کوله ۔ دبارونو مونږے راایستی وو چه یو ملګرے ګرند ے نه مونږ خواته راغی او په غلے آواز ے راته اووے ۔ چه دسرلے ورلوے دے مونږ دا موقعه غنیمت اوګڼله یو یود قضائے حاجت په بهانه اووتو او دسرلے نه په څه فاصله ځائے په ځائے په فصل کښی پټ کښینا ستو قریب څلور ګهنټی په فصل کښی پراته وو ۔ دالږ ساعت راباندے د پوره شپی هومره اوغمید و ۔ نور نیزه ۔ نیزه اوچت راغلی وو چه قافله دسرلے نه را اووته ۔ مونږ پکښی ګډ وډ شو ۔

دَ راهدارئ دکتوخوکئ

دکلبها رنه تقریباً دوه میله دپنج شیرد درے خله وه چه پکنی دَ راهدارئے دکتلوخوکئ ده. هیڅوک په دے لارهٔ دَ خوکئ نه .پچ نه شوتلی . دوارهٔ خواته اوچت اوچت غروند دے بیکانی کوتوال دئے خوکئ کښی موجود وو. حکم ئے واورولوچه صرف ۸۲، دوه انتیا کسان به پریښوے شی . دَ دے نه زیاتی کسان به نه شی پریښودے مونږ شیږ کسان ، خپلوملګرو په رضا په مخکښینئ شمارهٔ کښی اوویستلو راپسی رو رو نور راوتل .

دپنجشیر دره

مونږ چه لږ مخکښی لاړو. نوسړک باندے دَ پنجشیر شیر سیند راوړیدلی وو ، لارهٔ قطعی بنده وه. یوساعت اودریدو. بیا دے باندے مواوکتل ، دوارهٔ خواته نیغ نیغ غروند وو. اوپه میخ کښی ئے سیند دومره کړند ئے بهیدو چه لوئے لوئے ترے اوکاږے پکښی رغړیدل . سړو سړو مها جرا اوریسیدل ، په سروستو دکوتوال ویره وه. دَ انتظار وخت نه وو دوړو وړو پرونه مونږ اوبزد پرے جوړکړو. یوکس

پرے اوږے اوترلی اوپه غږ ئے ختل شروع کړل. تیږے اوبوتی به ئے
ټول. هروخت به سیند ته د غږ پیدا وویږه وه د پرے داسے نورو کسانو
ټولی وو. عن چه داکس مخکښی اوچ سړک ته کوږشو اوپرے ئے مضبوط
اوټولو، یویوکس ته په دے پرے پورے وتو. آسونه به پرے آسانه پورے
وتل. خوځ و دیر تکلیف راکړو. چه موږن به مخکښی دیکل نو دوئے بے
سودستو نږورکولو. اوچه په زور به مود اوبو میخ ته ورننویستل کم بخانو
به پکښی پښی ښخی کړے اوبه دریدل. د باروچی خانی ټول سامان دوئے
اوچت کړے وو. کښی مهاجرو د غصی به دوے په پنځشیږد اسی غوپه
کړے وو چه هډوکی به ئے نږموږ وطن ته رسیدلی وه. د دے پورے
وتوحال حماد ملکړے مجید لاهورے د افسانه هجرت "محنت کش" لاهور
۲۸ د جون ۱۹۲۷ء نه ښه معلومیږے.

"پهاړسی نیچی اترنی هی کیا دیکهتی هین که پانی هی پانی
نظر آتا هی، کوئی راسته دکهائی نهین دیتا، تقریباً پندره
گز کی فاصلی پر خشک راسته تها، مگر پندره گز کا فاصله
طے کرنا کارے دارد تها، کیونکر پانی نهایت سرد اور تیز
رو تها. دو تین آدمی رسی لیکر بمشکل پار اترا. ایک سیو
نک مشین جو گر ایک گدهی پر رکهی هوئی تهی، اوپرے
جسکی تلاش کی لئی تین چار اشخاص مسمی نور احمد
خدا بخش، ملک فضل الهی لاهورے، خیرالدین
امرتسرے مالک مشین نے فوراً کمر میں رسی باندھ

کر دریا میں کود پڑے۔ آدھ گھنٹہ ادھر اُدھر غوطی لگائے
گھیں پتہ نہ چلا۔ پانی آس قدر تیز بہتا تھا۔ کہ بڑے بڑے
پتھر آس کی آگی تنکی کی مانند بہہ جاتی تھی۔ آس کی آگی
مشین کیا حقیقت رکھتی تھی۔ جس وقت تلاش کرنے
والوں کا بدن سن ہوگیا۔ تیرنے اور غوطہ زنی کی طاقت نہ
رہی، توانگر باہر گھسینچا۔ بات تک نہ کرسکتی تھی۔ بدن نیلا
پڑ گیا تھا۔ فوراً انگولٹا دیا اور بہت سی آن کی بدن کو جوب
رگڑ اور گرم کپڑے ڈال دیئے آدھ گھنٹے کی بعد انکی حالات
درست ہوئے۔ اور وچلنی کی قابل ہوئے۔ باقی آدمی بھی
رسول کی دزیعی پار ہوئے جس وقت ہم نے آس ظالم
دریا کو پار کیا وہ نظارہ دیکھنی سی تعلق رکھتا ہی تحریر
وتقریر کی احاطہ میں نہیں آسکتا۔"

دَدے پورے وتلو نظارہ دیرہ حوصلہ افزاوہ۔ نرمویز تاوان
اوشوخیز وینہ موابویورل۔ خوداثا بتہ شوہ چہ دمھاجر و حوصلی اوچتی دے
مویز شپیز کسہ بی راھدارہے دقافلی پہ سرتلو۔ یومیل دوہ بہ لاړ وو
چہ یومھاجر مویز پسی دسیلی پہ شان اس راخلاص کړے اوراورسید
اوپہ سیلید لی آوازئے چغہ کړہ:

"دانگئ کوتوال درپسی دے، ستا سود پیژند کلود پارہ جبل
سراج سپاھیان ھم راورسیدل۔"

ترماسبا مہ مویز پہ یوہ منډہ اوزغلیدو۔ دوہ پراو مزل مو

اوکړو. ماښام مانځه نه وړاندے پراوته ته اورسیدو. اګئ اوچرګ پیراوزان اوپه آسانه دستیاب شول. موبنږ دځائے نه نه شوخوزیدے خوآغا سکندرشاه پیښورے پخلی کښی ماهرو. لږساعت کښی موبنږ سبزه دوده اوخوړله. د سکندرشاه په برکت موبنږ په الګړو پراوونو کښی، دچرګ غوښه به موندله که موبنږ به ماسختن هم پراوته اورسیدو نوآغاصاحب رومبئ پوښتنه پداوه، "چرګ به پیداشی؟"

دچرګ پخول هغه دپاره دومره اسان ووچه موبنږ به حیران شو خنی خنی ځایونه کښی چه موبنږه به دیرستړے شواودرسیدوسره به اوده شو. نوآغا به یوازے یادملګرو په امداد دوده تیاره کړه اوبیا به ئے موبنږ راپاسولو.

صبا سحروختی ملابانګ مال موبنږ پاسیدواویوساعت مو سبزه کړندے مزل اوکړو. خورورو موقد مونږ نرم شول اوباقی تولهٔ ورځ موپه قلاره مزل اوکړو.

دپنجشیر دره افغانستان کښی دیره سرسبزه دره ده. داغرد کوه هندوکش د سلسلی یوه حصه ده. قدرت ډوه متوازے غرونه داسی اوچت جوړکړے دے. چه سړے ته صرف خپله برخه اسمان بنکاږی دپنجشیر سیند ئے میخ کښی بهیږی. تولهٔ دره تنګه ده هیڅ ځائے دشلوګزونه پلن نه دے. خوځنی ځائے کښی صرف لاره اوشل فته پلن سیند پکښی ځائے شوے دے. داسی داسی ځایونه به راغلل چه آس به په مشکله د غره اودسیند ترمینځ تیریدو. سیند

هیڅرته د پښتو سوفتو نه پلن نه وو. او په ټوله دره کښې په خپل کس پسلو روان وو. ښې پلوته لاره وه او خاځ په خاځ لږه لږه آبادے وه دا محلومیده چه د هر سړے لږه لږه مزکه ده خو د غه لږه مزکه د اسې آباده وه چه عقل به ورته حیرانید و. د سیند سراسر غاړے باغ وو. توت انګور پکښې څوکند سنګاریدو.

خاځ په خاځ د غره سره ابشارونه لکه د مست اسو نو راخلاص وو او ټوله فضا د وهره سنایسته وه چه با وجود د روستو خطرے به مونږ ورته اودریدو. کرچې افغانستان ترقی او کړے او دا ابشارونه قابو کښې راولی. آبشارونه څه چه ټول د پنجشیر سیند په لږه خواړے د بجلی د طاقت پیدا کولو د پاره استعمالیدے شی. نو پنجشیر دره به د کټو قابله شی. ما وراندے ذکر کړے دے چه ټول افغانستان صحت افزا خاځ دے خو هند وکش کښې د پنجشیر دره بود اسړے نه خلمی جوړولی شی. د پنجشیر د رسید ونکی کله ښیره به ځے سپینه وه خوا ننګی به ځے د کشمیر سیوان وو.

مونږ د کلیها رینه اتیا سل میله مزل دوو ورځو کښې کړے وو. سبا ستړے وو. نو مونږ ټولی اوس نږدیات شوے وو. د وه قند فروش چه په خلورو خرو ئے مصرے اچولی وو د روستو پراوته نو مونږ ملګرے شوی وو. شپږ مهاجر مونږ یو لغمانی اود وه قند فروش سبا لویه پاریتی وه. نه قند فروشانو اونه لغمانی نو مونږ نه پوښتنه کړله. اونه مونږ د هغوی نه راز سائلی وو. حقیقت دا و و چه لغمانی د یر غریب هلک وو د سخی سړی صاحب زیارت په اراده روان شوے وو. چه څوک په سبا اراده د کوره

اوښی اویو خائے تہ د تلو اراده اوکړے . نو هغه ضرور کامیاب کیږے. لغمانی زمونږ ملګرے شوے وو . اومونږ خپل ملګرے ګڼلی وو . د ځان نه موکم نه ګڼلو . اوپه هغه دے آفرین وے چه هغه هم په سخته اونړه کښی زمونږ صره وو . قند فروش هم غریبانان وو . هغوے په لاره یوانړے روان وو . ملګرے ئے اومونږ ل .

تراوسه مونږ د پنجشیر د ه کښی د مغرب نه مشرق ته روان وو . اوس مونږ داسی خائے ته اورسیدو چه د غه خائے د دریے هغه کټ دئے چه د کوم خائے نه دریے شمال ته رخ کړے دئے .

زه او صادق

د ملګرونه روستو پاتی کیږو

د قند فروش په مشوره مونږ د لوئے لاره په غاړه شپه کړه . چه کړپ به شو نو مونږ به د وراتپ د ویرے اوچت پاسیدو . مونږ پخه اراده اوکړه چه بیا به د قند فروش نو په مشوره عمل اونه کړو .

سحر چه پاسید و نو آغا سکندر شاه تجویز پیش کړو چه په یوه مخکښی زغلید و کښی فایده نشته . پکار دے چه مونږ د تولی نه دوه تکړه کسان د قافلی انتظار اوکړے . اوحال د معلوم کړے چه که مونږ پسی د ګرځنا ړے حکم هغی وے نو چه مخکښی منډے وهو ګنی چه ځان

بې فایدے نه ستړے کړو. اوبا تی کسان دِ دَ قند فروشوسره مخکښی روان اوسی
وخت نازک وو. سره ستوددووکسو پاتی کیدل لومړ کښی خپلی
پښی نښلول وه. خوهر یوملګرے تیار وو. چه دنورودپاره ځان باندې
سختی قبوله کړے. نږه اوصادق پاتی شواونورو تهمود قند فروشوپه
ملګرتیا کښی" په مخه شنبۀ " اووے.

موبنږ په انتظار ستړے شوا ودقافلی دخبر هیڅ امید نه وو.
اوموبنږ دلاسه نه پښوس قدمۀ پاس دَیوتړے په شا پراته وو. او دَ
افغانستان دقدرځی دولت تعریف موکولو. ناسا په یوسورزموبنږ نه ګرپندے
تیرشو. اووراندے په هرڅه فاصله چه زموبنږ اس خړیدو، سره اودَیدو.
موبنږ اوپیژندو. ورله مورادوکړ. ستړے مشی موورته اووئیل. هغه
اوخندل اوپوښتنه ئے اوکړه چه نورڅه شو. موبنږ ورته دخپلو پاتی کیدو وجه
بیان کړه. سورا ووئیل چه ځان (محمد اکبر ته تولی قافلی به دغه نوم اخستو)
ولئ چه پښی اوباسی کښی ګرفتار به شی.

خوش آمدید مهمانهای ما

موبنږ په شودا (دادَیا بونوم وو) کښه واچوله ګرپندے موخلاص
کړو. ترما سبا مه مومزل اوکړو. معلومه شوه چه مخکښی دپراؤسره نزدے

پل اوبو وړے دے . په دے وجہ زموږ لاړه د غره په سرشوه . په تیاره کښی په دغه لاړه تلل ګران وو . دغره نه د پریوتو اورغړید وویره وه لاړهم نه ښکاریده . لازم شوه چه شپه دغه ځائے تیره کړو . چارچاپیره موکښل آباد نه وه . د پنجشیر تنګه دره کښی به سم د ماسپامه تیاره شوه . نن زموږ شمیره هم لږه وه . موږ دوه کسه وو . ځان مو مضبوط کړو . د غره په یوکړوږ کښی دوه ځلور جونګړے وے هغوته ورنږدے شو . جونګړوته نږدے زموږ خوښه نه وه . خو اوس موږ د پنجشیر آدرے پاتے وچت سړو . د واورو ډک سرونه سپین پرکیدل . یخ یخ آښتا روښانه چارچاپیره غږ میدل . دا منظره وړځی دیر ښکلی وو . خو د ماسپام په تیاره کښی زموږ د سړې لوچته ځائے نه وو . او د خپلې مرضی برخلاف د ځانه بدوش جونګړوته روان وو . ځما د زړه د پاسه د ږنه خته محسوس کیده . یو ځوان چه د جونګړے مخکښی ولاړ وو . سلام مو پرے واچولو . هغه په مینه سلام واخستو .

"د لاړه مخکښی لاړه ده؟" موږ ترے پوښتنه وکړه . هغه اوخندل او دیر په مهربانۍ ئے خپل کور کښی موږ ته د شپې د تیرولو د عوت راکړو . ممکن وه چه هغه پوهه شوے وے . او زړه کی ئے وئیلی وے "ستاسو په مطلب پوهه شوم . تاد شپې دپاره ځائے کورپے راځئ زړه درکومه ."

موږ لاد عوت نه وو منظور کړے او خبرے موکولی چه صادق یو معصوم بچی ته چه د پلار په غیږ کښی وو . یو قران ورکوو . نورځوکسه هم راجمع شول . خو صادق چه کوم بچی ته پیسی ورکړے وے د هغه پلار په ټولو کښی معتبر ښکاریدو . دامشر زموږ په ډیمنه پیر

خوشحال شو. موبن ته ئے د خپلی جونګړے نزدے یو د اچرکا نړوکنده کښی ځائے راکړو. قیمتی قالینونه ئے راته اوغوړول. جولائے دنیمی نه تیره شوے وه. په وطن کښی به

"د ولس میاشتی کال اوکنده ئے پشکال" وو. او موبن د غلته د شپی دسره د ځان نه نه ووخبر. د کوربه د برستنوا و قالینونه علاوه موبن سره یو خوشحاله وے. چه ستړے مهاجر وزموبن د تیښتی په وخت په شود اچولی وے. ځان نه مورا چاپیر کړے او د غسی "د مهاجر واو د خانه بد وشو د امداد په برکت موبن د یخنی نه بچ شو. ما سختن ناوخته د د ود ے د پاره نه موبن دوست موبن راپاسولو. او خپلی جونګړے ته ئے دننه کړو. نه موبن د خاطره دوه شونتی بلیدے د قالینود زور د فرش د مالوچو په شان نرم وو. د دنیو توسره نه موبن د د دوست سنځی د کور میرمنی هرکلی راکړو.

"خوش آمدید مهمانها ئے ما"

چه موبن کښینا ستونزهله کوربه او د کور میرمنه کښینا ستل خبری اترے په فارسی کیدے. کوه دامان او پنجشیر کښی تاجک اوسی. د دوی ژبه فارسی ده. عام خیال دے چه پس افتاده قومونه د د ے قابل نه وی چه مهذب انسان د هغوے سره عزیزولی اوساتی خوچا چه د عربو بد وانو. د افریقی د حبشیانو او د افغانستان د خانه بد وشو سره د اوسیدو موقعه موندلی ده هغوے ته معلومه شوے ده چه د ے خلقو کښی د مهذب انسان په نسبت سنه خویونه زیات دے د کوربه سنه سلوک او د کوربئ شیرین آوازنه ځما هیرنه شی. د فیرنګی سنه لباس سنه خوراک

دیرعلم اوتهذیب څه پکار دے ځینکی دنا آشنا انسان پکار نه راځی ۔
اودځان نه دکم مهذب انسان دښمن د ے ۔

پس د دوه ئے خبرے اترے شروع شوے ۔ د هغوے د حیرانتیا څخه حد نه وو ۔ چه ے واوریدل ۔ چه نه دکونړسیدیم اوصادق د سرکانړی دکرنیل خوے د ے ۔ خانه بد وشو موښ ته نصیحت اوکړو چه تاسو بیا په یا بوسورلئی منکوئے ۔ په کار د ے چه تاسو سره سنه آسونه وے اوورباندی سنه زهیونه وے ۔ خو زموښ د اخبره سره ے جواب یوارخ تا اوغورزولو چه "د اعلیحضرت د حکم منل د سنه آسونو د سورلئی نه زیات ضرورے د ے"

دکوه هند وکش دپاسه اورو

دکوربه د نا نړکو خبرونه د ځان سانلو د پاره موښ داوده کیدو خیال ظاهرکړو ۔ سحر وختی روان شـــو ۔ کوربه نه موښ سره څه مینځ جلب اوکړو د هند وکش په نیغ ستغ باند ے شو د انه موښ د اورلو نه انکار ے شو ۔ غرمه غرمه د ستغ سرته اورسید و ۔ د غره په سر واوره پرته وه ۔ ځما سنه یاد شی ۔ لکه د ماشومانو د واورے په لیدو خوشحال شوم د واورے دپاسه اوگرځیدم په عمرکښی م د داسی موقعی موندلو اول ځل وو ۔ نه کښی م اووے چه وطن ته بیرته لاړشم نو نه به هم د ځنی ځنی جهان دیده سپین بیرے په شان وایم چه موښ د واورو دپاسه مزلی کړی د ے

موښ کښځلی خورو

په لږ ساعت کښی موښ د غر بلی مخی ته کوز شو. بلی مخی ته د غر اوچتوالی معمولی وو. ویخ کښی ئے یوه خرخورے چه په مشکله به ځلور کزه پلنه وه په توپولو بهیده. د خرخورے بلی غاړے ته دوه سړه موښ ته په چغه ځه ویل خو دا وبو دومره خوږ وو چه موښ ځه نه شول اوریدے. د واړه په شوډاپه یو خاے سواره. په اوبو مو ور خلاص کړو. صادق د سړو ستونه شوده په چابک اوو هلو اوبه د ګولئ په شان تیزے بهیدلی. دیا بو پښی اوخویدے اوبه ئے ترسینی رااوختی. موښ وے چه ختم شو. چه په دے کښی یولوئے ګټ نه موښ په شا په ګوډاړ په اوبو کښی تیر شو. که موښ یوفټ رو ستو وے نو نه موښ اوز موښ دیا بو هډوکی به بے سړه او بے کړاوه نه موښ وطن ته را سیدلی وو. په بله غاړه دوه سړے د پړاو او د لارې سکاړے ځوکی داران وو. موښ ته ئے چغی اولاسونه وهل چه په سړک پل جوړ شوے دے. هغی ته کوز شئ. خو موښ هیڅ نه پوهیدو. نه موخه اوریدل. چه وړوړی وتلو نو اولئی خبره چه موښ پوه شو هغه داوه. "اے بی پیرو! که چیرے یا بو مضبوط نه وے نو چابک به موږ خ ته رسولی وے." موښ پوه شو چه په داسی اوبو کښی څاړوے وهل نه ګوډیکار. د خویدو او ورغړیدو وېره وه. د واړه و څوکیدار انو نه موښ سبئ بی عزتی اوکړه. کته او د واړه و په یو یا یو

سورلئی زموږ د بې عزتۍ باعث وه.

موږ د څوکیدارانو په کنځلو ځان کوږ کړو. غلی تیر شو. دے پرا و کښې ایسا ډیدل زیاته بې عزتۍ وه. وخت هم وختی وو. پراوته مو اوبه کښل. بیغ اووتو. دوه موخپلی اودوه موپرد ے کړے. مخکښې پراوته رښړا ماښام اورسیدو.

دکرنیل سره ملاقات

زموږ نصیب سبۍ وویو افغان کرنیل د بدخشان نه راورسیدلی وو. د راورسیدلو سره ے د چا ے د عوت راکړو. په لږ ساعت کښې هغۀ ځان زموږ سره سبۍ واقف کړو. د چایونه پس ے توپک را واخستو او خبره ویشتل ے شروع کړل په سړو مبئ پښه ے اوویشته بیا ے موږ ته راکړو. موږ د خپلی کمزورتیا پتوئی د پاره انکار اوکړو خو مجبور ے کړو. خما او د صادق د ګولئ د پریوتو دوړو اوبه خته. خدائے خبر چه کوم ځائے پریوتی.

کرنیل داوږ دے مسافرے نه د خپل رورو په سفارش د بدخشا نه کابل ته بیرته راغلی وو. د حکومت نه خفه وو. خو بد خواه نه وو موږ ته ے خپله قصه په تفصیل سره اوکړه. خما په زړه کښې تیر شول. چه شکر دے افغانستان د کابل او د قطبی علاقو ترمینځ د تیلیفون او تیلیګرافی سلسله نه ده قایمه کړے. کنې کرنیل به زموږ د ومړو عزت نه وے کړے.

سحر وختی مودکرنیل نه رخصت واخستو. اووعده مواوکړه،
"چه کله د مزار شریف د زیارت نه پیښور ته بیرته تلوکابل ته د راورسیدو نوستاسلام ته به حاضر یږو." کرنیل لوے سړے وو. دلویو خلقو پتی ئے راکړے. موږ د خان سره اولیکلی.

موږ تولهٔ ورځ رو رو اوپه قلاره منزل اوکړو. اوما سنام پورے پراورانه غی. یوه قهوه خانه کښی موشپه اوکړه. نه موږ ملګروهم د غلته شپه کړے وه. د قهوه خانی نه معلومه شوه چه ملګرے به راته محکښی بازارګی کښی انتظار کوے. د اوطن غیرآباد وو اوپکښی پراونه وو، دی لاړه کښی په غیرآباد و حایونو کښی پراونه وے مسافر هرځنګه چه وے خان به محکښی رسوے. وجه داده چه د اسی حایونو کښی د مسافرود آرام دپاره هیڅ څه نه وے.

بازارګی

صبالس بجی سحر بازارګی ته راورسیدو. بازارګی په ډیر ښتیا بازارګی وو. یو څو دوکانونه وو. اویو پکښی د چا ذاتی سرائے وه. یاران نه موږ انتظار کښی ناست وو. راسره د اسی راغاړه وتل. چه لکه د عمرونو جدا شوے یو ځائے شی. نه موږ ئے د اسی عزت اوکړو لکه چه موږ څه خاص مهم ترسره کړے وے. چوک اواګی نه موږ د پاره تیار شول موږ

د پنجشیر مزلوو هلی وو. سبه وس موږ ے اوکړو.

افغانستان عجیبه د ے. کابل کښی بی شانه گرانی. کوه دامان کښی بی شانه ارزانی. اود دوارو ترمینځه فاصله یو څو میله. پنجشیر کښی بی حده ګرانی او بازارګی کښی بی حده ارزانی. زموږ ملګرو موږ ته پاره په بازارګی کښی پریوانه دیر څیزونه پخ کړے وو. خو پکښی حیران کن ارزانی وه. وړے سپینی غوښے د تنارې ډبلی دودے د پیسی درے درے خرڅیدلی. په نرموالی او پوستوالی کښی د انګریزے طرز بیکرۍ داسی نه شی پخولی. د اوطن ډاز بکود تهذیب نړۍ اثر بنکاریدو. او به ۍ د دریا ے آمو ته بهیږی د خا خوړے او به زموږ د وطن ارغنډاب ته بهیدلی. اود هغی نه پاس یو تیت کنډ اؤ نه قطب ته د دریا ے آمو ته رغړید ے.

موږ نړه بادشاهی لا رشو کیږو

کوز ما سپینین موږ د بارارګی نه روان شو. یو میل مزل موږ ته اوکړو نو د بادشاهی لا رې غاړه د اوبی لاندے یو سفید پوش په صفا درے پرلت وهلی ناست وو. موږ ے ایسار کړو. د محصول مطالبه ے اوکړه.

"د څه محصول دے؟" موږ ترے پوښتنه اوکړه

"حکم حاکم است کمر کی بدہ" هغه په رعب مطالبه اوکړه. دے بدماشی مونږ په بازارکی کښی پیژندلی وو. چه مونږ مسافر دبل وطن یو. په دے وجه ے دا زړه ورتوب اوکړو. مونږ صلاح اوکړه چه داغل دے. نیسوے اودبازارکی کوتوال نه ځواله کوو. خو غل به څه رنګ غل کرفتار کړے. سپی ته موکپه واچوله اوځان مونږ ے خلاص کړو مخکښی لږه فاصله باندے پراوو وو. هغی کښی موشپه اوکړه. دے پراوته مونږ وختی مازیګر دارسیدلی وو. دخوراک پکښی هیڅ څیز نه شو موندلی. اوبه ورسره نزدے آباد ے وه. چه څه موپیدا کړے وے. اوبے سملاستو سحر وختی روان شو. تولږ وړاندے موزل اوکړو نه چې نه آباد ے وه نه اوبه اونه ډوډے وه.

نارین

مازیګر چه نارین ته نزدے شو. نولږه کښی یو تنګ غرق خور بهید و. دَ اوبو پایو معلومولو دپاره موشوډا پرے ورخلاص کړو. دَ هغه خیټی پورے اوبه وراورسیدے. اوبه دومره تیزے نه وی لکه دَ هند وکش په کړښ کښی وے. خو بیا هم دا اوبه په افغانستان کښی بهیدے اوځکه ښی کرندے وے. دَ سرفراز تنو دوه پیرے اوکړے خوکمزورے وو. مونږ اوویړیدو چه اوبه ډیره سی. خوشوډا په تندے تلو اورالو. چه څلورم پنځم کس پورے کولو. نوشوډا هم پکښی اوخوښیدو. مونږ تولو په

زورد اوبونه راالو ویستو. شوی دا په غاړه شپه ساعت پروت وو. موږ هله مخکښې روان شوچې هغه په خپله خوښۍ پاسیدو. او په خپلو کروورو ئے راته اوښودله چې تکړه شوے یم. زموږ د اوږدے لاسرے ملګرے هم موږ خوشحاله ساتلو. چې موږ او تکړه تیار به نه وو. نو هیڅوک به پرے نه سوریدل هغه اوږے دوګله ئے نه کوله. حکه چې موږ هم اوږے وو. او حقیقت دا دے چې موږ کښې به صرف هغه کس سوریدو چې لاره ناجوړه وو. او لاره دیر ستړے وو. د قند فروشو مصرے د نیمې نه لوند شوے وو. خره مو په زوره پورے کړل خو باروونه ورباندے وو. قند فروشو ے چې کله کله په دے ځاے معمولي شان پل وے. خو په دغه ورځ خو پل نخښه هم نه وه. مخکښې سرسبز میدان کښې دنا رین ئې پروت دے. د نا رین سنا رد خلقو ژوند په دے اوبو وو. نا رین کښې لوے بازار وو د تجارت مرکز وو. خو نه پوهیږم چې په دے لږو موبو ئے پل ولې نه شو تړلے. په تول افغانستان کښې نه د لاړے مرمت ته د حکومت توجه ده. او نه د پل جوړولو ته. زما نه کښې چې کوم پلونه جوړ شوے دے. نو هغو مرمت هم نه کیږے. قند فروشو فریاد کولو چې تباه شو. داسې به د نورو دیر وسوداګرو د ځلې نه فریاد ختې وے. تجارت به په افغانستان کښې هله ترقي او کړے. چې لاړے جوړے شي. پلونه تعمیر شي کنې اول خو به دیوه ځاے نرخ یو او د بل ځاے نرخ بل وے او څوک د همت خاوند چې را پاسي چې دیو ځاے نه مال بل ځاے اوړسوے نو د قند فروشو کانه به پرے کیږے. که موږ او وه کس ورسره نه وے نو د قند فروش به

خالی کتی نا ریین تہ رسید لی وو. موبن د حکومت په غفلت افسوس اوکړو.
موبن مازیګر نا وخته نا ریین ته اورسید و. یوسرائے کښی کوزشو
ستړے ستومانه سملاستو ماسختن مودودے اوخوړه سحرچه
پاسید وبازارکی اوګرځیدو. لوئے کلی وو. قصبه وه د تجارت مرکز
منډے وه. د خلورو مخو تجارتی لارے نا ریین تراغلی دے یوه لارتړے
بغلان اوایبک ته لاړه ده. داهغه لاره چه موبن پرے روان یو. دویمه تړے
خان آباد اوبدخشان اود پنجشیر د لارے نړیوه بله لارکابل خواته تللی ده
سنا راوبازارد ختو جورد ے. تجارت پکښی تندوو. بازار تنګ ووبنه په
دغه وطن کښی چرته کاد ے شته اوبنه پدغه بازارکښی کاد ے تللی شی.
پیاده سړے پکښی په مشکله ګرځیدل. د صفائی هیڅ انتظام نه وو.
خاے په خاے غلاظت پروت وو. د چا په دکان چه به څه خوله پرته
وه بی فکره به ئے لاندے راغورځوله. د ګرځیدونکو د پښولاندے به خوله
د یوخاے نه بل خاے ته اورسیدله.

یو ملکړی نړمونبر نه جدا کیږی

ماسپښین موبن کوچ کولو چه راامعلومه شوه چه خما کلیوال
غلام یحیٰی خپله اراده بدله کړے ده. ما به هغه په لاره لیدلو چه د
قند فروشو سره به ئے پس پس کول. قند فروشود هغه اراده بدله کړی

وه . هغه ما ته اووے چه " نړه به دقند فروشو سره خان آباد ته لاړشم اود هغه ځائے نه چترال نزدے دے ."

غلام یحییٰ نه موبنږ سره دنارین نه بهر اووتلو . ما او هغما ملګرو ورته دیر نصیحت اوکړو چه قند فروشو باندے اعتبار نه کے پکار دے خپل توپی نه جدا کیدل عقل نه دے خو غلام یحییٰ ما ته صفا اووے روړه بدرښتی م یاد شوے دے . مخکښی تلل مې نړه نه غواړے ، خان آباد ته چه اوسم نو چترال ته صرف دا وو ورځو لاړه ، او چه چترال ته اوسم نو پوهشه چه کلی ته اورسیدم .

ما نیګرنا وخته د خانه بدوشو یو دیرے ته اورسیدو . د هغوی سره مې نه دے موخپله دیره قایمه کړه خانه بدوش سپنه خلق وو . نه موبنږ دیرے ته راغلل ، موبنږ ته ئے په خیر راغلی اووے . د دوه دے ست ئے راته اوکړو خو موبنږ خان سره د دوه دے انتظام کړے وو . د هغوے شکریه مواد اکړه شپے مولانډ ے او غوروڼی سملاسترواوطن کړم وو او خلاص میدان وو . غروبنه موږه نظر نه راتلل او سې موبنږ تول شپږ کسه پاتې شو . شپږم مو لغمانی ملګرے وو چه هغه اوس موبنږ خپل خان ګڼلو . او هغه هم خان قابل اعتبار ثابت کړے وو .

بغلان

سحر وختی د خانه بدوشونه مو رخصت واخستو او روان شو .

ترما سپینښینه موښ مزل اوکړو. خوستړے شو. نه په لاړه اوبه دے اونه وو دے. اوښے تښے په یوه خوښی اوچه میړه روان وو. دیرساعت پس به چرته یوسړے د وه مخی ته راغلل ورښه موښتنه اوکړه. چه پراونزدے دے که لرے؟ جواب ئے راکړو:

"این همین دوکروه"

بیا چه موخلورشپیښ میله مزل اوکړو اوپوښتنه موبه اوکړه چه پراو نه څوکروه مزل دے. جواب تیار وو.

"این همین دوکروه"

تولو ورځ موهمزل اوکړو. اودهرچا به راته دغه جواب وو. د ماسختن مال بغلان نه اورسیدو. د دوو ورځو مزل موبه یوه ورځ کښی اوزهلو ئدے اوښ د مزل دوه وجهی وے یوه دا چه موښ غوښتنه چه موښ د مهاجرو د قافلی نه مخکښی اوځو. اوبله داچه دنارین اوبغلان ترمینځه چه کومه سرائے وه. هغی کښی پاتی کیدل ځان دلوښے هلاکول وو.

بغلان کښی موښ یوسرائے کښی کوز شو. سبا د ستړے ووخوزیدے نه شو. درے دوو دے سرائے کښی پیدا شوے. هغه موواخستی تکړه تکړه مواُخوړے اوویده شو. د جبل سراج نه مودمه نه وه خورلی. سحر تیار ه به روانیدو اوماښام تیاره به رسیدو.

بغلان وروکی کلی وو. بازار یکښی نه وو. دختو کورونه ووخو دوو دے اکئ چوکوټی پکښی موندے شول. موښ فیصله اوکړه چه پورے موښ د خپلی قافلی حال معلوم نه کړو. مخکښی به نه ځو. موښ پوهیدو چه

مهاجو به روږو راخوږے . هغوے په یوځا سخت مزل نه شی کولی . قافله کښی زاړه اوکمزورے پسته پایه کسان هم شته .

دبغلان کوتوال سره پیښی

موږ غږمی پورے اوده وو، چه راپاسید وماسل موږ په سرولاړ وو، اوے وئیل چه کوتوال موغواړے . موږ نه ړ خان تیار کړو . اوخدمت کښی ے حاضر شو . افغانستان کښی کوتوال یوه هستی وے . نه موږ د وطن د تهانیدار په شان رعب داب لرے . موږ خپلو کښی فیصله اوکړه چه یوکس به خبرے کوے . نوبه وائے چه موږ په فارسی نه پوهیږو نه ے ددے دپاره خوښ کړم . د جولائے د میاشت اخرے ورځی وے د اوبو بوږے چورلیدلو . کوتوال په قالین ناست وو . چارچاپیره ماسلان ولاړ وو . نه موږ دامید نه برخلاف ے موږ په قالینو کښینولو اودراهدارے مطالبه ے اوکړه .

ما وراندے ذکر کړے دے چه څرنګ موږ ته حکومت په نیمه لاکښی رعیت نامی راکړے وے موږ سره وے . چه اُمو بنودلی نو کوتوال په لاس کښی اړولی ، اړولی . اووئیل به ے .

"عجب پاسپورت است هیچ ندیده ام"

(عجیبه راهداری ده هیچ کلمه نه ده لیدلی)

یوارخ تہ ورسرہ مرزاناست ووھغہ تہ ئے وکړے ۔ مرزاکتلی راکتلی پہ ځلہ ئے ھیڅ نہ وے ۔ موبز ھم غلی وواود مرزالاسوتہ مو کتل ۔ سنہ وینہ موربیدل چہ اخوراګیوشو ۔ مرزا درعیت نامی ھریوتکی کتلوچہ دے کښی اووے ، " این بخش دستخط ندارد "

دایوہ رعیت نامہ د مولوے فخرعالم وہ ۔ لوستونکی دد ہ سرہ تعارف لرے ۔ بیحدہ کم عقل وو ۔ ځلہ ئے پرانستہ " من ..... من ..... مھما ندار .... جبل سراج ..... ؟

موبز حیران ووچہ دځلی بہ څہ دوروے اوموسوخاولو ۔ نوځلہ ئے بندہ شوہ ۔

"بګوایګو ! کوتوال ورتہ بیابیا وئیل ۔

نہ ئے زہ ترمینځہ شوم " صاحب این کس فارسی نمی داند " اوبیا م مولوے فخرعالم تہ ځ وارولو اوپہ روښتندے م ورتہ پوښتنہ اوکړہ " آپ صاحب کیا یک رہی تھی " (دځلی نہ دخہ دوروں) مولوے پہ جواب کښی څہ اوتی بوتی اوویشتلی ۔ اوما کوتوال تہ څہ د تشریح کولو کوشش کولو چہ پہ دے کښی سکندر شاہ ببوزے تہ اشارہ اوکړہ اوماتہ ئے اووے او داخومرہ ھوښیار خلق دے ۔ څونګ پہ ھنرپہ اوبوباندے ببوزی چلوی ۔

" این دگرچہ میخواھد " (دابل څہ غواپے) کوتوال پہ غصہ شو ۔ زہ د سکندر شاہ پہ مطلب پوھ شوم ۔ ما کوتوال تہ اووے " صاحب ! داخما ملګرے حیران دے چہ پہ څومرہ سنہ طریقہ پہ اوبو ببوزی چورلیږی ۔

کوتوال اوخندیدو ۔ پوښتنہ ئے اوکړہ

"ستا سو وطن کښې داسې ښوونځي نشته؟"

"نه صاحب! داسې ښوونځي زمونږ وطن کښې چرته دے" ما جواب ورکړو. کوتوال د راهدارانو خبره پرې ښوده او زمونږ د وطن د حالاتو پوښتنې ئې شروع کړې. مونږ خپله سپکه اودا افغانستا د ډنډ شروع کړه او د سخي سرور صاحب د زیارت تعریف مو اوکړو. او اوس مووے چې مونږ د وطن نه صرف د زیارت د پاره راغلی یو.

زمونږ نصیب سبۍ ووچې حاکم بې تعلیمه وو. او رعیت نامې ئې چرے نه وے لیدلی. او مرزا هم نیم تعلیم یافته سپکا ریدو. په دے لاړ د بل وطن خلق ډیر کم خې راځی. او ځکه زمونږ رعیت نا مودے حیران کړل حاکم شریف وو. زمونږ سره ئې بد سلوکی او نه کړه

د شنوارو په چراګاه سیزلو

مونږ ته سزا

مونږ بیرته سرائے ته راغلو او د قافلې انتظار کښې موهلته څلور ورځې قیام اوکړو. خو په څلورمه ورځ د حاکم د خوانانو ماسل راغې. خان سره ئې یو آس هم راوستی وو. او تجویز ئې پیش کړو. چې دا د کوتوال آس واخلی او شود ا بدل کښې راکړے. مونږ د ے بدلون ته تیار نه شو.

خوبوزه ایسار تیا موهم مناسب اونه کنړله. اوغوښه موکوچ اوکړو.

د بغلان نه چارچاپیر ښه آباد وطن دے نزدے یوسیند دے دهغې په امداد سره پتی اوبه کیږے. ځماچه څومره یادیږ دے دجولاے آخرے ورځ وه چه موږ وطن کښې د پشکال د میاشتې نیمه کیږے زموږ وطن کښې د غنمو فصل دویساک چیتهه په میاشت کښې لوکیږے. خو بغلان کښې دوه میاشتې روستو لوکیدو. جبل سراج اوکلیها رکښې چه پخلس ورځې وړاندے موږ روانیدو. نو فصل پوخ ولاړ وو. خودلونه وو. پنجشیر دره کښې شین خیدا ودخانه بدوشوه خو یولیښت شښت غنم ولاړ وو. د بغلان نه بهر په زور کښې لوکیدلو. د بغلان سره نزدے لوکړے فارهې وان وو. خوچه دپتو اخر شوا وسطح مرتفع شروع کیده نو موږ لوګرو نه پوښتنه اوکړه چه لاړه راته سمه کړے. دا لوګرے پښتانه شښوارے وو. د باد شاهی سړک په غاړه آباد وو لږے لږے مزګ ے خورلی. اولوے لوے د ګډ کنډکونو ے په غوندو څرول. دد ے ځاے نه تر دریاې آمو پورے د سړک په غاړه پښتانه آباد دے. د افغانستان د پښتنو بادشاهانو ډنډه مودے نه داحکومت عملی وه چه پښتانه سره دے بال بچ په دے سړک آباد کړے. شښوارو ته موږ "ستړی مشی" اووے. هغوے دانړے الوزول بند کړل. موږ ته مخی ته راغلل او موږه ے خپلوکلو ته بوتلو اوبه ے راباندے اوخښولی. یوکس راسره دلاړے سمولو د پاره څه قدرې جلب اوکړو. موږ خوشحاله خوشحاله په لاړ روان وو. مولوے فخر عالم اولغمانی دواړه روستو روستو راتلل موږ په خبرو کښې

مشغول وو. چه په دے کښی تکارښو. چه په شا مواوکښل اوربل وو ملخان
یکښی سول اوچه سول به نوښک تک آوازیه راتلو فخر عالم دلاړے بل خواته
هم یوتیلی ورأغورزولو. حُما په ملخو زړه اوسوځیدو. بلده دمی ورته
اووے چه ولی ظلم کوے هغه جواب راکړو چه ملخی سول مزه راکوے. د
ستړګو رپ کښی د لاړے دواړه خوالمبی اوچتی شوے بادنه موښز دَشا د
مخی نه وو. داورلمبی موښز پسی داسی راتلی لکه چه موښز ته غصه وے.
موښز مخکښی اولمبی راپسی. موښز به دوه میله لاړو. چه موکښل نودسړک
نه دواړه سپلوه په یومیل کښی لمبی خوړے وے موښز مخکښی زغلیدو او
مولوے ته مویدده وئیل. "چه څومره ملخی ځے اوسول؟ موښز دوښو
په تاوان هم خفګان ظاهرولو خود اموچړے خیال نه ووشوے چه دوښو
په وجه به موښز داسی سزا مومو چه تول عمر به ځے یاده لړو. موښز په یوورو کی
ستغ ګرځند ے ګرښد ے ختو چه په کنده اوکښی یوسړے بلد ے وهلی یو
مضبوط دانګ په لاس ولاړ موښز نه کنځلی کوے. اودانګ راته خوزوی
سړے مضبوط وو. خوموښز تعداد منع کولو. اوپه موښز ځے حمله اوکړه
کنی سپه غصی راته اخستی وو. اوهم هغه شان ځے کنځل شغول.
سرفراز خان نه دخپل آس دشا نه توپک راکوزکړو. اورته په جواب
کښی کنځلی اوکړے اوتوپک ځے ورته تیغ کړو.

"کیده کوتک کښی لاړے"

دسړے لهجه نرمه شوه خوچه مخکښی کیدو به نوهغه به لاشور
اوچت کړو. قسمونه به ځے خوړل چه "ترکومے اورمو راسره مرکړے نږدی

نو ځان به در باندے مړکړم خوپړے به مونږدم "

سړی وایزد توپک نه ویرکارا خستو. ورته به ے ښځو، کنځلی به ے هم کولی. ځان به ے هم غصه کړو خوځرنگ چه شینوارے زمونږ د تش توپک نه نه ویریدو. د غسی مونږ د شینوارے د قبیلی نه ویریدو زمونږ توپک لنډ ے والا د ے جوړ یو بیکاره توپک وو چه خراب شوے وو. کارتوس ے نه شوخوړلی خو مونږ ځان سړ ه کړ ځولو. چه که موقعه او مومونږ جوړ به ے کړو. زمونږ سړه یو کارتوس هم نه وو خود شینوارے سړه دوه خبرے په ملاتړ کښی وے. یوه دا چه د هغه وطن وو. او مونږ نه وه معلومه چه د هغه طاقت څومره وو. اوبل مونږ دا نه غوښتل چه داسی کارا وکړو چه حکومت مونږ پسی بل د کرښارے حکم اوباسی. خود دو و خبرو نه علاوه یوه بله خبره چه د شنوارے ے امداد کولو هغه دا وچه شنوارے فریاد اوکړو:

"ظالما نو زمونږ مونږ د کنډ کونو د کال خوراک تاسو اوسولو، زمونږ بال وبچ موتباه کړو."

مونږ پوهه شوچه واقعی دیر بد کارا وشو. زمونږ ضمیر مونږه ملامت کړو او د شینوارے تجویز نه موغاړه کیښوده. فیصله دا اوشوه چه شنوارے د انګ په مزکه کیښو. او لاس ے پرے کیښود مونږ د د انګ نه یوخوا او هغه بل خوا کینا ستو او د اقسم ے اوخوړو.

"دا اوکنړے چه قرآن دے اوپه دے قرآن نړه تاسو سړه دا لوظ کوم چه نړه به تاسو ته هیڅ نقصان نه درسوم. او تاسو به ماسړه دا اور مړکړے."

ما بنام ترڅه وو موږ او شنوارے یوځائے راپه ستنه شو چه موږ اورته اورسیدو. نولس دولس شنوارے شپانه دانګونه په اوږو را اورسیدل. خولی ترینه څخیدلی. تولو قمیصونه ایستی اوبدن ته وهلی وے داسی معلومیده چه دراتلوسره به زموږ سره ما توے چه کوم شنوارے سرکښی راروان وو. هغه چغه کړه "د پیښوریان بے پیره بد مذهبه دے. چه کوم تالی کښی خورے هغی کښی توکی" کوتک ته خوزولو اونږدے وو چه د کوتکو نه ئے کار اخیستی وے. خو زموږ شنوارے مینځ کښی شو. او چغه ئے چه "خبردار! څما اودے کسانو ترمینځ په قرآن قسم دے چه دوے ته به هیڅ نقصان نه ورکوو. اودوئے به زموږ سره اورمړکړے"

"شنوارے نرم شو. دانګونه ئے د اږو نه کوزکړل. د یو پکښی سکندر شاه خیال شو. د شانه ئے په سوک اووهلو.

"ستا رنګ دچرسیانو دے. ته سګریټی ئے. تاتیلی د سګرټ د څښلو نه روستو واښوته غوږ نولی دے. اوموږ او زموږ قام قبیله د غرقه کړه"

ما ته په زړه کښی خندا راغله. فخر عالم یو خوانه ولاړهوو. شکر داوباسی چه په پښتونه پوهیدو. اوبیا د ګډ بنو شنوارو په پښتو خو یقیناً نه پوهیدو. څما په زړه کښی تیر شول. چه چرم چا کړے دے اوسزا څوک خورے. د سکندر شاه رنګ کمزورے وو. هغه غریب هیڅ نشه نه کوله که وطن کښی ئے چرے اپیم خوړل. نو ممکن وه خو اوس ئے نه سګرټ څښل اونه ئے چرس. شنوارے په دے نه ووپوهه چه دنیا کښی

فخرِعالم ډلی هم شته چه هغوے په چراکا ه دَدے دَ پاره اورلګوے چه د ملخوسول پکښی تکا رکوے اوهغوے پرے خوشحالیږے .

"خُئ په اوورځئ چه تر کومے موده اورنه وے مړکړے نوخلاصئ مونشته" یوشنواری اووے . اوړه لاړے دواړو خواوو ته په یوډیل کښی خوړلیدو . موږ د جاړو خانګی پرے کړے . اود شنوارو د وهلو او کنځلو نه د حان بچ کولو دپاره موږ په اورګرمه حمله اوکړه دَ اورمړکول ګرانه نه وه خو په میلونو اورمړکول اویا کله کله به نه موږ د کذارښځو کی نوروحایونو کښی اوربل کړو .

یاچارِیار

موږ په اورمړکولو کښی داسی نښتی وو . چه د شنوارو وهل اوکنځل موږ اوربیدل . هغوے به راپسی وو . چه کوم یوبه په موږ کښی نرم شو . نوهغوے به پرے چغه کړه "یاچارِیار" اوپه دانګ به ئے داسی ګذارورکړو . لکه سړے چه څاروے وهی . شنوارو په خپله اور نه مړکولو . هغوے نه موږ نه کاراخستو اوموږ هم "چه دکومی بلا نه سړی نه خلاصیږے نوغاړه غقی دِ ورځئ" په مثل عمل کولو دے ماراخته وو . لمبی به رانږدے وهلو . دستر گو بانه مواوسول . خوبیا هم په لمبونیغ و ر خلاص وو . دَ اوچو وښولمبه په سوے مخ دمړه بده نه لګیده . موږ په

خپلو خپلو خولو کښې ډوب وو چې شور زیات شو. یو شنوارے ځنا وراوغږیدو.

"وه بد بده چرسی! چې شیطان دے لوله. نو ځان تیښ کړه."

سکندر شاه په یوه کنډ وړے کښې پټ شوے وو. یو شنوارے اومونډو. په وهلو مونږ تړلو اور سولو مونږ داسې خوارے کښې ګیر شوے وو چې سکندر شاه پلو موکتلی نه شو. چې څومره به د قبلی اور لږ پاتی کیدو دومره به مونږ ورنږدیات لګولو. مونږ پوهیدو چې دا کار زمونږ په سر دے. نو په ډیره سرګردۍ اختر وم خو خبر نه وم چې په سری اور لګیدلی وو. په ځائے د خوا خوږے نرما په سر د څپیرو باران وو.

"خدائے دغرق کړه دځان نه خبر نه ے! پتکی دِ اوراخیستی دے." شنوارو چغې کړے. ما نږ پتکی د سر نه اوغورزولو او وړ باندِ اوختم او زمونږ شو بیامِ سوے پتکی د سر نه تاوکړو. بې پتکی اورته نږدے کیدل ګران وو.

تړ دولس نیمو بجو مونږ د قبلی اړخ اور مړ کړو. لا مو ملا نه وینځه کړے چې د شنوارو د خوا نه د نمرخاته خوا ته اړخ په اور د حملی حکم صادر شو. دے حکم زمونږ زړه وته پرے ایستل. د تندے موټی اوکومی اوچ وو. خبرے مو نشوے کولی. شنوارے خوشحال وو. نه ستړے وو نه ے ځونه سوے وو. ما نږه ډاډه کړو او بم او غوښتی شنوارو بیا و نه ګنډل. په روږ تندے جواب راکړو:

"مونږ پوهیږو چې تاسو دیر تږے نیئ. مونږ هم تږے یو او وبه دیر ے لږے دے. په مونږ ے زړه او سو او راته ے اووے چې ځان

دمه کړے . نو بیا ذ نمرخاته د اور دمرکولو بند وبست کوو .

غیبی امداد

موبز بی اسرے مظلومان دلاړه غاړه کښینا ستو شنوارو لکه څنګه چه د هغوے قاعده ده د بل سپکه ے شروع کړه خپله خپله توره ے په وړو وړو قصو کښی بیا نوله ، کوم شینوارے چه موبز ایسار کړے وو . هغوډ پیښور باندِ دیوډ الی ذکر او کړو چه دولس پیښور یانو هغه نه وو نیولی .

موبز ستړے ستومانه ناست وو . او خوشحال وو چه توره تیاره وه او د شنوارو نه موستر کی پناه وے . موبز جرم کړے وو خو هغوے هم سبه سزا را کړه . د نورخاته اور نه یاتید و موبز د مه خوړه او د مه شنوارے په قصو اخته وو . دے کښی شک نشته چه د شنوارو ډیر تاوان شوے وو . خوزه حیران یم چه هغوے په خپله د اور مرکولو زحمت نه کولو . خما یقین دے که شنوارو هم زموبز په شان کوشش کړے وے او د خان ے خوله ایستی وے . نو اور به مړ شوے وو د شنوارو هم موبز هیر شو . و او هم ے اور هیر شوے وو . خو موبز و اړخطا وو چه لمبوته موکړه . نو باقی شپه راته د شوکیرے سنکاره ده او شنوارے د توړے څټلو په شوق وو د یوبل نه به ے وار اړولو . موبز خپلو کښی

شنوارو باندے بد ونیل . چہ دوے خپل کارنہ کوے . او موبز بہ
څہ رنگ دنمرخانتہ اورمزکړو . پہ دے غم کښی ناست وو او ویریدو چہ
ساعت دے کہ کہ ږے دہ . موبز بہ دا باقی اورد مرکولو د پارہ پاسو چہ
پہ دے کونړ ارشو . کرپار شو خلور ږے پہ تکوسپینو جا موکښی پہ آسونو سوارہ
پہ سرونو ئے سپینی پگړے دبغلان دلور ږے دتیارږے نہ راوتل . سلام ئی
واچولو داورلکید و وچ ئے او پوښتلہ شنوارو موبز تہ کوتہ او ښولہ موبز پہ
زړہ کښی خیال کولو چہ دوے بہ هم دشنوارو ملګرے وے خو چہ هغوے
تہ معلومہ شو چہ موبز دماښنامہ راسی پہ جهنم کښی راکیږو او دتندی
هلاکیږو . نو هغوے دشنوارو مینت شروع کړو . شنوارے هم نرم
وو خو رضا کیدل نہ . پہ نو وارد وکښی یو ووتہ او وے .

"برادرانو ! دا اورد مرکید و ښہ دے داد کړوہ نہ زیاتہ لمبہ چہ دا
مسافر غریبانان ئے مړہ کوے . نو سا ہ ښکتی وے . کہ ستاسو اراده دده وے
دمرګ وے نو هغہ بیله خبره ده کنی دا مسافر پریږده ظلم ښہ نہ دے "

شنوارے غلی شول . پہ زړہ ونو ئے د رحم او بہ تو ئے شوے رضا
شول موبز ئے آزاد کړو . پہ وخت د رخصتید و د سورو مخکښی ئے
راتہ او وے "کہ ستاسو څہ تاوان شوے وے نو او وایئی چہ درځے کړو "

نر موبز دوہ دجسو بتکی وو . هغہ ئے راکړل او سپین د سو بو دَ خان
سره د روان کړو . اوس موبز وارہ پیاده تلو یو بہ بوتہ او بل بہ بل تہ
دیا بوګانو د سورید وست کولو . خو چہ د و و یا بوګانو شپین کسان نہ
شو سورید ے . حکہ تول پیاده تلو . سوارہ مخکښی او موبز ورپسی

روان وو زموږ یقین وو چې سوارۀ غیبي امداد دے اوزموږ نجات ذریعه ده ، موږ د اسلام په خدمت کښې ملاتړلی ده اوځائے پرځای ازمیښت کښې پریږدو. خو خدا صفت موږ، مل وو ا موږ ۀ ئے تباه کیدو ته نۀ پریښودو. کنې کله چې ے شنوارے خپله اراده کښې کامیاب شوے وے اوموږ ئے د نصرخانۀ اوربانده ے وراچولی وے. نو مشکله وه چه موږ به بچ پاتی وے. زموږ دسږ وینته دستګو بانړه مخونه سوے وو. به جامو به موچې اوږا ولګیدو نوهله به مواولیدو چه زموږ وجود به اوسولو. بیا به موږ زړه ځان نه اورمرکړو. په خپل خوږ موږ هله پوهشوچه سحر د خوبه راپاسیدو.

دسپین درو بوپه امداد موږ په توره تیاره کښې د یوولی غاړے ته اورسیدو. د لوږے موږ پرواه نه کولو. اوپه اوبو موږ کمی اونه کړو. د لارے نه دده ے ته سهلا ستو. زموږ په زړه کښې پخه پریوته چه رورانسان موږ ته په ښۀ ستر ګه نه ګورے. په لغمانی پورے خندیدو چه رورۀ! ولی ضد کوے. زموږ ملګرتیا خوسراسر مصیبت دے. ولی د لغمانی جواب همیشه مختصر ووچه، "خیر دے."

غوڑ

د شهاب الدین محمد غوری پایه تخت

سحر نمر نه وړ روان شو. کچه غرمه یو پل باندے پورے وتو.

دا سیند د بغلان نړۍ اوبه کوي . او د بغلان نه څه فاصله باندې تیریږي . دا زور پل په تنګ سیند باندې بې پایې جوړ دے کښ ځې ډیر ښکلی دے . کوزما سپینې د غورې کلی ته اورسیدو . خو پرې لس اته کورونه پاتې وو غیر آباده وسیع میدان کښې پراته دے . نورې چار چاپیره منډې مزګده . خو آباده نه ده . معلومیږي چې د آباد ولو د پاره څوک نشته . دا هغه غورد دے . چې شهاب الدین به پکښې د هندوستان لوړے لوړے راجاګان ړهیدل . اوس ئې داحال دے چې کنډر ئې هم نشته . دا د ختو کوټی ځما په خیال د نو آباد و خلقو دے چې حکومت افغانستان د نورو علاقونه را استولی دے . په میلونو خوشی سرسبزه میدان دے . په لږ محنت ورته اوبه راتلی شی .

موږ پرا وتو د ننګرهار وتو . د دے ته د ډیوے اوني لاندے ګوزر شو . تولې ورځ مود د دے سره په ماستو او اکوتیره کړه . ماښام پرا وتو ورننوتو .

ایبک

صبا سحر وختی د غورې نه اووتو . د غورو او ایبک ترمینځ دوه پرا وه دے . د دریو ورځو لاره ده . دے لاره کښې موږ ته یوه سړکاره رساله ملګی ته راغله . افغانستان کښې د رسالې آسونه په قد واړه او مضبوط

دے . کہ ورتہ یا بوان یا تنوان وواپو نو غلطه به نه وے خو درسالی مینځ
کښې په دوو آسو نو یوه کیجاوه داسې ترلې وه چه دوارهٔ یا بوان یوبل پسې
روان وو امینځ کښې کیجاوه یوسړے پکښې ناست وو او نورولې پکښې پرتې
وے . داسو رلې ، او موبز داوبو په غاړه ډډے دپاره ایسار شوے وو ،
معلومه شوه چه مزارشریف کښې یو جرنیل بغاوت کړے دے اوهغه گرفتار
شوے اوس په دے کیجاوه کښې پابه جولان ځی .

موبز ایبک ته په دوو ورځو کښې اورسید و . ډوډۍ وروسته موبز
پراووه اووهل . ایبک آباد ځائے دے . ډ تجارت مرکز دے خوورو-
کی سنارد ے ډ ځهتو قلعه ترے تاوده مینځ کښې ټوټے بازارد ے ځ . تنډ
تجارت پکښې کیدلو . ډ کابل او مزارشریف ترمینځ د قافلو پرلاړه آبادی
ایبک په اوچت ځائے آباد دے . بازار کښې اوبه بهیږی .
چارچاپیره باغونه دے دجولائے دمیاشتی اخرے وړځی . موبز روښنی
ځل ختکی اوتخل افغانستان کښې دوه توکه ختکی دے . یوته سره اوبل
ته کرمه اوښیلی شی . گرمه زموبز دوطن ډ ختکی په شان دے دا سره دے
نه وړاندے راړهی یو پیښور ے سودا گر موبز اومونډو . هغه زموبز او
موبز دهغه پرلیدو خوشحاله شو . موبز ایبک کښې یوه ورځ دمداوکړه
چه د قافلی دحال نه خبر شو . خو په دویمه ورځ مخکښې روان شو چه
مزارشریف نه وړاندے د قافلی انتظار ته به دیرزیات ایسارېدل
ضرورت وے موبز پوهیدو چه د مهاجرو قافله گرځندے نه شی تلی
په لاړه به ځائے په ځائے دمه کوے . اوچه کوم ځائے دودے اوبه

پیدا کیږی هلته خوبه هغوی ضرور د کمزورو اونا جوړه کسانو
د خاطره ایسارینی .

تاش قرغان

او د راهداری څوکۍ

په دویمه ورځ تاش قرغان ته اورسیدو . تاش قرغان ته د
رسیدو په وراندی یوه تنګه دره راځی چه هلته د راهداری د کتلو
څوکۍ ده . موږ سعرد ی څوکۍ ته اورسیدو . ماسلا نود څوکۍ حاکم
ته بوتلو . خو حاکم د قرآن شریف تلاوت کښی مشغول وو . ځکه موږ
ځنډ ی ایسار کړو . موږ صلاح اوکړه چه حاکم تعلیم یافته دی
اوپوه سړی ښکاری . د بغلان د کوتوال په شان بی تعلیمه نه دی که
چرته موږ د تلاوت په دوران کښی رعیت نامی ورته محکښی کړو .
نوامید دی چه هغه بیغوره ورته اونه کړی . اوزموږ خوش
نصیبی وه چه د دغی وطن اود کابل ترمینځ تیلیفون اوتار هم
نه وو . ځکه خطره کمه وه . موږ توکل اوکړو . اورعیت نامی موږپه
لاس د حاکم محکښی اودریدو هغه دلارې په غاړه د کوتی دپاسه
ناست وو . موږ ته ځی اوکتل . اوموږ ورته رعیت نامی خپل خپل

لاس کښی ورا وچتی کړے . هغه موښ ته اشاره اوکړه او موښ مخکښی روان شو. قدرت زموښ امداد اوکړو او ددے سختی څوکئی نه بیخ شو.

غرمه غرمه موښ تاش قرغان ته اورسید و دا په افغانی ترکستان کښی یو مضبوط تجارتی مقام دے . دنارین نه دوه لاړے مزار شریف ته تلی دے . یوه هغه چه موښ پوښے راغلو بله دنارین نه خان آباد باندے تاش قرغان تیرا وتی ده .

درے څلور ملکی سودا گر موښ ته سرا ے ته راغلل او زموښ ځے ښه میلمستیا اوعزت اوکړو موښ دلته خربوزه (سرده) اوخټکی (کرمه) دواړه نوے کړل .

د مهاجرو د قافلی خبر

ما بنام چنګیز سره د دوو ملګرو ناساپه را اورسید و. موښ حیران اوخوشحال شو. چه قافله را اورسیده . خو د چنګیز نه معلومه شوه چه د قافلی د راهسید و زړا امید نشته څه پکښی کمزورے اوناجوړه وو اوځه پکښی په لاره شهید ان شول . چنګیز د قافلی درد ناکه قصه بیان کړه چه څه رنګ به هر سرا ے کښی د څلورو شپږو کسو د وړی نه زیات نه موندے کیدے شوه . اوځه رنګ به مهاجرو لوښے شندی

نه ځاے په ځاے پریوتل اوپاتې کیدل . موږ دعا اوکړه چه خدا اے د
مړے اوښتی اوژوندونه دے دخپلو مقدسو اراد ودپوره کولو همت او
طاقت ورکړے چنګیز زموږ د حال معلومولو د پاره د قافلی نه مخکښی را
روان شوے وو. تاریخ کښی هغه اوقافله سالار محمد اکبرخان دواړه حیران
شوے وو چه ددواړه لاره بابت خلقو زموږ د تګ اطلاع ورکوله چنګیز
دنارین نه د قافلی په صلاح د خان آباد په لاره راخلاص شوے وو.
او په متواتر بې دمی منزلۍ موږ تاش قرغان کښی لاندے کړو.

افغانی ترکستان

تاش قرغان کښی هم لږے باندار وو . دا د ایک نه لږے
ځاے ښکاریدو د غره په خوا کښی آباد دے . د تاش قرغان نه تر
دریاے امو پورے پنځوس شپیته میل هوار میدان پروت دے . دا
میدان د دریاب په غاړه غاړه د سوونو میلونو اوږد د بدخشان او
خان آباد د غاړې نه تر بلخ او بخارے تر سرحده ویرغور شوے دی
ځاے په ځاے پکښی دا زبکو اوترکمنو آباد دے ده . داخلق شپانه دی
لوئے لوئے رمی اوکنډ کونه نه مخکښی وے دوئے ورپسی په
آسونو سواره دے .

مزار شریف

دتاش قرغان نه سحر وختی نهه ملګری روان شو څه رنګ چه تول افغانستان کښی سړک نشته اونه ئی څه حاجت کنړلی شی. دغسی تاش قرغان نه هم یو پلنه لار مزار شریف ته ځی. موبن څلور و ورځو کښی مزار شریف ته اورسیدو. لاره کښی آبادی کمه ده. او څه چرته د هغه سړک په غاړه وه چه پښتانه پری آباد شوی وو. دا لاره په هموار میدان تیره شوے ده. تر مزار شریف هیڅ خاص واقعه پیښه نه شوه. چه د لیکلو قابله وے. صرف یو سرائے کښی زمونږ شپه وه. نو هلته یو رسالدار شپی د پاره ایسار شوے وه. ما و راندے ذکر کړے دے چه افغانی رساله مضبوط یا بوان وے. توله شپه باقاعده د رسالی څوسپاهیان کوتک په لاس ولاړ وو. او مست تمتوان ئے د کوتکو په زور په قابو کښی راوستی وو. کله کله به تمتو خلاص شو. سپاهیان درپسی وو. د کوتو به پرے دبار وو. او په دے کښی هم به دا تمتو دبل تمتو سره په جنګ وو. چه خلاص به ئے مشکل وو. توله شپه زمونږ اونه سپاهیانو ستړکی پتی کړے. سحر موهله ستړکی ورغلی چه رسالی د سرائے نه کوچ اوکړو. حیران وو. چه دا رساله به د جنګ میدان کښی څه رنګ ضبط کښی راتلی شی.

مزار کښی د وزیر انصاف د بابا کار د پاره لاړ

زمونږ گرفتاری

مزار ته مونږ کور ماښیګر اورسید و. د سنا رمیځ کښی یو مسافرخانه کښی موشپه تیره کړه. د سحر ښه ناوخته د حجامت او سیل په خیال بازار ته اووتو. د یو حجام دوکان ته ورا وختو. یو سړے پکښی ناست و وهغه راپاسید. مونږ ته ے بغ بغ اوکتل. اوبیا ے راته ستړے مشی اووے ماسره ے جوړ تازه هم اوکړل. نوره حیران شوم چه داسړے څوک دے. ملګرو ته م دهغوے د پوښتنی په جواب کښی اووے.

"نه شم وئیلے چه د دے سړے واقفیت خماسره کوم ځای شوے دے. شاید چه پیښور کښی موچیرته یو بل لیدلی وے."

سړے د دکان نه اووتو او مونږ ے حیران پریښو. مونږ تر غرمی بازار کښی اوګرځیدو بازار کښی یو چترالی فوجی کپتان زمونږ په لیدو خوشحال شو. راتر غاړی ووتو.

"وطنیانو په خیر راغلی."

مونږ باندے ے شنی رجلے اوخښلی. د چترال اوپیښور

خوبز ذکرے اوکړو. موبز خوشحال خوشحال بیرته مسافرخانی ته راغلو. وخت د دودے وو. د یوهوتل نه موتیار ډوډے راواوغوښتې اوورته کینا ستو. دوه دوه خلور خلور نورهم مواخیستی وے چه دکوټی په دروازه یوفوجی افسر طماچه په لاس ولاړ وے راښکاره شو ورپسې یوبل فوجی افسر هم طماچه په لاس ولاړ وو. دواړه په توره ورځے کښی وو. غولی کښی فوجی سپاهیان توپکونه په لاس ولاړ وو. نورهم موږه خلوکښی پاتی شوے. افسرانو نه اووے.

"دودے اوخورے! دودے اُخورے!!"

زموبز د نظر نه پاسه شول. موبز تول غلی وو. اوکوښښ مو اوکړو خو نورهم د چا د کومی تیریدے شی. خوراک موبس کړو. باهر راواوتو. غولی کښی لس سپاهیان توره ورځے اغوستلی وے، او توره کښ کشتی نما توپئ ځے په سر وو. اوپه سینه ځے دکارتوس د نړوه خانے نړوو. کپتان کابلی وو اوسپاهیان پښتانه وو. کپتان موبز ته اوویل چه تاسو نائب الحکومه صاحب غوښتی یئ. چه د سرائے به راباهر شو نو شل پنځه ویشت نور سپاهیان راته چاپیر شول. موبز مینځ کښی اوسپاهیان راته چاپیره په فوجی ترتیب په بازار وروان شو. د حجام په دکان چرکوم سړے موبز ته ستړے مشی کړے وو هغه د فوج سره روان وو. روستو معلوم شو چه هغه مخبر وو. په بازار کښی به هرچا خپل کار پریښو او موبز ته به ځے کتل. زموبز هم د پښو نه ساوتی وه. په لاره کښی د دے کار د صوبیدار ځمانه پوښتنه

اوکړه:

"ته څوک یې."

"زه خټک یم." ما جواب ورکړو.

"ته په انګریزۍ پوهیږې؟" بیا ئې پوښتنه اوکړه:

"او" ما جواب ورکړو.

حما اوس افغانستان کښې کافی موده تیره شوې وه. اوده سوالونو په مطلب نه پوهیدم.

لږ ساعت کښې موږ ځې دننه ورننه بهرد نائب الحکومه دربار ته اورسولو. لوئے باغ وو مینځ کښې ئے دربار وو. وزیر عدلیه چه د کابل نه دلته بغاوت رفع کولو د پاره راغلی وو. دربار کښې ناست وو. دربار یو غوندې باره دره، بې درواز وکمره او چه فرش ئے د مزکی نه کز کز اوچت وو. کومو سپاهیانو چه موږ سره اوستی وو هغوی نه چا رچا پیره سنګینونه ویستلی ولاړه وو.

شین ستړګی مسافر

د نائب الحکومه په حکم یوکس نه موږ د حالا تو معلومولو د پاره مقرر شو. داسې پښتون وو او معلومه شوه چه د وزارت عدلیه پښتون سکرتر ے وو. دهغه نه ئے بیل اوپت بیان اختو

چہ خما وار راغی نو ما ورتہ اووے چہ زہ د پیښور د علاقی اوسیدونکی یم صوبیدار مې شاتہ ولاړ وو. راباندے راسور شو.

"پلار سګ! دروغ وائی. وختی دے وے چہ زہ ختک یم اوس وائی چہ زہ پیښور ے یم."

ما د کنځلو بد اوکړل. اوبہ زورہ می احتجاج اوکړو.

"داستا سو حکومت دے چہ پہ دو مرہ لوئے درباریکښی یو مسافرتہ کنځلی کیږے. دلتہ بہ دا نصاف څوک څہ توقع اوکړے."

کہ هر څومرہ ما تشریح کولہ. چہ خما بیانات متضاد نہ دے. زہ ختک اوپیښور ے یم. خود صوبیدار غصہ نرتیا تیدلہ. آخر سکریټر ے څرګند اوصفا اعتراض اوکړو:

"تہ افغان نہ ئے. سبہ دہ لیچہ څرګند کړہ."

مالستونزے پاس راښکو. سکریټر ے حقارت آمیزہ خندا اوکړہ اوخپلہ لیچہ ئے سرکند کړہ.

"کورہ دا افغان لیچہ داسی تورتور ویښتہ وے. ستا پہ لیچہ سرہ ویښتان دے. تہ څرنګ افغان کیدے شی. سکریټر ے پہ اوچت اوآزاوی

"صاحب داشین ستر کی مسافر پہ انګریزے هم پوهیږے."

صوبیدار ورتہ اووے.

"رښتیا وایہ. چہ تہ څوک ئے اوپہ څہ خیال زمونږ وطن تہ راغلی ئے." سکریټر ے پہ غصہ کښی پوښتنہ اوکړہ.

زہ هک دک شوم. موقعہ نازکہ وہ. قانون د فوج پہ لاس

کښی وو. داسی کنځلی ئے را اود وړلی چه په تورو تکو کښی ئے راوستل د تهذیب نه بهر دے. د نائب الحکومه سره د انصاف وزیر ناست وو هغه پوښتنه اوکړه.

"خه دے"

سکرټر ے جواب ورکړو: "داشین سترګی مسافر مشکوک، سنګار ے وزیر عدلیه مسکی شو او غلی شو د وزیر سترګی تکی شنی اورنګ ئے سور وسپین وو. اداب مجلس او ویړے اجازت را نکړو چه سکرټر ے م د وزیر صاحب سترګو اورنګ طرف ته متوجه کړے وے. نزدے یو سائل ولاړ وو. تور چوغه اغوستی وه. سترګی ئے تکی شنی وے. رنګ ئے بالکل د نیرنګیانو په شان وو. فوراً م هغه ته اشاره اوکړه او وم وے.

"اوګورئے صاحب! د د غه سړے سترګی هم شنی دے رنګ ئے خمانه هم زیات سور سپین دے. افغانستان کښی داسی سترګی او داسی رنګ نوے شیئ نه دے. بیا هم ستاسو د ډیار کښی ماته هغه کنځلی کیږے چه په یو وطن کښی به هم روا اونه ګڼی کنړلی. افغانستان کښی شنی سترګی عامی دے. آخر په شین سترګ مسافر دا دومره سختی ولی کیږے؟" وزیر انصاف مخ بل خوا ته واړو لکه چه هغه خما خبره هلدو اوریدلی نه وے.

آخر کښی سکرټر ے مولوے فخر عالم پاسولو او د یر ساعت پس ئے بیا راوستو. چه هغه ئے بوتلو نو سکندر شاه ورته داوزله

"خیال کړین دهوکه نه کهاوین"

فخرعالم بیا روستو موبنز ته اووے چه زه بنګله کښی ئے په قالین کښینولم اوراته ئے اووے چه کله ته رښتیا اووائے نوانعام به درکو ومیوه اوپلاو ئے راته مخکښی کیښنود.

"کوره ته سنه دیندار ه مسلمان ښکاریے. تا نیږه هم پریښی ده. رښتیا اووایه چه داشین ستړی څوك دے"

مولوے فخرعالم اووے ماجواب ورکړو.

"زه دے سنه پیژنم. دے مسلمان دے"

فخرعالم ته ئے قرآن مخکښی کیښنود. اوچه هغه په قرآن خما د مسلمانئ تائید اوکړو نوهلته د سکتر تسلی اوشوه. پس د دے نه سکتر زموبنز مزار شریف ته د راتلو وجه اوپوښتله. د وختنی مصلحت مطابق ماجواب ورکړو. چه موبنز انا طول ته روان یو. موبنز دیرکسان یوباقی ملګرے به موتخورښځی کښی راوړی. زموبنز پاسپورټ د روستو ملګروسره دے.

دے جواب خبره لنډه کړه. سکتر ترے موبنز سره فیصله اوکړه.

"کله ستاسو قافله څوورځو کښی راغله نوبیا به خما اوستاسو خبرے کیږی"

موبنز بیرته سرائے ته لاړو. دوه ماسلان په موبنز مقرر شو هرځائے چه به موبنز کرځیدو. دوے به راسره وو. اول موبنز ته داپا بندے کرانه ښکاریدے. خوزر معلومه شوه چه ماسلان په ځائ

د تکلیف نړمونږ د آرام سبب وو. مونږ مزار ته په راتلو پښیمانه نه وو. د تاش قرغان نه مونږ نیغ په نیغه دریائے آمو اوړیدے شو. هیڅوک به نه ووخښو.

یوه ورځ مونږ بانارکښی خپل دوست چترالی کپتان بیا اولیدو هغه ډیر خوشحال شو. بیائے راباندے شنی چائے اوخښولی. او د خدائے پاک به ئے ډیر ډیر شکریه ادا کوله. مونږ ته به ئے وے: تاسو ډیر خوش قسمته خلق یئ. چه کوم وخت ماتاسو د وزیرانصاف د خاص حفاظتی دستی په پنجه کښی اولیدے. نو ما په زړه کښی اووے چه بس دوے ختم شو. د د ے دستی دلاسه بی حسابه خلق مړه شول. چه یو خُل د د وئے په لاس کښی څوک گیر شوے دے هغوے بیا نه دے بچ شوے؟ مونږ د د ے ظلم وجه اوپوښتله چترالی اووے: اوس اوس مزاشریف کښی فوج د خپل جرنیل په سرکرد گئ بغاوت کړے وو. او مزار شریف صوبه ئے د کابل نه آزاد کړے وو. د مزار شریف نائب الحکومه ئے بندے کړے وو. خو د اعلی حضرت امان الله خان په حکم د کابل د وزیر عدلیه سره د فوجی امداد راورسید و. باغی جرنیل په مقابله کښی شوبل او کړنا رهشو او کابل ته ئے په زولنو کښی بوتلو. د وزیر عدلیه په حکم د ے حفاظتی دستی ډیر گنهگار او بی گناه خلق ډل کړو. ستاسو نصیب سره وو چه بچ شوئے؟ د چترالی په بیان نړمونږ د ویرے نه وجود غوټی غوټی شو.

سرفراز خان او سکندر شاه

حوالات کښی بندیان شول

په اوومه ورځ محمد اکبر سره د ملګرو را ورسید و هغه موښ نه اووے چه خوکسان د قافلی نه روستو پاتی شوے دے. امید دے چه هغه به رانه شی او زموښ ځاے به په فرمان شاهی کښی اوشی.

صبا سحر د نائب الحکمهٔ عدالت کښی زموښ پیشی اُشو. موښ پنځه ملګرے هم د قافلی سره په یو قطار کښی اودریدو. نائب الحکمه په لاس کښی یو کاغذ نیولی وو. سرفراز خان او سکندر شاه زموښ ملګرے ځے اوبلل او رانه ځے جدا کړل. د ریم نوم د غلام یحیٰی وو. خو هغه موجود نه وو. اکبر خان ورته اووے چه هغه د نارین نه د فیض آباد ارخ ته لاړے دے. دا معلومه شوه چه ورانت صرف په هغه کسانو پسی و چه جبل سراج کښی نوے وارد وو. او د قافلی سره بی اجازته تبنتیدلی وو. سرفراز خان او سکندر شاه د واړه ځے حوالات کښی بند ے کړل. او ورته ځے واوړلو چه تاسو به کابل ته بیرته ځئ.

رُوسَی سَفارتخانه

په مزار شریف موبنږ څوکسان روسی کونسل خانی ته د سویټ روس علاقه کښی دَ داخلید واجازت حاصلولو پاره لاهو کانسل سفیر زموبنږ انتظار کښی ناست وو. هغه اودهغه سبځه زموبنږ په ملاقات ډیر خوشحال شو. اوراته ئے اووے. "زموبنږ وطن ستاسو خپل کور دے. تاسو په خوشحالئ تلی شئ."

سفیراودهغه سبځه هلک اوجینئ سنکاریدل. عمرونه ئے کم وو. سبځه دَ خاوند نه زموبنږ په استقبال زیات پیش پیش وه. هغی خپل وینستہ دَ هلکانو په ډول پریکړے وو. اودغسی دَ هغی سنا ئست نورزیات شوی وو.

مهاجرو ډیره موده پس فیرنګیان اولیدل. یوورځ دوه زموبنږ مجلس کښی دهغوے دَ سنا ئست خبرے کیدے. دَ اکثورائے وه چه روسیان دَ انګریزنه زیات سنا ئسته دے.

دَسخی سرور صاحب زیارت

موبنږ دسروانید ونه وراندے دسخی سرور صاحب زیارت

اوکړو. عالیشان ګنبد پرے جوړ دے. ورسره یو سبا ئیسته جمات دے. داوسیلی شی چه دے ځائے کښی حضرت علی کرم الله وجهه شبخ دے. دے زیارت ته چا رچا پیره لرے لرے ملکونونه خلق راځی.

مزار شریف او بلخ

مزار شریف د افغانی ترکستان مرکز دے. او دَدریائے آمو نه پنځوس میله لاندے آباد دے. دَ خان آباد، تاش قرغان، او مزار شریف نه شمال ارخ ته یو په سو نو میلونو اوږد میدان پروت دے. چه پلنوالی ئے د پنځو سو میلونه کم نه دے. دَدریائے آمو او بویه زمانه کښی دا میدان سیراب کولو. خو اوس پکښی آباد دے نشته ځائے په ځائے خلقو دَ سیدګ نه په خپل همت بغیر د حکومت دَ امداد نه مزے مزے بچی بیل کړے دے. او په هغی زراعت کوے.

حکومت افغانستان مهاجرو ته هم دَ دے مزکی دَ ورکولو پیش کش کړے وو. خو د مهاجرو خیالات اوچت وو. مزکی ته نه ئی شول راکوزیدے. کنی دا دیره ښه خاوره ده او د حکومت په امداد به مهاجر ښه آباد شوے وو.

اوس هم پکښی ازبک او ترکمان دګډ وا و آسونو لوئے لوئے

رمی ساتی . خو د افغانستان د حکومت دا خوښه ده . چه پښتانه دے په دے سرحد آباد شی .

د مزار شریف ترقی د تجارت په وجه ده . دا ښار د کابل او بخارا په لویه تجارتی لاره پروت دے . یوه زمانه کښی دالار د بلخ سره تیره شوے وه . خو اوس د بلخ نه شپږ میله لرے مزار شریف ته سره رسیږے .

سرفراز افندی

ضرور دے کښم چه زموږ د یونیے ملګرے د لوستونکو سره تعارف اوکړم . چه ترک فوجی چه جنګ عظیم کښی د زار روس د فوج په لاس کیونی وو د بالشویکی انقلاب زمانه کښی ے د بند نه تښتیدو موقعه اومونده . د سایبریا نه په اوږدو لارو افغانستان ته راپهیلی وو . مزار شریف کښی ے عمر تیر ولو . چمیا رتوب ے نرده وو . سنه بوتان ے جوړول . موږ چه یوه ورځ د سخی صاحب زیارت نه را اووتو یو د وکاندار راسره د هغه تعارف اوکړو او راته ے اووے چه تاسو انا طول نه ځئ . دا ترک هم خپل ملګرے اوګنړے او دځان سره ے اوړسوے . د خپل وطن اوبال یج نه لرے پروت دے . که بوئے ځئ نو ثواب به مو اوشی . د د کاندار د خواست په موجب موږ د اخبره

دَ افغانی اوسویت دوارہ وحکومتونو نہ مخفی اوسائلہ. زمونږ دوه ملګری سرفراز اوسکندر شاه بندے شوے وو. دَ دے ترک نوم موسرفراز کیښود. دے په فارسی ښه پوهیدو. درانرقد. مضبوط. پوخ عمر یرے وو. طبیعت ئے سنجیده وو. اوخبرے ئے کمی کولی. ناسته پاسته خوراک ئے خښاک ئے دلویو خلقو وو. زمونږ په زړه کښی پرپوته چه ترک سپاهی نه دے. څوک افسر دے خوهغه به همیشه وئیل چه زه سپاهی یم.

سیاه ګرد

د مزار شریف نه مونږ په نهمه وخ سحر روان شو. لاره اوچ ریګستان دے. اوتوله وخ مومنل اوکړو. آخر دَ یو پخوانی ښار چه نوم ئے سیاه ګرد وو. کهنډ راتوتو اورسیدو. تقریباً دوه درے میله اوږد اودوه درے میله پلن رقبه کښی به دا کهنډ رات پراته وے. اوس پکښی څلور شپیته کورو نو وارده دَ پخوانی ملبی نه آباد کړے دے. کهنډ رات د پخو خښتو دے. نه ده معلومه چه دا ښار دَ کومی زمانی دے. ځائے په ځائے یو نیم دا ت پکښی اوسه پورے ولاړ دے. دا هم نه ده معلومه چه دا ښار د چا دَ لاسه ویران شوے دے. د ښار د ننه او بهر دَ ولو خښتی دے. ښکاریږی چه پخوا دا وچه میره چه اوس پکښی خواړه دَ تند ے نه مړے. یو

شین شاداب وطن وو. د سیاگرد نه وړاندے دا سی نخښې موجود دے. لکه چه دے ځاے کښې یوه زمانه کښې لوئے لوئے ولی وے.

تاریخ ښائے چه یو وخت د بلخ د دوه څلورو لکهونه زیاته آباد دے هم وه. د سنسکرت کتابونه ښائے چه د بلخ د دریائے آمو په غاړه د ترمذ بالمقابل آباد وود سیاه کرد نه به دریائے آمو پخوا ویشت میله فاصله باندے پروت دے د سیاه کرد اود ریاب ترمینځ چت ریګستان دے. شاید چه د دریائے آمو دا غاړه هغه زمانه کښې د سیاه کرد سره وه او سر و سر د ریاب خپل ځاے پرے ایښې وے. او اصل کښې دا کهنداړات د آریا وُ د زمانې بلخ وے. رګ وید د هندوانو مقدس کتاب کښې د بلخ ذکر شوے دے.

یو سوال پیدا کیدے شی چه د سنسکرت زمانې نه تر اوسه څرنګ کهنداړات پاتے کیدے شی خو دا هم ممکن ده چه د سنسکرت د زمانې بلخ د سنسکرت په زمانه کښې نه وے وران شوے. او روسته زمانه کښې هم قایم پاتې شوے دے.

موږ ما سخته د سیاه کرد پراوته اوږه سیده و. دومره سترے وم چه پښې مې نه شوے اوږدولی. سمسلاستم، پښې مې دیوال ته اوچتې اړم کړے. شام په مزګه لاندے او پښې مې دیوال سره اوچتې ولاړے اوده شوم. سحر وختی د پښې نه چارا کښم. پاسیدم،

پښې مې هغه شان دیوال ته اړې ولاړې وې. ښه دمه وم. تروتان وم. لکه چې هلې ومنزل مې کړے نه وے. په سفر کښې زموږ تجربه شوے وه. چې ستړے به شو نو شپې به دغسې (یعنې پښې پورته) اوده شو سحر به دمه راپاسیدو.

سحر یا مخکښې روان شو. هغسې خړے شکې وے. د اوبو ښخېنه نه وه. محمد اکبرخان سره شپیلئ وه. هغه به کله کله وهله ګنې دغه ریګ کښې د لارې پته نه لګیده. اوږې ولاړه خطا کړے وه. خو محمد اکبر داسې مشر نه وو. چې هغه به څوک ترخپله وسه پرېښې وو. دهغه شپیلئ د لارې ښخېنه وه. هر څوک به دهغه په آواز پسې تلل. چې څومره موږ د ریاب ته نزدے کیدو. دومره شکې زیاتیدے. مازیګر دا موغارې ته اورسیدو. د افغانستان دښتې افسرې یوه جونګړه کښې ناست وو. په دغه وخت خو موږ ته هسې بد سنګاره شو. خو موږ دیر خفه شو چې سحر نه راوختو او د دے غارې نه مو د ترمذ د چهاونړے شان اولیدو. د ګرجو او چتو منارو حال وئیلو چې

ببین تفاوت راه از کجاست تا به کجا

اوس موږ سویټ یونین کښې داخلیږو.

ACKU

سویت یونین

ترمذ

بخارا

ACKU

ACKU

ترمذ

بالشویک زمونږ باد شاهی سلامی کوی

شپه مودد دریاے آمو په غاړه په شکومـلاسته تیره کړه . د دود ے درک نه وو . خو اوبه ډیرے وے . سحر چه پاسیدو نو د کشتئ په انتظار کښی د سیند په غاړه ځانے په ځانے کښیناستو چه سبه نمر را اوچت شو نو یولوے کشتئ زمونږ د پاره راپور ے وته تقریباً درے میاشتی دے چه زمونږ هیریدے نشی .

سیند دلته د نیم میل نه زیات پلن دے . کچه غرمه مونږ د کشتئ نه په بله غاړه کوز شو . د کوزید وځائے اوچ روخـو مخکښی لاړه بوخته وه . ځما بوتان ډیر زاړه شوے وو . بوټ م خته کښی نښتی پاتی شو . چه درا ویستو کوشش م ے کولو . نـو بله پسنه م بوختیده . یو بوټ می تسمی اوشلیدلی او بله پسنه پښی ابله . په ختولو لی . قمیص پرتوک شلیدلی د ترمذ په بنار ورننه شو . فیـخ یوسرائے ته ښـو تو .

د ترمذ انقلابی کمشنر

موبن په سرائے کښی په مزکر کښینا ستو. د ښو نه مو
خښتی لرے کولی اوخ لاس مو وینځل چه د وفیرنگیان راتوتل. دیره
موده پس موداشکلونه په نظر راغلل. دَدو ے راتلل سرائے ته
غیر متوقع وو. حکه هریو ورباندے ستر کی سنځی کړے
دواړه کسان د فیرنگیانو په جامه کښی وو. خو دیو په سر قراقلی د
پوست توپئ وه. اوپه مخ ښیره وه. اوپه پښوئے اوښده ترکسود و
بوټان وو. روستو معلومه شوه چه هغه تاتار وو. د دویم
کس په سر د فیرنگیانو نه قیمتی هیټ وو. کوټ ئے شین بخمل
بلیزر وو او پتلون ئے د تاټ (بوجی) وو. په پښو پښی ابل او د
پښی کټ کوټ ئے په سپینه چیره ترلی وه. تاتار ے د موبن سره تعارف
اوکړو "دا د ترمذ چهاونړے کمشنر دے". هغه د سر نه توپئ اوچت کړه
او موبن ته ئے سلام اوکړو. موبن حیران شو چه فیرنگی اوپه پښو بښی ابله
په سر ئے هیټ اوپتلون ئے د بوجی د اخه معمده؟ تاتار په فارسی پوهیدو
د کمشنر ترجمانی ئے کوله. کمشنر خواهش ظاهر کړو" تاسو ز موبن میلمانه
شئ؟" د اداسی درخواست وو. چه دَدو ے منظور ے کښی وخت نه نکیدو

مونږ ته فوځی سلامی کیږی

مونږ ته معلومه شوه چه فوج د سرائے نه بهر ولاړ دے او چه مونږ تیریږو. نو په فوجی طریقه به مونږ ته سلامی کوے. د جبل سراج قواعد په کار شو. غلام احمد او گوهر رحمن فوجی رعب داب سنبیل شروع کړو. مونږ ځلور ځلور په قطار کښی کړو. اود مارچ (روان شئ) حکم ئے اوکړو. چه د سرائے نه بهر کیدو نو گډ شئ نه مونږ مخکښی روان شو. د سرائے نه بهر د بین باجوی وه. کمپنی د سړک په غاړه ولاړه وه. چه مونږ تیریدو نو نه مونږ نه مخکښی روانه شوه. مونږ هغوے ته هم کنټل او خپل ځان ته موهم کنټل. مونږ اکثریت پښی ابل وو. پښی ډیر لمبی. قمیصونه شلیدلی وو. نه مونږ د اکثرو سره د غه سامان وو. چه په بدن موو. شلیدلی قمیص او شلیدلی پرتوګ، ځما په یوه پښه بی تسمی نه وه بوټ او په بله پښه پښی ابله وه. او په سر مې توره ډکه وه ے د خرمنی توپئ. خوک په سر هر تود او خوک پښو پښی ابله وو. خو بیا له په جوش وهلی شوا و مونږ و ر پسی د توتا نو کوتکی په اوږه په فوجی قدم روان وو. اوزبک او ترکمان نه مونږ په تماشه وو. او رانه چار چاپیره روان وو. چه چها ونړے ته او رسید و د چها ونړے

دیوال نه بهر کافی فوج د سړک په دواړو غاړو ولاړ وو. موږ ته ے فوجی سلامی اوکړه. موږ هم د کوټکو نه د توپکو کار واخستو په تلو تلو کښی موږ ته کس ایز (Eyes Left) اوکټل. د سپاهیانو جامه سنبره. لوئے لوئے ترکوړو بوټان ے وو. د هرکی کوټ اوږدجس ے اغوستی وو. پسروے بالشویکی فوجی توپئی وے. په توله لاره زاړه زاړه جینکی هلکان، سنځی نر نر موږ په تماشه وو.

د کمشنر انقلابی تقریر

لږ ساعت کښی د چها ونړے د ننه یولوے میدان ته اورسیدو. په فوجی ترتیب کښی اودریدو. اوراپسی د تر مذفوج توپکی په لاس په اوبدو قطار ونو کښی اودریدو. مخامخ ے یو میز کیښود. د میز د پاسه کمشنر وراوختو. د ړے سپاهیانو میز اونیولو. کمشنر تقریر شروع کړو. تقریر څه وو. سم جنگ وو. لاس اوپښی ے وهلی. لاسونه به ے داسی خوزول چه که نزدے څوک وے نو ضرور به لګیدلی وو. میز دومره خوزیدو. که سپاهیانو نه وے نیولی نو کمشنر صاحب به ضرور لاندے پروت وے. تقریر په روسی ژبه کښی وو. موږ پرے هیڅ پوهه نه شو

تاتارانو پہ فارسی کښی ترجمہ اوکړہ ۔ موبنز ئے ستائیلی وو ۔ او
د انګریز ئے مخالفت کړے وو ۔

سُبْحَانَ اللّٰہِ

خلفاء راشدینو کا زمانہ ہے

د تقریر د ختمیدو نہ پس بینډ سنہ پہ جوش کښی اوغږیدو
اخر کښی دچا ونړے د لوئے لوئے افسرانو نہ موبنز سرہ تعارف اوکړے
شو ۔ د تعارف پہ وخت کښی یو اهم سول افسر راورسید و ۔ تولوئے
دیر عزت اوکړو ۔ لوئے سړے وو ۔ خوجا می ئے د کمشنر صاحب نه هم
عجیبه وے د څرمنی غوندے غوندے تاکئ ئے پرے کړے وے او پہ
سینه ئے سور ئے کړے وے د وښتئ ئے پہ قمیص لګیدلی وی ۔ د پتلون
شاته د کونا څو د پاسه ئے تاکئ لګیدلی وے ۔ قمیص ئے د
خړ ښین وو ۔ بټنی ئے عجیبه وه ۔ پہ مهاجرود دے خلقو د کسر
نفس او غریب طبیعتی دیر اثر شوے وو ۔ خوچه افسر ے اولیدو
او د هغه د تاکو دک پتلون ئے او کتلو نو کنړکنړ ئے شروع کړل
حاجی شهاب الدین بی اختیار ه پہ لږ اوحیت آواز اووت ،

سبحان الله! خلفاے راشدین کا زمانه هی

ددے نړۍ وستوے موږ یوفوجی یارک ته بوتلو. سل کمونه پکښی اچولی شوے وو پنځوس یونیلوا و پنځوس بل پلوته. سبه فراخ ځاے وؤ. او موږ خوشحاله پراته وو. بیا نړۍ موږ نه پوښتنه اوشوه چه دوده به نړۍ دلاس تیاړه خورلے اوکه په خپله خوښه به دځان دپاره په خپله پخوے د نجونو آخرے حصه نړۍ موږ خوښه شوه لږ ساعت کښی یولمړ ورتړی کړ او وړتړے او پنځلس شپاړس پونډه دبل دوئی یوه ریږه کښی موږ ته راوړسولی شوے.

ددودے خوړلو نه روستو سمدستی د چهانړوے. افسران بیا راغله. دوه جینکی سره دخاوند انوهم پدے جرګه کښی دے. جینکو سره نه د هلکانو په دول قیچی کړے وو. د راتلوسره کپ شپ شروع شو. د چهاونړے کمشنر موږ مخاطب کړو: چه دا ملګرے تاسوته ستړے مشی ویلو دپاره دلته راغلی دی. دَدے مختصر خبرونه روستو خان ځان ته خبرے شروع شوے. خو په تولو خبرو کښی د وارې سنځی د دلچسپۍ مرکز دے. سنځو به کله ترجمان یو مهاجر پلو راښکلو او کله به ئے بل پلو اوډاکو ښبن به ئے کولو. چه ستړے او غمزده مسافر خوشحال شی. د شیخوپورے (سابق پنجاب) یو فیروز نومی کم عمر هلک وو. سنه پی ایچ ډی وو. ښیره بریت ئے لاندے وه راغلی. یوے جینئ د ترجمان په ذریعه وړته اووے چه "ته ښایسته ئے

ژوند په تامینه شوے یم ". فیروز به ترے اوتښتید و. دَ چا په شا به شو. مخ به ئے لاسوپت کړو کوربانۍ اومیلمانه به پدے خبره ډیر اوخندل. د ترمذ په ټوله چهاونړے دا وه جینکی وے او دوه نورے وے.

دَ دریابی جهازنه بغیر چه هغه به هم په میاشت کښی نه راتلو. دَ ترمذ اوترکستان ترمینځ دَ رفت امد توله سلسلی منقطعی دے. چاپیره ترکمان اوسیدل. د سوویت اودترکمان تر مینځ جنګ نه وو. خودجنګ دپاره تیارے ضرورے وو حقیقت داوو چه ترمذ محصور وو. د ترمذ نه ریل دَ سیند په غاړه تربخارا تباه کړے شوے وو.

نومونږ سره د چهاونړے فوجیانو اوحاکمانو ډیر ښه سلوک کولو خو چه د ترمذ زورښارته به لاړو. نو دَ امیر بخارا دَ حکومت افسرانو به مونږ ته صفا وغیل چه حکومت بخارا ستاسو په ترمذ چهاونړے کښی په اوسید وخوښ نه دے. خو مونږ ته دَ بخارا حکومت په ترمذ منه رانکړه اوپه دغه وجه مونږ دَ هغوے خبرو ته توجه نه ورکوله.

ترمذ وړه چهاونړے ده. چاپیره ترے دَ سړے هوا. مړه اوچت دیوال دے. پکښی موچی دے. دَ ترمذ زورښار روړے دے. آباد دے ځے دَ ختوده. خلق ځے غریب دے. بازار ئے دَ چهاونړے په برکت آباد دے.

موږ مزار شریف کښې د زړو توپونه په ارزان نرخ اخستي وو او ترمذ ښار کښې هغه چلیدل. د زړو په زمانه کښې یو روبل د هند دیوې نیمې روپئ برابر وو. خو په مزار شریف کښې دا په څلور آنې خرڅیدو.

زه د نبر اوچیچلم

ما ښه کوشش شروع کړے وو. چه روسي ژبه زده کړم د خاص کوشش وجه داوه چه درسید و په درېیمه ورځ د ترمذ ښار کښې نه په دکان ولاړ وم. چې یو د نبرم پرتوګ ته نزدې په کرنانۍ ځے اوچیچلم. تل وجود می تنزلی شو. حال م خراب شو هسپتال ته لاړم ډاکټر ته می ځان اوښیلو. که هرڅومره ما کوشش اوکړو. خو ما ډاکټر پوهه نه کړے شو. کوم فتن کښې چه لاړ وم. هغې کښې بیا راستون شوم. یو د نبرم دکان کښې مړکړو. او ډاکټر لږ م یو روهفته چه اولید و خوښ حال شو. خپل کمپوډر انو سره ځے اوخندل شاید چه دا ئے وے چه د ے مسافر د ژبې ډکې پوره کولو ښه تجویز سوچ کړے دے. ځما سره ځے ښه سلوک اوکړو او هسپتال کښې ځے داخل کړم.

تفریح طبع

په دے وړه چھاونړے کښی یوه سینما اوتھیټر وو. موږ به دواړه ته بللی شو مھاجرو یو. شپه یو. لسنده درامه دجلیانوالہ باغ دافسوس ناکی واقعی پیش کړه. کله کله د اردو پنجابی اوپښتو غزلی په تھیټر کښی اوئیلی شوے. اوپه فارسی اوروسی کښی به دهغو ترجمی ډیرے خوښی کړے شوے.

ورځی شپی سبی تیریدے موږ ته ئے جامی اوپیزار. راکړے وو اوسبه خوراک به ئے راکولی اوپه دے انتظار کښی وو. چه جنګی جھازبه راشی نو په آرام یه پکښی مخکښی لاړشو. دَچھاونړے کمیسار موږ سره وعده کړے وه چه زمونږ جنګی جھازکښی به مو په حفاظت سره رخصت کړے.

مھاجرینو به کله کله جلسه اوکړه اوتجویز به ئے پاس کړو چه زیاتی انتظار نه موږ مقصد کښی فرق راولی. کمیسار ته بدا تجویز اورسولی شو. هغه به زمونږ دلجوئے اوکړه چه لاړه د خطرے دکه ده. اوپه دے وجه دَ بیړے دَ سفر نه پرهیزکول پکار دے. ورځ وړه بیا موږ غلی وو. خوهغه مھاجرو کښی زیات هغه کسان وو. چه هغوے دلائل نه منل. سوچ ئے کم کولو خطره ورته خطره نه

سنکاریده. هغوے په یوځاے نه شوکښیناستی. دَهغوے په زړه کښی بی پناه جذبه وه. چه دهند نه ے ترکستان ته اورسولو. اوس په ترکستان کښی هغی جذبی په قرار نه پریښودل. حاجی معراج الدین اوحاجی شهاب الدین د جبل سراج د شهرت خاوندان رد رواوچتیدل آخرے صبر تمام شو. اغوے جلسه راوبلی شوه. څرنګ چه موښ دَامان الله خان حکومت ته چیلنج ورکړے وو چه "موښ په فلانئ ورځ روانیږو. دغسی موښ د ترمذ روسی کمیسار ته خبر واستولو چه "موښ په دریمه ورځ روانیږو که حکومت موښ ته بیړے راکړے. نو موښ به ے شکریه ادا کړو. اوکه نه وے موښ به پیاده روانیږو. دا فیصله اوشوه. چه د بالشویک ویناچه مخکښی خطره ده فضول خبره ده." خطره که وے نو د حکومت د پاره به وے چه د ترکمانو زړه به ے څرلاندے باندے وے. ترکمان مسلمانان دے اوځکه زموښ روښه دے. موښ د هغوے نه هیڅ خطره نشته."

دا تجویز په اتفاق پاس شو. دَدے التیمیتم په رسیدو سره کمیسار زموښ پارک ته راغلو. منت ے اوکړو. کوشش ے اوکړو چه موښ ځان د هلاکت نه بچ کړو. اوسیند ته توپ نه وهو. هغه اووے چه ښ صباد آزاد دے خواهانو اوامیر بخارا ترمینځ جنګ شروع دے اوترکمانان به تاسوته نقصان دراورسوے."

خو موښ جواب مختصر وو: "چه زموښ او د هغوے ترمینځ هیڅ خفګان نشته. هغوے زموښ روښه دے موښ به ولی نقصان وے."

دترمذنه رخصت

پوره یوه میاشت وروسته چه څرنګ بین باجوړه زموږ هرکلی شوے وو. هغسی بین باجوړه زموږ د سیند ترغاړه جلب اوکړے شو. د چهاونړے قبلی دډے ته د سیند په غاړه زموږ د پاره دوه لویۍ لویۍ بیړے ولاړے دے. موږ د ماښام دوډے نه وروسته په فوجی ترتیب کښی راروان کړے شو. مخکښی موباجی وے وروسی موږ دوه اتیا پوړے مهاجر وو. چه په تروتیر وکښی په نامعلوم سفر روان وو. د وه څرونده ے کډان څه وړیځے پخی اوخه خامی، دیرے ډبل دوډے ئے بیړو کښی راسره واچولی. بیړے څه وے واړه واړه جهازونه وو. یوځلویښت سړے په یوه کښی اوځلویښت په بله کښی کیناستل پوډے ته سامان کښنولی شو. اوورسره مومعمولی نفرے جوړکړل. بیا هم داوده کیدو د پاره ځائے خالی پاتی شو.

سحروختی په تیاره کښی بادبانونه پورته شو. بیړی مخ په قبله روانه د بندرنه اووته. سیند پلن وو. ماښکان طبیعت کښی وو. ځائے په ځائے ولاړ مخکښی ئے کنټل. اولس

ساعت کښی په قرار شو. بیړۍ بی تکره یوبلی پسی روانی وے. د سحر باد نرۍ نرۍ چلیدو. رو رو رنړا کیده اودسین شنه غاړه راښکاریده. موبن په عجز او انکسار سره درب لایزال نه په اوچت آواز دعا او غوښته.

"خدایه! زموبن وطن آزاد کړے. چه موبن هم د نورو قومونو په شان د عزت عمر وتیر ولی شو."

نهر نه روختلی، سبه رڼا وه. د چا ئے دور چلیدو. بیړۍ یوبل سره نژدے نژدے روانی وے. موبن دیوبل سره خبرے کولی د سویټ د میلمستیا تعریف د هرکس په ژبه رو. او موبن به ولی تعریف نه کولو. چه د سحر چا ئے سره به موهم اوچه اوتازه میوه خوړله. تولـه ورځ موبن په خوشحالئ تیره کړه. موبن په لاره بوهه نه شو. لا پخلی وو. لا خوراک وو. او خوشحالی خوشحالی وه. کله کله د غاړے د سیل کولو او یا د څه خاص ضرورت د پاره بیړۍ په غاړه اودریدو. موبن به ترے کوز شو. د ترکمانانو د وطن تماشا به اموا وکړو. اوبیا به ..... مخکښی روان شو. تولـه ورځ تیره شوه موبن کافی مزل اوکړو. د ماښام مونځ مو په غاړه اوکړو. د ورځے موهم په مزکه اوخوړه اوبیا روان شو. ترماښامه تیر پورے موشین آسمان کښی د پرکیدلی ستورو تعریف کښی نظم اونثر کښی خان مشغول اوساتلو. اوبیا اوده شو.

د جنګ بوی راغلو

په دویمه ورځ چې موږ په خپلو خبرو کښې مشغول
وو. زموږ مانړګانو د سیند په غاړه د شپنو او غوبانو نه تپو
سوند کول. زموږ ټولې کښې د ترک آفندۍ نه علاوه یو پښتون
هم په ترکئ پوهیدو. دا دواړه پوهشول چې مخکښې جنګ دی
مانړګان هم د فکر په تال ځنګیدل رنګونه ئې الوتلی وو.
خفه زهیر ناست وو. په موږ د جنګ خبر څه اثر اونکړو. خو
زموږ خوشحالئ مانړګان نه شو خوشحالوئے.

ګلف

ما سپینین موږ ګلف ته اوږسیدو. داد بخارے او د
افغانستان ترمینځ تجارتی بندر دے. موږ ورګوزشو. هیڅ
تجارتی مال موږ په نظر راغلو. د نترونه، محصول، جنګی اونورہ
آباد ے ورانه پرته وه. په مکانونو کښې څه درواړه یا کهرکئ

نه وه. انقلاب خپل اثرات څرګند کړے وو. موږ مونځ اوکړو
او بیرته چې په بیړۍ کښې کښیناستو. نو معلومه شوه چې بدرګې وال
چې دترمذ نه موږ سره راستړی شوے وو. پټ شول. موږ
هم یقین راغی چې جنګ شته. خوانکا رجانړے لوهار جانړے
ترکمانان په موږ نه خپه وائی. سویټ پوهیږے او ترکمانان پوهیږی

موږ د ترکمانانو لاس کښی بندیان شو

ترشپاږه ماسختن زموږ بیړۍ مخکښی تلی. باد بانونه
سته په موافق باد ماړه وو. موږ ډوډۍ خوړلی وه. د اوده -
کیدو په فکر کښی وو. مانړګان خفه وو. خوکشتی روانی وے. جنګ
او د جنګ خبرے موهیږے کړے. غلی شو. خبرے مونه کولی. څو-
ک ملاست وو. او څوک سملاستل چې په دے کښی د سیندۍ
دغاړے نه آواز اوشو. مانړګانو جواب ورکړو. د بیړۍ رخ بدل شو. موږ
مانړګان منځ کړل. چې کشتی مه کږوئ خوهغوے جواب ورکړو چې
اوس به رابانده ډزے شروع شی. موږ هم اومنله.

چې زموږ بیړۍ په غاړه اولګیدے. نو دوه ترکمانان
رانږدے شو. اوښے وے. تاسو خفه کیږے مه. موږ خپلو مترانو

خبرلږ لی دے. سحره پورے به خبر راشی. تاسو به رخصت کړو
مخکښی د سیند دواړه خوا مجاهدین پراته دے. که تاسو هم دغه
شان بی خبر ورځئ نو تاسو به نقصان کړے."

زار وسیان مو ولی هراوستی دی؟

موږ بی فکره اوده شو. چه صبا به روانیږو. ولی زموږ نه
ووخبر چه دغه خواوشا کښی به په موږ یوځل ګولی شت لګی. سحر چه
موستړی اوغړولی نو نمر خړکید. موږ لاپه بیړے کښی پراته ووچه
دوه هلکان ترکمانان دسیند غاړے ته راغلل. بغ بغ به ئے موږ
یوپوته کتل. خپلو کښی سره رولیکیا وو. دغاړے نه شل دیرش
قدمه لرے دوه څلور کسان ناست ووو اهلکان بیرته هغوے ته
لاړل او ورسره کښیناستل. لږ ساعت پس دهغه ځلے نه دوه کسه
مشران زموږ بیړوته راغلل. په زیر زیرے دواړه بیړو کښی سره
باندے نظر واچولو. بیا بیرته خپل ټولی ته لاړل. موږ لا هغسی بیړے
کښی ناست ووو. یوبل ته موکتل.

"ولی بیړے نه روانوو. موږ به ترکومه دے خلقو ته کورو"
چه په دے کښی یوترکمان راغلوا و وے ویل چه کلانتر مو راواستوے
چه جوګه اوکړو. قافله سالار اکبرخان سره د څوکسانو ذګفت وشنید
دپاره ورغلو. زه هم دغه څوکسانو کښی وم. سړوزانه آفندے هم

راسره د ترجمانۍ د پاره موجود وو. یوخو ترکمان سل خوا موښ په شکو کښینا ستو. خبرے اترے شروع شوے. د اکبرخان په لیچه الله اکبر لیکلی وو. ترکمانان سمدستی دهغه نوم الله اکبر کیښود موښ زهر تورزره پوهه شو. چه موښ محاصره کښی یو. د ځا ره په شاد ترکمانانو اوچتی توپئ سنکار دے. هر سړے سره توپک وو. ترکمانان بی توپکه هم خطرناک سنکار دے. د یوګډ د توپی خرمنی یراوبده توپئ نے په سر وے. د توپئ د پاسه دګډ ویښته د ترکمان خطرناک شکل لا زیات خطرناک کړے.

ترکمان "مغل نژاد" ستر ګی نے لږے کږے دے. په زنه او دسټر ولاندے نے د ټبرے کمسی اویزاندے دے. اوبده تن پوند ونے درخت چوغه اغوستی وے. اوبده بوتان ترګو د په چوغه کښی پټ وے.

په موښ د عراوه "چه تاسو جدیدیان ئیے. په نوے اصولو عقیده لرئے. بالشویک یئ. مخکښی د کرکی چها ونړے ده اوتاسو د محصور بالشویکی فوج د امداد د پاره روان یئ." محمد اکبرخان جوابی مختصر تقریر اوکړو.

"موښ هند وستانیان مهاجرئ د ترکو د امداد د پاره انا طول تله ځو. زموښ د بالشویکو جدیدیانو سره تعلق نشته. موښ مسلمانان یو." خود ترکمانو نو کلانتر په خپله خبره مضبوط ولاړ وو. خپل تائید کښی نے زموښ د ترمذ ورځی رایاد ے کړے

څه رنګ تاسو د کفار و سینما کانی او تیاتر ونه کتل . او خپله مو پکښې حصه اخسته . اکبرخان د دغې هم جواب ورکړو . خو ترکما نا نو یوه هم ونه منله . اخر کښې کلانتر په اکبرخان ستر ګې راواوښتې ما او وندا علی د پیښور یو شعیه ترې اشاره اوکړه .

"سبنه چې تاسو جدیدیان نه ئې . نو دا روسیان موږه د پاره خان سره راوستی دی . دا ضرور تاسو سره ستاسو د کرکې چې اوښې ته رسولو د پاره روان دی .

اکبرخان د خپلې قاعدې مطابق مسکی شو . اوښې خندل خو زړه یا سنجیده شو . اوبه یې زور طریقه ئې زمونږ د مسلمانۍ تاسید اوکړو . د دې جګړې فیصله په دلیلونه شوه کیدلی . او نه ترکمانانو د اسې فیصله غوښته . د بحث مباحثې نه د هغوئ مطلب وخت اخستل وو . چې ئې معلوم کړې وې . چې مونږ سره اسلحه شته یا نه ؛ مونږ خبرې اترې کولې . او دې وخت کښې ترکمانانو په چل چل د دوا رو بیړیو تلاشي واخسته چې ورته معلومه شوه . چې وسله نشته نو سره د بیړیې نه راکوز شو . د یوې زړې توپې او دیو څو جبل سراجي کوتکونو نه علاوه مونږ سره څه نه وو . توپه ئې سیند ته اوغوزوله . او کوتکونه ئې رانه واخستل .

هایکویا الله

راځئ مومنانو که څوک کافر وسړه په جهاد

کولو کښې حصه اخلے

مشر ترکمان مومن ته حکم راکړو چه دبیرونه خپل سامانونه راواخلئ . اوځئ چه تاسو شیخ " (د قبیلې مشر خان) ته پیش کړو . مومن ورله اووئیل ، چه یخی وریځے مومن سره په دیکچو کښې پرتې دے ، دکرمولو او دخوراک اجازت نے راکړئے . نو بیا به خو . ترکمان په قهر شو . آواز ئے اوکړو د جاړو بوټو د خوانه ترکمانان راواوچت شول . زمومن نه چاپیر شو . مومن خپل خپل اسباب راواوچت کړو . ترکمانانو زمومن ملکرے دبیرونه دتوپکو د کندا غونډیه کذاروو راکوز کړل . بیا ترکمان د دیکچو نه یخی وریځے سینه ته واچولی او دیکچی یی راته راپه سر کړے .

مهاجرمینځ کښې او ترکمان راته چاپیره . مومن مخ په قبله روان وو . په ډیره مهاجرو داسی درز دروز وو . چه پرده ے څاروے به هم څوک داسی اونه وهی . خلهی مخکښې اوتل او کمزورے ضعیف العمر روستو پاتی شول . په روستو کښې

حاجی معراج الدین اوحاجی شهاب الدین دواړه شامل وو. اول الذکر هغه سړے وو چې د هغه انتها پسند ئے په وجه زمونږ دا حال شوے وو. اود ویم د هغه تائید کوونکی وو. حاجی معراج الدین ضعیف وو. تنده نه شو تللی اود حاجی شهاب الدین سره د جامو دک یخدان وو. په دے وجه هغه هم کوتکی خوړلی. یخدان درسره وو. هغه نه شو اوړے. ما ورسره نیولی وو. دکندا غونډې په مونږ باران وو. چغه به شوه.

"هاینکو! یا الله!" (شاباسئی! یا الله!)

اوترکمانانو به په مونږ حمله اوکړه. خو مهاجرین هم دسختو برمو نه تیر شوے وو. هغوے کښې دایثار مادې وه. څوخو خله انهائش کښې راغلی وو. اوکامیاب پاتې شوے وو. په یواپیل خلمی روستو شول اوکمزوری اوزاړه ئے مخکښې کړل. "هاینکو یا الله" اوازونه به کیدوا ودکندا غونډې د درزآوازونه به ختلو. په لاړه داسې دوړے راوچتې شوے وے چه مونږ یوبل نه شولیدلی. یوبودا ترکمان د تولو مخکښې په خرسپور روان وو. اوپه خپله ژبه ئے آوازکولو.

"راځئ مومنانو که څوک د کافرو په وژلو جهاد فی سبیل الله کښې حصه اخلی."

داوطن دآمودسینه. په کیږه غاړه وو. سهسبزاوشاداب وو. قدم په قدم کلی وو. زمونږ په رسیدو به ئے کانړے لوڅې په مونږ راوړول. زنانه به په کوتوختې وے اوپه بدنظره ئے مونږ

ته کتل . د غښی قریباً لس میله موټر منزل اوکړو .

سرای نظام بیګ

ستړے ستړمانه ، شړوبل اوښی رانه بهیدے موټر سرائے نظام بیګ ته اورسید ولکه د ترهیلی څارونکو ے په سرائے ورننه ویستو . داد دنګرو سرائے وه . دیوے چنی سره سراسر اوږد دالان وو . چه د خشتو اودغوښینو نه ډک وو . غالباً په میاشتو چا نه ووجارو کړے . خو موټر د پاره خشتو د بستروکارا وکړو . موټر وربانده کښینا ستو . د سرائے په دروازه پیره اودریده . چا رچا پیره په دیوالونو پوخو ترکمانانو تړیک په لاس کښینا ستل . موټر ته حکم اوشو چه خوږے مه کښی د کوئی څښنه کیږے به سرائے کښی د د سرواڼے یو خوا بل خوا یوه کوټه وه . اوښو رخلاص میدان وو . د سرائے آباد ے نه لږه کچه د څټولوټو وه . په لږ ساعت کښی په موټرو بیا د کتو باران شو . چه کتل موټرو ښمار ه کښی په سرائے کښی د بهرنه را غورزیدل شروع شول . څه هلکان په اونوختی وو . او د اونو نه ے موټر په کتو ویشتلو . غا ښونه به ے راته چیچل . هغه سړه چه به د ردے ے په موټر سرونه مات کړے وو . هغوے مناسب

اونه کنړل چه د هلکانو د لاسه دے موبن مړه شو. کنی هلکانو به موبن په کتو کښی بنځ کړے وو. تولہ ورځ تیره شوه. موبن ته ے څوک نزدے راپرے نه ښودل.

په سختی کښی د بنده خدای مرایادشی

سړومښی ورځ موبن په ژړا کښی نه وو. په دویمه ورځ څوکسو دروازے ته د ورتلو زړه ورتوب اوکړو. د اودس کولو د پاره د ولی غاړے ته د سرائے نه بهر د تلو اجازت ے اوغوښتو. اودس خوپریږده چه د اودس ماتی د پاره هم اجازت نه وو. د سحر د ماښځه وخت هم د غسی تیرشو. د ماسپښین د ماښځه د پاره بیا د اوبو حاصلولو کوشش اوشو چه ناکامیاب شو. نو تولو مهاجرو تیمم اوکړو. اوپه اتفاق سره جمعی سره مونځ کړو. ترکمانان زموبن په دے حرکت حیران ولاړ وو. سړومښی ورځ په سرائے کښی اوښے تړے موتیره کړه. د پرون سحر راهسی مونه د ودے خوړلی وه اونه ے اوبوته پریښی وو. وطن دا وبودک وو. او زموبن د تندے نه ساه ختله. تولہ شپه دلوښے تندے دلاسه خوب نه راتلو. خوپه دویمه ورځ ے یو دکاندار پیه دروازه کښینولو. اوپه قیمت ے رابلندے د ودے اوقا غونه (سرے خوخولی لوستو

نکی اندازه لګولی شی . چه په موږ به ئے دا څوند ډیاره ضروري
څیز په څه نرخ خرڅ کړے وے .

زموږ امتحان

په دویمه ورځ یو یو دوه دوه ترکمانان د ننه راغلل شروع
شول . دا به اکثر یو وارد ډ چارچاپیره کلونه زموږ کشلوله راغلل
زموږ سره به ئے خبرې کولې . دوے به زموږ نه رنګ رنګ
پوښتنې کولې . د مذهب بابت به زیاتې خبرے وے . زموږ سره
قرآن شریفونه کافی تعداد کښې وو . د خپلو عقائدو د اظهار ډیاره
چه به موږ قرآن اولوستلو نو سره به ئے او خوږولو او به ئے وے .

څنې څنې روسیان د خپل مطلب وینستلو ډیاره قرآن
شریف زده کوے . زموږ جماعتونو کښې روسیانو اوامامتی کړ . د ه
موږ به پخله وخته مونځ د جماعت سره کولو . یو مهاجر
جرأت نه شوکولی چه مونځ ئے نه کولی . تمامی ورځې به قرآن شریفونه
لوستی شو . ترکمانانو نو په هر یو مهاجر کلیمی تیرے کړے . خونه ئے
منله . په دریمه ورځ درے کسان راغلل . په شکل کلان توان
معلومیدل . په موږ دیوسره تربله سره پورے اوکړځیدل .
دوے په یوځ کسانو ګوتې کیښودے . او ویرته ئے اووے : "چه تاسو

بهودیان ینی

"معاجو دانکا ۔ارکړو. کلیمه ئے اوویله. نوبیائے ورته پوښتنه اوکړه.

تاسو دومره زیرنے ولی اوبدمے کړے دے!"

آخرکښنی چه ماته راالوښیدل نو اوئے وے،

داکس اودانګ اعلی پلوئے اشاره اوکړه. کس دواړه روسیان دے."

موبن دواړه ددے خبرے په تردید کښی وخت تیر نه کړو. موبن اووے چه موبن مسلمانان یو اوکلمه موورته تیره کړه. پس دیوخو نورو مذهبی سوالونو پوښتنی اووے.

"تاسو سنت یئ؟"

"هو" موبن فوراً جواب ورکړو.

"موبن اعتبار نه کوو. تاسو خان راښکاره کړئے" هغوے په جواب کښی اووے.

موبن حیران شو. خودانکار نتیجه هم راښکاره وه. ماادوی چه موبن ته دخان ښکاره کولو کښی هیڅ عذر نشته. خوویریږم چه هرڅوک چه زموبن کتلوته راځی. نودغه مطالبه کوے. نوتاسو چه څه اووینئ دهغی سند به موبن ته راکړئے؟"

کلدن توان تحریر راکولو دپاره تیار نه شو. اولږساعت گفتګوکولو نه روستو دسرائے نه اووتل. هسی خودیرترکمانان

به زموبن دکتو دپاره رانلل . ما ته کوده فارسی باندے هم پوهیدل خوداد رے کسان عالمان وو او په فارسی هم ښه پوهیدل.

موبز ته سزای موت راکیدی شی

ما چه کلان ترانوته داسی جواب ورکړو. نوځما ملګرے مفاجه په دے دیرخوشحال شول . موبز اوس ښه زړه ورشوے وو. د ترکمانانو سره موږ په هره خبره به ښه بحث کولو. هغوے په ما ته کوده فارسی پوهیدل . او موبز په ما ته کوده ترکی پوهیدو. د هغوے د هیبتناک شکلونو او ویرونکو توپوسره هم بلد شوے وو. هغوئے به زموبز سره توقی کولی . او موبز ئے په دے کښی سائلو چه بخارا ته مواستاذے لیږلی دے . تاسو به هم بخارا کښی د جناب عالی په خدمت کښی پیش کیږئے . موبز په دے خبره ښه راضی وو. او بخارا ته د روانید و په انتظار کښی وو. موبز خبر وو. چه د امیر د حکومت اود بخارا د جدید خیال طبقی ترمینځ جنګ شروع شوے دے . موبز ته د ترکمانانو د ځلی سرا ے نظام بیک کښی معلومه شوه چه امیر او انګریزان سره خپلو کښی رابطه اتحاد ودرستی لرے . ترکمانانو به په ما نه کوده فارسی

کښی وے :

" روس کافر است . انگلیس وافغان خوب است "

سرے نظام بیک کښی څلور مه ورځ په خندا هوس شروع شوه . د ترکمانانو نقاونه دوه دوه ورځې درامو په شان کیدل . خود سرائے په دروازه کښی غیر معمول رښت وآمد وو . نوے نوے ترکمانان راځل . پتی پتی خبرے کیدے . موبن ته هیڅوک نزدے نه راځل بد غصه سنکا ریدل لږ ساعت کښی څوارلس پنځلس ترکمانان خو قول کلان تران په دایره کښی کښیناستل . موبن پوهه شو . چه زموبن بابت څه ضروري خبرے باندے دے . موبن لوښتی اوکړو یوکس نیم موبنزد ے وروا ستولو . خوهغه ئے دستی راا وشړلو . کهنته نیمه به ئے جوړه کړے وے . چه موبن ته ئے سړے را واستولو . چه جوړه یوکس غواړے . د نورچا ئل بی فایده دے وو سرفراز افندے موږ واستولو . ځربیر ته راغلو دستر کو نه ئے اوښکے بهیدلی . خبره ئے نه شوکولی . موبن تول خوفزده ترے نه ځاچا پیر شو . افندے اووے .

" فیصله اوشوه . موبن تول به وځی نے "

د دے چنګیزے حکم سره جوخت زموبن یو یوکس واړه واړه به دروازے ته بللی شو . مکمله تلاشی به ئے واخستی شوه . بیا به ئے د دروازے نه بهر وړیکه کړو . او د پنځوسو وسله بند وسوړو په دایره کښی به ئے اودرولو . د قمیص او

اوپر توګ نه ښیاتی جامی اوپیسی به ئے تړے واخستی .

مرګ مولید لو . دیر سخت ساعت وو . د هر چا ډخ نه وینه تښتیدلی وه . حاجی شهاب الدین اویوخو کسونو رو اکبر خان ته اووے قرآن شریف واخله درواړے ته لاړشه . چه د قرآن پاک پخ موبن معاف کړے . او دا ظلم راباندے نه کوے . ورته اووایه چه زموبن بال وبچ به درته خیرے کوے . زموبن دوښلونه دوے ته ځه فایده ده . خوخان تیار نه شو . هغه یواوبل د اوسیلی اوکړو اووے وئیل چه د ګوریشپه په ګوریکیږے نه . دا به زموبن په تندے لیک وو . ماته د زارے فریاد ګولونه ځه فایده نه شکارے ترکمان موبن پریږدے نه . بهتره داده چه په آخرے وخت کښی سنجیده پاتی شو . موبن دمره شوخوارے مودپاتی نه شی :

د دغه کسانو اود افندے د ستر ګو د اوښکو چینی روانے وے . که هر څوملګرو ورته د صبر تلقین کولو . خوفائده ئے نه وه . حقیقت داووچه دغه کسان بال وبچ دار وو . آفندے هم پوخ عمر سړے وو . د جنګ عظیم د زمانی فتیدے وو . د روس په انقلاب کښی ئے موقعه اومومده افغانستان ته راتښتیدلی وو . اوس زموبن سره د وطن په خیال روان وو . د بے آثارے بے سوده مرګ وو . ولی به ئے اوښکی نه بهیدلی .

په هر آواز یا په اشاره به یو یو مهاجر ورپاسیدو . چه هغه به ئے صفا کړو . نوبیا به بل ورپاسیدو . ځما

وارهم زهر تر زړه راغلو جیب کښې م یو خورو سی کاغذ ے سمونه وو. تلاشی کښې ے رانه واخستل او په یو خادر ے دنورو سره واچول . ترخ کښې م یو کوهاتی خادر وو. هغه ے رانه خستو. ما خیال او کړو چه جوړ ے راسره پریږدے . خو حیران وم چه دا ولی پریږدے . دروازه کښې تنبور ے وه . ما سر تیت کړو او د هغې نه بهر وتلم نو یو ترکمان دشانه په ست کښې او وهلم . خادر ے رانه په شا راکښلو ما په شا اونه کتل . لکه چه هډو وغه شوے نه دے . د نورو سره په دایره کښې او دریدم . اوس م یقین اوشو . چه مرګ راغلو .

چار چاپیره هیبت ناک شکلونه په تورو آسونو سواره وو . چه پاس م اوکتل نو زړه ے رانه اوویستو . یقین م پوخ شو چه دا بنی آدم نه دے جوړ پیریان دے . کرنے کرنے ستر کی . د کډ نخرمنی اوچتی اوچتی توپۍ ے په سر . د کډ اوږده اوږده ویښته ے په اوږو اوکړچونه ے د زینو نو سره اویزان وو . دا سی راښکاره شول لکه چه سواره اواسونه یوټل موښ ته د قهره غاښونه چیچی . آسونه ے بے قراره بی آرامه وو . شاید چه هغوے هم زموښ مرګ ته لیواله وه .

موښ ته بیا غیبی امداد رارسی

لږ ساعت کښې ټول مهاجر دایره کښې دننه ولاړ وو .

سرتوړ سر، پښې ابله ښې. ستونه ئې پریوتې. خپل خپل غم کښې
ډوب. اوښل خواته د مال واسباب په ویش درانه ایسار وو.
ډډې سره ستومالیدلی وې. چې کوم وخت قید مې پهانسۍ
ته روان وې. نو خبرې نه شې کولې. ساه پکښې نه وه. تلې
نه شې. جلاتیا نو د متونه نیولې را کاږې ئې. خو ماته ښه
یاد دې. چې موږ کښې پیرکم سړې داسې چې هغوې اودریدې
نه شوې. اوخبرې ئې نه شوې کولې. خو ماښه یاد شي چې
دیر ویوبل ته دادکیږه ورکوله. اوویل به ئې:

"موږ دوطن نه په دې خیال نه وو راروان شوی چې
به ټرونډ مې راستنیږو. موږ د غزا د پاره راغلی یو. چې شهید
ان شو. خدایه په دې امتحان کښې مومه ځویه وه.

قصاب خانې ته چالان تیار وو. صرف د کلانټر انو د حکم
انتظار وو. مرکې موږه سره لا وو. هلکانو په لوټو او کانړو ویشتو
کنځلې ئې راته کولې. سوکونه ئې راته منجول. سوړو به دشاد
مخې په چاپ کولو وهلو. د مرګ په ځله کښې وو. چې ناکهانه د
قبلې ډډې مې دوړې را اوچته شوه. ترکمانانو غوږونه پرې وس کړل.
په دوړې ئې ستر کې سنځې کړې. دوړه سره سره را نزدې مې کیدله
اوزیاتیدله. موږ خیال اوکړو چې چوپړ سواره راغلل. موږ په
زړونو کښې اووې "زموږ د پاره د غه هم بس دې نو ولې راغلل
پنځوس سواره سره د توپکو اوکړ چوپړ. اوښل خوا بد نصیبه

زمانی وهلی. د وطن نه شرلی بے لاسوبی شپږ مهاجر.... ازموږ دپاره دغه وخت یوسګندل ترکمان هم بس وو. په موږ دنورو درارسید وهیڅ اثر اونه شو. موږ مړه وو. مړے هسې هم مړه وے. که دښمن یووے اوکه هزار.

دوه ساعته په ساعت راښکته کیده. ترکمانانو ستړی په یوځ په دوه ښخی کړے وے. آپلو دے پلوئے نه کښل چه په دے کښی یوسوړ دوړے نه راباندے شو. سپین بږیرے خوپه بدن توانه وو. په سړے سپین پټکی اوږیښمی چکمن[1] اے اغوستی وو. موږ نږه کښی اووے چه دا انتظار جوړے دے مشر دپاره وو. خو زموږ د حیرانتیا هم څه حد نه وو. چه بودا دآسونه کوز شوے په ادب لاس په نامه ولاړ وو. یوخو ترکمانانو نه ئے چه په چابک شرکا اووسته نوږ وپه آسونو ښپی راواړولی. او د ستړکو په ږپ کښی میدان خالی شو. بودا موږ ته متوجه شو. خو زموږ نه ساختلی وه. د چرګی د بچو په شان یوبل پورے ښتی ولاړ وو. بودا په نارسئ ژبه کښی موږ ته تسلی راکوله. خو زموږ غږ نه خټلو. شیبه پس موږ کښی د خبرو طاقت پیدا شو. موږ سپین بږیرے ته خپل شکایات بیان کړو. هغه ډیر خفه شو. افسوس ئے اوکړو. اوئے وئیل:

تولہ دنیا کښی زموږ صرف انګرین دوست دے. اودا جاهلان دومره بی خبره دے چه دوئے تاسوته تکلیف درکوے."

---

(۱) ږعبا.

موږ نړۍ کښې د مشریه غلط فهمئ خوشحاله واوه هغه شکریه مواد اکړه . چه هغه د ومړه نړموږ خیال اوساتلو اوموږ ئے د مرګ نه بچ کړو . خو هغه بیا دیر افسوس اوکړو چه هغه خبر شوچه ترکمانانو نړموږ نه هرڅه اوشکول . آخر کښې مشر موږ نه صلاح راکړه چه تاسو بخارا ته لاړشی . اوجناب عالی امیر بخارا به تاسو ته عوض اوخلعتونه درکړے .

موږ بخارا ته روانیږو او هلته ښه ښکلی ښار ګورو

قیدیږو

لږ ساعت کښې یو تخو سوار اوپیاده سړی مشر ته راجمع شول هغه ورته حکم ورکړو چه دا میلمانه بخارا ته اوړئ اوموږ نه ئے درخصت په وخت کښې بیا اووے چه جناب عالی به ستاسو ښه خاطر اوکړے . اوتاسو نقصان به تاسو ته پوره کړي .

موږ شروع شو . اول نړموږ د ښار کښې موږ سره ښه سلوک وو خو روسره بیا هغه زاړه اوخه نوے ترکمانان راواوړسیدل . روسره بیا کنځلے اوډهل شروع شول . سختی دے حده اوړسیده چه اوبو څښلو ته ئے هم نه پریښودو . دسړک په غاړه ملی بهیدلے

خوچه مهاجر به ورته تاویدل نو ترکمانانو به لکه دلیوانیږي حمله اوکړه . د سود اګرو نوکرانو مخکښي به د ډنګرو حال هم ددے نه سنه وے . موږ به پوهید وچه کوتک راپسی دے . خوستر کی به موږ پتی کړے . اوابوته به مو ورد وکړو . ډاوبو ډ رسید ونه وراندے به موږ باندے هغه دراښوچه موږ به تنده غوره کړه . اوبیا به مولاړه واخسته . دوړه دومره . اوچته شوه چه یوبل به موږه مشکله پیژندل . ساعت په ساعت وهل زیاتیدل . مخکښي ترکمانان سوارې روان وو آسونه ئے چابک بوتلل . روستو راپسی پیاده اوږه خرو سوارې راروان وو . موږ حیران وو چه داخه معمه ده دپانئ حکم . د شیخ روستو موږ ته معلومه شوه چه زموږ بچ کوونکی د دغه قبیلے خان وو اوهغه ته به ئے شیخ ویل راپسیدل . موږ بچ کول اوبخارا ته استول اولاړه کښي بیا زورسلوک راپرسیره کیدل آخر دے ورامی څه مطلب دے . هیڅ نه پوهیدو . زموږ مصیبت دے حد ته اورسید وچه جیلانی یو پیښور ے د تنګ نه بی خوده پریوتو . ډډه روره چه دے اولیدو . ورمنډه ئے کړه راا وچتو ئے مهاجرین لکه د آسو د کنډک روشول اوږه شا ئے کنل . ترکمانانو د روستو نه د کنډ اغوږ اوکوتکو باران جوړ کړے وو . موږ په جیلانی راپنډ شو . اوترکمانانو به ډ درنه سره آواز کولو . "هاښکویا الله!" موږ خپل ملګرے نه پریښوے

شو اونه مواوړے شو. د ترکمانانو هلو موښ یو قدم هم مخکښې کولی نه شو. یکدم د ترکمانانو حالت بدل شو. په غصهٔ ئے د رحم اوبه توے شوے. موښ د هغوے هیبت ناک مخونه کتل معلومه شوه چه هغوے د غوښې زړونه لرے. خفه نهیر اودریدل. اجازت ئے راکړو. اوبه موورته خلاصه کښې واچولی دلاسو ښپوتلی موورته اومښل. سړو زړو موښ ملګرے په خوږ شول. موښ تولو ملګرو په مړه خیټه اوبه اوڅښلے. یوبل ته موکتل. دوړو مو مخونه پټ کړے وو. صرف ستړکی مو ښکارېدلی. داوبو څښلو سره د دیوښم سپین غاښونه هم ښکاره شول. ترکمانانو یوخړ د جیلانی د سور لئی د پاره راکړو. جیلانی زیږ پیر وو. دوکسو دیوے خوا اوبلی خوانه ښوله وو. قافله سړو سړو د سړو په رنګ رانه شوه. ترکمانان بے خبره غمژن رانه مخکښې اوسړو ستړو روان وو. یا هغوئے خندل او ظلم ته خوشحالیدل اویا د جیلانی مظلومیت داسې غلی کړل، چه سوبزه ئے نه ختلو.

ماسختن پراوته اورسید و. تیاره وه. چه اوبے بې طاقته ځان پسې موښې راکښلے. په سرائے ورښونو. د سرائے په مینځ کښې یو لویه اوپلنه دکانچه وه. په هغې کښینا ستو. تکړه تکړه دوډے ئے په لاس کښې راکړه. اوحکم ئے واورولو.

"که څوک د دنکانچې نه کوز شوښې بې پوښتنې به ئې توپک ځنډه کیږي"

د سرائیدونه وړاندے د نظام بیګ سرائے کښې موښ د سحره صرف

ترخی اوبی پیوچاے څښلے وے . اوبیا مونه دودے موندلی وه نه ورته اوزکار شـــوے وو .

سحروختی نے بیا روان کړو . دتیرے شوے وړځی حالت ے رابانده راوستو . کچه غرمه یوے قهوه خانے اورسیده وترخه بی پیوچاے اوتکړه تکړه دودے ے راکړ . دلږے دودے وجه داهم کیدے شی چه اتیا کسوته دودے ورکول د داسی غیر منظم قوم دپاره آسان کار نه وو په قهوه خانه کښی دننه او بهرچا چاپیره دیرخلق ناست وو . د هغوے د خبرونه معلومه شوه چه مخکښی څه فاصله باندے جنګ نښتی دے . مونږ کښی سا اوغریدهٔ په زړه کښی موطمع پیدا شوه . چه د دے ظالمانو پنجی نه به مونږ هله خلاص شو چه دښمن اوغږوے . دالویه دمه وه بیا روان شو . ځاے په ځاے به د جنګ د خبرد تصدیق کیدلو . او مونږ به خوشحالیدو .

په مونږ بیا دمرګ سختے راغله

دمازیګر یو ځاے ته اورسیدو . چه هلته د ترکمانانو کیمپ دلږے نه ښکاریدلو . مونږ ے یوقطار کښی اودرولو . اوحکم ے

را کړو چې دوه ځایه شئ . موږ به یوبل ته کتل . کله به څوک یو
توپی ته لاړو او کله بل ته . چې یوتولی کښې به ئے دوست اولید و
نو هغې ته به ئے ورمنډه کړه . یوځومنټه موږ دغسې اخته وو
مصیبت کښې دملګرو نه جدا کیدل نو رهم مشکل وے . خو
ترکمانانو موږ دے مشکل کښې نهیات وخت اخستو ته پرے نه
ښوو . چې هغوے پوهه شول ، چې موږ دیوبل نه نه جدا کیږو نو یو
جسیم ، دیوهیکل اوبی رحمه ترکمان چې ستر ګی ے لکه دپیرې
یا نو کږے وے . څه ئے شکل هیبت ناک وو . اوڅه ئے د تورکۍ د
څرمنی یولویه داوږدو ویښتو توپئ په سر وه . کږے ستر ګی ے
په دغه ویښتو کښې دیرے خطرناکی ښکاریدلی . یوبه ئے د مټی
اوښیولو . یوپه بله به ئے اوغوږ نو لو اوبل به ئے په بله پله . اودغسے
ئے موږ په دوه ټولګو کښې اوویشلو . یوتولی ئے یوخوا بوتلو اوبل
ئے بل خوا . داسې خوا بزه خوا بزه دوستان جدا شوه چې هغوے د
هندوستان نه تراوسه نه ووجدا شوے .

زموږ تولی ئے یوے کنډے ته بوتلو . هلته ئے اودس ولو . دوه
دوه درے درے به ئے راته ښول او مخکښې یوے دشګو غونډ ئے نه به
ئے پناه کول . دپناه کیدو سره سمدستی به دهغه دډے دډنو
آوازونه راغلو . موږ به اوږپیدو . یوبل ته به مو اوکړل چې ناحق
زموږ وینی توئیږے .

درے شپی دښپوند ترلی

دترکمانانو په کیمپ کښی

چه په دے کښی ځما وار راغی . چه کښل می نو دهلے مولوے فخرعالم اوولایت شاه د پیښور ځما سره اوښه په اوښه روان وو. قلته مونه مو مخکښی نه تلل . د دوی خواته ے اوږهولو. چه دوی به شو نو موږ به اوږهیدو اوپریوتوته به تیار وو. خوچه پوه شوچه په موږ چا دښمنه دے کړے نو مخکښی به روان شو. کیمپ تر ے دښمنه کړو. یو جونګړے ته ے بوتلو. د جونګړے مخکښی په شکو باندے لس اله ترکمانان چه سینی ے دکار توسو بونه دکی وے . توپک په لاس ناست وو. یوتړے راپاسید و. موږ ته ے دکښیناستلو اشاره اوکړه . موږ کښیناستو. چارچاپیره موکښل . حالات څښنه معلو. میدل . یوترکمان چاے راکړ اوورسره توک توک دودے ے هم راکړه . موږ کښی بیاساه راغله . دمازیګر مونځ تیار وو. موږهم صف کښی اودریدو . مونځ مواوکړو. زړه مو په قلار شو. ناڅه موچا په ما نځ اونه په موږه اعتراض اوکړو. جونګړے ته موخیال شو. دغورګو او د شرغښی د ټیلو دیره ښایسته جوړه وه چه ماښام شو. نو یو یو کلور ے ے په لاس کښی راکړو.

ترکمان دلته د غزاد پاره پراته وو. زمونږ لښکر خانته د قطب خواته د کوکی چهاونړے هغوے محاصره کړے وه. د ے کیمپ کښی د ډوډے د پخولو انتظام نه وو. ترکمانانو د کوره اوچ سروغنی پاخه کلکو ړے دخان سره راوړے وو. چه ډوډے موږ خوړه نو جونګړے ته ے ښه بستر یوه یوه ښپه ے راله د جونګړے په ستنی پورے سخته اوترله. یوه ښپه موږ په مزکه اوبله دستنی سره نیغه ولاړه وه. خوب هسی هم گران وو. ماسختن نا وختیو بوډا زمونږ غوتی سستی کړے. اوبیا اوده کیدل ممکن شو.

په هرقوم کښی ښه خلق هم شته اوبد هم. بوډا ترکمان زمونږ غوتی دومره نومی کړے چه موږ په آرامه شپه تیره کړه. چه ترکومی موږ په دے کیمپ کښی وو. اوشوک نه وو نو بوډا به په موږ باندے دیر مهربان وو. خودچا په مخکښی موږ ته نژدے نه راتلو شاید چه دملګرو نه ویریدو.

سحر معلومه شوه چه میدان جنګ نژدے دے اومونږ د کوکی چهاونړے د محاصره کوونکی ترکمانانو تښتنده ے تریوو. خو دیر نژدے هغوے غصه موږ سره په مینه بدله شوه. موږ ور سره روان آزاد شو. موږ به چه مونږ کوو. نوروستو به هغوے څخه نه څخه کپ موږ پورے لګولو. دایقین ے نه راتلو چه موږ مسلمانان یو. د هغوے خیال ووچه موږ مونږ هسی د هغوے د ویرے نه کوو. خو موږ د هغوے د خبرو اوکپ پرواه نه کوله. اوبیا فاعده

مونځ به موکولو. نهر تر نهره ترکمانان نه موښ سره بلد شول.

یو ما نحه کښی موښ چه په صف کښی ولاړ وو. یوسړے بل په ترخ کښی اوو هلو. هغه چه اوکتل آس ئے خلاص شوے وو. بغیر د سلام کو حولو نه هغه لاړ و آس ئے اوترلو. اوبیا ئے بی دنیت ترلونه موښ سره اودریدو. اوچه مونځ پوره شو نو سلام ئے اوکړ حولو. د غسی هروخت به څه نه څه عجیبه خبره کیده. او موښ د ریو واړو به وړ پورے په ستړکو اوزړه کښی خاندل.

ترکمانان شافعی مذهب خلق دے موښ نه به ئے پوښتنه کوله. چه تاسو په کوم مذهب یئ. نو چه موښ ورته اووے چه موښ د امام اعظم صاحب په مذهب یو نو هغوے به اووے:

"شافعی مذهب یعشی بار"

یعنی شافعی مذهب سنه دے.

ترکمانان شهسوار دے. هغوے سره دے کیمپ کښی دیر آسونه وو. اگرچه جنگ کښی د آسونو کار نه وو. خو بیا هم هغوے چه مورچی ته تلل نو آسونو باندے به سواره روان وو. آس ئے حان دے. د حان نه ئے سنه ساتی. نه موښ د جونکړے نه به هره ورځ یو حلمی په آس سوړ و تو اوبیا ما نښام ما نیګر به بیرته راتلو. چه راته غلو نو اول به ئے د آس خدمت اوکړو نو هله به ئے د حان فکر کولو.

د بالشویکو فوج کرکی کښی محاصره وو. او ترکمانان تړے

چارچاپیره پراته وو. داوطن میدانی اوشکلن دے. حکه دآس ضرورت وو. پیاده مزل په شپږو کښی کړان دے. خوبیا هم داد آموسینډ غاړه ده. شیرازه اوآباده. حکه دیره څرګنده نه ده. پوست وطن دے. دآس دپاره موږ ون دے.

ترکمانان دانسانی ترقئ په قبائیلی درجه کښی دے دوے دپښتنو قبائیلو په شان تورزن اوبها درخلق دے خو زموږ قبائیلی په غړه اوسی اودجنګ موقعی زیاتی مومی. پښتون قبائیلی زیات پوهیږے. حُما په خیال ترکمان دتوپک په جنګ کښی زموږ قبائیلو پسی نه شی رسیدے. خوکه چری باقاعده فوج کښی دواړه سره تربیت ومومی. نوبیا دبل سره کم نه وے. ترکمانان زړه ورد دے. خوئی تنظیم دے.

دویمه شپه بیا ے موږه هغسی سخت اوترلو. ولایت شاه زړیکی شروع کړل. اونیمه شپه چه تول اوده وو. بیا زړه سوانډ ے بوډا غلے غلے راننوتو. اوزموږ غوتی ے نرمو ړے. دا بوډا ووچه زموږ د دود ے اودا وبوخیال به ے سائلو. او نور به موږ ته نزدے نه راځلل هرقوم کښی سره خلق شته. که ترکمانانو زموږ سره ظلم کولو نود ے بوډا موږ ته ثابته کړه چه هغوے کښی هم زړه سوانډ ے خلق هم شته.

د کلانتر په زمکه زمینداری کوؤ

د ریمه شپه هم موبن په جونګړه کښی د پښتونه ترلی تیره کړه. چه سحر شونو زموبن د کیمپ کلانتر او امام دواړه موبن ته راغلل کلانتر په فارسئ نه پوهیدو. غلے ولاړ وو. او امام چرهغه په "اخون" مشهور وو. زموبن سره ئے په فارسئ خبرے شروع کړی. زموبن قوم کښی هم "اخون" لفظ استعمالیږے. عام طور ملایانو ته آخون وائے. د الفظ د اخوند نه محفف دے. څرنګ چه موبن بی تعلیمه سړے ته خوچه څه لږ شان د تعلیم یافته سړی کار کولی شی، اخون وایو. مثلاً که یو سړے صرف د آذان ویونکے وے. یا که یو بی تعلیمه سړے شاعر وے. د غسی ترکمانانو هم زموبن امام ته اخون وے. اخون هم په فارسئ دیر کم پوهیدو. موبن ته ئے اووے:

"برادر کا غون چوک" یعنی "ستا ورور سړے دیر ے دے".

کلانتر ته ئے لاس ورورپواوبیائے د هغه کلے پلو اشاره اوکړه. موبن ته ئے په اشاره اووے. چه تاسو به د ده په مزکه کار کوئے. او سړے به خوږئے. هغه ته صرف دومره فارسی ورته له چه

چې موږ ته اووې چې "شما" اودا نوره خبره ئې رانه دلاس په اشاره بیان کړه. لاس ئې لکه د ږمبئ خوزولو چې تاسو به کار کوئ. اوبیا یه ئې اووې چې "کاغون" یعنی سړه اوښان "اووې" چوک موږ هم ترکی ژبه کښی د آخون هومره ماهر وو. د چوک معنی موږ نږده کړې وه. دغسې موږ دیوبل په تعاون تبادله خیالات اوکړې شول. خو مې تبادله خیالات په موږ د ټولو سختو نه زیات خراب اثر اوغورزولو. د وړاندې سختو نه دا راته زیاته سخته سنکاره شوه. موږ اوویریدو چې داسی حالات کښی زه موږ د ترکمانانو نه د خلاصی هډوامید پاتی نه شو. لږې په کلوکښی به موږ لکه د نږې زمانې د غلامانو په شان عمر تیروو. خما نږه د اخون پدې خبره ډیر خفه شو. په ټوله لاره چې اخون موږ ټولو ما په لاره پخې څخښې سهی کولی. په دماغ کښی مې د تیښتی د ده افغانستان ته خوښه کړه. نږه پوهیدم. چې موږ د افغانستان اوسویټ په حد بند ئې وو.

عبدالرحمن قتل کیږی

د ګرئې کسه راسره د بوتلو د پاره مقرر شو. یو څوک اهم سړې وو. چې په آس سوړ وو. دویم اخون وو. چې په خرسوړ وو.

درہیم د نوکر په مثال سړے وو. چه پیاده روان وو. تولہ ورځ
دیر پا آرام مومنل او کړو. اخون هردلعزیز سړے وو. دوه ے او
سړه ے دیرے وے. ما نیګریو سرائے ته اورسیدو. د نوتوسړه
څیرکے روچه دوه مهاجرو عبدالرحمن د جلال پور جټان او
بل د امرتسر پنجاب په کټ کښی پراته وو. موږ ورباندے سلام
واچوو. داد کیږه موورکړه. ما ورته اووے:

"وطن آزادول زموږ مقدس فرض دی. څومره قربانی
چه موږ ورکړو کمه ده. رونړو! شابسی چه زهرونه لاندے باندے نه
کړے. داکراوبی ثمره نه شی پاتی کیدے. خدائے د چا محنت را-
ګمان نه بوځی."

"عبدالرحمن بهادر پنجابی وو ماته ئے اووے" سړے د وطن
نه قربان شی."

موږ ورسره لږ ساعت کښیناستو. زموږ په اخوان اعتماد
وو. هغه په کیمپ کښی زموږ سره ښه سلوک کولو. زموږ پیش امام
وو. د هغه تولہ ورځ زموږ د رونړو په شان سلوک وو. خو زړتر زړه
موږ درے واړو هم د عبدالرحمن نزدے کټ کښی خپلے ښپے
اولیدے. ترصبا نمر ختلو پورے د غسې پراته وو. کټ څه وو. یوه
درنه ستنه کښی مویو یوه ښپه ورښنه ویستی وه. جندره ئے ورته
لګولی وه تولہ شپه د غه ښپه موږ په کټ کښی تاوولی قدرهم نه
شوه. اوبنده خایه خوږیدے شو. خوب څه وو کله ستړی پتی او کله ویښ

صبا سحر موږ مخکښې روان شو. د عبدالرحمن اود هغه د ملګرو نه مو اجازت واخستو. اګرچه دا امید نه وو. چه موږ به ژوندۍ د هغه ملګرو اوویږو خو دا خیال موهم په ذهن کښې نه راغلو چه دا دوه ځلمي به خپل وطن د آزادۍ له ارمانه د وطن نه لرې بې وجهې د ظالمانو ترکمانانو د لاسه وژلې کیږي. اوبیا به موږ د دوی ښکلې مخونه اونه ویږو. خو وروسته چه د ظالمانو د لاسه موږ خلاصې اومونږو. او د کړکۍ چها وتړې ته اورسیدو. نو را معلومه شوه چه عبدالرحمن اود هغه ملګرو د دغه سرای په خواوشا کښې مړه پراته وو.

اخون په اصلي رنګ کښې را ښکاره شو

سحر بیا وختي پاڅه اوبرد منزل روان شو. تر اخون خپل اصلي طبیعت ښکاره کړو. یوه کهنه چه مومزل اوکړو. نو موږ د دې واړه ملګرو نه اودرولو. او رانه ې مطالبه اوکړه چه تاسو سره څه نقدۍ وئ هغه راکړئ. موږ ورته جواب ورکړو. چه سرای نظام بیګ کښې ې نه. موږ نه هرڅه اخستې دي. موږ سره ې څه پریښې نه دي. نو موږ تاته څه درکړو. اخون بې واکه کنځلې شروع کړې او موږ ته ې اووې چه زه ستا سوتلاشي اخلم. موږ اووې چه

اخون صاحب وویل شنه ده . زموبن هیڅ اعتراض نشته . ته بیشکه تلاشی واخله . دغه وخت اخون ماته دخطرناک وړاکو په رنګ شکاره شو . توره ئے دکمربند نه اویزانه وه . خپل دوه ملګرو ئے روستو ولاړ وو . هغوی هیڅ حرکت نه کولو . شاید چه دهغوی په دے کارکښی دهغه سره اتفاق نه وو . خوبیا هم دهغوی موجودګی زموبن دپاره دخطرے اود اخون دپاره دحوصله افزایئ سبب وو . اخون ځما اود فخرعالم تلاشی واخسته اوبیا ولایت شاه ته ئے ځ کړو . ولایت شاه سخت احتجاج شروع کړو . اوتلاشی ئے نه ورکوله . ما ورته په سختی اوپه داسی اوچت آواز لکه چه مشرکشونه حکم ورکوے اووے .

"تلاشی ورکړه بیوقوفه ! تاسره څه دے چه تلاشی نه ورکوے ."

ځمایقین ووچه ترکمانانو چا سره څه پریښی نه دے . خوولایت شاه منلی نه . اخون په قهرشو . زیره ے خله کښی اوښوله . توره ئے راواښته اوپه ولایت شاه ورغلو . ماخیال کولو چه ولایت شاه ئے دوه ټوټی کړو . خوصرف داخون ښه سړے توب اوزموبن خوش قسمتی وه چه په پس ځ ئے گذار ورکړے وو . دده نه پس اخون دهغه تلاشی واخسته اوولایت شاه دَ اعتراضاتو کولو نه پاتی وو . اخون تلاشی واخسته خونظام آباد یانو رونړو دهغه دپاره څه پریښی ووچه هغه به موبندلی وے .

سفر بیا جارے شو . اخون اود هغه یارانو زموبن سره ترکمانی سلوک راواخسته خوښه سړے توب ئے دا ووچه توره به ئے اپرته

حلوله . موږ مخکښې اوآس سوار راپسې . چه آس به را اورسيدو نو
د ترکمان چابک به زموږ دمرئے نه تاو وو . په چابک به ئے چه په
هرځاے موږ اولګيدو زموږ خپل نصيب وو .

بيا دجنګ خبر راغی

اوموږ کښې سا اوغړيده

د ماسپښين وخت وو . موږ داخون دظلم دلاسه په
تيښته روان وو . د فرياد ځاے نه وو . شوندے خوږول په
ځان افت رانازل وو . دخلاصی اميد نه وو . چابک اوتيز تلو
کښې دچابک نه د ځان بچ کولو راز پټ وو . موږ دومره تږے اوستړے
شوے وو چه تږې مودنځلے نه بهر راوتی وے . خوبيا هم موږ داسے
روان وو وچه د اخون يرغه خوراپسی نه شو راورسيدے . چه په
دے کښے زموږ مخامخ يوسور نيغه تورہ په لاس آس په دوړو را
خلاص کړے وو . داخون په آس سور ملګرے د دے سور په ليدو
دنروجوار وپه پټی کښے پټ شوا موږ اونه ليدو چه پياده کوم پلو
اوخوښيدو . اخون په خوسور په موږ پسے راروان وو . سور د را
ورسيد وسره په اخون راوغړمبيده . اخون لکه د نقير د خړپه خوا

کښی اودریدو . دمزکی غږ ختو او داخوښ نه ختو . موښ د یرکوشش اوکړو چه معلومه کړو چه دا سور په څه غصه دے . او اخون نه څه وائے خوچه څومره په ړوا وانه کښی به اخون څه خبره اوکړه نو به پرے اګر میدو . موښ ئے په خاے پریښو . سور او اخون یو بل ته کورته ورننه وتل . هلته هم سور په اخون راسور شو . اول خو موښ په خائے ناست وو . شکر موا وویستو چه څوک زمرے راغلو او دهغه په برکت مود مدا وخوړه . خوچه دسور غږ میدل نو هم زیات شو نو موښ کورته ورننوتے شو . خو بیا هم زموښ د ترکئ څخه علم دومره اونه ختو چه موښ مطلب ترے اخستی وے .

موښ ناست وو چه په دے کښی داوښانو کدے راا وسیدے بچی . واړه . زاړه . جوړ . نارو غه سنځی نو په اوښانو سوار په پیاده په تیښته روان وو . موښ اندازه اولګوله چه مخکښے جنګ دے خو بیا هم په هیڅ مطلب پوه نه شو . او په فکر ښو کښی ډوب وو . چه سور پاسید و په خپله لاړه روان شو . اخون پاسید و په خپله لاړه روان شو . موښ په خاے پاتے شو . اخون موښ نه کتل هم نه . موښ حیران وو . چه څه اوکړو . اخون پسی روان شو که پستنه شوه . بیرته مود ویرے نه قدم نه شو اخستی . د اخون د ویرے په اخون پسی روان شو . لږ ساعت کښے مخکښی هغه نور د وه ملګرے هم ورسره یو خاے شو خو روستو ے موښ پسی نه کتل موخپلو کښے پټ پټ خندیدو .

"جوړے مونږ ئے هیر شو."

خولې ساعت نه وو تیر چه اخون بیا توره څرګنده کړه. او مونږ لکه د بزو ګله و مخلښې منډه مے کړے. اخون بیا کنځل اووهل شروع کړل.

اخون او مونږ پریږدی خو مونږ ئې نه پریږدو

ساعت په ساعت مخې ته ځله مے راتلے. برستې اودکو، سازوسامان په اوسنا نوا وآسونو ترلې مخ ته راتلو ښه پوهه شوچه دغه ارمان مواوخې. معلومه شوه. چه مخلښې د ترکمانانو اوبالشویکو ترمینځه جنګ دے. د غه کښې نه مونږ خلاصې وو.

د ترکمانانو د ینجې چه مونږ خلاص شو. نو مونږ ته معلومه شوه چه نه مونږ په ګرفتارے د چارچوبې د چا وړے نه یو مهماتی فوج نه مونږ په تلاش کښې راوتی وو. اود غه فوج خواره واره شوی مهاجرد ترکمانانو نه خلاص کړل.

مونږ یوکلی کتا ورسیدو چه هلته د جنګ میدان نږدے وو خلق دکوتو په چهټو نو ناست وو. اود جنګ خواته ئے د غه زیانو حرکت کتلو. آخون پوښتنې شروع کړے. مونږ د هغوے په ژبه نه پوهیدو. خوچه په کومه خبره اخون سرخوزولو اوخفه کیدو.

نو موبن به د خوشحالئ نه من من غټید و. لږ ساعت کښې موبن ته
داغلو اوجماعت ته ئے ښه ایستو. اود اعتماد نه په دکه لهجه کښې ئے
موبن ته په ماته کړه فارسی کښې کویا نه شو .

"برادر کافر چوک . خانه کافر. بزبچه نمی دانی ."

اخون موبن ته په گډه ودې اوغلطه فارسی اودلاس په اشا-
رو اووې: چه روښرو! دکافر وغلبه ده . زه موبن په کور د کافر و قبضه
اوشوه . ماته نه ده معلومه چه څما دبال بچ به څه حال وے . اخون
په اخر کښې یواوږ د اوسیلی اوکړو .

ما نیکرنا وختِ وو. نمر په غرغړه وو. اخون په مصیبت کښے
وو. موبن ته ئے ډاهم اووے چه زه به د شپې شپې د دښمن
په مورچو باندِ پورے اوځم . د اخون افسرده خبرو موبن هم
افسرده کړو. اوسه پورے موبن د هغه نه د خلاصی په ارمان وو. اوس
موږ نه پوښتنه اوکړه :

"اخونده! ته چه څې نو موبن چا ته پریږدے ."

هغه اوښے اوخوږولی اودیرپه میئنه ئے موبن ته اووے :

"روښرو! زه څه نه شم کولی ."

چارچاپیره د ترکمانانو هیبت ناک شکلونه بنکاریدل ممکن
ده چه هغوے موبن ته هیڅ نه وے ویلے . خو دهغوے دلاسه
موبن دومره څه لیدلی وو. چه دهغوے شکلونه زموبن د زړه
دیستو دپاره کافی وو. موبن په اخون پسی روان شو. اوورته مو

نصیحت شروع کړو. چې دشپې منزل دکافرو په صفونو کښې ښه نه دے. زموږ خبرو پرے اثر اوکړو. سړے نرم شو. موږ ته ئے اووے چې تاسود ے جماعت کښې شپه اوکړے او ځمانږدی کلے کښې یوشیخ (رئیس) دوست دے نږه دهغه سره مشوره کوم. اخون مخکښې اوموږ وړاندې. که هرڅوک اخون موږ منع کولو. موږ جماعت کښې پاتې نه شو. تیاره ماښام دشیخ کورته اورسیدو. شیخ یوه کړئے کښې دننه اوسیدو. بهرد دروازے مخکښې یو جماعت وو. موږ ے جماعت کښې کښینولو. اواخون ورننوتو. یوساعت کښې شیخ بهرراووتو. زموږ خوږ دوست جناب اخون ورسره زموږ تعارف پ ه دے شان اوکړو:

"دادرے کسان جدید یان دے."

شیخ عالم ووا وپه فارسئ ښه پوهیدو. وے ویل "ښه تاسوجدیدیان یئ". موږ عرض اوکړوچه:

"موږ مسلمانان یو."

خوږ شیخ زموږ په اعلان غوږ اونه کړید و. اوکړے ته ئے ستوتو. موږ ته ئے د دودے کا فی پاتې شوے ټکړے راواستولی او موږ په مړه کیدو اوده شو.

سحر وختی د شیخ په بانګ پاسید و. پس دسنتوکولو شیخ محراب کښې اودریدو اوداسې پ ه چغه ئے مونځ کړولکه چه هغه پسې دیرزیات مقتدیان ولاړ وے. دوه درے کسان

ACKU

راغلل . خُاے په خُاے یوبل نه لږے اوبغیر د ترتیب شیخ پسی اودریدل . موبنږ حیران شو . موبنږ وړپسی درے واړه په صف کښی ولاړ وو . بهرحال مقتدیانو په مونځ کښی د امام متابعت کولو .

داخون نه تیښته خو مجبوراً بیرته راتک .

د ماښخُ نه روسته شیخ او اخون کړے ته ښوتل . جماعت خالی شو زموبنږ په زړه د شیخ د شپی اعلان چه " تاسو جدیدیان یئ " موبنږ ته ثابته کړه چه په هیڅ صورت د اخون زړه موبنږ ته نه صفا کیږے هغه موجدید ے کنړے اوهغه زموبنږ تعارف به ټل د غسی کوے . ترکمانان جدید ے کافر ګڼلو . موبنږ په د ے نتیجه او رسیدو . چه بغیر د تیښتی بل علاج نشته . هسی نه چه بیا د اخون په لاس کښیوځُو .

د جماعت نه اووتو . آموسیند پلو موښخُ اوکړه . کله په مندۍ کله ګړندے . څه خُایه پورے لاړو نو اودریدو . قبله نمرخاته مو نه پیژندل . دلاړے په درک نه پوهیدو . بهتر موا وګڼله چه بیرته اخون ته لاړشو . د اخون د ظلم زړه موبنږ بلد شوے وو . د نابلده ظالم نه موهغه بهتر اوګڼلو . نو اخون ته راواپس شو .

لږ ساعت کښی اخون د ګړے نه اووتو . هغه مخکښی اوموبنږ

ورپسی ۔ نن اخون خوښ وو۔ بغیر د براد رنه بل لوظ نه وو۔ موښ
خیال اوکړو چه اخر اوس خو موښ دیر بلد شو۔ نو اخون به ترکومی
زموښ سره بد سلوک کوے۔ څلور پنځه میله منل خو مواوکړو چه
غازیان دیو خوانه راا ووتل ۔ په مند ه روان وو۔ یو دبل نه مخکښی
کیدو ۔ د چاپه لاس کښی توپک وو او د چا کوتک ۔ د چاپه لاس
کښی توره وه ۔ او د چا تبر ۔ د چاپه لاس کښی چاره وه ۔ او څوک تش
لاس وو۔ خو تول غازیان وو۔ د جهاد پتنګان وو ۔ اخون چه
د غازیانو زړه راولیدو ۔ بیا ئی ستړی سړے کړے ۔ په موښ ے
بې وجهی راکښنودے ۔ تر اوسه هغه مخکښی او موښ ورپسی تلو
اوس ئے موښ مخکښی کړو ۔ او راباندے راکښنودے ۔ یو ته به ئے وے
چه داجد یدیان دے اوبل ته به ئے وے چه دا کافر دے ۔ په دے
وخ اخون د تولو وخونه خطرناک وو۔ غازیان هسی هم غزا
نه تلل ۔ موښ ویریدو چه په موښ نه دے غزا اونکړے ۔ که موښ په
دغه وخ وهل کم خوښ وے نو دهغی وجه داوه ۔ چه اخون پیاده
وو۔ موښ پسی رانه رسیدے نه شو۔

کله غرمه د جنګ میدان ته دومره نزدے شو چه د توپو
ګولو زمواو ریدے شو ۔ په زړه ئی خوښ نه ځالیدو ۔ چه د خلاصی
وخت قریب راغی ۔ خو اخون د ظلم پاره دے وخت کښی
دیر اوچند شو ۔ موښ دے وار ئے نه اوړهلو ۔ او د ځلو
خونے غم پوښتنه نه کوونے ۔ موښ یو کلے ته اورسیدو چه د دے

نه قبلے خواته دغا زیانو مورچه وه . د توپو . د مشین ګنونو اودتوپکو
د آوازنه معلومیده چه میدان جنګ ډیرلرے نه دے .

موبن ے یوکورته ښویستو د دودولوئے ډیرے پروت وو .
موبن ئے یوخواته کښینولو . دګردونواح نه د دودے ډک شکرونه
به راټول . څلور ملایان صاحبان ناست وو . د هغوے ترمینځ به
ئے کښودل . هغوے به دعا اوغوښتله اوبیا به ئے داشکرے په
ډیرے ورواچول . دودے ډیره وه . خوموبن اوښے ناست وو .
اوداخون د بوکته سره ستړے هم وو .

درے ورځی نهر نهور

دبوسوپه کوته کښی بند یوان شو

ناڅاپه د یوملا صاحب نظر په موبن پریوتو . پوښتنه ئے
اوکړه :

"بوکسیم وار ."

"داخوک دے ."

اخون لاس په نامه اودرید و . په مختصر الفاظو کښی ئے
زموبن ه دګرفتارے قصه اوکړه . مشر ملا صاحب په اشاره اخون
ترحکم اوکړو موبن ئے د دودے د خوانه پاسولو اوبیا ئے کړو :

په دغه کلی کښې ځوشی کور کښې دبوسو دکه کوټه کښې ښکاره.
مونږ دبوسو دَ پاسه کښیناستو. کوټه دومره دکه وه
چه مونږ پکښې په ولاړه ونه شو کولی دریدلی ورځی اودریدے -
شپې مونږ دبوسو کوټه کښې ښکاره وو. دخښلو دپاره اوبه نه
وے. یو صراحی کوټه کښې دَ وَرسره پرته وه. ډوډۍ ورځ ورته مونږ
وپرې په خوشحالئ اسره اوکړه. دومره سخا بوے ترے تلوچه مونږ
ترے کوټ اونکړے شو.

اولئ ورځ چه دصحرا وتلو د (اودس ماتی) ضرورت
راپیش شو، دوه کسو به شاکړه. دهیم به د ضرورت نه ځان فارغ
کړو. دے کوټه کښې دَ چهت سره نږدے یوسورے غوندے ووچه
روشندان وئیل به ورته دیر موزون نه وے. خپله خزله مود
بوسو سره اوچته کړه اوپه هغه سورے به موږ اوغورزوله ددے نه
پس بیا مونږ نه وو ے اومونده اونه بیا راته دَ کښیناستو ضرورت
پیښ شو. په ډوډۍ ورځ موساه تنګیده اونږه موهم پکښې تنګ
وو. وارپه وار موپه سورے کښې پوزه مخکښې کوله. چه تازه هوا
اومومو. خوبیا ورسره بلد شو. چه لوږه نه یاتیده نو ناستی نه په
ملاستی خوشحال وو ځکه چه د غسی نه مونږ اود چهت ترمینځه
فاصله نه یاتیده.

ځما ملګرے د ګلونا رے نه وړاندے هم ځمانه ښه واقف
وو. خوپه دے تازه مصیبت کښې هم دولایت شاه ځله دخندانه

نړ تولیده اود مولوے فخرعالم نظامهمتانت اوسنجیده گی کمه نړ
شوه. دبوسود سړ پاسه ناست موبن توله ورځ افغانستان کښی د
خپل سفرخبرے کولی. اوتیرے شوے قصی به مواوریدلی اوس ولی.
دا خبرے به موبن په دومره دلچسپئ سره اوریدلی. لکه چه په موبن نه
وے تیرے شوے. په بل چاتیرے شوے وے.

کوته کښی موبن د جنگ په خوشحالئ پاتیدو. اوله ورځ پنډی
لرے وے په دویمه ورځ د مشین ګنونو ټکاړ کلی په میخ دقبلے
د مخی راښکاره شو اوس وړوپه نمرخاته اووته. موبن پوهه شوچه موبن
که په کوته کښی بند وو نوهم خلاص شوے وو. هروخت به مودا
امید لرلو چه ساعت کرپے کښی به زموبن ورلرے شی. خوپه دے
دے کښی دریمه ورځ هم تیره شوه. داسی معلومیده لکه چه
موبن د دنیا هیر شوے وو. خپلی کوټی کښی به موروخت ناوخت نوے
سوے هم وهلی. که څوک ئے واوریے او خلاص موکړے.
خود مزکی غږ خټو اود کلی نه خټو. دکوټلی روښندان دومره
تنګ وو چه موبن به پکښی خوله ورنه کړه اوآواز ونه به
مواوکړه. خوڅوک ووچه جواب ئے راکړے وے. موبن د دروازه
زے د لرے کولو کوشش چه څومره کولو نو بی ځایه وو. دروازه
د بهرنه جنده وه. دروازه مضبوطه وه. ماتیده هم نه.

دبوسو د کوټی د بند نه خلاص شو

شپه وړځ مونږ کور نه کول . چې د کوټی په څنګ اوخو . دروازه مضبوطه وه . سره د دې کوشش مونږ ماته نه کړے شوه . دیوالونه لا مضبوط وو . او مونږ سره سوا د مونږ د لاسونو نه زیاته هیڅ اوزار نه وو . چې دیوال موسوړے کړے وے . چهت مضبوط وو نه موشو سپړلے حیوان وو چې څه به کیږے . یقین مورا غی چې د کلی خلق د حمله آور وو دیوے نه تښتیدلی دے . کلی وړوکی وو خکه حمله آور هم پکښې ایسار نه شول . حیوان وو چې څه به کیږے . چې کله دا سې بند شوے وو . د وو دے او وبه مرے مو سندل . لمنوړے شوے دومره وو چې هر وخت به ملاست وو . چې خیال موپیدا شو چې شاید د مونږ عرصه د کوټی نه خلاصی اونه شی . نو لږه موهیښ شوه . سبه چست شو . دروازے لرے کولو یا د . بهر وړځ ټیر کړے وه . خو پاتی راغلے وو . په چهت اوپه دیوالونو موکوټی اوتپولی . خودکا میابی څه صورت نه وو . تنګ ر وشمدان پاتې شواوپه هغې موبه آخر کښې کوټی پورے کړے . په کوټو مونږ ے لیږدا اوږدولو . د چوکاټ سره څټه مورا اوکړوله . خو پا

هم دیوال دیر مضبوط وو. ترما سختنه موکوشش اوکړو کوتی موخوبن شوے . اوګوتو ده کوله نه ر وستو بیا دکار شروع کولو خیال موپه نړه کښی وو. بهرحال روشندان نه زموبن امید وو. اوخمانړه کښی داپوخ یقین وو. چه موبن به دیر زر د روشندان چوکات د موندو راوباسو. بیا موړے لویول آسانه دی.

تولہ شپه ویښ وو. هسی هم په خالی خیټه خوب گران دے. اونوے فکر خوخوب رانه بالکل تښتولی وو. په خبرو خبرو کښی مو شپه تیره کړه . چرگان چه زموبن په ملګرتیا کښی په کلی کښی خال خال پاتی شوے وو. بانګونه ے شروع کړل . موبن خپلو کوتو نه پوښتنه اوکړه چه کار کوئے . کوتی تیار ے وے . خولا تیار ه وه. د ربنړا په انتظار کښی ملاست وو چه د جندرے دلرے کید وکړکړ کړپ کړپ شروع شول . جندره لرے شوه . شړنګ شوچه زنځیر هم پریوتو . موبن کښینا ستو غوږونه موبر وس کړل .

"برادر! برادر!" چا آواز اوکړو. دروازه لرے شوه موبن دبوسونه لاسنے راتړپ وهل . دورنه بهر تیاره کښی دوه سړے سنګار ید ل . "السلام علیکم برادر!" اودسلام سړ ے نیمه دنوے جوار وه وو ے په لاس کښی راکړه . موبن ډکوتی نه راا ووتو. سړے مخکښی موبن ورپسی . نه هغوے موبن سره خبرے کولی اونه موبن ورنه پوښتنه اوکړه چه چرته روان یو. دکلی نه بهر اووتو . دوو ے مودرے توکونه کړل خپله خپله حصه

مو واخسته. اوپه لاره موخوړلې هڅه بهترین کیک به د ومره خوږ نه وي.

ترکمانان دکلي نه بهر اوږد یدل. لاس ئے اوچت کړو اوپه مخ ئے راکښلو. اوپه ځله ئے اووے.

"اَللّٰهُمَّ اٰمین"

په تیاره کښې ئے موښ په خائے پریښود و. سړے دستر کو په ړپ کښې غاښ شول. چارچاپیره باغونو او اوچتو اونیټاره زیاته کړے وه. یوساعت ولاړ وو. هیڅ نه پوهیدو. چه کوم پلوسروان شو آخر تولو کښې یقین خوا یوه وه. او دآموسیند غاړه وه. نو موښ پرته کښې یقین وو. چه علاقه خالی پرته ده. او ترکمانان د دښمن دلاسه تس نس شوے دے. یوساعت دخوشحالئ نه تو پونه اووهل، بیا کښینا ستو صلاح مواوکړه. فیصله موداوکړه چه دآموسیند غاړه اخلو او بچارجوے چاوڼړے نړخ په قبله خان اوباسو. په جغرافیه خما ملګرے خما په اسره سروان شول. اوخما په نړۍ کښې اندازه وه چه موښ دکرکې چاوڼړے نه دیر مخکښې اوتی یو. او چارجوے به ښه دے وے.

دآموسیند غاړه

نمرلا څرېکه نه وه وهلی چه موښ دسیند غاړے ته اورسیدو

مونځ موا وکړو. او د نړۍ د اخلاصه مودعا او غوښته. چه بیا د ، ترکمانانو لاس کښې پرے نه وځو. او حاصله شوے آزاد ے مو نصیب شی. زمونږ نند ے یو بیړے شکو کښې ښخه پرته وه. متې مو او نغښتی اوپه لاسو مونږ ے خاورے غورزول شروع کړل. د دیر کوشش موا وکړو چه سرا اوئے باسو او پکښې سوارہ محکښې روان شو. خو زړه راته معلومه شوه چه کله قوله ورځ پرے تیره کړو نو هم په سرا ویستو کښې به بریالی نه شو. کوشش مو پرینبودو. او د سیند غاړه موواخسته. زمونږ اندازه وه چه ما نبام پورے به چارجوے ته اورسیږ

تر نیمې ورځې مونږ دیر کړند ے لاړو خو د سیند په غاړه د غزونو د جهاړو بوټی وو. او خاے په خاے پکښې کهې ولاړ وو. په ښپو ښپې ابله په خیته اوښے وو. او د دے د پاسه د سیند غاړے باند ے فرد و مړه تیز لګیدو. چه مونږ ے بې حاله کړو. خو ما به ملګرو ته داد ګیر نه ورکوله. چه چارجوے نزدے دے. په دے امید مونږ محکښې روان وو. ښپو کښې طاقت نه وو. خوشه موکړے وے. بې د تګ بله لاړه نه وه.

تر ما سپینښینه پورے مونږ اوزغلیدو. ښپې مو په ازغو اوتیو د کو سوړے سوړے شوے. وینې تړے روانې شوے. خو بیا د سیند پستو شګو زمونږ حوصله افزائے اوکړه. چه د غاړے تګ د ځنګل په وجه زمونږ د پاړه ګران شو نو په غاړه غاړه اوبو کښې تلل موهم اوازمائیل خو چه اوبه به شوړے وے نو بیا بې د

ځنکل نه موبله چاره نه وه. دغارې نه لرې تلل نږموږ خوښ نه
وو سیند نیغه لاړ وه اوبل ځنکل موږ ته پناه هم راکوله. کله کله
یونیم ترکمان به هم نزدې یا لرې ښکار شوخوهغوی به نږموږ او
موږ به دهغوی نه ځان پټ کړو. دیرې طاقته شو. پښې موڅکښې
نه تللې. د چارجوړې چاوړې د لیدو د پاره موستړې راووتې. خو
هیڅ ښکاره نه شوه. حیران وم. چه څه به کیږي دپښو
ورځواوږدې وو. د سیند په غاړه په ځنکل کښې شپه تیروله راته
ګران کار ښکاریدو. نږه دې خیال کښې دوب د ملګرو نه ځکښې
روان وم. چه د خوږو پوستکې م په نظر راغلل. د خوشحالۍ نه مو
ملګرو ته چغه کړه.... پوستکی لوړې نعمت وو. خولې وو. د ځلې
خوند موږ ته ښه شو. ماا ووې " دوې نه معلومیږي چه نږدې د
خوږو د پټې دې."

مولوې فخرعالم جواب راکړو. " اوخو ترکمانان به هم وړته
ناست وې. " ولایت شاه اوخندل " په تشه کیږه هم ګذاره ګرانده"
وخت هم ناوخت وو. چارجوړې تدرسید وطمع موهم روږ و
کمیده. سخت ستړې وو. قدم موږ ته روشوې وو. چه دکاډو د
پایو په ځنبه آباد ځې پلوه روان شو. لږ مزل موچه اوکړو نو د خوږو
په لوړې باغ ورورختو. غټې غټې خوږې پکښې پرتې وې. هیڅوک
پټې کښې نه وو. په نږه کښې موږ یقین نورهم پوخ شوچه ترکمانانو
کلې خوشې پریښې دې اوتښتیدلې دې. د پټې نه د دې ته د یې

اوښی لاښدے کښینا ستو. ما او فخر عالم منع کولو خو ولایت شاه ورا وخوښید و. یوه غټه خربوزه ئے را اوشو کوله. درے واړه زړه تیږه کړه. سارا کښی پیدا شوه. ولایت شاه بله حمله کوله خو مونږ ئے سخت مخالفت اوکړو. مخکښی روان شو.

د خربوزو دک سمسور پټی خوشی پراته وه. دوه هلکان په یو خر سواره پرلاړه تیریدل. چه مونږ ئے اولیدل و نو خره ته ئے پوښه وکړه. مونږ ورته آواز اوکړو او خربوزو ته اموا شاره اوکړه. یوکس دغوه نه را کوز شو. پټی ته ننوتو او زړه زړه ئے خو خربوزے را اوشکولی. هغه نورے هم را شکولی خو مونږ منع کړو. چه دغه کافی دے. ولایت شاه دبلدے نه یوړو سی نوټ را اویستو او هلک ته ئے په لاس کښی وا چولو. مونږ ولایت شاه پوړے اوخندیدو. او اخون مو په حقه اوګنړلو.

مونږ جدیدی فوج ته اورسیدو

وطن خوشی پروت وو. بنا وخته ما زړه ګروو. نه په پریوتو دلوړے مو یو خو کوټی اولیدے. خیال مو راغی چه جماعت به وے. او شپه یه پکښی اوکړو. ښه ښه ورغلو. کلی خالی وو. یوبوډا چه مونږ اولیده و نو جوار و ته ننوتو مونږ ورپسی ورمنده کړه او ورته مو پښتنه

اوکړه .

" آتا ! مسجد هاړا "

" کاکا ! جماعت کوم خاے دے . "

هغه اشاره اوکړه چه جماعت هاغه دے . یوسو راسویلی ئے اوکړو . او وے وئیل :

" کافر چوک "

" کافر دیر دے . "

په دے کښی موبن یوه نه واوریدو . چه اموکنل نو یوسپاهی مخکښی د سرائے دپاسه د مشین گن سره ولاړ وو . موبن د هغه په لید و دیر خوشحال شو . زړه زړ و رغلو . د سرائے خله کښی یو سپاهی ولاړ وو هغه راباندے دبکه اوکړه .

" کیم وار " (څوک یئ)

موبن جواب ورکړو " هند ے " (هندوستانیان یو .)

چه دائے واوریدل نو نور و سپاهیانو ته ئے آواز اوکړو او موبن ئے په عزت سرائے ته ننویستو . سرائے کښی پنځه شپږ سپاهیان وو . هغوے راته د سرائے میخ کښی قالینونه واچول . لانا ست نه وو چه سپاهیانو په ترکی ژبه کښی موبن سره څه خبره اوکړه . چه موبن پرے پوه نه شو . موبن حیران شو . معافی موترے او غوښته چه موبن په ترکی نه پوهیږو هغوے زړه په خپل ځان د سره ترسبپو راکښل . موبن پوه شو چه زموبن ستلائشی غواړے . موبن ورته

نهر او وے چه په دیره خوشحالئ تاسو زمونږه تلاشی واخلی. دتلاشی
نه روستو دد روازے سنتر ے زمونږ دلاسه یوچاودے خربوزه چه
مونږ دپټو نه راشکولی وه. واخسته اودسرا ے نه ئے بهرا وغورزوله
سپاهیانو لږ ساعت کی زمونږ دپاره دتنورد ود ے سره دچا ے مراوړے او
یو اعلی خربوزه ئے هم راته مخکښی کښبوده. مونږ د خربوزو په پټو
کښی خان مورکړے وو. خوچا ے اودود ے نوے څیزونه وو. ښه
په شوق سره موو خوړل.

سپاهیانو په مونږ دیره مینه کوله. بار بار به ئے خه وئیل
خو مونږ به نه پوهیدو. روستو مونږ ته معلومه شوه چه حقیقت
کښی دا مهم زمونږ د خلاصی دپاره د ترکستان فوج د چارجوے
د چاونړے نه شروع کړے وو. او زمونږ دیر ملګرے خلاص کړے
شوے د کرکی چاونړے ته رسیدلی وو.

دا پخه شپږ سپاهیان تول داصل نه ترک وو. خه د
ترکستان د غاړے وو. او دوه د آذربایجان وو. دوئے په فارسی
نه پوهیدل او زمونږ د ترکی علم کم وو. خو بیا هم مونږ خپلو کښی په
ماته کوده ترکئ. فارسئ او په اشاروتبادله خیالات کولو.

په دروازه چه کوم سنتر ے ولاړ وو. هغه قابل د ذکر دے.
داصل نه آذربایجان ترک وو. په فارسئ نه پوهیدو. ده دومره
زده کړے وو چه:

"خیلی خوب برادر اتوار کجائے."

دا ہر ځے مونږ ته او ویلے ہر ځے نور وته اوکتل چه نړه کنې په فارسۍ پوهیږم. مونږ پوهشو. چه یادګیرۍ دے. مونږ بهم وهلو توپې کولې. خو هغه پرے نه پوهیدو چه مونږ به په اشارو پوهکړو نو دیو به خوشحال شو. په سرګنجی وو. مونږ پرے نوم کنجی کیښود و. او ورته زړه سپاهیانو دغه نوم پرے پوخ کړو. او په کنجی کنجی به ځے بللو.

هره ورځ به سپاهیانو توپی په دے لاړه کرکی تدتلل. په دیه ورځ یو آذربایجانی [illegible] یو توپی کنبی راوړ سیدو. په فارسۍ پوهیدو مونږ [illegible] یار شو. او نبی خبرے ځے راسره اوکړے. په آخر کنبی ځے دسرائے دکماندار نه اجازت اوغوښتو چه هندیان را سره پریږده چه کرکی تدتلے اوروسوم. کنجی چه داولو ریدل نو په جنګ شو. چه دهندیانو په خلاصولو کنبی ما څومره تکلیف موندلی دے او اوس دے نوم دنورو خلقو کیږے. په فارسۍ پوهیدونکی سپاهی چه مونږ تدا خبره اوکړه. مونږ خوشحال شو. او دهغه موشکریه ادا کړه او په مخه ښه مو وبرتاوو ے.

مونږ دجدیدی فوج سره

کرکی ته روان شو

په څلورمه ورځ نه مونږ دسرائے دسپاهیانو دمخکنبی تګ

وارراغی . زمونږ دسورلئی دپاره یوه ارابه (گاډی) چې یواځې را
کښله راپیدا کړه . دا ارابه ډیره عجیبه وه . زمونږ دوطن سیمې د
ارابې غوندې وې . فرق ئې صرف په پایو کښې دے . د ډیرې د
دپاره ئې قطر د ارابې د پایئ د قطر په نیمه دے . مونږ حیران وو چې
ولې ئې ارابې ته دومره لوئے لوئے پایئ لګولی وے . خو چې ارابه کوم
وخت په کنډو کنډو سړکو پورے وتله نو مونږ ته معلومه شوه چې د لویو
پایو فایده ډیره ده .

ملک خوشی پروت وو . د لارې په غاړه څوک نه ښکاریدل
خو ځنې ځنې کلوته مونږ ورننوتو . کور وته ډک پراته وو . برسټنی په
کټو نو پرتې وے . اوږده بوتان په یو کور کښې ږغ پیدل . زمونږ د ټولې
ډلې یوکس بوتا نوته لاس کړو . خو فوجیانو منع کړو . چې د څه څیزه او
چټولو اجازه نشته .

په دویمه ورځ مونږ اوکتل چې خلق کور و نوته ځاے په
ځاے راروان وو . یو ځاے یوه میله لګیدلی وه . داسې معلومیده
چې خلق بیا په امن کیدل . سپاهیانو به هم خلقو ته د امن او
د قرار ید و ترغیب ورکولو . دے میله کښې د چارچاپیره مصنو-
عات اوپیدا وار خرڅیدل .

دکرکی چھاونړی

(دچھاونړے نقشہ دآموپہ غاړہ)

پہ دریمہ ورځ دکرکی شاوخوا اورسیدو. دترکمانی کیمپ میدان چہ موږ پکښی دوہ درے ورځی بندیان وو موھم پہ نظر راغی خالی پروت وو د آزادے قدر موپہ نړہ کښی نړیات شو. پہ کوم ځائے کښی چہ ترکمانانو موږ نیولی وو. د ھغہ ځایہ کشتئ کښی ترکرکی پورے یوہ ورځ منزل وو. خو موږ پرے پینځلس ورځی تیرے کړے.

نړموږ پہ رسید وخوک خبر نہ شو. چھاونړے تہ غلی ور ننوتو. دچھاونړے نہ چا رچاپیرہ ارغن تار وو. پہ دروازہ سنتریان ولاړ وو. نموږ بدرګی دسنتریانو سرہ ستړے مشی اوکړل. اوموږ پہ چھاونړے کښی داخل شو. پخو مورچو کښی دمشین ګنونو خواکښی سپاھیان ملاتړلی ناست وو.

دکرکی کمشنر

دسویټ دطریقی مطابق کرکی کښی دکمیسار (کمشنر)

د فترتہ ئے مونږ بوتلو. دترمذ دکمیسار پہ شان داهم مونږ ډاډه پرے
وو. مونږ تہ دملاقات اجازت نہ راکړے شو. دکوسئ نہ راپاسید و دیرئے اوخندل. دیرے خبرے ئے کولی خو مونږ پرے نہ
پوهیدو قیاس نہ مو ترجمہ داسی کوله:

"ملکرو هند وستانیانو! څہ رنګ حال دے؟ انقلابی ټولہ کښی آرام نشته. نہ رونہ مو مضبوط کړے. داهم د هندوستان د آزادے د جنګ یوه مرحله ده. شاباش!!"

دکړکی کمیسار پوخ عمر سړے وو. دیو رنګ کوم سوټ ئی اغوستی وو. اوبوتان ئے هم پښو وو. صرف پتلون ئے نہ وو. اوپه کنا توئے ځاے په ځاے تالی کنډلی وے. دے نهایت خوش نصیب وو. نه ئے دبوجی پتلون اغوستی وو. اونه پښو پښې ابله وو.

ده پر اخلاص زمونږ استقبال اوکړو. مونږ تر بر ئی پرے خپله تر به څرا وویل اوبرئے خندل. مونږ به هم اوخندل. خوپوهر به هیڅ نه شو. لږ ساعت کښی ملاقات ختم شو.

دے نه پس لږ ساعت کښی د خپلو ملکرو په میڅ کښی ولاړ وو. دوے یو فوجی بارک کښی وو. زمونږ د رسید ونه وړاندے خبر شوے وو د بارک نه بهر راوتی وو. بیا بیا نه راغاړه وتل. او هزار هزار شکرونه به ئے ویستل. چه مونږ ے څرند ے اولیدو په دوه اتیا ملکرو کښی دوه اویا کړکی تر راورسیدو. دنورو د مرګ او

دَ څرونډ نړۍ خبرې وو. دوه میرې مونډلی شوې اوپیژندل شوې وو. یوه عبدالرحمن چې هغه د پنجاب د جلال پور جټاں وو. او دویم دَ هغه ملګرې وو.

مونږ ترکمانانو سره جنګیږو

مونږ په مشکله ورځ دوه آرام کړے وو. چې د جنګ د تازه کیدو خبر راغی. د چهاونړے بازار کښې ترکمانانو نوراته مخامخ اووے؛

"دا پیره به کتئ شی. دَلسو زرو کسانو په کرکی حمله ده."

داخو مبالغه ښکاریده خو جنګ یقینی وو. چهاونړے باندِ ترکمانان بند شول او حفاظتی تدابیر سخت کړے شول. زمونږ سره ټوله چهاونړے کښې دوسوه دوه اویا کسان وو. په دے کښې څورو سې ښځې وے.

مونږ د جنګ په خبر ډیر حیران شو. پوهیدو چې که ښه ترکمانانو پرې اس کښې کښیوتو. نو په کلمو. قرآن خوانئ او په مونځونو به مو پرې نږدے.

مونږ سمدستی بارک کښې جمع شو. لږ ساعت کښې غیر رسمی خبرے ختم شوے. حالات نازک وو. باقاعده اجلاس د اړومبار صدارت لاندے شروع شو. باقاعده تجویز پیش شو.

"مونږ هند وستانی مهاجرین د خپل وطن آزادے یو مقدس

مقصد کښی وو. او دغه مقصد د حاصلولو پاره موږ خپل خوږ وطن پریښی دے. او افغانستان ته په داسی وخت کښی راغلی وو. چه د افغانستان او انګریز جنګ وو. نو موږ مقصد او ووچه موږ به د افغانستان په امداد خپل خوږ وطن د دغه ظالم دښمن نه آزاد کړو. خو افغانستان او انګریز د صلحی په وجه موږ د وطن د آزادے د جنګ نه محروم پاتی شو.

موږ حالا تود سویټ علاقی ته راا و رسولو. سویټ دانګریز دښمن دے. او ځکه نو موږ دوست دے. او نو موږ میلمستیا او امداد ے اوکړو او کوے ئے.

اوس د سویټ او د ترکمان جنګ دے. نو موږ سره ترکمان بی وجهی ظلم اوکړو. موږ نے داسی په عذاب کړو. چه تاریخ به ورته د مثال پیش نه کړے. نو موږ خوا بزه ملګرے او نهه نوره بے ګناه قتل کړل. د دنیا یو قوم به د ترکمان د حرکت ته په سترګه نظر اونه کوري. بل خو موږ سره سویټ ښه سلوک کوے. او دا به انصاف نه وے چه یو سړے موږ نه میلمه کړے او د شپی دهغه په کور غله راشی. او موږ ورته او وایو چه کور به کا کا!

موږ هم مسلمانان یو او د اغلو هم مسلمانان دے ځکه موږ د دوے نه ستاینه کولو کښی تاسره امداد نه کوو. او یو خوا نه کښینو.

اوس موږ کرکی کښی د ترکمانانو په محاصره کښی یو. جنګ یقینی دے. د ترکمان کتهر نو موږ مړک دے. او نو موږ د پناه راکړونکی

تباهی ده. بی مقابلی د ترکمان دلاسه تباه کیدل بزدلی او بے غیرتی ده. او تورہ پہ لاس مرګ مرګ نه دے. ابدے ژوند دے. داهم یقینی خبره ده. چه ترکمان به نه صرف موبن ژوندے پرے نږدے. بلکه زموبن محسنان اود هغوے زنانه بچی به هم بی قتلولو پرے نږدے فکر اوکړے چه که موبن بی مقابله پاتی شو نو دنیا کښی به زموبن څوک مړه بدنامی اوشی.

پہ دے وجوهاتو دے وړوکی بی وطنه مسافر تولی دا مضبوط رائے ده. چه موبن مهاجرین د ئے خپل ځانونو او د خپل کور بنو او د هغوے د مال و بچ ډیچ کولو د پاره د اپه ځان فرض کنړو. چه د دښمن پہ مقابله کښی خپل ځانونه او خپل خدمات پہ خپله خوښی د ترکی چهاونړے حاکمانو تہ پیش کړو."

د تجویز پیش کیدو سره گرم گرم بحث شروع شو. څه د تجویز په حق کښی او څه ئے برخلاف. زموبن مختصر تعداد وو. او حکه مو یو بل سره پیژندل. د دیر بحث ضرورت نه وو. خو یا هم سره ساعت تبادله خیالات اوشو. د تجویز د مخالف ملګرو دا دلیل وو چه ترکمان مسلمان دے. او مهاجرین هم مسلمانان دی. مسلمان د مسلمان برخلاف پہ هیڅ حالت کښی توره نه اخلی. بحث مباحثه پہ دوشنا جذبه کښی اوشو. آخر پہ دے دواړه خیال رضا شول. چه هر کس تہ اجازت دے. که د چهاونړے بچا وکښی حصه اخلی او که غیر جانبدار ه پاتی کیږے.

د مهاجرینو د اخلاص نتیجه وه چه اوه دیرش کسان د تجوین په حق کښی شول. او اوه دیرش مخالف. خو تولو د اخوښه کړه چه اجلاس مرحله بی شمارې ختم شی. او حکه د شکست او د فتحی د بی عزتی او د عزت سوال پیدا نه شو.

دا هومبی خل وو چه زمونږ د تولی ترمیخ اصولی اختلاف راپیدا شو. بغیر د ظاهریدو مونږ پرې پوهه شو چه اختلاف اصولی دے. زمونږ سفر تول د دوو کالونه زیات اوږد شو. مونږ څه وخت پورې یو خائے بیا بیل شو. بیا یو خائے شو. خو دا بنیاد ے اختلاف په خائے پاتی شو. د کوی نه ر وستو د وار و تولو د سفر انحصار په دغه اصولی اختلاف وو. دا اختلاف په مختلفو خایونو کښی په مختلف شکل کښی سکاره شو. خو په خوش اسلوبی به ختم شو.

مونږ د چهاونړے حاکمانو ته خپله فیصله وړاندیزله. او د تویکونو مطالبه مو وکړه. حاکمان دیر خوشحاله شول. حکه چه بغیر د هغوے د مطالبی نه. چه مونږ د ے د چهاونړے په حفاظت کښی حصه واخلو زمونږ پیشکش وررسید و سره په لږ ساعت کښی مونږ ته د سپینو غاړو راپه کوته کړے وه. او مابنام په خړه کښی مونږ او ه دیرش کسان تویکونه په اوږو وخپلو مورچو ته وراورسیدو سپاهیان او افسران په د ے لږ. خو دیر په وخت امداد باندے دیر ښایات خوشحال شول.

لطیف تاتار

موږ ته زړه معلومه شوه، چه زموږ کمان لطیف نومی تاتار ته حواله شو. د اخلمی چخرنګ موږ ته معلومه شوه. د کازان او سید ونکی وو. کرکی کښی بالشویکی فوج کښی افسر وو. تعلیم یافته سړے وو. په فارسۍ ښه پوهیدو او په دے وجه زموږ د انتظام اونکر انۍ دپاره موږ وون سړے وو. خوش خلق وو. او خکه زموږ هم ډیر خوښ شو. شپاوورځ به زموږ سره وو. زموږ د هر څه ذمه وار وو. فوجی تربیت چه تر توپک خلاصولو پورے محدود وو موږ ته ښه ے په مورچه کښی راکولو. او زموږ د ختیځ په فکر کښی تسلی بخښو.

لطیف د چارج اخستلو سره موږ په دوه ټولو کښی او ویشلو. زموږ په خوښه ے اکبرخان کمانډا ر کړو. او ګوهر رحمان او غلام محمد سابقه فوجیان ے ټولی مشران کړل. دد ے مشرانو په کمان کښی اوولس اوولس کسان راغلل. زموږ محاذ نسبتاً آسان وو. خو اوږد وو. د چهاونړے مشرقی او شمالی پلو سره د نیمی دائرے په شکل د سیند غاړه وه. د غسی ترنیمی شپی اوولس کسان د یو میل محاذ د حفاظت دپاره ځانے په ځانے مورچو کښی ناست وو.

کوم هدایات چه لطیف اونورو افسرانو موبن ته په موقعه راکړل
نو هغه دیر مسزیدارروو:

(ا) ممکن ده چه ترکمان په شنانرونو غلی په سینه دراپورے وتلو
کوشش اوکړے. نو خکه هر رضاکار ته پکار دے، چه په معمولی شک په
هغه لور د سینه دپاسه څوندرے اوکړے. دد ے انتظار ونه کوے چه دا
معلومه کړے چه آیا واقعی دشمن د سینه دپاسه راالا هوشیار دے
اوکه نه.

(ب) اوکه د سینه سطح حسب معمول خاموش وے نو هر
پنځه لس منټه پس هر رضاکار د سینه مخامخ غاړه باندے څوندرے
کوے چه دشپې په تیاره کښې دشمن په بې خبرے کښې راالا هونه شی.

(ج) که د مورچې نزدے د شپې یا د ورځې څوک راشی نو
بغیر د پوښتنې د کوفتار کړے شی.

ترنیمې شپې وروسته پارټی د سینه دپاسه بې د خلیدو کښې
بدلون راوړے. د چا هاوړے لوړے مشران د نیمې شپې نو موبن
کنټرول د پاره راغلل او نو موبن په احتیاطی د نرو خوشحال شول. دویم
ټولی د نیمې شپې د غلا عمل د ترکمان نو موبن نه چارج واخستو او
موبن نزدے یو مکان کښې په مرکز سملاستو.

موبن کښې دیر کم کسان د توپک په خلاصولو پوهیدل. عبد
الرحمان بابا ډیره سخر شکایت اوکړو چه زما سینه خوږیږے. موبز
خفه شو چه جوړے د بابا نمونیا شوه خو هغه زموبن خفګان په

خندا بدل کړو. چې را معلومه شوه چې د دښمن په وینت کښې به هغه سیني تاړه مول. لطیف په تندئ سره د دښمن تعاقب شروع کړه خو زړه ئې تسلې او شوه چې بغیر د بابا د غه غلمې بل چا نه کې نه وینې د خوراک دپاره به هره ورځ لطیف یو ترکی ګډا او وریښ ئې او سپارې تیارې یو یو پوند والا د بلې سرې ورځې راوړې. چې په خوراک ئې د جنګ په دوران ملګرو رنګونه پریښول. په ډومبئ ورځ لطیف زمونږ د دوو د پخلو دپاره یوازې راهم شو. خو هغه تنه زړه معلومه شوه چې مها جرینو د اخدمت د خان په خپله کولی شو. لطیف به زمونږ د پخلی تل تعریف کولو. او ملګرو هغه خپل سره ورکړلو.

د لطیف سبه سر پیتوب مونږ د هغه ګرویده کړو. د شپې لطیف به هله اوده کیدو چې ملګرو به مجبور کړو. کنې هغه به توله شپه ویښ وو. د هرې خوا نه د لطیف صفت وو. او د لطیف وجه وه چې د مها جرینو حوصله ډیره اوچتده. لطیف ډېر ښتنی، صاف ګو، ساده، تکلیف برداشت کوونکی او زړه ورځلمی وو.

د لطیف هم مونږ سره ډیره مینه وه. چې په کومه خبره به مونږ خفه کیدو هغه به ئې هرګز نه کوله. د مورچې د رسیدو نه د ریمه څلورمه ورځ باندې لطیف یوه پیپه شراب راوړل. او په خندا خندا ئې د ډېرې نه راکوز کړل. د هغه خیال و و چې مونږ به د ډیر خو-شحال شو. خو فوراً ئې معافی اوغوښته. او پیپه ئې بیا ډېرې ته اوخیژوله و رته معلومه شوه چې مونږ شراب نه څښو.

مونږ ورته اووې: "برادر لطیف! ما معافی میخواهیم، ما مسلمانان هیڅ شراب نمی خوریم"

لطیف په سر وانیده وکښې وو. چه افند ے یولوے کیتلی (چاے جوش) په لاس را منډے کړے. لطیف هغه ورته ډک کړو. خوافند ے په د ے صبر نه شو او دا بو یولوے ډک جګ (کنډول) ے را اونغلولو لطیف ورته هغه هم ډک کړو.

"بس افندیم! بس" لطیف ورته منت اوکړو. خو سر فراز یو بل لوښی را اونغلولو. لطیف خفه شو خو بیا ے هم ورله ډک کړو. او سر یره ے بیرته بوتله.

معاجوین کله غلے پاتې کیدل

"افند ے داخه کوے. ته خو مسلمان ے اوشراب څښې؟"

"سر ور شراب خو بنه شئ د ے. کور ے نه څومره سخت سا ړه د ے اوزه د ورځې د ومره نه څښم. د شپې به ے څښم. بیا تاسو پې فکر په پوستینو نو کښې پراته اوسی. چه شراب وے زه بیا نه ستړے کیږم."

"برادر آخر تو مسلمان هستی." تاج الدین دلاهور یو معاجو په نفرت آمیزه لهجه کښې افند ے مخاطب کړو.

"چه؟" آفند ے غصه شو. "یوازے تاسو مسلمانان یئ. د نولې دنیا مسلمانان ے څښې. اوهغوے د مسلمانئ نه اونه وتل. اوزه چه د ذلیل غلام هند ے سړے یو څو ورځې یو خاص شوم نو د مسلمانئ نه اوځم.

مونږ صلاح اوکړه چه آفندۍ نه ځیرل پکار څخه فایده نه خیژي آفندۍ مونږ کښې پوهه دے که خفه شو نو خلق به راته بد وائي . قول غلی شول .

خو آفندۍ پاسید ودک کیلاس ئے اووهلو . د آفندۍ ستړی کد ے وه ے وے . نهه ئے ودک وو . آفندۍ نه مونږ نه په لاره ځائے په ځائے خفه شوے وو . د هغه خفګان ډوډۍ نه زیاتید و نو په کرکۍ کښې د تاج الدین په خبره هغه سخت خفه شو یوسا - عت پس ئے بل کیلاس اوڅښلو . مونږ تول حیران وو . چه آفندۍ باندے څه چل اوشو . ساعت په ساعت به آفندۍ پاسید واو یو کیلاس به ئے څښلو . حتی چه هغه په هوش کښې پاتی نه شو په دے وخت کښې د آفندۍ سره خبرے کول . ځان بې عزتی کول وو . خود مها- جرینو دیرے ځلی وے . یوو رپورے اوخندل اوورته ئے اووے .

اسلام چه بکار است . عیش باید کرد .

" بابر به عیش کوش که عالم دوباره نیست "

آفندۍ د د ے خبرے په اوریدونې واکه شو . بله ډوبل ئے شروع کړل .

" هند ے ذلیل چه حق دارد که به ما اعتراض بکند . غلام !

بچه غلام !! ما هیچ این طور مردم ندیده ایم "

د مها جرینو د صبر او شرافت د غه وخت امتحان وو . کرکۍ کښې د آفندۍ هیڅ هستی نه وه . د مها جرینو دیر عزت او زور وو . که په دا سے

وخت کښی مهاجرین ترک دے او آفند ے هند ے وے . نو په مشکله به هند ے آفند ے په عزت کښی پاتی شوے وو . خود مهاجرینو تولی په سندان پوخ شوے وو . د دیرو تکلیفونو نه روستو د هغوے طبیعتونو کښی اوچتوالی پیدا شوے وو . موږ تولو په اتفاق سره د آفند ے نه معافی اوغوښتله . او تاج الدین او نور چا چه چیرلی وو . هغه مو ملامت کړل . خود ے نه روستو آفند ے چرے هم د زړه نه خفګان اونه ویستو . زموږ سره تر تاشقند پورے لاړو خو صفا ورنه معلومیده چه آفند ے رضا نه شو . دا خبره به مهاجرینو تل محسوسوله چه موږ دومره کسانو یوترک رضا اونه سائلے شو .

لطیف پروپیګنده شروع کړه

لطیف زموږ په مخکښی چرے شراب نه وو څښلی . نه پوهیږم چه هغه شراب نه څښل او که زموږ لحاظ ے کولو . څوورځی پس چه لطیف په دے پوه شو چه هغه د مهاجرو د یرخوښ دے . نو په خبرو خبرو کښی د نړۍ روس مظالم ے بیانول شروع کړل . او د موجوده نظام فواید او د زور سرمایه دارانه نظام نقصانات به ے هم پکښی سنبول . د یرذهین او هوښیار سړے وو . خبره به

ے نه اوښ دوله. نهایه ئے خبره بدله کړه .

لطیف چه څومره خوش خلق وو د غسی قدرت ورته بنایسته ځوانی ورکړے وه . زمونږ اعتماد ئے په لږو ورځو کښی پوره حاصل کړے وو. د لطیف وجه وه چه مونږ یومیل محاذ شپه اوورځ سنبال کړے شو. د چها وڼړے حاکمان د لطیف نه دیر خوشحال وو

کله کله به د شپی عسکرے افسران پرکشت راغلل. یوه شپه د شپی دوه بجی دوه کسان زمونږ په مورچه پرکشت سمدستی راښکاره شول مونږ مورچه کښی ولاړوم آوازم پرے اوکړو.

"کتوتم؟ سټوے!" (څوک ئے؟ اودریږه!)

جواب ئے راکړو "تاشقند"

دا صحیح جواب وو. اودما بنام مونږ ته لطیف ښودلی وو. لطیف او اکبرخان د آوان په اوږدو سره موجود وو. نه پوهیږم چه دوے ورلاندے نه خبر وو چه کشت به راځی او که د آوان په اوږدو راالوځیدل. مونږ دغه وخ د یرګرم وو. د ورځی په مونږ توله وخ داسی پرځے کیدے چه مونږ دواړه تولی د مورچو نه بهر نه شوے راوتلی. اودوه ئے موهم په مورچو کښی خوړلی وه. اوچه ما- بنام تیاره شوه نو هم د چها وڼړے متصل یوورځی کله نه زمونږ په شا اودسیند د پوړے غاړے نه زمونږ د ترکمانی حملے تیارے وے د ماسختن مونږ دوه ترکمانان ګرفتارکړل. چه هغوے زمونږ د مورچی په خوا کښی د چها وڼړے نه بهر وتل. مونږ دوے تولـه

شپه لاس په شا تولې مورچه کښې اوساتل او سحر مو مرکزې عسکرې دفترته اولیږل. توله شپه زمونږ په اسراسر مورچه باندې چلیدل او حکم دشپې هم دوارې تولې تمامه شپه بیدار وواو مقابله موکوله.

زه ناجوړه شوم

د ستمبر میاشتې په شروع کښې دشپې سخته یخنۍ پرېوته. دشپې په مورچو کښې به مونږ اوږده اوږده پوستینونه اغوستې وو. خو د بر عمر پس خما زور مرض دغوږونو خوږېدل بیا په ما را غلو د لطیف دمنت باوجود زه هسپتال کښې داخل نه شوم. خو سحر په سحر به زه هسپتال ته تلم او په پیچکارې به ئې خما غوږونه صفا کول. وینې نرۍ به ئې ترې او وېستلې او بیا به ئې پکښې دارو راته واچول. او کومه پټۍ به ئې ترې تاو کړه.

زه په تکلیف کښې وم خو مورچې نه پاتې کیدل راته بده ښکارېده. په خپل وار به مورچه کښې ولاړوم. ملګرو به ترغیب را کولو چه کوته کښې آرام او کړم. خو ما په ملګرو کښې خائے نه لیدو چه خما په خائے د خان برغ او عذابوے.

خما ملګرے عبدالرحمن د پیښور به خما هیرنه شی چه

هغه به ډډ مې په وخت ځما د پاره خپله ډمه په ځان پیرزوینه کړله.
ځما د پاره ئے خبښتی کړ مولی او په غوږ ونو به ئے راته تکور ونه راکول.
زه په ناخوالئی دلته داذکر کړم. چه ځما داهم نه هیږیږے چه ځما
ملکړے به اوږده اوږده پراته وو. په ځله به ځما په تکلیف غمژن
وو. خو عملاً ئے لاس نه خوږولو.

په قول سفر کښی د ځمار و مبئی ځل وو. چه کورم رایاد
شوے وو او ځما په زړه کښی د اخیال راپیدا شوے و رچه ډډے
عذابونه دک سفر څخه مقصد لرے. خو زړه تر زړه به ځما زړه بیا
مضبوط شو. چه وطن کښی د غلامی څرونډ به مې رایاد شو ځما
زړه به داسی وطن ته د ستنید و برخلاف بغاوت اوکړو. او په
دے خیال به پیاد سفر مصیبتونه آسانیدل.

جنګ او تفریح

چه څومره به جنګ کړم وو. هومره به سینما ښودلو او د
پراموکلو نړیات زور وو. کله کله ما ښام خوړه کښی چه کوم توپ
د مهاجرو به اونکار وو. نوله هغوے به څوملکړے نا مخاد سینما
یا د پراموکتلو د پاره د چها وړپے د سینما میدان ته لاړل.

یو ما بنام زه هم د سینیمے کتلو ته لاړم . خما خیال دو چه فلم سره به زه خوشحال شم . خوشحالو هم چه په پرده د هند یو لنګ مار په یو خنګل کښی میم صاحب پسی څه اوچت کړے روان دے ، میم صاحب سره ټوپک وو . او موږے ښکار پسی روانه وو . د دے منظر خما طبیعت سخت خفه کړو . خان ته ناته سپک ښکار شو . زه هم هند ته مها جر وم په چا وړے کښی خلق موږ ته هند و ستانیانو په نوم پیژندلو . نو ولی به موږ نه کچه کیدلو . بالشویک اوکنړیدل . زه په ترکی څه څه پوهیدم . چه را معلوم د شوے وه چه هغوے څه وے . په پرده خط هم په روسی څه کښی وو . خکه زه نه پوهیدم چه فلم کښی څه ښودلی شی . خو یوه خبره صفا وه او د هغی په نسبت کښی زموږ په زړه کښی شک نه وو . هغو د خپل خلقو زموږ د دښمن او زموږ طرف ته نیت وو . که سینما وه او که ډرامه ، دا ټول ظلم به ئے دنیا ته ښکاره کولو . او په دے سقله به ئے د هندوستان او هندوستانیانو سره هماغه ډول سلوک بالشویک سپاهیانو به یقیناً میمی ته بد وئیلی .

ترمذ کښی موږ به د ډرامو تماشی نه تلو . او یخپله مو د جلیانوالا د قتل عام ډرامه کړے وه . دلته د چا وړے کیسه یو خل په خپله زموږ محاذ ته راغلی وو . او زموږ د محاذ نه او زکار ملګرے یوے ډرامی کتلو ته بوتلی وو . د هغه مقصد زموږ خوشحالول وو . او په کړی کښی د خوشحالی یوه سینما وه .

او یو خو دافسرانو بنا یسته سنځی وی . چه هغوی د جنګ په وخت کښی په هسپتالونو کښی د زخمیانو تیمارداری کوله . او یا به ئی موجود کښی د سپاهیانو زړه ورونه په خپلی موجودګی سره خوشحالول . او یا به ئی د مه کوونکی سپاهیانو په مخ کښی د رامی په ستیج کولی . په سازاوآواز به ئی د سپاهیانو حوصله افزائی کوله .

زمونږ محاذ کښی زمونږ څوملګرو سره یولویو پاپو والا مشینګن وو . داملګرو د انګریزانو د یوغړو پاتې سپاهیان وو د مشینګن په کار ښه پوهیدل او زمونږ محاذ په دې مضبوط وو . هره شیبه به دوی مشینګن ځایونه بدلیدو . چه دښمن پوهښتی چه زمونږ سره ضرور یو مشینګن دی .

لسو دولسو ورځو کښی دچا رچوړی د چها ونړی نه مونږ ته کمک راورسیدو او ترکمانان په خوږیدو شول . ډکوړی دلښکر تل دغه حال وی .

یو ورځ سحر لطیف په خندا راغی او وی ویل :

اوس به توپه راورسی او دا مخامخ د سینډ نه پورې ترکئی به ویشتلی شی . او ښه د ورځی تماشه به وی . د ترکمانانو زورکم شو . ترکئی کښی کوم کسان چه پټ ناست دی . او د هغه ځای نه په تاسو زړې کوی . توپونه به ئی په مخه واخلی .

ترمازیګر د ترکئی نه د ورپه اوخته ، مختصر غږ وو سینډ سلن وو خکه یه ستر کو د کولو بار ی اثر په نظر ښه نه راځلو لطیف

د کماندار د وربین واخیست اود هغی په ذریعه موږ د توپک او د توپي مقابله په خپلو سترګو اوکتله. دغی ماښام نه روستو په موږ د ترکئ د مخی بیا وزر اونه شو.

په خوارلسمه ورځ خوشخبرۍ راغله چه جنګی جهاز راارسیدو. موږ ے تماشی ته ورغلو. ورا وختو پکښی ښایسته ښایسته کمرے وے. داسی ښکاریده چه لکه یو ښایسته ورځ بنګله دلوے بیړے دپاسه جوړه وے. د جهاز نه چارچاپیره دشګو د بوجو دیوال وو. اوپکښی مورچی وے. سپاهیان مشینګنونو سره تیار ناست وو. یوه لویه بیړے ورپورے تړلی وه.

د ولنډ وینه وراندے یوانسوسناک خبر تول خفه کړو. هغه داووچه یو جدید ے کشتی توپی په لاره ځلو. ترکمانانو میلمه کړو اوتول ځے اووژل. یوکافی فوج چه لس کسه زر موږ هم پکښی وو سحر ورپسی اووتلو. اوماښام د مړوسره بیړته راغلو.

دے ورځو کښی داظاهره شوه چه بالشویک دچها ونړے نه باهر وطن قبضه کښی نه شی ساتلی. صرف چهاونړے په مشکله ساتی. هغه هم د دریا ئے آمو برکت دے.

د سیند نه قطب غاړے ته د چهاونړے مخامخ داورکادی ستیشن لوټی لوټی پروت وو. د بخارۍ نه تر تړمذ چهاونړے د سیند د قطبی غاړے د ریل کرښه انقلاب کښی تباه شوے وه. لاتر اوسه ریل بند وو. د دریا ئے آمو برکت ووچه د دے چهاونړے

او ترکستان جمهوریت ترمینځ د جنګی جهاز رونوتګ راتګ قایم
وو. د افغانستان دغه دوه بے تره د بالشویکو ترمنځ، کرکې اوچاړجوړے
رے مضبوطی چها ونړے دے. چه بالشویکو په غټه قربانی سائله
دے. دے چها ونړے کښی لږ لږ فوج وو. چا پیره ترے مسلح
ترکمانی قبیله پرته وه او په دے پیره علاقه دامیر بخارا حکومت وو.
ترمذ چها ونړے کښی دامیر نماینده حاکم زمونږ د امداد
دپاره تیار وو. اوکه چرے مونږ دا پیشکش منظور کړے وی
نو تر بخارے به په آرام لاړ وو. خو مونږ دا پیشکش نامنظور کړے و وځکه
چه مونږ د ترکو وطن اناطول اویا تاشقند عسکر ے سکول کښی
داخلید و دپاره صرف د بالشویکو په امداد تلی شو.

د کرکی نه رخصت

مونږ سحر وختی د سیند غاړے ته جهاز ته اووتو. د
چها ونړے عسکر ے کمانډ راو سیاسی کمیسار لطیف او څوک نور
افسران سره دخپلو سنځور زمونږ د رخصتولو د پاره راغلل. د دوے
خان سره زمونږ دپاره دیوے هفتی خوراک هم راوړو. او د
سیند تر غاړے جهاز پورے ځے زمونږ سره جلب اوکړو.
د کمانډ راو د کمیسار الوداعی تقریر وینه لطیف زمونږ د پاره

په فارسۍ کښې ترجمه کړل. د کمیسار آخرنۍ الفاظو په مونږ ډیر اثر اوکړو هغه اووې.

"سویټ د نړۍ د مظلومانو خپل کوي. انګرېز د امپیریلزم د نړۍ د بښمن دے. او سویټ یونین په نړۍ د آزادۍ دامداد د پاره همیشه تیار دے."

آخر کښې ئے په دے ختم کړو.

"د کړکۍ د حفاظت د پاره د هندوستان ملګرو ته چې توب د کړکۍ انقلابي تاریخ کښې به په ځین الفاظو کښې لیک وي. او دا به د جمهوریت ترکستان او آزاد هندوستان ترمینځ غیر فاني تعلقات قایم ساتي."

په مونږ د دے مظاهرے ډیر اثر اوشو. او د کړکۍ د ساتګار نو او خصوصاً د لطیف د ښه سلوک موشکریه ادا کړه. د جهاز ډرو ستو بیړے کښې کښینا ستو. او اګرچه بیړه معمولي شي وه خو مونږ پوهیدو چه دا صرف زمونږ د محفوظ رسولو د پاره د چارې جوړے شوے ده او ځکه مودالوے عزت کړلو.

په وخت د خطرے به مونږ په بیړه کښې کوز شو او تر کمانانو د کولیو ته به محفوظ وو. او په وخت د امن به چې ځمکې پاسه ناست وو. او مخ په قبله چارجوئے پلورواں وو. د ژوند نه معلومه شوه چه زمونږ چارجوئے ته رسیدل آسان کار نه دے. لاړه لنډه وه. نهایت سامان احتیاطي تدابیر وو.

د سیند دواړه غاړې ډیرې ښایسته آبادې وې. مونږ به د کشتئ د پاسه ناست سیل به موکولو. د ځلی انتظام کشتئ کښې وو او څکه د کوزیدو ضرورت نه وو. کله کله به کشتئ ولاړه وه. او مونږ زړه به کیدو چه کوزشو. او د علاقې سیل او کړو خو د جهازکمانډار د اسې اجازه نه راکوله.

جهاز به د ورځې سفر کولو او شپې به په محفوظ ځای کښې ولاړ وو. د ورځې ترکمانانو مونږ آرام کولو ته نه پریښو. خو د شپې د هغوئ نه خوب کول لاکران کار وو. د ماشئ او د هاتئ مقابله وه. وړو توپو او مشینګنو به ترکمانانو د اسې په مخه واخستل. چه پریخه به ئې نه معلومیده. د سیند غاړې دتر کمانانو مرسته نه کوله او میدان کښې د ترکمانانو د پتیدو ځای نه وو.

ورځ به شیره شوه، شپه به راغله او شپه به تیره شوه ورځ به راغله. د مشینی بیړې د رفتار نه مونږ ډیر مایوسه شو. ځای په ځای ښښتی وه. کله به مخکښې تلو او کله به بیا په روستو روان شو. انقلاب د سیند غاړه هم بچ نه وه پریښې. د چاوڼې څه غلطی وه. په پټو ستړې کوروان وو. کله کله به پایاو او بوته وړ وخښ. نوبه او دریدو. کله کله به ښخ شو. نوبخ په شا به روان شو. مونږ بیړې پورې به ډیر تنګ شو. ځان ویستل یو کراو. زمونږ بیړې راښکل دویم کړاو.

مونږ ورځې شمارلی اود امید کیدلی شو چه اووه ورځو کښې
به اورسو. پنځه ورځې تیرې شوې. خوچارجوے لالړے ده شپږمه
ورځ هم ختمه شوه. خود چارجوے پته نشته. اوومه ورځ شوه.
دوه ے هم په خلاصی ده خوچارجوے لاچرته ده. اوجهازبه څرنګ
چارجوے ته اورسی. پورته یوه ورځ خوتوله ورځ ویځاے ولاړوو. نور
هم کله مخکښې اوکله روستو. اوومه ورځ چه سحر شو نومعلومه
شوه چه خوراک ختم شو. دجهاز دمانړکانو دے چارښه وے چه
څه رسونه ے راولیږل. دچا یوسره موپه دغه ورځ تیره کړه.

لږ دمهاجرینو دپاره نوے شی نه وو. اوبله دا" کرخیروی
صبا خوبه اورسو. خیردے یوه ورځ څه خبره ده. یوه ورځ که مونږ
دوه دے اونه مونده نومانړوکانو وچ رسونه خوراکولی وی اوصبا
خیردے که هغوے څه هم رانکړے. هغوے غوښانا نوسره به خپل
خوراک هم ختم شوے وے؟ دارنګ خبرے اترے شروع شوے:

سحر شو دکشتی دپاسه اوختو اوکړه داختنسپږمی چه
خلق په مینه کوږے. مونږ دچارجوے دچاوړے په طرف کښل خو
چارجوے چرته ده.

چاپه پکښې اووے:

سپاهیان وائے چه خفه کیږے مه. چارجوے نزدے ده زر
به اورسو.

خومانړیکر شواویا هم دَ چارجوے نخښه پته نشته. بله

شپه هم تیره شوه . همه وړځ شوه . بیا مانړوکان لږ لږ رهسونه
را واستول . خوچې په رس څه کیدل . دریمه وړځ شوه . په رهسونو
پاسیدل او رهسونه دومره چې سحر د چا ے کار هم پرے نه کیږے په د ے
کښې مانړوکانو خبر را اولیږلو .

که جهاز ترمانښامه سم تلل او کړل . نو چا رجوے ته ډاډه او سو :
او د سړ ے ے د اخوشخبرے هم را کړه . چې غرمه به د آلوشو روا د کړو
د امن وړځ خو کښې د لرګی نه چا رجوے ته د اجهاز یوه وړځ کښې
رسید ے شو . خو اوس نهه وړځ تیرے شوے او خدا ے خبر چې په
نهمه وړځ هم رسیږی او کړ ے نه .

"د اورښے په غوږ کښې د د ودے تیاره ده ."

مانړوکان چې په جهاز کښې شوریږلے . نو موږ خیال کړو چې
د آلوشو روا ړ ے .

"د آلوشو رنګ شوروا دے" یو پکښې آواز او کړو .

"سړیه ! چرته د غوښه آلو ته دے خوړلې" بل جواب ورکړو .

"غوښه کوم ده ؟" د ریم په خندا شو . "تاسو خو وینځ
د غسی ړوړو وخت تیریدو . په د ے کښې د آلوکا ډ شروا
را غله شوروا څه وه . کرمی او به وے . خپل خپل تام آلو کښې مو
ترے دک کړل . او او موخښل .

خیر د ے . مانړوکان وائی چې ترمانښامه به مونږ راورسو
جهاز روان د ے . په ویره ویره څې چرته بیا اوږدښلی ؟ ما-

سپینښین شو اولا هغسی د چارجوے سرپته نشته . موږ کشتئ د
د پاسه ناست وو بی فکره وو . د وړځ د وونه راباندے حملی بندے
شوے چه په دے کښی ډیو ډے ډنزار شو . دریے مانړکان اولګیدل
یو مړ شو دوه معمولی زخمی شو . جهاز اودریدو . جوړی دنرے
شروع شوے ترسحر موږ مسترګی پتی نه کړے شوے . اوښه مقابله
اوشوه . خو مانړو کانو اوس غلطی نه کوله . د شکو د بوجوبه نه تحرکندیل
نه . د ترکمانانو د مرګ ژړوبلی نه موږ نه خبریدو . اوخرنګ به خبریدو
تولہ شپه ویښه تیره شوه . اودلسمی ورځی نمر څیرے
اووهلو . جهاز بیا روان شو . دنرے غلی شوے . نه موږ لوږه هیره
شوه . دایمونیشن (کارتوسونو) راسره فکر شو . هیڅ اندازه مو
نه شوه لګولی . چه چارجوے ته به کله رسیږو . زړه کښی مودلیلونه
پیښ کول . چه نزدے خوبه وے . خو په نزدے نزدے کښی خو دو ه
ورځی نورے تیرے شوے .

چارجوی

ماسپښین شو . مانړو کانو اووے چارجوے نزدے ده .
خو نه موږ پرے یقین نه راتلو . کوم ماسپښین شو بیا مانړو کا و

اوږے چه بس را اورسیدو. خو موږ د چارجوے نخښه نه لیده. مانیکر شو. نو مانږو کانو قبلی پله لاسونه اوښول.

"ها..... غه..... ده چارجوے!"

"کومه ده چارجوے؟ "داخو رنګ چارجوے ده؟" موږ کښی دکمن. ورورونو خاوندان دلوږے د زورنه مایوسه شوے وو او حکه نے داقسم خبرے کولی.

خو او نوپه مینځ کښی دسیند دپاسه د ریل داوسپنی اوچت پل را ښکاره شو. اولږ ساعت پس د چهاونږے اوچت عمارتونه هم را څرګند شول. موږ غلی په نهه جمع کښینا ستو. ناوخته مانیکر موږ دیو عظیم الشان ریلوے پل لاندے تیریدو. دا پل په دریاے آمو ترلی شوے دے. چه دتاشقند بخارا د خوا نه ریل پرے باندے مرو او د بحیرهٔ خضر خوا ته ځی. موږ ترے لاندے تیریدو او ریل کاډے نه موږ د پاسه تیریدو. دیره موده پس بیا د تهذیب لوبه نخښه موا ولیده دسیند په غاړه د چهاونږے دپاره دا و درسیدو خاے جوړ وو. موږ ترے کوږ شو. په فقط نو کښی سوار شو. د ترکمانانو برکت وو. سامان خو زموږ سره صرف اغوستی جامی وے.

چارجوے کښی هم موږ د عسکر میلمانه وو. اوږد بارک وو دوه مومه خوړه چه ترسحره خو زیدلی نه شو. چارجوے هم سبه آباده چهاونږے ده.

---

(۱) بحیرهٔ خضر (Caspian Sea)

مهاجرو کښی ښیلتون راځی

سعروختی موښ خبر شوچه د تاشقند ډهندوستانیانو
جرګی یورسی رالیږلی دی . اوغواړی چه موښ نهر تورزره تا-
شقند تداورسو . ددی خبرے په اوریدو پس پس شروع شو .
حاجی شهاب الدین دبارک دننه پریوځت کښی مهاجرین
ترے چاپیره . اوحاجی معراج الدین د بارک نه بهرځوکسره حاشه
نزدے کړے وو اوورته ے پس پس کول .
"اکبرخان خمانه پوښتنه اوکړه
"اکبرشاه ! څه پوهیږے چه حاجیان صاحبان څه کوم
کوم مجلس کوے ."
"نه " ماسره اوخوزولو .
اکبر رانزدے شو دوے خلقوته وائے چه تاشقند نه تلل
نه دے پکار موښ مهاجرو یو اود غزاد پاره ترکوته روان یو تاشقند
کښی موځه کار دے ."
نه دیر حیران نه شوم . د موجوده سوال فیصله په کولو کښی شوے
وه . ډیوبل دلحاظ موښ صفا خبرے نه وے کړے اوپه چپه ځلبیل

شوے وو. لږ ساعت کښې په بارک کښې باقاعده جلسه شروع شوه . د واړو فریقو واړه په واړه خپل خیالات څرګندول . دمها- جرینو مشر اکبر خان په ټول سفر کښې په هره مبحل د صدارت نه انکار اوکړو. هغه اووېل :

"زه پخپله هم خپله رائے څرګندوم. نو ځکه په کار دے چه خما په ځاے دِدا اجلاس بل څوک صدر مقرر شی ."

جلسه د تهکال د حاجی عبدالرحیم د صدارت لاندے شروع شوه . د جلسې په دوران کښې د تاشقند استاذ ے را اورسیدو. د صدر په وینا هغه د هند وستانی انقلابیانو د مشر ایم .این . رائے پیغام په انګریزے کښې وو. ترجمه ئے داسې ده :

"انقلابیانو! د هند نه په خیر راغلئ . او د هند وستان د آزادے جنګیالیو! زه تاسوته د سویټ د طرفه تسلی درکوم . چه سویټ د هند وستان د آزادے د پاره ستاسو هر څنګله امداد کوی د پاره تیار دے . زه اوتل سویټ یونین ستاسو د ملګرو د قتلیدو په غم کښې غمژن یو. او تاسوته یقین درکوو. چه سویټ پته تاشقند کښې ستاسو د پاره د هوائے تربیت پوره پوره انتظام کړے دے . چه د هند په راتلونکی انقلاب کښې تاسو په کامیابی سره د سامراجی طاقتونو برخلاف اوجنګیدے شئ ."

پس د دے نه بحث کوم شو. د تاشقند استاذ ے پدیو کټ ناست وو. هیڅ نه پوهیدو چه بحث په څه دومره گرم دے.

د وه ډلې ډورانده نه جوړې وې . موږ چې چا د ترکمانانو پر خلاف د کوکې چاوڼې بچاؤ کښې حصه اخستې جائز کنړلې وه . د تاشقند د تلوډپاره تیارشو او دویم تولې دانا طول د تلو خواته مشې ظاهر کړو د تیرشو و مصیبتونو په وجه د مهاجرینو ترمینځه دومره مینه او همدردي وه ، چې د دواړه ډلو نمایندګانو ډیوبل ډلې خیال ته سنه اوویه چې تاشقند ته د فوجي تربیت حاصلولو د پاره تلل اوانا طول ته تګ د واړه غزاده . یو د خوږ او مقدس وطن د پاره د آزادۍ هڅه ده . او دویم دیوبانې ظالم چې د انګرېز په امدادۍ پر ترکو حمله کړې ده مخالفت دی .

روسي دیرساعت په انتظار کښې نه وو . هغه ته زهر جواب ورکړې شوچې او ه دیرش کسان به تاشقند ته ځي . هغوی د تلو ډپاره انتظام په کار دی . او کمشنر د چاوڼې ته موخبر ورکړو چې د باقي اووه دیرش کسانو د پاره که حکومت په خپل خرچ دانا طول د پاره انتظام وکړې نو د هند انقلابي تولې به مشکور وي .

موږ څوکسه د دې بې حسابه عذابیدونکو روستو په دې نتیجه رسیدلي وو . چې په موږ د تولو نه روسۍ د خپل وطن د آزادۍ غزا فرض ده . او چې موږ آزاد شوبنو بیا په موږ د نورو مسلمانانو روڼوا امدادکول هم ضرور دي . د مزار شریف د انصاف دوزیر د باد د کار د سپاهي خبره زما د غوږونو نه وتله تاسو خپل وطن آزاد کړو چې د ترکو د امدادۍ پاره روان شوي ؟ د غسې د

سفر په دوران سره ورځ د ډیرو مهاجرینو مغزونه داخبره وکړه چه زمونږ دښمن انګریز دے . او ځکه مونږ دیو ملک نه بل ملک ته په تګ ورو .

سرم له سپږ ودک دی

د دے فیصلی نه وروسته نوره سره دنورو ملګرو باندې لاړم اود حجامت دپاره یوښه دکان ته ورا وختم . په کرسئ کښیناستم او په اشاره م ورته اووے چه ویښته راجوړکړه . نائے راته تک سپین خادر تاوکړو چه ویښته م په جامو نه پریوځی . او په قیچئ ئے د ږمنز په امداد خماد سره ویښتو نه کړچارا یستل شروع کړل . لا کړچار شروع شوا ولا نائے چغه کړه " اوهو " اوزه ئے دمتی نه اونیولم او د دکان نه ئے بهرا وویستلم . زه حیران شوم چه څه چل اوشو چه سپین خادر باندې م نظر پریوتو نو پرے باندے بیشماره سپږے کرځیدلی . ملګرے م هم خفه حیران اوکچه شو . زه بهر په مزکه کښینا ستم . نائے د قیچي اوږمنز په ځائے مشین راواخستو او بغیر خماد پوښتنې ئے سرکلول شروع کړل . لږ ساعت خماد سره ویښته چه څه رنګ بی حساب پرمزکه پراته وو . دغسی بی حسابه سپږے

غونډے اویو خوا بل خوا لکه د میږو روانی وے. موږ په چپه خلله
بیرته بارک ته راغلو خان راته ډیر سپک ښکاره شو.

ما چې کریوان کښې اوکتل نو خان راته ګنهګار ښکاره شو. د
ترکمانانو په بند کښې مخ لاس وینځل هم نه شو کیدلی اوکړکئ
ته درسیدو سره جنګ په وجه مورچې ته لاړو او ورسره ځماد
غوږ ونو درد شروع شو. د سیند د سفر په دوران کښې په بیړې
کښې دخان صفائی نا ممکنه وه. یو سفر وو اویل ځماد غوږ ونو
د درد په وجه نړه پسخت مصیبت کښې وم. چارجوے ته ما بنام
درسیدو سره موږ د لوبنے دلاسه بې کوره وو. اویا مودے دومره
اوخوړه چې ترسره په خان نه وو پوهه شوے.

کله چې نړه پر خان پوهه وے چې ما کښې دمره زیاتې
سپږنے شوے دے نو زه به دنانے دکان ته ووم تلی. یو ملګرے
دوو سره قیچي وے اوپه پرده کښې بیړه دوینټو او سپږونه خان خلاص
کړے وے.

دآمو د سیند غاړه

د ترمذ نه ترچارجوے اوبه د مزل دے. دواړو غاړو ته

سهسبز او شاداب وطن دے . قدم په قدم باغونه او کلی آباد دے . د
ترمذ نه ترچارجوئ مونږ اولیدل چه دغه یوه قبیله ترکمانان آباد
دے . بلکه دا قبیله نوره هم وراندے ترمرو، عشق آباد او بحیره
خضر پورے رسیدلی وه .

دریائے آمو پلن بهیږے او زمانی قدیم نه دے علاقی د
تگ راتگ او دا او به خورے ډیره ده . داسیدا افغانستان او سوویت
ترکستان ترمینځ حد فاصل دے .

دچارجوئ نه مونږ په درېیمه ورځ په مال کاډو کښی رخصت
شو، دچارجوئ سټیشن نه دوه کاډے بالمقابل ددوتر روانیږے
زمونږ دا وه دیرش کسانو ډوه ډبی یو مال کاډے سره ترلی شوے بخارا
اوتاشقند تلے دے اوډوه ډبی نورے هم د مهاجرو دگی بل
مال کاډے پورے ترلی شوے دے . چه مخ ئے بحیره خضر اوباکو دے
تلے دے . مهاجر هیڅ پرے داسی خفه نه وو، د مزگی غږ ختو د هغوے د
خلو نه خبره نه ختله . لږ ساعت کښی مونږ دیوبل د نظرونه غیب شو .

بخارا

خلور وگهنټو کښی مونږ دگرگان سټیشن ته اورسیدو دا

ستیشن دچارجوے تاشقند پہ لارہ جنکشن دے . بخارے تر ترے دریل څانگہ لارہ دہ . دگرگان نہ دو وکھنتو کښی موبن بخارے تہ اورسیدو . پہ پلیټ فارم اوریدو . چارچاپیرہ موکتل . دریل دلی اپوتہ پرتہ وے . ځایے پہ ځایے مرہ آسونہ پراتہ وو . ستیشن وران ویجارہ ښکاریدو . مزدوران اختہ وو صفائی ئے کولہ . فوجیان ئے پہ سر ولاړ وو . معلومہ شوہ چہ منشویکو کادے الوتی دے . کاډے کښی اسلحہ اوبارود وو . خکہ ترے دیر نقصان رسیدلی دے .

بخارا کښی موبن دوہ درے ورځی تیرے کړے . دښار ښہ چاپیرہ اوچت دیوالونہ دے . بنارښکلی اوکنجان آباد دے . کوڅی ئے تنکی تروشی دے . کاډے پکښی نہ شی کرځیدے . یا پیادہ اویا پہ آس سورہ بازار کښی گرځیدے شی .

د بخارا انقلاب

بخارا کښی دامیر حکومت وو . دراډہ مرک نہ روستو د دامیر اود بالشویکو ترمینځ یوہ معاہدہ شوے وہ . خو یہ دے دده اود بالشویکو تعلقات ښہ نہ وو . دده حکومت د پامیر نہ تر مرو پورے خورو . خو یہ چاوخت د بالشویکو قبضہ وہ .

امیر ته به خلقو جناب عالی وے ۔ دده حکومت غیر مشروط مطلق العنان وو ۔ د خلقو آواز نه شو اوریدے ۔ په ټول سلطنت کښی اخبار نه وو ۔ اوکه چرے به اجازه چاسره اوموندلی شوه نو بی مقدمی به دهغه بدنصیب انسان خاتمه اوکړے شوه ۔ دنوم دپاره هم پکښی اسمبلی یا کونسل نه وو ۔ نه پکښی قانون وو ۔ نه پکښی آئین وو ۔ نه د اپیل عدالت وو ۔ اونه هائے کورټ ۔ صرف جناب عالی او د هغه نامزد وزراء وو ۔ اودملک دیوسرنه تربله سره خائے په خائے حاکمان مقرر وو ۔ چه هغوے سره دوطن اودد یوانی اوفو- جداری مقدماتو د فیصلی کولو اختیارات وو ۔

د امیر په حکومت کښی حکومت برائے نام نافذ وو ۔ هریو حاکم به خپله قاضی وو ۔ اوهغه به تولی فیصلی د "شریعت" مطابق کولی ۔ خو اکثر فیصلی زبانی وے ۔ دنوے زمانی ضابطه دیوانی یا فوجداری دغه حکومت کښی په عمل کښی نه راوستلو خیال جدید توب وو ۔ حاکمانو د شریعت حرمت په خپله پریښی وو ۔ حکم چه حقیقت کښی د هغوے فیصلی د شریعت مطابق نه وے ۔ د هغوے به خوښه وے ۔ چرته رنگ به ئے زړه ووهسی به ئے کولی ۔

د جناب عالی د حکومت نظم ونسق سنبدنه وو ۔ فوج صرف بخارا کښی وو ۔ او هغه هم صرف د پایه تخت د بچ کولو دپاره وو تامی امداد غیر یقینی اوکمزورے وو ۔ ترکمان مشران د جدیدے خیالاتو برخلاف وو ۔ خوپه غټو غټو قصبو اوښارو کښی د عوامو

یوکافی تعداد د جناب عالی د حکومت برخلاف خیالات لری
دا میرجاګیردارا و سرمایه دار برخلاف منظم پروپګنډه
وه . غریب ترکمان هم دامیرد حکومت په تباهی خوشحاله وو .
زموږ درسید و بنځو ورځی ورپاندے بخارا کښی
انقلاب شوے وو . چه موږ وراورسید و نوحکومت باندے د
جدید یا نوقبضه وه . اوونیلی شول چه جناب عالی دانقلاب
اوچتید و په درهیمه شپه د پایه تخت نه تښتیدلی وو . دامیر ترکمانی
فوج ۲ ومبۍ شپه د جنګ په شروع کښی اوتښتید و . نو بخارا کښی
د شاه امان الله خان را استولی شوے درے نیم سوه افغانی عسکر
سره د توپخانی درے ورځی مقابله اوکړه اوبیائے وسله کیښوده . دے
انقلاب کښی ترکستانی بلشویکی عسکر د بخارا د انقلابیانو امداد کړے
وو او ځکه د جنګ فیصله زر شوے وه .

د بخارا تعلیمی حالات

موږ بخارا کښی لږے ورځی وو او ځکه پوره او صحیح
حالات درج کول گران کار دے . خو موږ د غه لږ وخت ښه
استعمال کړو . توله توله وخ ښار کښی گرځیدو . د ښار په مختلفو

محلو کښی مکتبونو کښی مودطالبانو او استادانو سره خبرے اوکړے
دا معلومه شوه چه تعلیم صرف بی معنو قرآن پاک لوستو پورے محدود
دو و. مدرسی قابل دید وے. عظیم الشان عمارتونه وو. خو
طالبان یکښی لږ وو. او تعلیم یکښی دَنشت برابر وو.

ځما په خیال مدرسی سوونه کاله وړاند ے جوړے شوے
دے. مشرق کښی بخارا د علم سرچشمه وه. او دد ے ځائے نه
دنیا کښی د علم رڼا خوره شوے وه. دا عمارت د هغی زمانی یو
یادگار دو. خو اوس یکښی څه وو. پرښتنه ئے مه کوه. د خفګان
نه به دے طبیعت خراب شی. بخارا کښی تیاره ده. کومه رڼا چه
دنیا ے روښانه کوله. د بخارا ښار اوس نه شی رڼا کولی. او ځکه
ے حکومت دنوے زمانی مقابلی ته درے وړځی او نه دریدے شو
او جناب عالی په کابل کښی پناه او مونده ویلی شی چه جناب عالے
داشرفو او سرونږ وډ خبسته تونه کچرے بار کړے په میرو میرو افغا-
نستان ته واړیدو. د بخارا حکومت د مینځنۍ زمانی نخښه وه
او دنوے زمانی مخکښی لکه د ګنګخ واوبهیده.

د بخارا علاقه کښی د تعلیم دپاره هیڅ محکمه نه وه. اونه
حکومت داخپل فرض ګنړلو چه په تعلیم څه خرڅ اوکړے. که بخارا
کښی څه تعلیم وو. نو هغه انفرادے کوششونو باندے مبنی وو.
د اسې عالمان شته چه هغوے په جماعتونو کښی طالبان ساتی او
تعلیم ورکوے. خو دا میرې په زمانه کښی دنوے زمانی معیارے تعلیم نه وو.

بخارا کښی صنعت د حرفت نشته برابر دے . نه وړے اونه لوے کارخانی شته . د تجارت د درآمد مے څخه اود ټولنی نورو ضروریات پورے محدود دے .

د انقلاب نخښه

د جناب عالی د محل سره چاپیره عمارات د ګولې بارے سره نړیدلی وو . مزدودان پرے اخته وو . هوارے کولو . صفا میدان ئے ترے جوړ کړو . شته شته وابنه ئے پکښی لګول . ښایسته ښایسته ګلونه ئے پکښی کرل . ځاے په ځاے پکښی ګملی کیښودلی . نوے حکومت د غه خلقو ته ترغیب ورکولو چه د ما زنهګرمے د ے پارک ته د هوا خورنے د پاره جمع کیږی . د بخارا ښار قلعه بند ګنجان آباد دے . یوه ورځ به ئے د اچار دیوارے ړنګولی شی . او اولس به تازه هوا ته اوځی .

نوے حکومت نوے وو . صرف د څو ورځو جوړشوے وو د هغوے . تعلیمی . صنعتی یا معاشرتی سکیمونو بابت مونږ هیڅ اونه لیدے شو .

نود نو بنارا و پیښور پرا چکا سودا کړ نو مونږ ستړے مشی

د پاره د اغلل . د موښ سره میلمستیا اوکړه او د بخارا د دوستی او ورورمبنی حالات یې راته بیان کړل . د جناب عالی د حکومت د دوی تعریف ته کولو . خو د جدید یا نوځمه خوشحال نه وو . نوی حکومت د سود اګرو د رخت ګدا مونه ضبط کړی وو . د عبدالرشید د دوښبار مشهور " سرای عبدالرشید " مواوکتله . د توپي یوه ګوله دی سرای کښې پریوتې وه . او نقصان یې څرګند ښکاریدو .

بخارا کښې د افغانستان سفیر سره ملاقات

بخارا کښې د افغانستان د خوانه عبدالهادی خان د سفیر په حیثیت سره موجود وو . هغوی په دیرې مهربانۍ سره موښ ځلور د کسانو ، اکبر ګوهر ، سلطان او ما ته د نامه د دوی د دعوت راکړو . د دوی دی نه روستو په مختلف مضامین خبرې اترې اوشوې . عبدالهادی خان موښ ته په خپل خپل کښې یا افغانستان د تلو د عوت راکړو . خو موښ د هغه شکریه اداکړه . او ورته مواوویل چه سویت موښ سره وعده لرو چه موښ ته به تاشقند کښې د هوایي جهاز ونو چلولو تربیت راکوی . عبدالهادی خان دا خبرې ترې ډیل اونکړو . خو دا خبرې

خوښه هم نه کړه. اوزړه مې خپه بدله کړه.

تاشقند

د اکتوبر د میاشت آخرۍ وړځې وې. چې موږ د تاشقند په عظیم الشان سټیشن کوز شو. د پنجاب ملګرو اووې چې تاشقند د لاهور د ریلوې سټیشن سره سیالي کوي. چې ترکومې زموږ نظر لکید ونو د ښکاریدې. په لږ ساعت کښې موږ د شکر (فټونو) کښې ناست د تاشقند د نوې ښار په پلمو پلنو کوڅو کښې روان وو. اوهند وسکي دوه ما د هند وستان کوز، کښې کوز شو.

تاشقند ته موږ د بخارا نه په دوه شپې او دوه وړځې کښې اورسیدو. اوږد مزل وو. لاره کښې ګاډي په لوبو لوبو میروتیر شو. خو بخارا او د تاشقند ترمینځ د سمرقند علاقه ډیره آباده وه. لاره کښې خو ځایه بید یا کښې ریل اودریدو. د ریلوې ملازمانو به د اوبو نه لرګي اووهل او اوبخن کښې به ئې لاندې وا. پول کاډ به ئې روان شو.

د تاشقند نوې ښار د زور ښار خو اکښې آباد دو. د انوی

بنا ډیر خوږ پروت دے . کورونه آزاد دیوبن نه جدا جدا پراته دے . هر کور سره باغیچه ده اوچا رچاپیره تړلے دومره دیوال دے چه کور خلق ډکوڼی نه نه بنکاږے . کورونه د موجوده زمانی په ډول جوړ دے . د بنا رهیڅ کښی یو خونډ نه وے باغ دے . هره کوڅه د دے باغ نه شروع کیږے . بوږ نوے سینما ګانی اوبنا ګونه اود خوشحالی ځایونه دے باغ غاړه وتړ پراته دے . وے کوڅی درے درے څلور څلور سوه فټه پلنی دے .

نږدې بنار د ایشیا دعامو نږدې بنارونو نمونه ده . د زاړه بنار کښی دانقلاب نه وړاندے نوے بنار کښی کوم سړو سیان اوسیدل او مسلمانان په زوړ بنار کښی وو . خو اوس د ترکستان د جمهوریت مرکز دے دفترونه فوجی سکولونه اونور اهم ځایونه نوے بنار کښی دے . اوپه دے دفترونو سکولونو او اهم ځایونو اوس ترک وآلدار دے اوځکه اوس په دغه بنا یسنه اوښکلو ماڼو نښی ترک اوسیږی .

هندوستانی انقلابی مشران

په تاشقند کښی د هندوستان انقلابیان دهوخوا نه را جمع شوے وو . د دوے درے پارټی وے . دیوے مشر ایم این

رائے ۔ د دویمی مشر عبدالرب مولنا اود دریمی مشر مولانا فضل حق وو ۔

ایم ۔ این ۔ رائے

دایو بنګالی انقلابی وو اود بالشویکو په نظر کښی د دوی پارټی درنه وه ۔ د هند وستان د پروپیګنډ ے ذمه وار ټ د هغه په سر وه ۔ او په ریفکم ټ د انقلابی جرګو کو ۔ کښی اوسیدلو ۔ ریفکم لونه عمارت وو ۔ د رائے سره یوبل هند وستانی انقلابی مکرجی هم د ے کښی اوسیدو ۔ د رائے سنځه دیر لویه قابله او انقلابی وه ۔ هغه امریکئی وه او دیوروپ په لاره د هند وستان د انقلابی خفیه کارونو د پاره د رائے سره دیره مدد کاره وه ۔

موږ څه کم یوکال په تاشقند کښی تیر کړو بیکم رائے به همیشه موږ نه هفته کښی یو د عوت راکولو ۔ د ے پوره ے کښی به رائے ضرور موجود وو ۔ او هغه به د غه وخت کښی عام ګپ ویشتو ۔ خو د ے کښی به هغه زموږ سره ځان واقف کولو ۔ موږ سره به ے د هند وستان انقلاب په حقله تبادله خیالات کول ۔ زموږ نه به ے زموږ د وطن قصی اوریدے ۔ د ے هفته وار ملا تاتونو کښی هغه موږ نه به هغی څیز تربیت راکولو کوشش کولو چه کوم موږ په یونیورسټی او جماعتونو کښی نه شو حاصلولی ۔ د رائے عمر د غه وخت د وه دیرش کاله وو ۔ د رنګه توره

سکانړو ونړے اوچت ځوان وو. دیورپ، امریکه دګرځیدونه پس کال ۱۹۲۰ کښې دے زمونږه دسویټ سرحدات کښې داخلیدو نه وړاندے ماسکو ته رسیدلی وو. روس ته دے رخت کښې د جرمنی نه د هندوستانی انقلابیانو یو ټولی چه د هغه مشر چټوپاډیه وو هم رسیدلی وو. او مولانا عبدالرب تاشقند کښې "هند - وستان کور" کښې وو.

دے وار ولو کښې بالشویکو رائے خوښ کړے وو. او ځکه چټوپاډیه سره د ملګرو خفه نا راضه بیرته جرمنی تللاړو. او څه موده پس مولانا عبدالرب هم خفه ترکیه ته چه هلته هغه وخت اندے هم اوسیدلی وو. ستون شو.

ایم. این. رائے د هندوستانی انقلابی تحریک چلولو دپاره ایکی یوانړے ذمه وار پاتی شو. بالشویکو ورته په سنه ستر ګه کتل. او هغه به قابلیت سره خپل فرایض پوره کول. ایم. این. رائے په سویټ کښې لوئے شخصیت لرلو.

د ایم. این. رائے څرونډ پیر دلچسپ دے. څومره چه دے د بالشویکو په نظر کښې لوړے سړے وو. په څه خاص وجوهاتو د ومره دهغوے د نظر نه پریوتو.

موږ چه بیرته هند ته راغلو. نو وامو وریدل چه ایم. این. رائے د روسی بو ډین سره چین ته استولی شوے دے. بو ډین، سفیر وو او رائے د انقلاب انچارج وو. دا نه ده معلومه چه

خرنګ انقلاب اوچت شو. خوکینتین اونور وچینی سبا سره ونو
کښی انقلاب شروع شو. هلته انقلاب نا کامیابه شو. بورډین
اونورګونه انقلابی اوعام چینیان د چیانګ کیشک دلاسه قتل شول
ایم. این. رای ددے نا کامیابی ذمه وار مشهور کړے شو. اوهغه
په مشکله خان د روس نه خان بچ اوویستو. اوهندوستان ته
ځے خان را اورسولو. دلته ده باندے مقدمه اوچلیده. دولس
کاله قید شو خو اپیل کښی شپږ کاله پاتی شو.

مولانا عبدالرب

د چتو پاویه د څرونډ نه زړه واقف نه یم. خود هندوستان
انقلابی تاریخ کی دهغه ذکر به ضرور وے. مولانا عبدالرب
مارروميئ حُل کابل کښی لیدلی وو. دده عمر به پنځوسو کالو ته
نږدے وو. مولانا د پیښور باشنده وو. دے په کال ۱۹۱۴ اول
جنګ عظیم کښی د بغداد انګریزے سفارت خانه پریښوه. اوترکو سره
یوځاے شو. په کال ۱۹۱۹ کښی جرمنیا نو یو وفد افغانستان نه د
فوهیشک په سرکردګی کښی د امیر حبیب الله خان په زمانه کښی
راالیږلی وو. وئیلی شی چه دے وفد کښی مولانا عبدالرب هم شامل
وو. مقصد ئے دا وو چه امیر حبیب الله خان د انګریز برخلاف
جنګ شروع کړے. د اوفد دایران په لاره دیر په کار او افغانستان
ته راغلی وو. خو خپل مقصد کښی کامیاب نه شو. فوهیشک مایوس

دپامیرد سطح مرتفع پرلاړه چین ته واوړیدو.

مولانا عبدالوب د امان الله خان په زمانه کښې زمونږ نه وړاندے روس تللے وو. هلته چه دهغه څه حال شوهغه وړاندے لیکلی دے.

مولانا فضل حق

زمونږ نه روستو د کابل نه دلسوا وچتو تعلیم یافته مهاجرو یو ټولی دهندوستان د آزادے په تلاش کښې د تاشقند په خیال د کابل نه راروان شوے وو. دوے مزار شریف ته راورسیدل نو وریته معلومه شوه چه وړاندینی قافله چه کومه کښې لیکونکی هم شامل وو. ترکمانانو بندیان کړے دے. په دے وجه دوے لاړه بدله کړه او د میمنې په لاره د سوویت یونین علاقې ته ورواوړیدل اوزمونږ نه وړاندے تاشقند ته اورسیدل.

دټولی کښې دچا رسیدے تحصیل د عمر زوعبدالاکبرخان مشهور انقلابي پښتون شاعر اودامرتسر اقبال شیدائے غوندې سړے وو. عبدالاکبرخان د اسلامیه کالج پیښور طالب علم وو او د وطن د آزادے د جذبې لاندے ئے کالج اووطن پریښې وو.

مونږ چه د تاشقند په ریلوے سټیشن کوزشو نو د اخلمی زمونږ د هرکلی دپاره سټیشن ته راغلی وو. اوزمونږ ترزړه راتله معلومه شوه چه عبدالاکبرخان بهم زمونږ په شان د ترکمانانو

په چنبه کښې راکیږ شوے وو . خو په خپل مرګ وسره ځے لاړه لږ کړه.
او د میعنی په اوږده لاړه سویټ یونین تر ډ داخلیدو په برکت د سخت
مصیبت نه بچ شول .

په دے ټولې کښې عبدالاکبرخان ځیرا د وړاندے نه واقف
وو . دده علمی قابلیت او انقلابی جذبه کالج کښې څرګنده وه . په
دے وجه نږه د هغه په لیدلو د یو خوشحال شوم . څو ږ ږ ږ نږه ما ته
معلومه شوه چه عبدالاکبرخان سره د اکثر ملګرو په شان
هندوستان نه لاړو .

ډډے ټولې مشر مولینا فضل حق دیر دلچسپ سړے وو په رایٔ
ځے دیر اثر غورځونکی وو . ډ ایم . این . رائے خیال وو . چه فضل حق
مخلص او ږښتونی سړے دے . او هغه قابل اعتبار انقلابی دے .
مولینا په عجیبه طریقه په رائے اثر غورځولی وو . اکثر خلق چه په چا
اثر غورځوے نو هغه کار کوے چه هغه سړے یوے خوشحالیږے .
ایم . این . رائے هندو وو او مذهب سره ځے دلچسپی نه وه .
مولانا چه د هغه کور کښې به مونځ کولو . نو نیمه نیمه کهنټه به په
سجده پروت وو . کله کله به ځے په سجدې کښې ژړا شروع کړه . ډ ایم
این . رائے داخیال وو . چه دا سړے دومره پوخ مسلمان دے نو
دے به ضرور د انګریز دښمن وے .

ایم . این . رائے خو ږ ږ ږ وه کرم نه وو . خو دین عجیبه دا
خبره ده چه عبدالاکبرخان چه دیر تعلیم یافته او قابل ځلمی وو .

او د مولانا سره د کابل نه تر تاشقنده اوبیرته بیا هم هم سفرون
او اقبال مشید ائے چه په خبرو کښې به ترے چا وار نه شو موندلی
او په چالاکۍ کښې ئے خان یکتا کړلو او د سره د کابل نه تر تاشقند
هم سفرون نه ئے و وپیژندلی . حقیقت به عبدالاکبرخان او د
هغه ملګرو ته معلومه وے ، خو ما او ویدلی دے چه ایم . این . رائے
مولانا ته کافی امداد ورکړے وو . او وعده ئے هم ورسره کړے وه
د مولینا لاړ په افغانستان وه . حکه د سفیر افغانستان نه هم داجازت
ضرورت وو . عبدالهادے خان دلاړے اجازت ورکړو .

ما ته چا خبره کوله چه مولینا چه عبدالهادے خان سره
ملاقات کولو او د ماښخوتخت شو . نو هلته ئے هم دنیمې کهنټې
سجدے شروع کړے . چه په سفیر اثر پریوتے . خو وائے چه عبد-
الهادے او ویل نه رائے نه یم : اګرچه ظاهره ئے د مولانا دیر عزت
اوکړو او د افغانستان په لاره ئے د تلو اجازت ورکړو .

وئیلی شی چه مولانا د دیرے وسلی او نقدے سره افغانستان
په لاره هندوستان ته راروان وو . د هرات نه قندهار ته راغلو .
هلته خو ورځې ایسار شو . د غرځاے کښې ئے یوه چهټی اولیکله
او د چا په لاس ئے کوټی ته استوله خپله کابل ته روان شو .
دے کابل ته اورسیدو او و رهسته ئے چهټی سره د سپرے او
نیولی شو . د کابل نه مولانا رخصت شوے وو . خو د قندهار
نه چه خبر کابل ته راورسیدو ، نو مولانا هندوستان ته په لاره

کرنثار شوا وپیرته کابل ته راستون کړئ شو. دد ے نه روستو د مولانا پته اونه لګیده. خو عام طور هره داخیال کیدلی شو چې مولانا به خامخا ے ته رسولی شوے وے.

تاشقند کښی

زمونږ د پاره د هوائی جهاز رونو مدرسه

د مولانا عبدالرب سره کابل کښی د سوویت یونین سفیر زمونږ مخکښی لوظ کړے وو چې که تعلیم یافته هند وستانیان خلمی تاشقند ته لاړشی نو سوویت به د هغوے د پاره د هوائی جهاز رونو د تربیت انتظام اوکړے. اوس تاشقند کښی دا مدرسه دنیا په هر دعمار توټو د کمی په وجه یو ماښتړے (د عیسا یانو تارک الدنیا خلقو د استوکنی او عبادت خانے) کښی جوړه شوه ماښتړے یو لویه پخه قلعه ده. دننه پکښی چار چاپیره داوسید و او عبادت خایونه وو. راهب او راهبانی به پکښی اوسیدلی. دوئے قسم خورلی دے چې موږ به واده نه کوو. خو دا خبره په دنیا واضحه ده چې دا تارک الدنیا راهبان په خپل قسم قایم نه شول پاتی کیدے او د معاشرے د پاره دا ماښتړے (خانقاه) دشرم باعث جوړے شوے وے. بالشویک د دا سو اړاد و برخلاف وو.

کوچی ئے بند ے کړے وے۔ اوړا هبان اوړا هبانی ئے تړے بهر شړلی وو۔

اول سړکښی موښ نهه مهاجړ دے مدرسی کښی داخل شو۔ خو مانستړے (کوچی) کښی د سکول جوګه ځائے نه وو۔ یو وړوکی دوه چتی عمارت دمانستړے میښ کښی خوښ کړے شو۔ او موښ هغی کښی دیړه شو۔

زموښ سړه صرف یواستاد هغه وخت دے مدرسی ته راغلی وو۔ د هغه نوم دڑان وو۔ موښ به وړله دانګرینے په طریقه جوښ نوم اخستو۔ دے میکینګ وو۔ د هوائے جهازونو په پُرزے پُرزے کولو اوبیا جوړولو ښه پوهیده۔

زموښ نوډے هوائے میدان نه وو۔ اونه زموښ سکول کښی هوائے جهاز وو۔ جوښ خپل موټرسایکل خان سړه راوړے وو۔ او په هومبی ورځ د سحر ناشتی نه روستو ے موښ تر آوازاوکړو۔ کلاس کمړه کښی موټرسائیکل پرزے پرزے پروت وو۔ جوښ موښ ته سبق شروع کړو۔ او موښ دیر په توجه د هغه تقریر ته غوږ اسینی وو۔ فدا علی د پینسل ملګرے تړے پوښتنه اوکړه:

"توارش جوښ! دا هوائے جهاز دے؟"

جوښ اوخندل۔ تندے اوکړلو:

نه دا هوائے جهاز نه دے۔ خو تاسو ته معلومه ده۔ چه

انقلاب کښی هرڅه کډ وډ شوے دے. چه کومی پوهے موټر تر
د هوائے جهاز مشین لاس تدنه راځی. پدے به ګذار کوو. دد ے
موټر او هوائے جهاز د موټر د کار کولو په طریقه کښی څه اصولی فرق
نه وے.

جوړ ښت چه خبره وخبرو کښی ځانته پیدا سی طریقه کښ ټلی
اوکړے چه ظاهره کښ ټلی سنکاریدے اوپه حقیقت کښی ټوټی ټوټی
وے. موټر اوخندیاړو. نه موټر او د جوړښت دا ډومبی وړځ وه
جوړښت دلچسپ سړے وو. دغه خبره ئے اونیوله اوتقریر ے جارے
ساتلو.

"داد انقلاب زمانه ده. هیڅ کار سم نه دے قایم شوے
خو انقلابی بیان خو د کار هره سړه کار سائی اوخکه ما تاسو نه بغیر د
انتظار نه کار هیڅ د ل شروع کړل. د تاشقند هوائے میدان سړه
نزدے مکان نشته. ډیټیا داده چه تول تاشقند کښی د سکول قابل
مکان نشته. کوم فوجی سکول کښی چه وړاندے یو لس وو هغی
کښی اوس څلور کسان دے. سکولونه سړ تر سره دلک دے. نه
حکومت نوے مکان جوړولی شی اونه تاسو نوے مکان کښینا ستے
شئ. اوخکه خو د را هبا نونکی کار فرقه د دے عمارت نه بهر
کړے شوه چه تاسو د پاره ځاے اوشی. او د هوائے جهاز په
ځاے ځما د موټر سایکل مشین ستاسو په خدمت کښی حاضر دے
دغه ما نسټرے د خانفاه کښی موټر لس پنځلس وړځی

ستیرے کړے خود موټر سائیکل د پرزو نه نړیاتی مشین موښ اونه
لیدو. کله کله به جوښ چرته چه تلونو د غه موټر سائیکل به ئے جوړ
کړو. اولابهٔ رود هغه په غیر موجودګئ کښی به موښ بی استاده
اوبی مشینه ناست وو. کتاب د هوائی جهاز د موښ سره یو
نه وو. موښ د جوښ غیر موجودګی ډیره محسوس کوله. چه ښه تر
به راغلو توتا به وے چه لکه سکول ته د ډیر استاد ان او هوائے جهاز
د موښ راا وسیدل. کلاس به بیا گرم شو. د تربیت دالو توخانګه.
او مکینیکل خانګه به یوځائے په یو کمره کښی دواړه ښودلی شو.
کمره کښی د کښینا ستو دپاره هم هیڅ نه وو. استاذ او شاګردان
به ولاړ وو. د جوښ تقریر موښ د ستړے کید و احساس نه نه
پریښو. موښ به تولو ورځ خندیدو. چه هغه به پوهه شو. چه د وے
ستړے شول. نو ګپ به ئے شروع کړو.

د سبق نه علاوه جوښ موښ سره یوځائے اوسیدو او
په یو میز ئے د ودے راسره خوړله. یوه شپه د موښ د اوده
کید لو کمره په انګیټو کښی اور مړ شو. د نو میز شپی وځی وے.
د اسی سارے او تیلو چه تول د خوبه راپاسیدو او چه تر کومی د
لاندے چهت انګیټی کښی بیا اور نه وو بل شوے. او موښ
کمرے کړی شوے نه وے تر هغی موښه اوده کیدلی نه شو.

جوښ د ګپ شپ ډیر شوقی وو. په خبره خبره به ئے
خاندته کښلی کوله موښ به ئے خندولو. بی پروا سړے وو. په

خویونو کښی انګریزے ګوره وو. اصل ردسی وو. خو عمرئی کښیدا کښی تیرکړے وو. اوځکه په انګریزے ښه پوهیدو. سم تامی وو. مضبوط سړے وو. شپږ فټه نه زیات اوچت وو. لویه مضبوطه سینه ئے وه. په وجود کښی نه دومره غټ وو او نه نزے خو عا مو خلقو کښی دیو شکاریدو ده به مونږ نهه واړه روان کړو او تاشقند کښی به ئے په مشهور و مشهور وځایونو کر وځولو چه کومه کوڅه کښی مونږ تیریدو نو خلق به راته تماشی ته او دریدل. زمونږ دیوکس نه ئے سره توکی توپتی اخیستی وه. چه مونږ سره به کرځیدو نو هغه به ئے په سر وه.

کله کله به روسیانو زمونږ نه پوښتنه اوکړه "تاسو څوک ئیی" ده به زه جواب ورکړو.

"مونږ هندوستانیان یو"

چه مونږ به بازار کښی روان وو. نو روسی ښځی به او دریدی او د جونږ په تماشه به شوے. د ده اوښی او ځوانی نر به ئے کنل او حیرانیدل.

د غسی مونږ لس پنځلس ورځی د تاشقند نه لږ ے بهر په ماسټرے (کرجه) کښی تیریدے. نه هوائے جهاز وو او نه بګیر د جونږ نه بل استاد وو. ماسټرے کښی د سکول څښتن هم نه وه.

هندی فوجی سکول

زمونږ مدرسه د تاشقند بنا رآباد ے کښی یو ئے مکان

تر اړبدله شوه . عمارت د زار روس دیولوے حاکم کورونو. چار-
چاپیره ترے لوے انګنړو. خود انقلاب په وجه خالی شوے وو.
اوزمونږ دسکول دپاره دماسترے نه ښه ځاے وو. دلته جونږ د
هرڅه مشر اومالک نه وو. یومسلمان کرنیل چه نوم ے احمد وو زمونږ
دسکول مشر شو. زمونږ دپاره په مقرر وخت به یو فوجی تربیت را-
کولنکی راتلو. اوپریږد به ے راباندے کولو. تول ملک په واور و
سپین پروت وو. اومونږ به فوجی ترینګ حاصلولو. احمد به
قوله ورځ کله دیوے مخی کله دبلی څخه نه څخه زمونږ دپاره راجمع کول.
اولږ وو ورځوکښی زمونږ دسکول فوجی شکل اختیار کړو.

مونږ تر نوے روسی توپک. واړه هوائے جهازونه مشین
ګنونه او طمانچی راکړے شوے وو. اوبود توپخانی کلاس هم خلاص
شو. چه هغی کی نولس مهاجرین داخل شو. بنی بخش یوبوسی تعلیم
یافته مهاجر چه مونږ پسی دویم تولګی کښی راسره سیدلی وو. هغه
هم زمونږ هولے کلاس کښی داخل شو. خود دسمبر میاشت مونږ
قوله سره د توپک اوطمانچی داستعمال زده کړه اوکړه .

په دے کښی احمد بدل شو اویو روسی بوډا کرنیل راغلو.
مونږ یوکم دیوښ کسان ے په دوه قطار ونو کښی اودرولو. کرنیل
بوډا وو. خو انګلی ے لکه دځلمو سړه وو. اوچه روان به وو ونوتا به
وے چه څوک لوے خبرے وان دے . مونږ یوبه ے د مترجم لوراته
به ے وے چه ستاسو رنګونه ولی ځیرپرد ے. مخو نوکښی موویښتنه

اویا پنه خپله به ئے جواب راکولو. سینه به ئے راواویستله:
"تاسو به زه داسی صحت مند کړم."
د کرښل اوږده اوږده بریت د مضبوط مخ سره دیر سمایسته سنکار ریدل. دده عمر د پنځوسو کالو نه کم نه وو.

زمونږ عام ژوند

دے سکول کښی اود دے وراندے هم مونږ ته حکومت خوراک اوجامه راکوله. اوپنځه زره روپیله مودمیاشتی تنخواه وه. زمونږ دے تعدیت ته ضرورت نه وو. حکه چه د ژوند ټول ضروریات عن قریب زمونږ اووچی میوے پورے مونږ ته په سکول کښی راکیدل شوی. دا روپیلونه به د کاغذ ے نوټونو په شکل وو. او زمونږ کمانډر عبدالرحیم به غونډ واخستل اونږدے بازار کښی به ئے یو هوټل کښی د پولا وو دپاره فرمایش اوکړو. په مقرروخت به مونږ ټوله تنخواه پنځه زره روپیله فی کس دیو پلیټ بدل کښی تله. د زاړه زمانه کښی پنځه زره روپیله داونیم سوه روپو برابر وو.

زمونږ جامی په سکول کښی ښی کړی وے. او اوږده اوږده ترکوډ و بوټان ئے راکړے وو. ترکستان کښی ترخی بی چینوچای څښلی شی. خو یا هم به مونږ ته لږ ے د چینو تیکی کله کله

راکیدلی شوے . دسحرچاے سره به موبن تر دوډے سره تازه
بیدانه دکچنی کوتی هومره اوبزده اوبزده انګورنے راکول . دتر-
کستان انګور دومره خوابره وے چه موبن به دَ چینو ضرورت
نه کنړلو اودا انګور به دومره زیات ووچه څومره به چا خوړلی
شول . نوره دوډے زموبن سبنه نه وه . خود انقلاب کسی چه کورم
ملک اوخوړے . نوهلته داهم لوئے غنیمت وو . غوښه به اکثره
دیره خواره وه . اوویلی به شول چه دافوجی زاړه آسونه دفوج دپاره
حلالوے شی . کنی ترکستان کښی غوښه موندل گران کار وو .

دترکستان اقتصادی حالات

دتاشقند بازار یخ وو . دآمدن تولی وسیلی دحکومت په
لاس کښی وے . اودتولوضروریا توپوره کول دحکومت په ذمه
وو . خوروپود کاندارو تنے د تجارت اجازت ورکړے وو او
خکه به موبن ته کله کله دعام خلقوسره هم دیوخاے کیدو موقعه
نه ملا ویده . خوموبن په ترکئ ژبه نه پوهیدو اوچه څرلږه لږه
موزده کړے وه دهغی برکت ووچه دهغوے سره به موتبادله
خیالات کولی شو . دَ دغی خلقونه موبن تدلږ ډیر حالات سبکاره کیدل .

دحکومت غټ تکلیف دغه ورځوکښی دا وو چه کاشتکارو وړسره تعاون نه کولو. حکومت ټول ذرایع آمدن مزکه اوکارخانی د قوم جایداد گرځولی وو. کاشتکار مزکه خپل جایداد نه گڼلو. او په دے وجه د حکومت سره تعاون نه کولو. غله حاصلول دحکومت د پاره گران شوے وو

حکومت د ډیرے مزکی خپل لاس کښی نیولی وے اوخپله ئے انتظام کولو. خو صفا معلومیدو چه حکومت کامیاب نه دے. ماچه څومره معلومه کړے وه اوچه څومره د حکومت پتی مالیدلی وو. نو پکښی مشین الات کم وو. د قیانوسی ایوے غویا نورا کښلی اوکاشتکار وو داکار په مینه نه کولو.

موږ تاشقند کښی د مالوچو د رخت کارخانی هم وخت په وخت کتلی اولیدلی. یوه کارخانه کښی هم مشین نه وو. بیشماره گډے اوښی شماره جولاه پکښی اخته وو. یوځل ما پوښتنه اوکړه چه سویټ روس کښی کارخانی شته خو دومره کمی دے چه د وطن ضروریات نشی پوره کولی اوبهر دنیا په موږ ضروریات د ژوند بند کړے دے. او د وطن د ننه کاشتکار تعاون نه کوے.

د بهر دنیا نه د تجارت بندیز دومره سخت وو. چه زموږ دوه دوبټن د خرمنی غوندے پریکړے تڼکړے وے. چه په ډیره سوړے کړے شوے وے. د جرنیل نه تر سپاهی د غه بټنی اچولی وے. بازار کښی د غه شونډ برش به د اسی ښکاریدو. لکه چه یو ناپوهه

ترکانو پرېښو جوړ کړے وے ۔ اوبې رنګه ئے بازار کښې خرڅوے ۔

ترکستان لنین اکیډیمي

دیوے نیمې میاشتې د ترینګ نه روستو موږ لینن اکیډیمي ته راښکل کړے شو ۔ دالویه فوجي مدرسه ده ۔ دے کښې هر قسم تربیت ورکیدے شي ۔ موږ ته ئے یو خوانه یوجدا عمارت راکړو ۔ دے کښې باقاعده درنده کړے کمرګے ۔ دا معلومیده لکه چه دے کښې وړاندے نه مدرسه وه ۔ اوس موږ دپاره ئے خالي کړے وه ۔

غالباً د جنورۍ شروع ورځې وے ۔ چه موږ دلته راغلو دراتلوسره سمدستي تربیت شروع کړے شو ۔ سحر وخته به موږ یوتانا راپرچه هغه ته به دورځې افسر ویلې شو ، پاسولو ۔ دهغه آواز مانه اوسه پورے یاد یږے ۔ هغه به سحر وختي دبارک په میږ راخلاص شو ۔ آوان به ئے اوکړو ۔

" اتهو رفیق ! اتهو رفیق ! "

د چاے نه وړاندے به موږ دپوړیدنه اوښکار شو ۔ اوبیا به جماعتونه کلاس شروع شو ۔ په دے کښې دالاندینی مضامین

سنودلی شو. او دهر مضمون د پاره د اکیدیمی استاذان به په خپل خپل وخت سره رسیدل.

۱ - د هوا حالت او په هغی کښی د جهاز چلول.

۲ - د هوائے جنگ نظریه.

۳ - فوتوگرافی او توپو گرافی.

٤ - د توپک، مشینگن پرزے پرزے کول او بیا ئے یوځاے کول.

۵ - د هوائے جهاز د مشین پرزے پرزے کول او بیا ے یوځاے کول.

٦ - قریب قریب رونړه د ما سپینین نه ر وستو تر ما بنام هوا ے میدان نه تلل او هلته د جهاز چلولو چل زده کول.

۷ - زمونږ ترینګ په انګریزے ژبه کښی وو. کوم استاد چه به په انګریزے نه پوهیدو. د هغه سره به ترجمان وو.

څرنګ چه ما ورانده ے ویلی دے. سخت سا ره وو. او څکه قواعد به هم اکثر په بارک کښی کیدو. کتابی زده کړه باند ے به زوره وو، له دکبله چه واوره هره ورځ پریوتر. دکمرے نه بهر د کار کولو شان نه وو. اوچه به هوائے میدان نه تلاړو. نو هلته به هم دچهت لاند ے د مشین کار راته سنودلی شو. لینن اکیدیمی کښی د څرمی د پاره پوخ انتظام وو. لوے لوے هال کمرے وے. او په کښی توپی او مشینګنونه پراته وو. چه موسم برخراب وو. نو بیا به نریات وخت د چهت د لاند ے تعلیم ئے راکولو.

د هوائے جهاز د الونو لو ترینګ دوه برخو کښی ویشلی شوی

وو.

ا ـ عملی .

ب ـ نظری .

عملی کارکښی د مشین زدهکړے به په هوائے میدان کښی کیدله د هوائے جهازموتر وته به ئے راکړل. هغه به موښ پوښے پوښے کول او پټرلوکښی به موصفا کړل. اوبیا هله به مویوځاے کړه. دا کارد یوګوان وو. اوهوائے میدان کښی زموښ دیر وخت پرے لګیدو خو زهتر زده درائے د هدایات مطابق د دے ګوان کار نه موښ خلاص شو. وجه داوه چه زموښ د پاره وطن ته زهتګ وو. لمدے کښله صرف دالوتلو ترېیننګ ته توله توجه شروع شوه.

د جونۍ وخت راغی. هغه میکینک وو. اوچه موښ به الوتلو میدان کښی به تیار ولاړ وو. اول به ئے جهاز اوکتلو اوبیا به ئے د الوتو اجازت ورکولو. د الوتو د پاره زموښ استاد شولمین وو. زموښ د ترېیننګ د پاره جهازکښی داستاد اوشاګرد بیل بیل ځاے وو. چه کومی پوښے مخکښی داستاد په لاس کښی وے هغه به زموښ لاس کښی ږدستوهم وے. اوکله کله به استاد موښ ته اختیار ورکړو نو موښ به په خپله جهاز چلولو.

موښ څلور پنځه میاشتی داستاد سره هوائے ترېیننګ حاصل کړو. خوبغیر د استاد موچړے هوائے جهاز نه وو خیژولی موښ دیر خوش نصیب ندوو. سویټ یونین اوانګرین پخپلو کښی

لوظنامه اوکړه انګرین وړه تجارتی تعلقات تازه کړل. او سویت یونین زمونږ هند وستانی دهوائے جهازونو مدرسه بنده کړه.

ځماسره یوه ورځ په هوا کښی عجیبه واقعه اوشوه. مونږ چه به جهاز کښی کښینا ستونو ملا به مو په پټۍ اوتړله. خودغه ورځ شو- لمین دیرګرم وو. چه نړه کښینا ستم. نو هغه جهاز روان کړو. ما ملا اونه تړله. جهاز پاس اوخت. څه ساعت دتاشقند دپاسه حسب معمول اوکړځیدو. اوبیا بیرته هوائے میدان دپاسه راواو- سیدو یکدم شولمین جهاز نهښکته کړو. نړه هوا کښی پاتی شوم. په لاسو کښی مې ستیرنګ مضبوط اونیوو. اوپه زور زور مې خان په خپل ځائے کښینولو. استاد اونه لیدم. خوجهاز دمزکی نه دیراوچت نه وو. نوجونټ چه دکونډیدو په وخت به دیر ویښ والا وو راماند ے کړه. ماته اوخان قټے کنځلی کولی. اووے به ئے چه نه خوش نصیب ئے چه بچ شوے. نن نه نه یقینی هوا بازشوے اونه به اوس په آسانه نه مړ ے.

اکبرخان غیب شو

یوه ورځ یکدم اکبرخان غیب شو. دسحو مونږ ه سره سکول کښی موجود وو. دغرمی دوده ئے هم مونږ سره اوخوړه.

د ما سپښین په وخت اکبر نه وو. یوه پوښتنه اوکړه "خان څرنګ
بل به جواب ورکړو، "زه نه یم خبر چرته به تلی وے" چې شپه
شوه زمونږ زړه کښې شک شو. د جونټ نه مو پوښتنه اوکړه
"اکبر خان ننشته؟"
جونټ دوارې اوښکې اوخونږلی اوپه حیرانتیا سره مونږ
ته اوکتل. اوبیا ئے اووے.
"کوږے اکبر خان سرمایه دار وو، چرته پولیس نه وے نیولی"
جونټ دیر ساعت خان قابو کښې اوسائلو. خود ما سخته
د معمول مطابق چه مونږ سره ناست وو. نوکپ ئے شروع کړو.
مونږ پوهه شو چه جونټ نه معلومه شوه چه اکبر کوم خاے دے.
اوحکه مونږه په قلاره شو پرے وطن کښې د ملګرو داسې غیبیدل
د افت نه خالی نه وے. خو بیا هم زمونږ دیرے وړځې پس پوخ
یقین راغی چه اکبر وطن ته تلی دے.
جونټ په دغه وړځ په کپ کښې د حد نه اوږدلی وو. پخبره
خبر وکښې ئے زمونږ نه پوښتنه اوکړه
"هندوستانیانو تاسولرے هندوستان نه څرنګ ترکستان
ته راغلئ یئ؟"
مونږ وړله جواب ورکړو.
"تاوه ش (رفیق)! مونږ هجرت کړے دے.
"ښه....." جونټ ساه اوږده کړه. بیا ئے سوال اوکړو.

"تاسو ولی هجرت کړے دے؟"

مونږ جواب ورکړو "د افغانستان اودانه مونږ انو جنګ وو. مونږ وطن پریښود وچه دانګریز برخلاف جنګ اوکړو. اوخپل خوږ وطن آزاد کړو.

"اوبیا د افغانستان نه څه رنګ تاشقند ته راغلی؟" جونز بیا پوښتنه اوکړه.

"توارش تاته پته نه ده چه یونیا نو په ترکو حمله کړے ده. مونږ چه اوکتل چه افغانستان جنګ نه کوے. نو مونږ د ترکو د امداد د پاره ایشیاے کوچک ته راروان شو."

"اوهو...! یو سولجرز آف کاد" تاسو د خدا ے سپاهیان یئ." مونږ خوشحال شو چه جونز اوستاینلو خوږ اخت وښه جونز بی پرواهئ سره اووے.

"اینډ سنز آف بچز" (د سپی زامنو)

مونږ حیران شو. کچه شو. او اکبرے ته راته هیر کړو. د جونز کنځلی چا په کنځلو نه اخیستی په خبره خبره به هغه وے.

"دیم می" (په ما دِ لعنت وے)

جونز بی غرضه. مجنتی. دیندار او خوش خلقه وو. زمونږ سره نے د ومره میندوه. چه تقریباً کال چه مونږ تاشقند کښی تیر کړے وو. دے زمونږ نه نه وو جدا شوے. مروسیان هغه تاجنبی سنکاریدو. د جونز د اخلاقو اثر زمونږ نه چا پیره شپول وو. که

جونټ نه وے بر په وړانوسر وو. لینن اکا دیمی کښی جینکی بابو۔ گانی وے. دجونټ خبر واړمانی وے خوجونټ نه ووکانړے وو.

خوش خلق دومره وو. چه داکبر د غیبید ونه څوورځی وړاندې هغه هروخت داکبر خوشحالود پاره کوشش کولو. د دے نه هم مونږ د انتبجه اوباسوچه جونټ داکبر وطن ته په ستنید و خبر وو. یوه ورځ جونټ ما بنام د ډ وودے نه ر وستو خپلی کمری نه زمونږ هال ته راغلو او دیو سیاسی مقرر په طریقه ے مونږ نخا۔ طب کړو.

"تاریش (ملګرو، هندوستانیانو! تاسوته معلومه ده چه تاسو کښی یوکس سرمایه دار دے خوښه مونږ ده چه سرمایه ے لوټ کړو.

مونږ چغی کړے "نړیے اوښایه!"

"کښینئ. کښینئ! فکر مه کوئے. اوګورئے."

جونټ په کړس کړس اوخندل او یولوے بوتل نه ئے داکبر بالښت د لاندے نه راواویستو. او ډیډو د بوتل نه ئے سرلوے کړو. پټلی ئے را واړولو. منګل ئے تړے د کړه. او په مونږ ئے او ویشله. د اکشش میوه وه. چه اکبر د خپلی بوځی نه لږه لږه بچ کړے وه. او بوتل کښی جمع کړے وه. جونټ په دومره جوش سره میوه ویشله لکه بالشویکو چه د سرمایه دارکارخانی اوجائیدادونه ضبط کول. زمونږ په کشمش کښی هیڅ دلچسپی نه وه. خود جونټ مونږه هم په جوش

کښی راوستو. او موښه دا اوښودله چه څنګه مزدورانو اوه هغانانو د سرمایه دارود جائیدادونو په ویش خوشحالی کړے وه. دغسی موښ داکبر په کشمش خوشحالی څرګنده کړه.

د اکبر د غیبید ونه راوستو موښ ته معلومه شوه چه جونز دا نخړے اودغسی نورے اکبر ته دهغه د الوداع ویلو دپاره کولی.

د جونز یو یهود نرۍ سره محبت

څه رنګ چه ماوړاندے ویلی دے. جونز د جینکو د مجلس نه پرهیز کولو. هغوے ته به ئے په نفرت سره کنل ورته به ئے رنګا رنګ ببونړے (بترفلائے) اخستو وے به ئے:

ځمانه دا شی کیدلی چه زه د دښځی نه راوستو روان یم او د دیر ادب نه دے وړپسی کوت او یم. او چه کوم وخت د هغی زهر وے. نو کوت د وراغونډم. ما ته د رنګا رنګ ببونړو (بترفلائے) نه کوکه راځی.

دے نه علاوه بله خبره داوه چه جونز د یهودیانو سخت برخلاف وو. خو هغه د خپل نصیب نه نه وو خبر چه هغه په یوے سنا یسته یهودے جینئ مین شو. اُف ..... جونز غریب دلید و

قابل وو. دیرید حال شوے وو. کومی خبرے به چه هغه بدے کنړلی. هغه تولی به هغه زمونږ په مخکښی کولی. دجینئی نوم ورځنبرګ وو. او مونږ به کله کله لیدل چی جونز به په خوشحالی ورځنبرګ ته کوټ اغوستلو او ورپسی به روان وو.

دجونز نصیب سنه وو. چه زمونږ د تاشقند په اخرے ورځو کښی هغه په ورځنبرګ مین شو. مونږ تاشقند نه رخصت شو. او بیا خبر نه شوچه جونز په خپل محبت کښی کامیاب شوا وکه نه؟

باکو

زه د ایشیا د حلمو باکو کانفرنس کښی شاملیږم

د کال ۱۹۲۱ د فروری په میاشت کښی د ایشیا د حلمو باکو شهر کښی کانفرنس وو. زه او مقصود علی شاه د چهان پور د هند د حلمو له خوا نه باکو کانفرنس ته لاړو. د سوویټ ترکستان نه دوه ترکه هلکان زمونږ سره ملګرے وو. دیونوم احمد وو. شیرین زبان او خوش اخلاقه هلک وو. دویم برهان علی او سخت طبیعته حلمے وو. مونږ څلور ملګرے اول دایم. این. رائے کورته لاړو. هغه د کانفرس په مقصد او اهمیت زمونږ سره نیمه ګهنته خبرے اوکړے.

او خپل موټر کښې یې ستیشن ته واستولو .

مونږ ډاک ګاډی کښے سوار شو . په درے شپے اودہ ورځے کښے د تاشقند نه د بحیرهٔ خضر په غاړه کراسنا وسک بندرګاه ته اورسیدو . د تاشقند نه ګاډے سمرقند ، بخارا ، مرو ، عشق آباد او جبل الطارات په لاره دا اوبرد مزل اوکړو . نږه په لاره نا جوړه شوم . اوکراسنا وُسک هسپتال کښے داخل شوم . په تولد لاره مزګه د واورے د نږورو تکه سپینه وه . د کراسنا وُسک کوم اود شیشی پرشان صفا هسپتال ، او د هسپتال د ډاکټرانو د نرس د مینے وک خدمت په دومیه ورځ د جهاز وخت ته جوړ شوم . پس دګاډی د تکلیف نه چې کوم الم ما د غږ هسپتال کښے اوموندو ، نږه به یې هیڅیری هیر نه کړم .

کراسنا وسک ته مونږ په جهاز کښے سوار شوا وځلیږشت ـ ګهنټو کښے باکو ته اورسیدو . د بندرګاه نه نږمونږ نا واقفه ځلمو اوجینکو په عزت سره داستوګنے ځای ته اورسولو .

دچارجوئے جدا شوی یارانو سره بیا ملاقات

د کانفرنس نه نږ یوه ورځ وړاندے رسید لے وم . شپه م په آرام تیره کړه . اوسحر وختی د نږ ویارانو نه ، کوم چه نږمونږ نه

چا رجوے کښی جدا شوے وو۔ وہ ملگرے نہ ما خامے تر اہ سیدے
وو۔ او بغیر د خہ انتظار نہ خپلو نہ ملگرو سرہ د هغوے کیمپ کښی
یو خامے شوم۔ ملگرے سپیرہ سخت مصیبت کښی وو۔ د دوے
خواهش د ترکیہ د تلو و و حکم ے هغوے پہ هغہ کیمپ اچولی وو۔
چہ د ترکو د امداد دپارہ ترکی جنگی قیدیان د سویټ د هرکټ نہ راجمع
کیدلی شوا و سرہ د سامانونو سامان او د اسلحی بہ ترکیہ تہ استولی شول۔

ملگرے مایوس ناست وو۔ خما پہ رسید و یکښی ساہ او غږیدہ
خما نہ را چا پیرہ شول۔ د سہ نہ تر آخرہ خپلی ستړے ے راتہ واورولے
د هرچا نہ کلہ منډ وو۔ هن د هغو ترکو نہ چہ د هغہ د امداد دپارہ انا طول
تہ تلی وو۔ او د هغہ ترکو نہ چہ کوم و سرہ هم سفر و د او یاد با کو
کیمپ کښی و سرہ وو۔ هم سخت خفہ وو۔

جامی معراج الدین پہ دیرہ درد ناکہ او مایوسہ لہجہ کښی اوے،
"سرورہ! موبن هر خہ او لیدل۔ غلام کہ هر خامے وے غلام
وے۔ بی عزتی ے کیږے او خوک و رتہ د سرہ پہ نظر نہ کوږے۔"

پہ مصطفی کمال پاشا د بم حملہ

بل ملگرے چنگیز ما تہ د خپل سفر مختصر قصہ او کړہ چہ خہ

رنگ هغوے انا طول تر لاړل. اوبیر تر راغلل. دا مها جرین دچار
جوړے نه نیغ باکو ته رسیدلی وو. اودد ے ځاے نه د تر کو تو پخانی
سره پیاده انا طول تر روان شوے وو. چنګیز اووے:

د قفقاز د ارض روم د غروبنو مزلی د افغانستان د غروبنو
آسانه نه دے. زمونږ شپی په واوره وکښی شوے دے. خو د اعدا
پریږده. چه اورسیدونو خبر ے چه مونږ سره څه سلوک اوشو، یو
ذلیل هند وستانی چه د وطن غدار وو. د انګریز ایجنټ وو. نوم
ے په ځان مصطفی صغیر ایښی وو. اودے ذلیل انسان د انګریز
په ویناد تر کو محبوب رهنما مصطفی کمال پاشاه د وژلو کوشش کړی
وو. دابد نصیب انسان زمونږ د رسیدونه وړاندے د خپل عمل
په وجه جهنم ته رسولی شوے وو. په داسی منحوس وخت کښی
مونږ انا طول تر اورسیدو چه هغوے خبر شول چه هند وستانیان
انا طول تر راغلی دے. اووایے چه مونږ د تر کو د امداد د پاره راغلی
یو نو مونږ ته ے جواب راکړو چه زمونږ د هند وستانیانو د امداد
نه توبه ده. مونږ ته د نفرت او حقارت په نظر سره کتل او حکم ے
راکړو چه په کومه لار راغلی یئ په هغی بیا پستنه ځئ."

روسره داوه زمونږ د زړه کونو میلونو د سفر نتیجه. دا وو زمونږ
د مصیبتونو انجام. یقین اوکړه زمونږ زړه پرک اوچود و. سمدې
ستی ستړے ستومانه د جنوب ے میاشت کښی مونږ بیا د قفقاز
د واوړو کو غروبنو په سفر روان شو. افسوس زمانه دومره

ړندہ د ۔ چہ مصطفی صغیر او مہا جرینو کښی څوک فرق نہ شی کولی؟

"بس دے روره! بس! دغہ کافی وہ۔" ماورتہ خواستاو۔ کړو۔ پہ ما د چنگیزد درد ناکی قصی د پیراتراوشو۔ خفہ شوم۔ پہ زړہ کښی مِ تیر شول:

"خدایہ ترکومہ بہ مونږ غلامان یو۔ او ترکومی بہ زمونږ پہ خونږ وطن د مصیبت وریځی کرځی۔ چرے بہ مونږ هم د دنیا د قومونو مخکښی پہ هسکہ غږے او وړیږو۔"

زہ بی حال وم۔ پہ خان پوهہ نہ شوم۔ د خفگان نہ مِ دُخلی نہ اوسویلی اوختو۔

"روره خفہ کیږے مہ" د حاجی معراج الدین دستر کونہ اونکی بهیدلی۔

"اوس بہ حاجی صاحب! تاسو خہ کوے۔" ماپہ دے پریشانۍ کښی ترے یوہ پوښتنہ اوکړہ۔

"اوس خوکہ مونږ پہ څہ صورت خپل خونږ وطن تہ بیرتہ لاړے نوښہ بہ وے۔" مهاجرو متفقہ خیال ظاهر کړو۔

"ستاسو د تولو یو، رائے دہ؟" ما خپل یقین خاص کولو د پاره بیا تپوس اوکړو۔

"نو څہ بہ کوو۔ بس دے مونږ خپل وس اوکړو۔ انسان پہ خپل وس پرے۔ نور چرته لاړ شو۔ بی د وطن د تلو نہ بلہ لاړہ وینو

یقین اوکړه ، د افغانستان غرونه مې یاد یږي . او وړې اړمانونه
کوو ، چې نکین او خندید وا ووے ویل

"موږ یوه رخواست د آذربایجان دجمهوریت صدر
ته ورکړے دے . چې موږ تاشقند ته خپلو هند وستانیانو ملګرو
ته تلل غواړو . ته کوشش اوکړه چې موږ ته زمونږ اجازت راکړے شی
او دلارے انتظام راته اوکړے شی . ښوره ! بیا موږ به یوا وزموږ
زړه لار ، بیا به مزار شریف وے . خان آباد . کابل او خپل خویږ وطن"

"دیره ښه ده ، دعا کوے چې موږ هم زړه تر زړه هوائے
کورس پوره کړو . او تاسو سره خپل وطن کښې د وطن
د آزادے دپاره ملا اوتړو . اوتاسو سره خپل وطن ته لاړشو
مهاجرو د زړه د اخلاصه "امین" آواز اوکړو او د عزیز
وطن د آزادے د پاره دعا اوغوښته .

د خلمو د کانفرس د سکرټر په امداد سره ما ته په هغه
ورځ د آذربایجان د جمهوریت د صدر سره د ملاقات
موقعه حاصله شوه . دایو سپین سړے مسلمانه ترکه وه . خما
ملاقات به ولې نه کیدلو . په سویټ کښې د هند وستان
نوم وو . اوبا کو کښې زه د هند وستان د خلمو نماینده وم .

دبا کو کانفرنس

په مشکله د ملګرو د کارنه نړه ترما شبا مه اونۍ کار شوم. صبا سحر لس بجې کانفرنس شروع شو. سویټ دوطن د دستور مطابق او دبالشویکی د اصولو مطابق پنځه کسان دیو صدر، په څای د صدارت په کرسو ناست وو. دے ته پریزیډیوم (Presideum)، ویلی شی. کانفرنس کښی څال څال جینکی نمایندګانی هم وے. او څای په څای د هلکانو په میز کښی ناستی وے. د سویټ ایشیا تولو جمهوریتونو نمایندګانی جینکی او هلکان په کښی موجود وو. د سویټ نه بهر د کوریا، چین، ایران، عرب، ترکو او مصر نمایندګان هم شامل وو.

کانفرنس دوه ورځی وو. کوم کوم [illegible] پرونه پکښی اوشو. آخر کښی یو تجویز پاس شو. چه تول ایشیا خلمو او جینکو ته پکښی دعوت ورکړے شوے وو. چه دیوروپ دایمپیریالیزم نه د ایشیا د آزادے دپاره جنګ کښی دزړه د اخلاصه حصه واخلی.

کانفرنس کښی دهندوستان د آزادے تحریک سره دلچسپی بی حده زیاته وه. د ایشیا د علامی سبب اکثر و مقررینو انګریز ے شهنشاهیت اوګرځولو. او غه وجه وه چه زمونږ خواته د کانفرنس

خاص توجه وه .

په دویمه ورځ چه کانفرنس خلاص شو نو د استقبالیه سکتره اوپریږدیو یوم غوږ ے رشیده خانم زموږ ځائے ته راغله او دمانیکړے سیل دپاره ے موږ ته بلنه راکړه . سیل په بحیرهٔ خضر کښی په موټر لانچ کښی تجویز شوے وو . ما مقصود ته اووے هغه خو یقینی تیار وو . اوولی به تیار نه وو . رشیده خانم خپله راغلی وه . دایشیا د حلسو کانفرنس مشره اوبیا دومره سنایسته وه اودهغی نه علاوه قدرت دومره دلکش آواز ورکړے وو . چه تشی خبرے ے هم نغمه وه .

موږ تخلو واړه نیغ دسمند رغاړے ته ورکوز شو . موټر لانچ تیار وو . احمد هم پکښی ناست وو . زموږ په لید و دیر خوشحال شو . په لانچ کښی پنځه کسان نور هم وو . یوه جینئ او یو هلک د کوریستان یو هلک اویوه جینئ د داغستان اویوایرانی وو . لانچ نیمه گهنته رو رو منزل اوکړو . اویوے وړے جزیرے ته اورسیدو . داجزیره په مشکله زر مربع گز وه . په شاندار طریقه جوړه شوے وه . اوزموږ د تولی د چاے څښلو دپاره موږ ون ځای وو . د چاے نه روستو بیا لانچ رو رو د جزیرے نه چاپیره په نورو وړو وړو جزیرو ے اوگرځولو . په دے سیل کښی چه څومره خوشحالی وه . د هغی اندازه د قلم لاندے راوستل گران کار دے د تفقاز خلفوته ایرانیا نو په خپل لتریچر کښی دښایسته

ACKU

ورکړے دے. بیا زمونږ غوندے مسافرو سره د قفقاز حسین سلوک
به مونږ ولی نه خوشحالولو.

حُما په دوه ویشت کالهٔ عمر کښې دا پومبی حُل ووچه ماته
معلومه شوه چه حُما ستر گو کښې یو خړ بخنه شته او دوه یا صفا شته
دے. رشیده خانم په خبرو کښې دا فرق حُما ستر گو کښې معلومه
کړو. دا فرق دومره لږ دے. چه نه ماته معلوم وو او نه ماته چرے
چا دَ دے ذکر کړے وو.

رشید. خانم زمونږ د خوشحالولو دَپاره به زمونږ سره د
هند وستان د حالاتو په حقله پوښتنې کولې. او په دے خبرواتو و
کښې حُما د ستر گو د فرق ہے اوکتلو. رشیده. خانم که دیره اوچته
جینې وه. خو بیا هم جینې وه. غلې ہے احمد ته اووئیل چه د هند
وستان تواریخ ستر گوته اوگوره. احمد ماته اووے او مونږ دره
واړه اوخندیدو.

دباکو بنار

باکو د اذربایجان د جمهوریت صدر مقام دے. او د بحیره
خضر غربی غاړے ته پروت دے. د بنار پلنوالی کم دے د او بو په غاړه

په میلونو اوږد جوړښتونه دي. قفقاز او ایران ترمینځ په دې لاره تجارت کیږي.

د باکو شهرت په تیلو دی. په دې موقعه خو موږ د تیلو کویان او نه لیدلی شول. خو خپله موده روستو د ماسکو نه چې وطن ته بیرته تلونو د کاډې د کوښې نه مو بیشماره کویان اولیدل. چې د باکو د بنار نه بهر په میلونو کښې خواره پراته دي.

د باکو د بنار په کوڅو کښې تیل پراته وو. د سمندر د پاسه تیل بهیدل. د بنار رنګ د تیلو په لوګي نه پېژندل کېدو. د تیلو اندازه دومره ډېره ده چې د تاشقند نه کاډې کښې د سفر په وخت په هر لوري ستیشن د تیلو اوږدونکي خاص کاډې لیدلې شي. چې لاهم تیل اوږي او لاهم خالي بیرته روان وي. د غسې حال د ماسکو نه تر باکو هم دی. سویټ روس په دې تیلو آباد دی.

باکو بنار کښې په ټرامي کښې په انګیټو کښې تیل بهیږي کارخانې په تیلو چلیږي. اخلي پخلي په تیلو کولې شي د نورو خشاک ضرورت نه پېښیږي.

قفقاز کښې درې جمهوریتونه دي. ګرجستان، آذربایجان او ارمنستان. آذربایجان نیم سویټ دی او نیم ایران کښې شامل دی. د سویټ صدر مقام خو باکو دی. چې د هغې ذکر مو کړی دی. د ایران د آذربایجان صدر مقام تبریز دی. د آذربایجان خلق ترک دي. په مذهب شیعه دي. ژبه یې ترکي ده. خو

د باکو د ترک نه علاوه آذربایجان د ترقی په لاره دیر روستو دے باکو د یورپ د ښه ښار د یو سره په ترقی کښی مقابله کولی شی . او په کښی بی حسابه کارخانی دے . هر پلو لوګی لوګی ښکاره ے . خلق ے تورسو توبنه (جامی) اغوندے سپینه جامه نه د ښځو نه د سر و په تن ډلی شی . خلق ے ښه تعلیم یافته دے . په ښار کښی هره کوڅه کښی ابتدائی سکولونه دے . او ځاے په ځاے پکښی لوے لوے کالجونه دے . باکو کښی د آذربایجان یونیورسټی ده .

دیو دوست . چې نوم ے عبدالکریم وو . او دے سکول کښی ے تعلیم حاصلولو . او د پیښور استوګن وو ، په برکت مایود توپخانی سکول اوکتلو . آذربایجانی ترک ځلمو پکښی تعلیم حاصلولو . د سکول مشر ځما په لیدو خو شحال شو . او د هند وستان د آزادی سره ے همدردے ښکاره کړه .

د سویټ د ناکه بندی اثر

تاشقند کښی هندوستانی هوایی مدرسه ښه شوه

مونږ تاشقند کښی لس میاشتی هند وستانی هوائے مدرسه کښی تربیت حاصل کړو . او امید مو لرلو چې مونږ به هوائے کورس پوره کړو . خو غلام چرچرتنی . د غلامی بد اثر

لکه د سوریے ویرپسی وے . نړیوبن خیال ووچه موبن به پـه
وخت د ضرورت دَ خپل خوبن وطن پکار شو. خو دا معلومه شوه ،
چه د انګرین ے ایمپیریالیزم لاس دیرلږے لږے ړهی . د سویټ
اود انګرین ترمینځ عهد نامه اوشوه چه سویټ دِ دَ ترکستان
هند وستانی هوا ے مدرسه بنده کړے او انګرین به ناکه بندی
او چیته کړے . اود دواړو ملکونو ترمینځ به تجارتی تعلقات تایم
شی . خو رنګ چه ما وړاندے ذکر کړے دے . د غه وخت بغیر د
جرمنی نه دد نیا یو صنعتی ملک د سویټ سره تجارت نه کولو. جرمنی
خپله د جنګ عظیم دلاسه چور چور وو. او روسی جهاز ونه د خپلے
ویرے د خپلو بندرونو نه بهر نه شو وتلی . دَ دے ناکه بندے
اثر په روس دومره سخت ووچه په یخ ژمی کښی رخت نه پیدا
کیدو روس کښی کارخانی د نشت برابر وے او ځکه خرڅی او
جوړا کا نو د ګډ ونه ے کار اخستو. بازار کښی د نړۍ وجامو قیمت
حیران کن وو. د قمیص د پاره بتنی موندے نه شو چمیا رانو
به څرمنی غوندے غوندے تکئ جوړے کړے وے . او په
رهنه ے پکښی د وه سوریے کړے وو. د غه به بس وه .

بازار کښی د غا ښونو برس نه پیدا کیدو. ترکانا نو به د
لرګی برش جوړ کړے وو. او په بی هنره طریقه به پکښی ویښته لګولی شوے
وو. او د رنګ د خوړے بی رنګه به بازار کښی پیدا وچته بیه خرڅیدل .
کمنزے به ترکانزو نو د هر قسم لرګی نه جوړ ولی او په بازار کښی

به په ښه قیمت خرڅیدلی . دکاشک په ځای دلرګی وړې وړې سمسۍ استعمالیدے .

سویټ ته په ورځنۍ کښی داسی وطن رسیدلی وو: چه کارخانی پکښی کمی وے . تردے چه میخ هم پکښی دومره کم وو. چه بوتانو کښی د میخونو په ځای دلرګی میخونه استعمالیدل .

ګډی جامی په ګډے جوړیدے .کوټ اوپتلون به ئے د چټرالی پتئ نه جوړشوے ښکاریدو .ډګدے جوړشوے ګرم رخت د وطن ضروریات دپاره کافی نه وو. ځکه ئے سپاهیانو د پاره دما. لوچو دل کوټونه اوبرجسونه فراهم کول . مختصر داچه دسویټ خلق دناکه بندئے دلاسه دیرتنګ شوے وو.

ایم .این .رائ راته نعم البدل پیش کړو

ځیردے تاسو به ماسکو ته لاړ شئ .لوئے سنا ردے . دتول سویټ صدر مقام دے .دلیدو قابل ځای دے . هلته دایشیاد دپاره یوه لویه یونیورسټی قایمه شوے ده . په هغی کښی به تاسو د وطن دآزادے دپاره سایینټفکټ تربیت حاصل کړئے یونیورسټی کښی هند وستانی سکشن کښی به تاسو داخل شـی دبرطانیه

فرانس، امریکه او استریلیا ستر ستر انقلابیان به تاسوته تعلیم درکوے. تاسو به قابل انقلابیان شی. اوکړئ خو ک تاسو کښی خامخا د هوائی جهازونو کوښس پوره کول غواړی. نو د ما سکو عظیم الشان هوائے اکیډیمئ کښی دے داخل شی.

ایم. این. رائے په دے طریقه زمونږ من منائے اوکړه او زمونږ خیال جمع شو.

تاشقند کښی فټبال

تاشقند کښی په ټرمی کښی دوه ګاډه واوړے پریوتی. چرته. بال به نه شوکیدلی. د واورو د ویلی کیدو سره هند وستانی فټبال ټیم مشق شروع کړو. زمونږ کپتان فقیر شاه نظیر د کوهاټ اوسید ونکی وو. او د مولانا عبد الرب د پارټی سړے وو. تعلیم یافته وو. د هوائے جهازونو مدرسه کښی زمونږ سبقی وو. د خپل وطن زمونږ نه وراندے په کال ۱۹۱۹ کښی پریښی وو. د فټبال سټډلو بغاړے وو.

زمونږ دیټم فل بیک زمونږ روسی باورچی وو. خو ډاخوش نصیبه وه. دویم فل بیک زه او لکیدم په قاروره د لاین کښی

بنې بخښنې قابل ذکر وو. بنې بخښنې د بنوں اوسید ونکی وو. د ده ذکر دے کتاب کښې ځاے په ځاے شوے دے.

موبنې به کله کله د تاشقند مختلف تیمونو سره میچونه کول. خو هغوے هم دومره د اعلیٰ پاے لوبغاړے نه وو. ترک مضبوط خلق دے. خو د دوے فټبال زموبنې نه ښه نه وو. یوتو زمنټ کښې موبنې فائنل ته اورسید و. فائنل لوبے تقریب وو. د ترکستان د جمهوریت صدر اوخپل نوځې افسران دے آخرے میچ تماشې ته راغلونکی وو. باورچي د عجیبه طبیعت سړے وو. چرګومه ورځ به د هغه ضروریات ضرورت وو. نو هغه به مرورشو. د غه ورځ باورچي صاحب لوبې دپاره تیار نه شو. د هغه په ځاے د غه ورځ یو روسی هلک ځماسره نل بیک اولګیدو. زموبنې خوش نصیبی وه چه زموبنې میچ په یو ګول اوګټلو. په خپل تقریر کښې صدر زموبنې د لوبې صفت اوکړو او د ترکستان اخبارونو په ډیرو صفحو زموبنې د میچ اوګټې ذکر اولیکلو. د تاشقند د میچ نه روستو زموبنې د تیم شهرت زیات شو.

تاشقند کښې زموبنې تفریح

موبنې په ماښام اکثر سینما یا تهیټر کښلو. زموبنې سره پیسې

نه وے ، خو په ټکټ پیسی نه لګیدے ټکټونه به موبن ته زموبن په واړه راکیدے شو. د سویټ تهیټر او سینما د پروپیګنډ وذریعه وه ، خو بیا هم دزړه دخوشحالئ سبنه سامان وو.

کله کله دلنین اکیډیمی کښی به ډرامی کیدلی. د اکیډیمی خپل ستاف کښی کافی خلق وو. چه هغوے سبنه فنکاران وو. دفټر کارکانی جینکی په دے فن کښی سبنی ماهرے وے . دا ډرامی به سبنی دلچسپی ړے اوځکه به سبنه وخت تیریدو .

اکیډیمی کښی به کله کله رقص وو. سړے او سنځی به یو ځاے غاړے په غاړے کړیدل . یوه شپه څه خاص خوشحالی په سلسله کښی د اکیډیمی په بورډ ونو په غټو الفاظو کښی لیکلی شوے وو. چه په دغه شپه به رقص وے . زموبن د اکیډیمی ټول ستاف په لوئے هال کښی جمع شوے وو. وار په وار به جوړے پاسیدے او مقرر وخت پورے به ګډیدے . روس کښی د تفقا ز ګډیدل دیر خوښیږی یو هلک او یوه جینئ دواړه په داسی طریقه ګډیدل کوے چه هغی کښی صفا معلومیږی ، چه هلک او جینئ اول سر کښی یوبل نه پیژنی . اتفاقیه یوبل اووینی ، هلک پجینئ یا جینئ په هلک مینه شی ، په ګډیدلو کښی ئے یوبل سره ملاقات اوشی . بیا جدا شی . آخر بیا یوځاے شی . د اتوله قصه کتونکی د ګډیدلو نه معلومولی شی . په څله دیو لفظ وئیلو ضرورت نه پیښیږی. کله کله یوکس هم ګډیږے دے ګډیدو کښی دلاسو

دحرکت په خاے د پښو حرکت نړیات دے . ږوسیان دا کډا اډیره خوښه وے . اوډا دهغوے خاص کډا ده .

دغه شپه په ټول رقص کښې یوه خاص دذکر قابله خبره وه . زمونږ ملګرو کښې عبدالکریم دکوهاټ ډیر ښه سهیے وو ښه ډیره ښے هم وه . اوزمونږ میښځ کښې ناست وو . زمونږ د هوائے جهاز ونو یوکپتان نوے واده کړے وو . او ښځه ے ډیره ښه ګډیده . دکډیدو په آخر کښې هغې خپل خاوند دلاسه نیولی مونږ پلورا غله . خاوند هغه را ونیوله اوپه عبدالکریم ږوښان ے ورا وغورزولو له عبدالکریم غیږ کښې اونیوله . دواړه ښه غاړه غټې شول . مونږ حیران شوچه عبدالکریم کوم خاے دا هنر زده کړو خوخو شحال شوچه مونږ کښې هم یوداسې کس ووچه دګډا په هنر پوهیدو حاضرین ډیر اوخندیدل . چه عبدالکریم سره دلوئے ښه ډیرے دکپتان د ښاوے ښځې سره ګډ شو . اوپه ګډیدو کښې دعبدالکریم ښه ډیره ښه چه په ناوے اولګیده . نوحاضرینو به لاسونه اوپرکول . عبدالکریم په دغه هنر دا کډیدې په دایره کښې هرډ لعزیز شو عبدالکریم په جنګ عظیم کښې انګریزے فوج سره فرانس تللا ږو . اوهغه وے چه ما ګډیدل په فرانس کښې زده کړے دے .

دتاشقند زوړ ښارته هم مونږه کله کله په خاصه موقعو تلو یوماښام ترک دوستانو مونږ زوړ ښارته بوتلو . دوړوکی اختر ورځ تیره شوے وه . شپې ته لوے تماشه وه . چارې

چاپیره دیر خلق په قالینونو ناست وو او مینځ کښې رباب، دولکی اوباجی د سازونو محکښې پرتې وے. په دیر موده پس دخپل وطن د تماشې په شان تماشه اوکتله.

په ترکئ موښ نه پوهیدو. خو څه ماته ګوده موښ نږدې کړے وه او څه د فارسی عربي الفاظ هم پکښې وو. حکه څه مات ګوډ مطلب ترے موښ اخستی شو. د سازونو محکښې یوسړے ګډیدو. د نوے تاشقند اوزګار تاشقند تر مینځ فاصله لږه وه. خو په خیالاتو او د ژوند په طریقو کښې ډیر څومره فرق وو. خبره داده چه نوے تاشقند کښې هم د سنځو آزادے روسیانو پوری محدوده وه. ترک سنځی دکوم نه بهر چا نه شوے لیدلی. سخته پرده ده کوله. نوے تاشقند کښې دا کوشش کیدو چه ترکانو کښې هم پرده لرے شی. سکولونو کالجونو کښې روزګار د غه تربیت ورکیدلی شو. خو روسیانو او ترکو سنځو کښې دومره فرق وو. لکه نه موښ وطن کښې چه انګریزانو او پښتنو کښې فرق دے. د روسی سنځی او انګریزے سنځی فرق کول ګران کار دے. جامه کښې دا وسیدو طریقو کښې ډیر فرق نشته. روسی معاشره (سوسایټی) د تهذیب په لحاظ سره د انګریزی معاشرے سره په ډیرو خبرو کښې یو رنګ ده.

د ترکستان د آزادۍ کلیز پریښود

د ترکستان د آزادے کلیز پریښود د اپریل په میاشت کښې په لویه پیمانه باندے د تاشقند په مرکزے باغ کښې منعقد شو. د ترکستان کمانډر انچیف (سالار عسکر) سلائی اخیستو په پریښود کښې چه نهوښ توپی د کمانډر مخکښې تیریدو نو هغه په زوره چغه کړه:

"د سدر سویټ تواړښتی اندوسکی"

(هندوستانی ملګرے زنده باد)

موښ د فوجی طریقې مطابق سلام اوکړو. اوبیا باغ کښې یوخوا ته اودریدو. چه په دے کښې دیوخوا نه د ماشومانو فوج راښکاره شو. د جینکو هلکانو شریک فوج وو. د شپږو کالونه تر دیارلس کالو پورے ترکستانی بچی وو.

دوے په سر سر تور وو. په پښو ے بی جرابو سپین تنے بوټان وو. بی لستونو او بینوښ اوجانګی ئی اغوستی وو. د هلکانو سرونه په انګریزے وضع جوړ وو. او د جینکو د سرونو ویښته په شالنده پریکړے شوے وو. هلکانو جانګی اغوستی

اودجانګو هرمړه دګو نخودک پرتوګونه اغوستی وو۔

"د ترکستان د مستقبل امید دَدے بچوسره وابسته دی" یوتوک هوائے طالب علم مانته په غوږ کښی اووے۔

"اوګورہ څومړه چست دے۔" ماورته جواب ورکړو: "دا بچی ښه تربیت حاصلوے۔ نارا ستی دَدوے نزدے نه شی راتلی۔ دوے چست ژوند تیروے۔ دوے لکه د عام ترکستا۔ نیانوچپن نه اغوندے۔ چپن دنارا ستی نخښه ده۔" توک هوا۔ ے طالب علم اووے،

"دوئے تر څه تعلیم ورکولی شی۔ اوداد کومی مدرسی طالبان دے؟ ماورته پوښتنه اوکړه۔

"دوئے تر څه خاص تعلیم نه شی ورکیدے۔ دوے عام ابتدائے مدرسو کښی تعلیم حاصلوے۔ استاذان دد وے د طبیعت اوذهانت هروخت جایزه اخلی۔ اودخپل مذاق مطابق هرچی بیلی بیلی مدرسی ته استولی شی۔ څوک چه د ډاکټر د پاره مونږ وے۔ طبیه مدرسی ته استولی شی۔ څوک چه د انجنیرنګ د پاره مونږ وے۔ نوهغی سکول ته لیږل کیږی اوڅوک چه د دفاع د پاره مونږ ګنړلی شی۔ نوهوائے یا پیاده فوجی مدرسے ته استولی شی۔" د هوائے جهازونو طالب علم مانته جواب راکړو۔

یوه ورځ مونږ د جونټ په رهبرے کښی د ترکستان

هوائے مدرسہ" کتلو دپارہ لارو۔ دے کښی پہ سوونو ماشومانو
وو. مشر استاد ئے راتہ اووے چہ دے مدرسہ کښی هغہ
هلکان اخیستی شی. چہ کوم دابتدائی مدرسو نہ فارغ شوی
وے. د ترکستان هوائے مدرسہ کښی دولس کالہ کښی مکمل.
هوابا نہ جوړیږی ے.

"د ولس کالہ کښی تاسو هلکانو تہ څہ نہ ده کړی ورکړے ے؟
موږ تہ ے پوښتنہ اوکړہ.

مشر استاد جواب راکړو،

"دولس کالہ کښی د سائنس او عام لیاقت تعلیم ورکیدے
شی. او پہ آخر و څو کالہ کښی هلک هوابا نہ ے هم نہ ده کړے. کوم
هلکان چہ د هوابا نہ ے دپارہ موږ ون نہ شی کنړلی. هغوئے
نورو کالجونو تہ لیږلی شی."

روس

د جون پہ میاشت کال ۱۹۲۱ء کښی زموږ هندوستانی
هوائے سکول بند شو. او موږ تہ د اکیډیمئ بلہ حصہ کښی
د استوګنی ځائے راکړے شو. زموږ ورځ پہ بیکارے پہ ګرانہ
تیریدلہ. د تقریر کولو مشق موشروع کړو. خو څو ورځی پس

دے شغل کښی هم نرمونږ دلچسپی کمه شوه . خوشی کړئید لو باندے هم تنګ شو اخر په شپارسم اګست دد ومیاشتو دانتظار نه روستو ماسکوته روان شو او په څلورمه ورځ دماسکو بیلوے سټیشن باندِ کوږ شو.

لویه لاره وه . لاره کښی مودرے شپی تیرے شوے . سفر دومره دلچسپ ووچه په ختمیدونے مونږ خفه وو . مونږ اولس کسان وو. یوه ډبه کښی سوار وو . دیر شو پورے نور مسافر هم دے ډبه کښی وو. دهرکس دپاره مقرر ځاے وو . لاندینی سیټ به دشپی کټ وو. اود ورځی به تړے دو کرسی اویو میز جوړیدے شو. مونږ سره دَلارے خوراک ډبل دودے ، کچ ، پنیر اونور څیزونه وو . دَچاے دپاره به په هر سټیشن یشیدلی اوبه تیارے وے . اوهرچا به بی قیمته اخستی شوے .

روس کښی لکه دنورو څیزونو د چاے سخت کمی دے . مونږ به دسیب چاے پکښی واچولی . اوبغیر د پئیو اوخوږ و به مو څښلی . ترکستان اوروس دپئیو اوخوږ ے چاے نه څښی . دوے د اوبو په ځاے چاے څښی . نرمونږ هم دیخنئ به وجه دغسی عادے شوے وو . نرمونږ وطن کښی چاے دیر اوچولی شی . هغه وطن کښی نرمونږ د وطن دیو پیالی چاے تولہ ورځ یوکس دپاره بس دے په روس کښی سماوار کښی اوبه یشیږے اویو وړکی چائنک کښی لږے چاے واچوے اوډ پاسه یشیدلی اوبه

واچوے : ددے چاینک نه پیالئ کښی یشیدلی اوبو کښی دوځلو
څاڅکی واچوے . دغه پیالئ بی خوبزو اوبی پئیو څښلی شی .

دتاشقند نه چه کاډے روان شوی نو د بل ستیشن نه
وړاندے وړاندے موبن خپلو کښی آشنایان شوے وو . روسیان
دتعارف په وخت کښی درسوما تو محتاج نه وے . هغوے خپلو مخکښے
اووائ ، رفیق ستړے مشی سفرا وبند دے . راشه چه دوستان
شو" په دے دواړه کسان جوړ تانه اوکړے . اودوستان شی .

ددودے په وخت به ے زموبن یوکس دوه په نورځان
سره کښینولو . په وطن کښی زموبن خیال وو . چه تعلیم یافته او مهذب
سړے صرف ست کوے . په نورځوک پاسول اوځان سره په
ډوډے کښینول زموبن په خیال دغیر تعلیمیافته کلی والو کار
دے . خوروس کښی تعلیم یافته اولوی لویو خلقو به هم پرست کښے
زوراستعمالولو .

کاډے دتاشقند نه دک روان شو . د حفاظت دپاره فوج
کارډ کاډے کښی متعین وو . اوهرے کښی یوخوانه دکماندانت
کمره وه . دغسی دے هرکاډے انتظام دپاره یومنتظم وو . هغه
تر بره ے کماندات وے . موبن زړپوهه شوچه زموبن سره دنورو
مسافرو د مینی محبت وجه داده چه سفر موبنه تیرشی . تولـه
ورځ په تاش او شطرنج تیره شوه دما ښختن ډوډے نه روستو
دکاډے دیوسړه سنا ړے شروع شوے هیڅوک مستثنی نه

وو. پلار، خوے، مور، لور وطنی اوسانفرهرکس په خپله ژبه کښی دسند ریکارډ تیرولو. مجلس گډوم شو. آخر کښی په دغه تنګ حالے کښی گډ یدل هم اوشو.

په کاډے کښی داسی خوشحالی وه. چه دومره به ځوک دخوشحالی په لویه موقعه هم خوشحال نه شی. سنبا یسته سنبا یسته جینکے چه بهر به ورځه دخبرو موقعه نه شوه حاصلیدے. کاډے کښی زمونږ بی تکلیفه وے. سند ره به ډیره وے. خوپه وخت به وے. ځان. ځانته به خبره نه وے. په وخت دډوډے به تولی دډوډے خوړه. اوپه وخت دلوبی به لوبی وے. ترماسکو هره شپه پس دماسختن ددوډے به تر ناوخته سند ره اوگډ یدل وو. زمونږ وطن کښی که څوک په سفر یا کور کښی هره شپه دماسختن دغسی مجلس شروع کړے. نو سوسایټی کښی به بدنام شی. بداخلاقه به اوګڼلی شی. خوروس کښی او تول یورپ کښی سفر کښی اوکور کښی دا ضروره خبره ګڼلی شی. چه دتولی وړتیا دمحنت نه روستو دماسختنو خه نه خه دخوشحالی انتظام ضروره دے.

د مصیبتونو دک سفر کښی ماپاخه زاړه سړے لیدلی دے چه هغوے دځان اودملګرو د خوشحالئ دپاره خه نه خه تماشه جوړه کړے. په داسی وخت کښی هرکس داخپل فرض ګڼړے چه ثابته کړے چه هغه خشک سړے نه دے. داسی تولی هم

مصیبت په خوشحالئ تیرولی شی .

موږ په دے سفر کښی تولہ ورځ شپه داسی مشغول وچه سټیشن به تلو او راتلو او تیریدو به نه موږ به ورته کله کله خیال وو. کا دے وو. په لویو لویو سټیشنونو به اودریدو. موږ دا نه وو محسوس کړے چه موږ په دومره اوږد سفر روان وو.

په ځنی ځنی سټیشن به ښځو په چاپو کښی دچاے د پاره مرغن خیژونه خرڅول . دد ے نه علاوه په سټیشنونو د دودے انتظام نه وو.

دتاشقند نه پس ذکر قابل دا وو چه جنکشن دے . د ے ځاے نه ریلونه سائبیریا ماسکو او تاشقند تلے . د دے سټیشن په رسیدو موږ د ایشیا نه یورپ ته واوړیدو دلته صفا فرق دے چه دریل نه کوږے واړه واړه کلی به دریل په غاړه ورته څوکنده ښکاړے . چه هغوے کښی ترتیب دے . په یو قطار کښی کورونه دے . دد ے برعکس د ایشیائی کلیو چه چا کوم ځاے او په کومه طریقه جوړ کړه نود هغه مرضی ده . د ترتیب ضرورت نه شی کښلے .

دریم لوے سټیشن کازان دتاتارستان صدر مقام وو دا ځاے دیوروپی روس دتاتارے مسلمانو د جمهوریت مرکز دے آخر په څلورمه ورځ مسکو ته اخوګنده شو. کدکا دے د ملکرو د جدایئے غم ترے لوے کړے نو په نړۍ کښی خوشحال شوا و فخر مو

محسوس کړو چې موږ ماسکو دلوئے ښار د کتلو موقعه اومونده.

ماسکو

د ستیشن نه ے موږ په موټر رونو کښې هوټل ډیلکس تر بوټلو روستو معلومه شوه چې دا هوټل ماسکو کښې په لوړو هوټلونو کښې شمار دے.

ماسکو د روس د بادشاهانو زړه صدر مقام دے. د بالشویکی کامیابی نه وړاندے پیټرګراد نومی ښار چې بحر بالتیک باندے لوئے بندرګاه هم دے. پایه تخت شوے وو. خو بالشویکو بیا مسکو صدر مقام کړو. اوددوے مشران دے ښار کښې کریملن مانړے کښې اوسیدل دوے دفاعی نقطه نظر نه دا ښار خوښ کړے وو. کنې دا ښار د دا سې لوے حکومت د صدر مقامی د پاره موزون نه وو. کوښې دے دنوے زمانې د ښارونو په شان وسیع نه دے. د ډیرو کې ښار دی اوخلق په وجه د مرکزیت ورله دیس را جمع شوے دے، خو محفوظ دے. د نړۍ دے شمیر نه دریم سوه میله لرے دے. پیټرګراډ په نوے د ډول ښار دے. خو د روس سمندر ے بیړۍ دے قابله نه ده چې مغربی طاقتونو

مقابله او کړے شی. نو بالشویکو څکه ماسکو د خپل وطن مرکز
خو ښ کړے دے.

"واستوچنی انیورسټیټ"

مشرقی یونیورسټی

نړۍ تو ټره مونږ د ډیلکس نړ د مشرقی یونیورسټی ها
ستلونو ته لاړو. دا یونیورسټی د سنا رپه مینځ کښی د ډیلکس
هوټل سره نږدے سویل خوا ته پوشکین مرکز کښی یولوے عمارت
کښی جوړه کړے شوے وه. نړمونږ داستوګنی عمارت د تیو رسکا.
یا الیټسټ (مرکز ے کوټی) نړ نمر خاته خوا ته وو. لوے سنا یښتہ او
درے چتی عمارت وو. مونږ په دریم چت اوسیدو.

څرنګ چه ما بل ځاے ذکر کړے دے. د تول سویټ وطن
نړ اتحادے ملکونو نا کړ بند ے کړے وه. روس کښی د هر شی کمی وو
د بهر د نیا سره د تجارت ورله سخت ضرورت وو. روس هر هغه
قدم اوچتولو کښی د ریغ نړ کولو چه په کوم باندے به برطانیه
ایمپیریالیزم خفه کیدو. او د روس په مخکښی به ے سد پیدا کولو
هندوستان د برطانیه د ایمپیریالیزم بنیاد دے. هر هغه خبره
چه هندوستان کښی د برطانیه برخلاف به پرے پروپیګنډه کیدله

برطانیه نړ خو بنولې . روس په دے خبره ښه پوهه وو. اوځکه زموږ د هند وستانیا نو ورته ضرورت وو . موږ ورله تیاره مصالحه لاس ته ورغلی وو. دتاشقند دهوائے جهاز و نو سکول بنده ول ورله دبرطانیه سره دتجارت موقعه ورکړه . اوس په ایشیا کښی د عهد نامی په وجه پروپیګنډه بنده شوے وه خو یورپ کښی هیڅ پابندے نه وه . ځکه زموږ د یورپ کتلو کښی نصیب وو. موږ د ایشیا نړ یورپ ته راغلو او اوس د ماسکو د ایشیائی دارالعلوم په لوی هال کمره کښی د انګریزے سامراج برخلاف د پروپیګنډ و کولو تربیت حاصلوو. انګریزے ایمپیریالیزم چه په رنګا رنګ لاړو د هند وستان او ایشیا په وجود لکه د جوړ واخته وو. موږ پرے د زمانی انقلابی استاد انو پوهه ولو .

یونیورسټی کښی زموږ سره د ایشیا د اکثرو قاموږ جینکو او هلکانو تعلیم حاصلولو. ترک ، ایرانیان ، چینیان ، کوریائی پکښی خو ډیر وو. د هر قوم د تنظیم بیل انتظام وو. زموږ تعلیم په انګریزے ژبه کښی وو. او هغه روسیان وو چه انګلستان او امریکی کښی ے عمر تیر کړے وو. اوپه انګریزے ښه پوهیدل . کله کله به ایم. این . رائے او مکرجی هم موږ ته سبق ښودلو. په نامه خو موږ ته مختلف مضامین ښیلی شول . خو په حقیقت کښی د تولو مقصد د انګریزے سامراج برخلاف د پروپیګنډ و د هغه موږ ته زده کړه راکولی شوه .

موبنز ته روسی ژبه هم ښودلی شوه . خو زموبنز خپل جمعیت کافی وو. په خپلو کښی به موبه هندوستانی کښی خبرے کولی . اوماسکو کښی موصرف څلور میاشتی تیرے کړے . ځکه روسی ژبه مونا مکمله پاتی شوه .

موبنز په یونیورسټی کښی اوولس (۱۷) هندوستانیان وو. شروع کښی زموبنز د تعلیم حاصلولو وخت دوه کاله مقرر شوی خو دا وخت بیا شپږ میاشتو ته راکم کړے شو. او آخر کښی مو څلور میاشتی په مشکله پوره کړے شوے . چه د خپل خوښ وطن په لورے روان شو.

زموبنز د تعلیم دا هم ضرور جزد مے ، چه کله کله به موبنز په ماسکو ښار کښی دلویو لویو صنعتی اداروا و کارخانو کتلو ته هم تلو. روس کښی کارخانی کمی وے . خو بیا هم ماسکو کښی درخت اودرېل دکا درونو او پایو جوړونکی کارخانی موبنز کتلی وے یوه بریښنا کور (بجلی گهر) چه تول ماسکو ته رنړا ورکوله ، موهم لیدلی وو. دا د ماسکو ښار د مزکی لاندے جوړو. یو ځل مود کریملن محل سیل هم کړے وو. او هغه کوټه موهم لیدلی وه چه کومه کښی پنولیئن به سملاستو. اوسپورے هغه کټ ، ور باندے بستره پرته دیا کار په طور ساتلی شی .

تولو کښی د لچسپه د ماسکو ارټ گیلرے (تصویرخانه) وه . د روس آرټسټانو د لاس کارونه دے تصویرخانه کښی محفوظ پراته دی.

دمسکو موسم

موبن په شپا پهسم آکست ماسکو ته رسیدلی وو. دژمی سره وو. واوره لاندوه پریوتے. خوکله کله به داسی وریځی راغلی اویخنی به پریوته چه د واورے د پریوتو امکان به راسنکاره شو. موبن د ماسکو کرمی نده لیدلی. خو آکست ئے داسی یخ وو لکه چه زموبن وطن کښی پوه ماه وے. بیا موبن د مسکو پوه ماه هم اولیدے. هلته شپی دومره یخی وے چه کله سره پکښی دشپی کوته کښی بی اوره پانی شی نوچه سحر شی. نولرگی به تړے جوړ شوے وے. موبن د خوانئ په شباب کښی نه وے نو مسکو کښی به عمر اکران شوے وو. زموبن جامه سبنه گرمه وه. خو بیا هم کله کله د منظر وینو د کتلو د پاره د وریځی په شین آسمان چه به گرځیدو. نو یخنی به او نیولو. چه د خان گرمولو د پاره مومنده وهله. کله کله به موبن ه خیال اوکړو چه کاش په ژمی کښی روس کښی راباندے شپه په بیدیا کښی راشی. نو به او بوبنیدو او او به رپیدو. خو موبن هلکان وو. د وران په سفر کښی روس کښی او قفقاز او ایران کښی دژمی د واوره سره په مینځ کښی موبن زړه پریباسلی نه وو. چه څومره به واوره زیاته وه. زموبن زړه په مضبوط وو. او زړه کښی به مسولیئ محسوسوله.

مسکو کښی د قومی خدمت جذبه

ماسکو کښی زمونږ هاستل (د استوکنی ځای) موکړے محله کښی دبانارپه غاړه وو. دیواتوارپه ورځ سحرچه مونږ پاسیدو. نړیوه خوږه نغمه اوبیندلو موترغوږ شو. دکهړکونه موس وینه وراووېستل څه کوردچه هلکانواوجینکولوے لوے جهنډے. اونخښی اوچتی کړے وے. اوډیولوے عظیم الشان جلوس مخکښی روانی وے. په جهنډواونخښولیکلی وو:

"پاسه ځلمیه! وطن ستاد خدمت محتاج دے."

"وران وطن آباد کړے."

"ځلمیه پاسه چه دښمن درنه چاپیرد ے."

د جذبې ډک نظمونه به جینکو هلکانوپه شریکیه په خوږ آواز ویل. اوجلوس به مخکښی روان وو. مونږ هم جلوس کښی ورننوتو لږ ساعت کښی دماسکو دښارهیوروان ستمیشن تهوراورسیدو. خانه جنګی کښی داستمیشن لوټی لوټی شوے وو. حکومت خاص سړے مقرر کړے وو. چه هغوے د رضا کارونه به ځائے په ځای په کار اخته شو. جلوس دسلوسلو په ټولو کښی ځائے په ځائے

په کار اخته شو. دانظاره د کتلو وه. سره د دے چه روس کښی
قحط سالی وه. خلقو پوره ډوډے نه موندله. خوکومه تعمیرے
جذبه چه رهنما کار واو ښودله. نوهغه دستاینې قابل وه. ترغوی
هر څیز بیل بیل دیرے جوړ کړے شو. جوړے خښتی بیلی، ماتی
بیلی، بیکاره مصالحه بیله. داوسپنی سامان بیل جمع کړے شو.
دغسی کله کله د چهتئ په وخ به قومی تعمیر د پاره بنځی
اونر شریک وتل. اود وهره په جذبه به برے خدمت کولو چه دغه
کار وینه کړه مزدورانو ته حواله کړے شوے وے. نو دیر خرڅ اووخت
به پرے لګید و. تول قوم دا ډیر اراده کړے وه چه وطن به آباد وو.
هغوے دانه ګنړله. چه دا صرف د حکومت فرض دے. چه ملک
به آباد وے. رهنما کار په اونکار وخت ملاتړ لی ولاړ وو چه بی
مزدورے اخستو خدمت اوکړے.

سوویټ روس کښی

دجسمانی ورزش مهم

ورزش په نارینه اونښانه د واړه وباندے فرض وو.
یوروپی روس کښی خلق عیسائی مذهب لرے. د مسلمانانو هم
پکښی یو معمولی اقلیت دے. خو هغو کښی هم پرده نشته هغوی

هم تعلیم یافته دے . تاتارستان خو یورپی روس کښی یو بیل جمهوریت دے . او اکثریت یکښی مسلمان دے . خو پرده یکښی نژدی لیدے . پر ظاهره مسلمان او عیسائی کښی فرق نشته . د دواړو قومونو لباس یک رنګ دے .

سرخ میدان کښی د تول سویټ د کلیزے مظاهرے حال بهدے دلچسپی نه خالی نه وے . زمونږ درسید و نه وه میاشتی مروستو دے مظاهرے موتعه وه . اول د سور لښکر مظاهره اوشوه . ورپسی د سویټ د مختلفو جمهوریتونو . د جینکو او هلکانو تولی راا ووتل . دوے کښی ترکمان . ازبک . قرغز . تاتار او د قفقاز سنا پیرے قابل ذکر دے . دوے تول مسلمانان وو . خو د دوے جسمانی ورزش دلید وقابل وو . جامے یے دخپل خپل وطن وه . د جینکو د صحت مظاهره دلید وقابله وه . دلس دولس جمهوریتونو حلمی اوپیغلی په یوځاے په قطار قطار کښی روانی وے . اول د جینکو قطار روا او ورپسی د هلکانو . دواړو د مرچست او چابک چم خلقی ورته حیرانی ولاړے وے .

زمونږ مشرقی پوښتنی کښی د جسمانی صحت دښه کولو خاص کوشښونه جاړے وو .

قحط

پهدیر سخت قحط وو . وجه یے غالباً داوه چه د روس

اقتصادی پالیسی سره زمینداره وتعاون نه کولو. اوځکه دغلے کاشت نه وو شوے. خود بهر ملکونو نه اتحادیانو غلی نه پرې سبنوده. ځکه دقحط اثر نهایت وو. اوددے نه علاوه باران هم نه وو شوے. او واوره کمی پریوتی وے. غله کمه پیدا شوے وه. موبن ته به ددره ورځو ودے یوځائے راکیدلی شوه. هغه به په مشکله دوه ورځی کیده. په دریمه ورځ به موبن اوبنے وو. خو سره ددے موبن نه مست وو. خوشحال وو. په لوبن نه پوهیدو. د ماهی شوربه دیره وه. دریمه ورځ به مود ماهی په شوربه تیره کړه. شوربه څه وه. لوئے دیگ به داوبو ډک وو. او ماهیان به په کښی روغ اوثابت پاخه وو. ماسکوته د پیټرګراد ماهی قحط سالئ کښی سند لاس ورکړے وو.

د سویټ نوی اقتصادی پالیسی

د کال ۱۹۱۷ ء دانقلاب نه روسته حکومت د پیداوار په تولو ذرایعو قبضه کړے وه. او د تولو خلقو د ضروریاتو پوره کولو ذمه ئے اخیستی وه. خو کال ۱۹۲۱ ء کښی ناڅاپه اعلان اوشو چه هرهغه به د خپل ځان پخپله ذمه وار وے. د حکومت ذمه

وارے ختمه شوه . په دے اعلان په وطن کښی بیکارے پیدا شوه .
او ورسره قولی خرابیانی راخرگندے شوے چه دبیکارے سره لانمی
دے . ددے اعلان نه وراندے په روس کښی چکلے نه وے . په
بیعه چاخوک نه شواخستی . نه چاخان خرڅولو . خود اعلان سره
ترماښامه په بازارونو کښی خرگنده سوداکیده اودسرمایه دارے
لعنت راښکاره شو .

په قوله معذب دنیا کښی دبد اخلاقی مرکز ونه
قائم دے . صرف انگلستان ، فرانس ، امریکه اونورپورپی
ملکونه پدے لعنت بدنام نه دے . بلکه ایشیائی ملکونه ایران
جاپان . هندوستان کښی سربازار زنانه عصمت فروشی کوے
زنانه دمستئ نه کوے . خود روس نوے اقتصادے پالیسئ نه ثابته
شوه چه زنانه عصمت فروشی دمجبورے نه کوے .

دنوے اقتصادے پالیسئ نه وطن ته دیرے فائدے
هم اورسیدے . تجارت پکښی بیا شروع شو . دخوراک
څښاک دخیزونو نوخونه زرتر زره راپریوتل . خلقو
خان خان له دصنعت وحرفت وړے وړے کارخانی
روانی کړے . زمیندارودپټوکر شروع کړاوپه
لږه موده کښی غله مندیوته راووته .

مسکو کښې زمونږ آخرۍ ورځې

د یوملګرې د خپلې خلې د یو بیان ټکۍ په ټکۍ نقل د دلوستونکو د دلچسپۍ د پاره لیکم د دے نه د ما سکو د خلقو او زمونږ د تړاوند څه حال باندے به رنړا پریوځي :

"یونیورسټۍ کښې د رامه کتل او د را موکښې حصه اخستل هم زمونږ د تعلیم ضرورې جزوو. د رامه اکثره د شپې کیده. جینکو او هلکا نو به پکښې حصه اخسته. خو مونږ خلق به کم د د را موکتلو تر تلو. یوه ورځ مونږ تر بیګم را ے د یلکس هوټل کښې چې مونږ حسب معمول د عوت خوړو کښې مشغول وو، سخت پیغور راکړو.

"تاسو هند وستانیان روستو پاتې شوے خلق یئ. ستاسو غلامانه ذهنیت د ے آزاد وطن هم سم نکړے شو."

مونږ حیران د بیګم را ے خلې تر کتل، او پوښتنه مو تړے او کړه چې څه وجه ده چې تاسو مره سخت ګیره ے "هغې اووے چې "د یونیورسټۍ جینکو خپلو استادانو او چانسلر کا مریډ را ے تر شکایت کړے دے چې هند وستانیانو طلباؤ ذهنیت

بورجوازیے[1] (سرمایہ دارانہ) دے ۔ دوے دجینکو سرہ خبرے اتوے اوناستی پاستی نہ پرھیز کوے ۔ دوے دوا موکتلو تہ ھم نہ راغی ۔"

مونږ ترائے تہ اوکتل اوخپلو کښی مویوبل تہ اوکتل ۱۰ و کچرشو ۔

یوملگرے غلی غوندے اووے ۔" اوھو! مونږ تہ بورجوازی اوونیلی شول ۔"

"ھوکنہ دورہ! مونږ ھغسی زړہ خیالات پریښی نہ دے ۔" بل جواب ورکړو ۔ آخر زہ پاسیدم اوما دتولو لہ طرفہ اووے ،

"کامریډ بیګم رائے ! مونږ دیر افسوس کوو ۔ چہ زمونږ پہ وجہ تاتہ دھغی صدمہ اورسیدہ ۔ تہ مونږ پیژنی ۔ مونږ دیو کال نہ زیات تاسرہ یو ۔ زمونږ ذھنیت ھم تاتہ معلوم دے ۔ چہ بورجوازیے اوسرمایہ دارانہ نہ دے ۔ اومونږ کہ دیونیورسټئ دجینکو دطرفہ بی اعتنائی کړے دہ ۔ نو دے وجہ صرف زمونږ دمطالبی نہ نا اوزکارتیادہ ۔ زمونږ یونیورسټئ کښی اوس لږہ موده پاتی دہ ۔ اوتوارش مکړجی اونور پروفیسران پہ سختئ سرہ زمونږ نہ کار غواړی نوځکہ مونږ دا موکتلو تہ اونکار نہ یو ۔ اوځکہ جینکی زمونږ نہ ګلہ کوی ۔"

پہ دے کښی رائے خما دخلی نہ خبرہ واخستہ" ھوجینکو سرہ ستړے مشی اوددوخبرو تہ ھم تاسو نہ اونکاریزے حقیقت

---

[1] پہ روس کښی بورجوازیے کنخلی دے ۔

دادے چہ تاسو خان نہ تعلیم یافتہ وایئ ۔ اونور څوک تاسو تہ هیڅ نہ شکارے ۔ تاسو سرمایہ دارانہ فضا کښی لوئے شوے یئ ۔"

"اوما ګلہ امتحان کښی سختی کړے دہ ۔" مکرجی هم په ماد بکړاوکړہ مسز رائے دیرہ همدردہ ښکښ وہ هغہ اوخندیدہ ۔

"بس کړے کامریډ! سلیم سنہ هلک دے (ماسکو کښی حما نوم سلیم وو) دے پوهشو ۔ دے بہ اوس داکمئ پوره کړے ۔ او تاسو نور وملګرو! تاسو هم پوهشوے تعلیم صرف کتابونو لو ۔ ستلو باندے نہ حاصلیږے په کار دے چہ تاسو خپل خیالات ۔ درست کړے ۔ دا زمونږ دقیانوسی اوپریوتی خیالات اوغورځوئ ۔ دیونیورسټی نہ تاسو فایدہ وانہ خستہ ۔ په کار دے چہ تاسو د نورو قوموتو موجودہ نزدیکت نہ فایدہ واخلی ۔ هغوے سره تبادلہ خیالات کوئے ۔ چہ د هغوئے ښې خبرے تاسو اختیار کړے او هغوئے هم ستاسو د ملاقات نہ فائدہ واخلی ۔ کوږے تاسو چہ هند و ستان تہ د غه زمونږ خیالات بیرتہ یوسئ ۔ نو تاسو دَدے سفر بہ وطن تہ څہ فائدہ اورسوے ۔"

ایم ۔ این ۔ رائے دیرے خبرے اوکړے او هغہ زمونږ تسلی اوکړہ چہ کہ تاسو ښځو د سوسائټی نہ پوهیږ کوئے ۔ نو تاسو خپلی قوم پرستئ اوحب الوطنی کښی بہ دیر کمی پریږدئے ۔ د ښځو او د سړو په مشترکہ اوبڑہ په اوبڑہ کوششونو په برکت بہ مستقبل ۔ روښانہ کیږے ۔ کنی یادلرے چہ ستاسو قوم بہ تل د جهل په

په تیاره کښی پروت وے.

موږ باندے ډیر اثر اوشو. او دخپل استوګنی ځای ته چې راغلو نو په اتفاق سره دا فیصله اوکړه چې د دې امه به نه خطا کوو او د جینکو د سوسائټی نه به پرهیز نه کوو.

په دومبی فرصت موږ د ماښام د ډرامې ټکټ لاړو. هر خوانه ستر ګی په موږ ښغلی وے. خو موږ ساعت کښی د جینکو او هلکانو سره ګډ وډ ناست وو. او په مجلس کښی ښه وو. آخر موږ څه نو وارد نه وو. موږ د آزادے هوا د یو کال نه زیاته خوړلی وه. خو هغتیا خبره داده، چې د خت لږ وو نو موږ شوق سره د تعلیم نه فارغ شوا و وطن ته بیرته اوړسوا و د وطن د آزادۍ په تحریک کښی حصه واخلو.

آنیا اِسایان

څو ورځو کښی ځما خبرے اترے د یونیورسټۍ یوے طالبې چې د ارمنستان اوسیدونکی وه، سره پیدا شوې او هغې توجه هم ځما خواته وړځ په وړځ زیاتیده. موږ خپلو ملګرو به دیوبل سره ټوقی کوله.

"مجیده! یار ته خو په مرګ ریت دا سی ګوم شوے چه اوس هډ وسنکار ے نه."

هو یار! څه به او وایم. خو مرګ ریت چه او نه وینم نو ساعت را باندے نه تیریږے. او ته خو د اسایان خوانه پریږدے."

ما او خندل. مجید دلا هور وو. او په ښه سړے وو. او مونږ به کله کله تر څو تقالی کولی.

"خو ګوره یار خیال کوه چه چیرته ګیر نه شی. وطن ته د ستنید وخت دے بیا به خفه ے." ما ورته ویوه ورځ او وے.

"نه وے ... زه د اسی نه یم. خو ته خیال ساته په تا وږم" مجید په خندا کښی جواب راکړو. زه هم او خندیدلم. د غسی په په ټوقه تقالو به وخت تیریدلو.

سهار وچه خو مره وطن ته د ستنید و وخت را نزدے کید و د و مره ځمامینه د اسایان سره نه یا تیدله. او په لږو ورځو کښی زه په ځان پوهه شوم. په سوچ کښی پریوتم، چه څه به کیږے. که د وطن د تلو سوال را پیدا شی نو څه به کوم؟ څه به وایم؟ چه تیار یم ځم که نه ځم، که وایم چه نه ځم. نو ملګرے به څه وایئے. د وطن کشش نه یات وو. خو د اسایان کشش تږے کم نه وو. ولی زړه به ما فیصله او کړه چه کله د تګ وخت راشی نو بیا به کتی شی اوس خو که زه د اسایان د دیدار نه زړه صبر وُم. نو نه صبر یږی. نو هسی ځان څه خفه کوم.

آسیایان ډرامه کښې ډهیروئن حصه اخلی

نهه نړه یونیورسټی نه اعلان اوشوچه د کال ۱۹۱۷ء
د انقلاب ډرامه به یونیورسټی کلب کښې کیږی. وړه وا -
معلومه شوه اسیایان به د ډرامې هیروئن[1] وی. ما وخټی
خان تیار کړو او غوښتل می چه نړه د ډرامې هال ته خان اورسوم
چه دستیج سره نږدې کښینم چه اسیایان د نږدې نه اووینم
ما چه تیار ړے کوله نو د چاپیره را باندې آواز ونه شروع شول
"سلیم ننه چرته تیار ړے کوے."
"کوم پلوځی."
"ننه به سلیم جوړ بالشویکی تهیټر کتو ته ځی." بل پکښې
اوخندل او په چغه ړے اووئیل:
"ننه د انقلاب د ډرامه د یونیورسټی په سټیج به کیږی.
او اسیایان به پکښې لوبی کوے."
د دوی نه زه کله خلاصیدے شوم. اوبهنتیا خبره داده.
چه هو ملګرو ته وړه بایللی وو. د چا معشوقی به په ډرامه کښې
اداکاړے وے. او څوک به وړته د کتلو د پاره ناست وو. بهرحال
هر ملګرے خوشحال وو. او د تماشی تلو ته تیار وو.

---

[1] هیرو یا هیروین هغه سړے یا ښځه وے چه د ډرامه کښې مرکزی حیثیت لری.

اِسایانو دغه وړځ بی حسابه سنبایسته وه . دومره سنبایسته وه چه حُما انقلابی جذبه دَویرے حُما د زړه په پناه کوتو نو کښی پته شوے وه . صرف داسایان مینړو ، چه حُما مازغه ئی یه تابو کښی وو . حُما توجه یه تولو تماشه کښی دیوسیکنډ دپاره هم داسایان د بل پلوه وه شوے . په دغه شپه حُما مینه کمال ته رسیدلی وه . توله شپه ویخ وم . اواسایان می د خیالانو د تله . او څرنګ به وتی وه . چه اسیان څومره سنبه جینئ وه کوره : چه هغه بل عاشق ، توارش کمیسار چه یوه هفته وړاندے راغلی واو دیونیورسټی هال کښی ئے ورته منت اوکړو : چه زه یو منټ تاسره خبرے کول غواړم . نو هغی ورته څرنګ سنبه جواب ورکړو :

"اوس ماسره توارش "سلیم ناست دے . موبږ څخه خبرے کوو . افسوس دے چه داوخت زه تاسره خبرے نه شم کولی ."

"اوهوبره ! څومره سنبه جینئ ده ." هغه بله وړځ چه کشر روړے یونیورسټی هال ته راورسید و . نو څرنګ مزه ئے کوله چه هغه ما نه اووے :

"توارش سلیم ! آنیا اوس راځی . هغی وے چه توارش سلیم نه اووایه چه زه راځم .

د آنیا سره حُما د تعلقاتو قائمید و نه پس حُما اود هغی

ملګرے سلیم

ملا قا تونہ لکہ د سینما د فلم غما مخکښی بہ د سرہ نہ تر اخرہ سرا.
ټلل او د انقلاب د رامی آخرے حصہ کښی دهغی پارت خو زہ خانی
سرہ یو رہم. زہ د آنیا آسایان پہ خیال کښی سرگردانہ شوم. ما بنام وو.
لږ ساعت کښی سحر شو. او موږ بیا یو نیو رستی تہ د سبق د پارہ روان
شو. استاد بہ را غلو د نیا پہ انقلاب بہ ئے عبور اوکړو. د انگریزے
سامراج نہ بہ ئے سرا وتکولو. سند بہ ئے مذمت اوکړو. لاہور. زہ
بہ ئے پہ سرا تلو او پہ تلو پوہ نہ شوم.

د ما سکو چیف جسټس چہ او س زموږ پروفیسر وو، را غلو.
خو زہ ہے وو. پہ خپل مضمون نیچرل سائنس باند ے ئے خبرے
اوکړے. خو ځما د پارہ را غلو او بیا لاړو. صرف مکرجی زہ د خپل
ویښ د خوب نہ را ویښ کړم چہ هغہ پہ ځائے د خپل مضمون استحما
رہیت. ما تہ نصیحت شروع کړو.

"سلیم! یا د لرہ چرتہ انقلابی ئے. د اوخت انقلاب ستا
امتحان اخلی چہ د وطن سرہ مینہ لرے اوکہ نہ. یا د لرہ چرد نیا
کښی انسان پہ یو وخت صرف یو ے معشوقی سرہ مینہ کولی شی
او س بہ گورو چرتہ د وطن پہ آزاد ے مین ے. اوکہ پہ ..... تہ
پوہ شوے کہ نہ!"

"توارش مکرجی" ما ورتہ جواب ورکړو.

زہ انقلابی یم. خو د ځما یوڅ اتی سوال دے. د د ے سرہ
د انقلاب څہ تعلق دے." نو زہ م خاموشی بہتر اوګنړلہ.

"شیخ فرید ه چپه ځله کښی بهتر ی ده ."

مکرجی بربنګ سره وو . تړے ویریدم ، چه هسی نه اسایان ته ځاووائی .

"بنده نه به کامریدِ مسز رائے نه تول حال اووایم ."

مکرجی دغه اووے . اوبیا ځه لږے خبرے ئے دخپل مضمون بابت اوکړے اولاړو .

ځما حال نازک شو . ما خپل سبق هم پریښو . هاستل کښی پروت وم . خوراک څښاک مِ هم پریښو . ملګرے مِ حیران وو ځلورو ځی ماد هیڅ شی څکه اونکړه . نه مِ څه خوړل اونه مِ څه څښل ملګرے مِ خواته ناست وو . سخت غمژن وو . مجید خوبه تولـه ورځ راسره ناست وو . اونصیحتونه به ئے راته کول . سږو ورځه په خود شوم . داسایان دیادنه دبی هوشئ پرده لرے شوه . هغه مِ راپه یاد شوه . بی دیونیو رستی خودیدن هم نه شوکیدلی . بیا باقاعده هلته روان شوم . جماعت کښی به ناست وم . خوخیال به مِ بـل خواوو . دمابنام په انتظار کښی به ورځ تیره شوه . چه کلب ته به لاهم نواسایان به هم په انتظار کښی وه . اوچه کله به سروستو شوه . نو سږو به ئے په خندا خندا راغلو اوراته به ئے په ډکه ځله اووی : خورِ مِ راځی ."

ورځ به تیره شوه شپه به شوه اوشپه به تیره شوه ورځ به شوه اونهوښ میندځ په نړیاتی وه . یومابنام موښ په کلب کښی

ناست وواسایان سره دنور وطالبا توجسمانی وزرښ کولو. حسب
معمول ځماستر ګی پرے ښخی وے . عبد القیوم زموبن ملګرے
رانزدے شواوراتر ے اووے :

"تر خوبی د اسایان نه بل څه نه وینی ."

"یار بیاد ے څه شرارت جوړ کړے دے ." ما تری پوښتنه اوکړه.

"دوړښ نه روستو هرکس به خپلی قامی سند ره ے والی.
تا خبروم چه څان تیار کړه ."

"یقین اوکړه یار! ځما سند ره ے خوښی خوږی. خو یاده
راتیوه هم نه ده . اوګوره! تر چه ئے نو موبن تر څه ضرورت دے
تر څه اووایه: ما عبد القیوم تر درخواست ورکړو.

"یار ..... زه خو پنجابی، اردو، اوعن چه پښتو ره ے کښی
به هم سند ره ے . غزلی او رباعیانی واوړوم . خو تا تر د پښتو د پاره
وایم: هغه جواب راکړو.

"روره! ما تر څه نه دے یاد . که راتلی نو ضرور به هم ویلے وی
زه دایقین نه کوم . دا زبرګی دِ را معلومه شوه . اسایان خو
درنه زبرګی او ویستہ . تیار شه . تر به څه وائی . اوزه به د هغی ترجمه
پرد ږو غړ ستامینه د آرمنی سره بیانوم . ساده سړیه! اسایان به
خومره زیاتر خوشحاله شی ."

پرد ے وخت کښی اسایان راغله . زموبن سره کښیناست
موبن ے تعریف اوکړو .

"ستا ورزش دیر ښه وو. اوته دیره ښایسته ښکاره:
چپ شه ته دروغ وائی: ما ته ئی ښځی دکی ستړکی راوا-
ړولی. کوره قیومه! سلیم څه وائی. څما کوم څای ښایسته دے
چه دے هروخت څما صفت کوے:
قیوم داهنزد تولو نه زیات زړه کړے وو. داسی خبرے
ئے وړسره اوکړے چه هغه ئے دیره خوشحاله کړه. اردو مړه صفت
ئے اوکړو چه هغی ئے په څله لاس کیښنی وو.
"قیومه! غلی شه. ستا نه دا رکینه بل څیز لا شرارت نه
دے ویستی ستا داده دورځی په دوه دے کښی ورله ماویلی وو
چه قیوم دیر شریر دے. خیال ئے کوه:
قیوم د خپلی ښځی ذکر باندے مضمون بدل کړو.
"کوره اسایان! ستا دحسن صفت به نن په دے ستیج
دیو داسی ژبی په شعر کښی بیانیږے چه تا به چرته اوریدلی هم
نه وے. اویونیورسټی به حیرانه شی. چه کوم وخت څما د ځلی نه د
هغی ترجمه واوړے.
ما اوخندل" قیوم شرارت کوے. هیڅ خدا سی نشته:
آسایان پوه شوه. اودشرم نه مسکی شوه. "دقیوم کار
صرف شرارت دے: هغی اووے.
ورځی اوشپی دغسی تیریدے. کله به خوشحال اوکله به
د فکرونو په سمندر کښی دوب ناست وم. خوشحال به ولی نه وم

حُما یقین وو چه اسایان حُما سره واده کولو ته زړه ورکړي. او حُما خیال وو چه هندوستان ته راسره تلو ته تیار شه. خو چه کوم وخت به هم سوچ او کړو. چه هندوستان ته د اسایان تلل قریب ناممکن دي. او که تلل ممکن شي نو غلامي زمونږ په لاره کښي خنډ دي. فیرنګي به آسایان کله هندوستان ته پریږدي. حُما یقین وو. چه زړه به قید خانه کښي پروت یم او اسایان به حُما سره قید ږدي. نو آخر دده خبره خو یو علاج دي چه زړه وطن ته دستنید و خیال پریږدم. خو دا کله کیدے شي. چه مادرِ وطن دے د فیرنګي غلام وي او زړه دے د وطن نه لرے د آرام ژوند تیروم. د غسي کله کله به ما په ویخ خوب لیدلو چه اسایان راسره ده. او زړه د ما سکوتا شقند او د هغه ځائے نه بخارے ته په کاږدے کښي اوږیدم. او په بادبانئ کشتئ کښي په دریائ آمو کښي مخ په بره روان یو. د سرائے نظام بیګ خواته چه اورسیدو. نو زه اسایان ته د ترکمانانو په لاس خپله ګرفتار ے او د پهانسئ او په ګولئ د ویشتو حکم ورله اورو م. چه ځان بیا د ترکمانانو په لاس کښي وینم. او د اځل مونږ دوه کسه یو. یو زه او بل اسایان چه د ترکمانانو هلو راویخ کړم. د غسي د افغانستان په هند وکش اوتنګو د ره کښي ځان او اسایان په یواس سواره روان وینم. او د بلخ د حاکم له خوا نه راپسي شنوارے وارنت په لاس راځي. او چه د هندوکش په ویخ هغه بي پله خرخوړے بهر واخلي. او بیا وبو

کښی راپریوځم . نورا ویښ شم . نا ساپه م دځلی اوځی" نهـا
خیرد ے خواسایان ده راسره :"

دغسی کله کله به ما د ویخی خوبونه لیدل . اوداخیال م به
پخید وچه اسایان وطن ته بوتلل ناممکن دے . اوبیام به چه
داخیال اوکړوچه نړه اسایان سره روس کښی پاتی یم . اود وطن
دآزاد ے په جنګ کښی نورخلق لګیا دے نوسربه م اوخوږوو .
"دا نه شی کیدے ."

روږوږوږه بیا په هوش کیدم . خوکله کله به د هغی مینی غلبه
اوکړه . اودیربه خفه شوم . نړه کښی به م اووے چه ځمانه سلطان
محمد خان سنه دے . چه معشوقی ورله جواب ورکړے وو .
"ځما مورواے چه هندوستان کښی نړمړے اوښاماران دی
تا به اخورے . نوځکه نړه هندوستان ته نه ځم ."

اوځمانه مجید هم سنه دے . چه هغه واے چه ماخومړکړیت
ته وئیلی دے ، چه نړه ځکه تاسره دیره مینه نه کوم ، چه نړه انقلابی یم .
اویوه ورځ به ځان دفیرنګی په جیل کښی وینم . اوخوش قسمت
به یم که پهانسی شوم .

نړه روږوږد اسایان نه روستو کیدم . نړه پوهه شوم چه
اسایان سره ځان ترڅ ناپوهی ده . اوځکه به م د کلب نړغیرجا -
ضرے غوړه کوله . خوکه د ماښام به نړه کلب ته لاړنه م نوږوږوږی
خوبه مولیدل اوشو . نوږے نوږے جماعتونه وو . هغی به ښه

نه څخه بهانه کړه او را به غله. یوه ورځ چې زه د کلاس دکمرے نه
بهر ولاړ وم اسایان ماته راغله او ویره خفه او ذهیره ښکاریده.
"تواړه ش سلیم! دا ښه نه ښتیاده چې ته وطن ته روان ئیے.
ته خو هډو ماته حال نه وائی او را نه ډیره هم کوے."
"نه داخو ولے. وطن ته تلل دیر لوے دے." ما ورته جواب
ورکړو. او نور انتظار نه بغیر خپلی کمرے ته ننوتم. ما سره په
زړه کښی سوداشوه. چې په دے را نه خوزه هم نه یم خبن
اسایان څه رنګ خبره شوه. خو بیا م زړه جوړ کړو، چې د
حالا تو نه به ے نتیجه ویستی وے.

وطن ته دَ واپسئ تکل

ACKU

ACKU

وطن ته ستنبرم

دکال ۱۹۲۱ ، په شپاړسم دسمبر د ماښام مجید مات په غوږ کښې اووې چې بیګم رائے موږ ته خلور ټنه غوښتی یو لس ساعت کښې سلطان محمد خان، فیروز، مجید اوزه هوټل دیلکس ته لاړو.

بیګم رائے اوخندیده "خو تورزنو شا خلمو په خیر راغلئ، ما نن تاسو یواهم کار د پاره راغوښتی یئ. یولوے اومغرور میلمه به هم ستاسو د وے کښې شاملیږے. او هغه مالګرے زینیوف د د پیټرګراد حاکم دے چې تاسو ئے پیژنی."

زینیوف د دنیا د دریم بین الاقوام صدر وو. سویټ کښې لینن پسې سړے وو. چا نه پیژندو؛ بیګم رائے یکدم غلی شوه او موږ ته ئے نیغ نیغ اوکتل. اوبیا اوخندیده. موږ هم یوبل ته اوکتل موږ پوهه شوچې څه چل دے څه خاص راښکاره دے. موږ د معمولی بنځی سره خبرے نه کولې. بیګم رائے د بین الاقوامی شهرت درلودونکے ایم. این. رائے بنځه وه. او په دریم بین الاقوام کښې په اهمه عهده فائزه وه. په اصل کښې امریکنی وه. انقلابی وه. رائے هم د دنیا مشهور انقلابی وو. حکمرانو هغه سره ئے واده کړے وو. او د هندوستان د آزادے حاصلولو

د پاره ئے خپل ژوند وقف کړے وو. د بیګم د خبرو د طریقې نه
معلومیده، چه مهم معمولی نه دے.

بیګم خپله خبره جارے کړه

"ګورے ملګرو مونږ انقلابیان یو او ترڅو چه وطن آزاد
شوے نه دے نو مونږ دمه نه شو کولی. تاسو دیر تکلیفونه تیر کړے دی
په خپلو سپیو د افغانستان په اوچتو اوچتو غرونو راوړیدلی یئ، لوږے
تندے موتیږے کړے دے. د ترکمانانو د لاسه چه کوم تکلیفونه تاسو
برداشت کړے دے. هغه د هندوستان انقلابی تاریخ کښی به پرته زرینو
تکو لیکلی شی. تاسو بیا بیا مرګ لیدلی دے. او بیا هم ژوندے یئ.
ستاسو د ژوند د دے د پاره دے. چه د خپل خوږ وطن آزاد ولو
کښی ئے قربان کړے. تاسو ځلمی یئ. د وطن ستر ګی تاسو ته دے.
تاسو نه ئے امید ونه لرو. تاسو به هغه مایوسه کوئے نه."

"مونږ د هغے قربانئ د پاره تیار یو. نه مونږ ژوند د
وطن د آزادے د پاره وقف دے. مونږ د وطن د عزت د پاره
سخته، سخته نه ګڼو." مونږ ورته جواب ورکړو.

"ملګرو! تاسو خلور واړه به صباد مسکو د سپارنه اوځئ.
ملګرے به په ځان نه پوهوئے. مونږ به هغوے ته خبرو ورکړو، چه
د ټول هندوستانیان طالب علمان به صباله پیټرګراد ته سیل
د پاره ځی. ګاډے به د مسکو نه شپې دولس بجې روانیږے. تاسو
هم سټیشن پورے ورسره لاړ شی. دګاډے نه ځان به په داسی

طریقہ پاتی کوے چہ ملگرے دریاند ے پوھ نہ شی .
خپلو کښی مونږ په ستر کو کښی یو بل سرہ خبرے اوکړے . چہ آخر
زمونږ دژوند خود غسی یو مقصد دے . نو مونږ خپر پروالړو . کہ
مھم کوان دے اوکړاسان .

زینوی یف سرہ ملاقات

مونږ بیګم رائے سرہ پہ خبرو وو . اوشاید چہ دمھم بابت خہ
سرہرے مزید معلومات حاصل شوے وے . خو مونږ تہ زمونږ ہ
انقلابی اخلاقو اجازت نہ راکولو چہ مونږ دبیګم نہ پوښتنہ کړے وے .
ھغی رانہ بنودلو اوجذباتی خبرے ئے زمونږ داوچتولو دپارہ جارے
سائلی چہ پہ دے کښی ایم . این . رائے رانتوتو
ستړے مشئ ملګرو ! نہ امید کوم چہ تاسو بہ حُما بنځی
د نتی ملاقات پہ اھمیت پوھ کړے سیے .
رائے کښینا ستو . بیګم دھغہ پہ مخکښی بیا دآزادے حا .
صلولو دپارہ د قربانو ضرورت ذکر شروع کړو . خو ھغہ ئے خبرہ پریکړہ .
نہ خپل عادت پریږدہ . دا زہ ورخلق دے . دوے دآزادے
پہ معنو پوھ دے . دوے پلار پہ نیکہ دھرخارجی دښمن مقابلہ

کړے ده . انګرېزے دښمنی دد وے په وینر کښی اخښلی شوے ده .

لږ ساعت کښی زمونږ ے یف راا ورسید و . ورسره بور دین هم وو . دواړه اوچت مضبوط اوپا خه سړے وو . زمونږ سره ے جوړ تازه اوکړل . اوراته ے اووے " ملګرو! ستاسو په لیدو مونږ ډیر خوشحال شو "

" مونږ هم ستاسو په لیدو ډیر خوشحال شو " مونږ ورله جواب ورکړو لږ ساعت کښی مونږ په دوډے کښینا ستو بور دین په توله دوډے کښی زمونږ سره مجلس کښی ښځ وو . او ساعت په ساعت به ئی د دوډی د خوراک دپاره مونږ ته شاباسی راکولو .

زمونږ ے یف د دوډے نه راوستو یو وړ وکی تقریر اوکړو . مطلب ئے دا وو ، چه غلام وطنونه صرف د خلمو په قربانو آزادیږی دے نه پس مونږ رخصت شو . سحر حسب معمول مونږ خپل جماعت کے حاضر وو . استاد انو په خپلو خپلو مضمونونو تقریرونه اوکړل . مونږ کښی ملګرو څه فرق اونه لید و . ورځ تیره شوه . ماښام شو . تول ملګرے خاندے خوشحالیږے . بستره تړے . چه پیتر کراد سیل زمونږ خوش نصیبی ده .

پیتر کراد ته روانګی

ملګرے ماسخوتن تر ام کښی لښینا ستل . سلطان محمد خان

نه ښکاریدو. درواینده وپه وخت کښې پته شو. یخنئ تړے ځان اونه نیولو. فیروز اومجید ترام کښې ناست وو. خولاړه کښې غیب شول. ملګرے پوهه شول. ځنوځنو پکښې په خندا وو ے:

"مرګریت خوچرته تلے نه. د پیټرګراد سیل موتعریا کلے موندے شی". نه نږه کښې خوشحال وم. چه د ملګرو نږه کښې څه شک نه دے پریوتے.

موږ ستیشن ته اورسیدو کاډے کښې کښینا ستو. ملګرو خپلې خپلې بستره اوغوړولې.

"سلیم تاځان سره بستره نده راوړے". قیوم پوښتنه اوکړه.

"دادے کمبل راسره دے. اوبستره څه کمی دے. پیټرګراد کښې ډیرے دے". ما جواب ورکړو. نه نږه کښې سخت پریشانه وم. ملګرو وخندل اوخوشحالیدل. ماسره فکر ووچه کړه ترام رانه لاړشی. نو داشپه به په ستیشن کښې ماباند څرنګ تیرینے. په څه بهانه دکاډے نه راکوز شوم. دستیشن نه بهر ترام لاولاړو. "خیر دے". بیا کاډے ته راوږغلیدم. چه ملګرے مې شکمن نه شی. کنې هسې نه چه دکاډے نه کوز شی. اوپیټرګراد نه د تلو انکار نه شی. د سلطان محمد خان. مجید اوفیروز په پتید وخبرے کیدلی. خو ما د تولو په طریقه طریقه تردید کولو.

نږه مې کله صبر یدو. د ترام راسره فکر وو. دکاډے نه راپسې چغې شوے: "سلیم! سلیم! ته هم نه ځی. ګوره یار! ګډ ته نه ځی

نو موښ ولی دے یخنئ کښی مړه کړے ؛ تیوم چغی کړے ۔

"عجیبه خبره ده ۔ زه څرنګ نه ځم ۔ زه دلته راغلی د څه پاره یم ۔ لږ صبر اوکړه ۔ زه کوږم ۔ که چرته کومی اوبه وے چه د چای جوړ ولو انتظام اوکړم ؛ ما د تیوم توجه بل خوا ته واړوله ۔ سړه دومره زیات وو چه ملګرو کښی دګوم کا دے نه دراوتلو همت نه وو ۔ زه د سړه نه په پلیټ فارم اوږیدے نه شوم ۔ کله کا دے ته به را نغلیدلے اوکله به م دتوام دکتلو د پاره منډه وهله ۔ چه په دے کښی کا دے روان شو ملګرو چغی کړے ؛ سلیم پټ شو ؛

ما د پلیټ فارم بهر را دوکړو ۔ با هر میدان خالی پروت وو نه توام وو او نه څوک په میدان کښی وو ۔ اوویدیم ۔ چه توله شپه به کوم خاے تیروله ۔ د اسړه به ما کنګر کړے ۔ مسافر خانه را ته نه وه معلومه ۔ بیام بهر را منډے کړے ۔ "توارش ! توارش ! ستوا یتے ؛ ! ملګریه ! ملګریه ! اوږیږه ! ما آوازونه اوکړو ۔

ریل مے ولاړ آس او سړولو ۔ خو په شا نے او نه کتل ۔ د یخنئ نه نے په شا کله کتئ شو ۔ لوے د ونډ پوستین مے اغوستی وو ۔ د پوستین غاړه نے په شا اوچته کړے وه ۔ غوږونه او سړه مے پکښی پټ وو ۔

"کوم پلوځئ ؛ هغه پوښتنه اوکړه ۔

"تیورسکایا تہ څم ؛ د ویا سړه زه په کا دے کښی ناست وم ۔

"معافی غواړم ۔ زه تیورسکایا ته نه څم ؛ کا دے والا معذرت پیش کړو ۔

"خیر دے توارش دد نگی (پسیو) فکر مه کوه. تنه ما اورسوه."
سړی والا غلی شو. او آس په قدم قدم روان شو. درونده غټ آس
وو او لوئے لوئے ویښته پوے قدرت دسارې نه ډیر کولو د پاره راخیرولے
وو. سارې دومره زړه وو، چه زړه ئے حیران کړم چه څه او کړم.
ما چه کومی جامی اغوستی وے، هغه ښی کړمی وے. کړم قمیص کړم
غټ ښین. د پاسه کړمه جرسی جاکټ (النډے د څرمنی کوټ) د جاکټ
لاندے مخ ته گرم سمور وو. د جاکټ د پاسه م اوبده کړم کوټ وو.
کړم برجس او د هغی د لاندے کړم د ران (پرتوک). تر گوډوم د څرمنے
اوبده بوټان او پکښی گرمی اوبده جرابی م په پښو وے. په لاسو
م د څرمنی گرمی دستانی وے. او په سر م کړمه توپی وه. یوه شړے
هم راسره وه. هغه م هم د ځان نه تاو کړے وه. سره د دومره کړمو
جامو نه د یخنئ نه ډګیدم. سړی والا راسره خبرے کولی. خو ما د
خبرو نه هیڅ نه معلومه شوه. چه خو ما د پاره سارې اوشو. نو ما تړئ اوویے
"توارش! (ملګریه) څوک ستا د پاره سارې اوشو."
"هو ملګریه! د پاره سارې دے." ما جواب ورکړو. د سارې د
احوال و وچه ما به یوه منګل په بله کښی اوښولے. زوره م ورکړو.
منګلی بی احساسه شوے وے. زوره ئے نه محسوسولو. د اسی په
ښکاره ده لکه چه ما په منګل کښی هیڅ نه وو ښولی. د لاس په تلی
م به خپل انګلی له زوره ورکړو. نه پوهیدم چه زړه انګلی شته او کړنه.
د ا د مسکو د شپاړسم دسمبر د شپی د یخنئ حال وو. څنګه

ږ

ږے دے نږهم یخږوه . تقریباً دوه گهنټی کښی ږیږے نږه خپل هاستل ته اوږهسولم . زمونږ د وطن سنډا اودږوس دغه د رانه اسونډ کړندے نږشی تلی .

خپلی کمږے ته چه ننوتم . نوږاران ناست ووګپ ږے ویشتو .

"پهخیږاغلی! پهخیږاغلی! مجید اوږیږزچغی کړے .

"شا بسی یارانو! ملګرتیا هم دغسی وی" ما وږته جواب ورکړو

"میان هم توبغیراپنی مرګریت کی آخری دیدار کی ما سکونهیں چهوږسکتی" مجید اووے .

"اوږهغه سلطان محمد خان تواپکی ساتهږ یقیناً سټیشن پرګئی هونګی"

مجید ټوټه اوکړه اود هغه دکټ خوانته ے اشاره اوکړه .

سلطان اوږنه پروت ووږه دے خبره راپاسیده . اوږے خاندل اوخمانه ے معافی اوغوښته .

څه وخته موږن موږ کښی د ما سکو دسنا رښه ږهږ یوښه سنا یسته کوږ کښی لوږشو . دے موږنه موږ خپل مختصر سامان مکان ته دننه کړو . مکان په کرسو صوفو اوقالینونوښه آراسته ووږ مخ لاس ویښ لونه پس یوه ښځه پهخندا دچائے لوښی پهلاس راننوته . پهځله ے خدا اووے . چه موږن پرے پوهه نه شو . خوچه لوښی ے په مینډاند ے کیښودل . نوسلام ے اوکړو اوږ ے اوخوږلو . موږن پوهه شوچه زنانه ږوسی نه وه . خوک دبل وطن

د ه. په شپږمه ورځ مونږ پوهه نه شو. مونږ په روسۍ ورځ خلک ګډ کړ. خوښ وو او خوږ ولوا وویل:

"په روسکی سے په نمایم" (په روسۍ نه پوهیږم)

مونږ خپلو کښی یوبل نه اوکتل او خندیدو

"انقلابیان رانه داسی سائی"

چاے موا وخښلی. روږدو خبرے شروع شوے. په خبرو کښی مجید ماته پیغور راکړو. "سلیم! تاداسایان سره ظلم اوکړو" ما څونګ ظلم اوکړو. ظلم خو بیګم رائے اوکړو. چه یو پلو سے مونږ په اسایان مئین کړو او بل پلوئے مونږ په انهائش کښی او غورځ ولوچه انکار نه شو کولی.

"مونږ خو مرکزیت باندے مئین وو. خو بیګاه موټر اجازت واخستو" جواب راکړو.

دوره بیګاه. ما هم داسایان نه جواب اخستی شو خو رهښتیا او وایه اولږ سوچ اوکړه. دانقلابیانو لرلے چاره داسی وے چه معشوقی ته داسی رانهښکاره کوے. چه نه مونږ خبر نه مونږ نه وپاند ے اوږهی. مجید چه داو اوږهیدل نو نګر ونو کښی پریوتو. وے ویل علاوه کړه هم سنتاسو په شان د معشوقی نه اجازت دپاره د ملکونه پټ شوے وے نو بیا ملکرے به پیتر کړ او ته لیلی وو"

فیروز پر مے راوښکل او وئے وے "ما مجید ته داهم ویلی وو چه مرکزیت ته مه ځی. که نګرین ے سفیر څوک خبر کړے

نو بیا به موږ هندوستان ته اونه رسو؟

ما په مجید نړۍ تښ کړو او ورته م اووے .

"او بیا هم ..... کړ مالکستا په شان خیال کړے وے. نو بیا هم زه اسایان ته نه شوم مخالف کیدلی . هغی ماته څو ورځی وړاندګ ولی و وچه ما او ویدلی دے چه ته وطن ته ځی . او ما دے خبرے نه انکار کړے وو. نو ورځه ! ته خیال او کړه . چه زه به هغی ته خوښ مخالف کیدے شوم . خو ښه دا دے تو یو خبرو څخه ستا سره اتفاق دے چه ما هغی سره ظلم او کړو . خو دا څخه یقین دے چه ته به هم څخه سره اتفاق او کړے چه زموږ دوا ډو سره بیګم رائے ظلم او کړو هغی نه مړ کړم . کوره ! ته او سه دا ظالمه موږ نه دا نه سبائی . چه موږ به چرته څو . آخر موږ هم نړۍ لرو . بنیادم یو . نه یقین او کړه مجید! نړۍ خو دے نه تیار شوے یم چه څان مړ کړم . دا دے ژوندۍ نه مړ ښه دے . تاته معلومه ده چه څخه مینه د اسایان سره رښتیا ده . که هغی ته معلومه وے چه موږ دغو ورځو میلمانه یو . نو ولی به څخه سره ئے نړۍ لګید وته پریښی وو . دهغی دښایسته قدردانان څومره مایوسه جوابی شوے دے . هغی به ماته وے . چه اول به ته روس کښی اوسی . او ګډ وطن ته ځی . نو زه به هم ډیره څم نو اوس که چرے رائے او د هغه ښځه راته اووائی چه ته وطن ته لاړشه . نو ورونړو ! تاسو ته معلومه ده چه څخه به څه جواب وی. زه به ورته اووایم چه زه نه څم . زه هلته څم چه اسایان ما معاف

او اجازت راکړے :

مونږ د غه بحث کښی ووچه د مونږ ښکار ے موتر غونږ شو. او دستر کورپ کښی زمونږ په وړښک ټک اوشول. اوبیګم راښوته :

"کود مارننګ بوائز" (سلام علیکم هلکانو!)

"کود مارننګ" مونږ ورله جواب ورکړو.

د راتلو اوکینا ستوسړه بیګم په دیره سنجیدګئ سره مونږ تر زمونږ د غیر معمولی بنوریدو وجه بیان کړه :

"هلکانو! مادر وطن تر ستا سود قربانئ ضرورت دے. هند وستان د غلامئ د زنځیر نه ستړے شو. قوم د انګریز د غلامئ نه تنګ شوے دے. اوس په اتفاق د آزادے د آخرے جنګ د پاره تیار شوے دے. تاسو تر معلومه ده چه موږ پلاجنوبی هند وستان کښی د آزادے جنګ شروع کړے او پښتون د هند وستان په سرحد اتو هیښه د آزادے د جنګ د پاره جنګیږے. د پنجاب سپاهی خصوصاً سکهه د انګریز نه سخت ناراض دے. او د اځما پوخ امید دے. چه کوم وخت عام خلق د حکومت برخلاف د آزادے جهنډه اوچته کړے. نو فوج به ورسره شی. هلکانو ملا اوتړئ چه خوږ وطن د غلامئ د زنځیرونو نه آزاد کړے. اوس به تاسو باکو ترئ. اوهلته به ستاسود وطن تر د هسید و انتظام کیږے. وطن ته چه اورسئ نو هر وخت تیار اوسئ. د مادر وطن د آزادئ جنګ به په لویه پیمانه شروع کیږے."

بیگم په مختصر والفاظو کښی موښ ته خپل پروګرام او
سنو دلو. موښ د وړاندے نه زړه کښی پوهید وچه داد ومره راز
ځکه ساتلی شی چه زموښ وطن ته د بیړ ته تلو تیار ږدے. بیګم
موښ ته د اطلاع هم راکړه، چه ګوهر رحمان به هم باکو کښی
تاسو سره یوځائے شی. ګوهر رحمان د صحت سنه کولو دپاره
بخارا کښی ډډ وړ میاشتو نه اوسیدلو.

"موښ به کله روانیږ و" مجید پوښتنه اوکړه.

"زړه" بیګم جواب ورکړو.

مجید اوخندید و بیګم ته ئے اووے چه سلیم خو وطن ته نه ځی"

"هو" د بیګم رنګ زیړ شو. ماته ئے مخ راواړولو. چغه ئے
کړه: "د انقلابی سلیم بابت دا آورم"

"بیګم! زړه دیر افسوس کوم. خو تا ماسره دیر بد اوکړل". ما
ورته خپله خبره شروع کړه. بیګم حما خبره اوریده اوحیرانتیا
ئے زیاته تیدله.

"کوره موښ خو د انقلاب نشه کښی مست وو. د جینکو
سنا ینست زموښ خیال خان خوانه نه شو راکو ځولی. تاپه موښ
ظلم اوکړو چه موښ د د خوبه رابید ا رکړو. او د اسایان دمینی په
دام کښی د ے راګیر کړو. اوا وس راته وائے چه ورځه پرے. مینه
پریږده د ماد روطن د آنا د ئے جنګ شروع د ے. حما او د ه
زړه ګی د د خوبه راویښ کړو. او په دومره لوئے امتحان کښی د واچولم"

بیگم اوخندل "اوهو.... غریب سلیمه! تړپه مینه کښې دومره ړهښتونې ئے. امید دے چې تړ ته به داآزا دے په معشوقه ځان قربان کړے. خواوس نړه جمع ساته."

نړه غلی وم. خوبیگم اوخوږ ولم. "پاسه سلیمه! پاسه ملا اوتړه. نړه مه بائیله. ځما خیال وو. چې تړ ته تو ړنې هلک یئے. پرتا څه چل دے."

ځما په نړه داخبره چې نړه مه بائیله دیره بده اوګیده. سمدستی مې ورله جواب ورکړو:

"نړه بې نړه نه یم. خوبیگم نړه تا نه پوښتنه کوم. چې دیو بې ګناه جینئ نړه ولی ماتوے. دا تړ ظلم نه کوے؟"

بیگم ماته اوکتل اوساه ئے راکښله. راته ئے اووے:

"ښه سلیمه! نړه به تړ ماړنیګړ راځم." بیگم لاړه. موږ څلور واړه ملګرے غلی ناست وو. یوه شیبه پس سلطان محمد خان په قهر ماته مخ راواوړولو.

"یارا ے کی کند بچا دتیا ئے"

"ولی؟" ما ورته اوکتل. "تړ خوښ غمه یئے؟"

"اویار.... ! تړ ځان تړ انقلابي وائے. نړه تا انقلابي نه ګڼم. یوی جینئ تړ په ماسکو کښې ایسار کړے. انقلاب بس؟"

سلطان محمد خان په قهر وو. ما هم په غصه جواب ورکړو:

"هرګز نه! نړه انقلابي یم. مایوطاقت هم نړ شی ایسارولے

خوګوره !"

"ګوره - ګوره څه دے . اوپه دے کښې "خو" د څه ده؟ یا اووا یه چه انقلابی یم په انقلاب مین یم . اویا اووا یه چه انقلاب نه یم . اوپه اسیایان مین یم . معشوقه یوه وے اوده نه وے یا اووا یه د انقلاب لیونی یم . یاد اووا یه چه روغ یم انقلابی نه یم . بیا دے موضی که د اسیایان تابجد اړے کوے . اوکه دبل زیارت مجبور کیږے . نه موږ بیا ستا نه ګله نشته ." سلطان محمد خان راباندې راسو رهنوی مجید او فیروز هم د سلطان ملګرے شول . او درے واړو په یوه ځله زانګه پوښتنه اوکړه :

"ته انقلابی ئے اوکه نه ؟"

چه ما هر څه کوشش کولو چه نه د ده سوال ځواب کړم او د خپلې مینې په موجودیت کښې د انقلابیت د تشریح کوشش اوکړم او د خپل تول عمل مسئول د ځان ده وړه وګڼم . ملګرو پرے نښودم . هله ترے خلاص شوم . چه ما اعلان اوکړ چه زه انقلابی یم . او د هیچا مینه ځما پرلږه کښې نشته کیدے نه شی .

د ما سختن پیانو باجه اوکډا

نوله وخ موږ - مکان - نن تیره شپه . هسې هم به نن څه

سارہ وو. شپہ وړځی اوربلیدو. کله کله به مونږ دکهړکئ په شیشو کښی اوکتل. دواورے وریدو دلکش منظر به زمونږ زړه کښی د بهرګرځیدو خیال را اوچت کړو. خو مونږ بهر وتل مناسب نه ګڼل.

په روس کښی هند وستانی سړے نه شی پتیدے. رنګ ے حال وائی. هسی نه چه څوک مواوویني. اودښمن موخبر شی. قول روس اوروسی ترکستان کښی دانګریزے مخبرانو مو جودګی ممکن وه. اوداپخه خبره وه. چه زمونږ دحرکت خبر دانګریزے سفیر په ذریعه هند وستانی حکومت ته رسیدو. داخطره وه چه مبادا دا رسید وسره مونږ اونیولی شو. اودخپلو فرائضو ادا کولو نه پاتی شو.

دمانزیګر نه مونږ دبیګم رائے دراتلو په انتظار کښی وو. ماښام را نغلے. ما محس شو را نغلے. زمونږ پوخ یقین ووچه اوس به دمونږ هاتی اوو هلی شی اوبیګم رائے به را اورسی. چه پیدے کښی ورا وتکید و مونږ جواب ورکړو.

"مهربانی اوکړئے."

ورلوے شواودرسے ښځی را ښوتی. چه مونږ باندے ے نظر پریوتو حیرانی اودرسیدے. اومونږ هګ دګ په کرسوناست پاتی شو. خودوا ړو فریقو څان سنبال کړو. هغوے اووے.

"مونږ معافی غواړو."

مونږ جواب کښې پاسیدو او په خیر مو ورته اووے "مهربانی اوکړے کښینئ"

یوه پخه مشره ښځه وه اودوه جینکی وے . مشرے نهه دراتلوسبب ظاهر کړو. مونږ ے په انتظار کښې پرے نسبتو اوداسی ے اووے :

"مونږ ستاسو نه لرے نه اوسو. زمونږ کور ستاستو دکورنه ښکارے . ستاسو کاوندیان یو. ستاسو دامکان اکثر خوشی پروت وے . مونږ داوخت همیشه راځواودے پیانو باندې ځان مشغول لوو . نن مونږ افسوس کوو . چه ستاسو ځائے ته مونږ بی پښتنی راغلو تواوستاسو اړام کښې مخله شو.

مونږ وړله جواب کښې ، ووے چه ستاسو راتګ زمونږ دپاره د هیڅ تکلیف باعث نه دی. اوکه تاسو غواړے . نوداکمره سره دپیانو ستاسې په خدمت کښې حاضره ده . ښځې خوشحاله شوے . اومونږ شکریه ے ادا کړه . دے خوا دپیانو دنګ شوا واخسوا کوربنه راغونته. دکوربنې دمخ نه سخت خفګان ښکارید و. ښځې یوه شوے چه کوربنه خفه شوه . کوربنې مونږ ته دیر ے خبرے اوکړے خو مونږ پرے پوه نه شو . ښځو مونږ ته درغواست اوکړو چه که زمونږ په وجه خفګان وے نو مونږ پاسوا وبیرته ته خو . خو دهغوے حیرانتیا زیاته شوه . چه پوه شوے چه مونږ هم لکه د هغوے دکوربنې په ژبه نه پوهیدلو. خو یاهم مونږ د

د میلمنو ایستل خوښ نه کړل . او کورنۍ مودلاس پر اشاروپوه کړله . چې میلمنې زمونږ په اجازت ناستې دے . خو کورنۍ په بیا بیا راتوټه . او اعتراض یې وکړو . په خپله څېره یې وئیل . مونږ پوهیدو چې هغه خپل خفګان سنګاره کوے .

ر وستو چې میلمنې لاړلې . نو مونږ خپلو کښې اوخندل . او اوموو چې که ملګرے مسز ډائے خبر شې . نو چې څه به وائی . خو سبه کار اوشو چې هغه راغله . او میلمنې سپکې نه شوے .

زهرتونکې مونږ ته معلومه شوه . چې مشره ښځه دجینکو موروه . او هغه خپله په پیانو ډیره سبه پوهیدله . هغې دواړو لونړو ته زده کړه ورکوله . روس کښې د نورو یورپ په شان ګڼ - یدل او باجوړ هلته د ښځو سبه هنر ګڼلې شی مور او لونړو سبه ګڼ یدل او کړل . او تر ناوخته ئے پیانو اووهله . آخر کښې زمونږ ئے شکریه ادا کړه او مونږ ته ئے اووے چې دا خما لونړه دی . ددوے تربیت خما فرض دے . بیا بیا ئے معافی اوغوښته . او زمونږ نه رخصت شوے .

داسایان تصویر

صبا ما سپینین دبیګم رائے د موتر هارن مونږ ډیر

انتظار نه روستو واوریدو. بیګم په خندا راښوته.

"واخله سلیم! ستا د زړه کار هم اوکړو" بیګمی ماته د اسایان تصویر اویوه چټۍ راکړه. ملګرے راته رانا ؤشول. او چټۍ م لوستل شروع کړل. ماته ئے لیکلی وو:

"خوږه سلیمه! ستا د ځلی پیغام ماته ملګری بیګم رائے راوړو. زه ډیر خوشحاله شوم چه ستایاده یمه داهم معلومه شوه چه ته د شپږ و میاشتو دپاره ځی. د انقلابیانو په ټولنه کښی شپږ میاشتی اوږه معیاد نه دی. د ځما د زړه خواهش دے چه ته کامیاب او خوشحاله راستون شی. خپل مقصد ته د رسیدو سره ماته د بیګمی په ذریعه خط راولیږه. ځما تصویر به په سفر کښی ستا ملګرے وے. د اډګیر نه ورکوه. خفګے نه کړے"

مجید د خط په لوستو چغه کړه .....

"انقلاب"

سلطان او مجید جوابی چغه کړه "زنده باد"

بیګم رائے ماته فاخرانه طرز کښی اوکتل "کوره سلیمه! انقلابیان پوهیږے. ته هم پوهیږے. بلا لاریشته. شپږ میاشتی پس به دے بیرته راغواړم. پوهه شوے"

"پوهه شوم" ما جواب ورکړو

د مسکونه روانیږو

په څلورمه ورځ د ماښام په خړه کښی په بند موټر کښی مونږ څلور ملګري د مسکو یونیورسټیشن ته ورلاړو. اوه بجې ساعت کښی یو ګاډی کښی کښینا ستو. چې د ګاډی څومره صفت اوکړم، نو کم دی. ګاډی د پاسه ئې لیکلی وو: اولسی ګاډی ګاډی مخکښی روستو اړخونو لګیدلی وو. تولی درې ډبی وې. د اد سفیرانو ګاډی وو. نور کلهه پکښی دوه ډبی وی درېمه ډبه زمونږ دپاره وه. ګاډی نه چاپیره فوجي پیره لګیدلی وه. چې مونږ سره کښینا ستو، نو یو سړی راغونډ او مونږ ته مخاطب کړو: "زه ستا سو د ګاډی کماندات یم. چې څه قسم کار وی د رنګ (تلئ)، په اوریدو به زه حاضر یم." په هوسټیشن چې به ګاډی اودریدو، نو کماندات به زمونږ ورکښی حاضر وو. په روان ګاډی کښی د رنګ په وهلو به ګاډی دننه براندی کښی هغه راهسیدلی وو. کماندات ګاډی دمسافرو د امداد دپاره وی.

د خوراک څښاک سامان زمونږ سره ماسکو نه کښود لے شوے وو. دا خوراک ساده وو. پخول ئے نه غوښتل، تیاری یخی ډوډی وی. ډوډی اته سیره وه. ورسره د پښین اوکوچو خښتی وی. اود ماهی تورے اګئی هم ورسره وی. دا زمونږ په لاره خوراک وو. زمونږ ګاډی کښی دننه وړے وړے کوټی وی. هره کوټه کښی دسملاستو دپاره دوه سپرنګی پالنګونه وو. دوه کرسی او یو میز هم ورسره وو. په فرش قیمتي قالینونه

غوږیدلی وو او دکټ قابل قالینونه په دیوالونو هم لګیدلی وو. دے کوټه کښې پاخانه او غسلخانه هم وه. چه صفایئ ئے سړے حیرانولو. ټوله کوټه او غسلخانه او پاخانه کښې دسنګار ټول سامان موجود وو. موږ ښه شیبه یوه کوټه کښې ناست وو. او خپلی عزت افزایئ باندے حیران وو. دیوخوا بل خوا مجلس مو راچولی وو. چه ستړے شوو نو خپلو خپلو ځایونو ته لاړو او په آرام اوده شو.

خارکوف

ټوله شپه کاډے ګړندے روان وو. بی شمار واړه لوی سټیشنونه ئے پریښودل. او په لوئے اهم سټیشن به اودریدو. سحر چه موږ پاسید و او هر مو اوکتل. نو ټول ملک د واورو د زوړه تک سپین پروت وو.

ما سپینې موږ خارکوف ته اورسید و. دریاو نو لوی سټیشن دے. داودریدو سره موږ اوکتل. چه موږ دګاډی سره متصل بل ګاډے ولاړ وو. او په هغی کښی یوګاډے کښی د مشرق یونیورسټی هلکان جینکی ولاړ ے موږ صرف ته ئے کتل. او اشاری یی کولی. دوئے په مندو او خندا خو شحالی ترمو ږ

کاډے تہ راغلی . ډیرے خوشحاله شوے . یوساعت خوږے
زمونږ د کاډے صفت اوکړو . وے ویل چې دا " نړۍ دنیا "
(اولسی) کاډے دے . اودے کښې صرف لوئے لوئے مشران د
سویټ سفر کوے . په خبرو خبرو کښې طالب علمانو زمونږ نه
پوښتنه اوکړه :

"تاسو هند وستان ته رځئ ؟"

مونږ انکار اوکړو . خوهغوے زمونږ انکار ته خپلو مغزو
کښې ځائے ورنکړو . یوبل ته ئے اوکتل . اووے ویل

"خو مره خوش نصیبه خلق دے . دوئے به انقلابی څوند
تیروے . مونږ بد نصیبه یو روس کښې د انقلاب هغه دلچسپه
زمانه ونه لیده شوه ."

په خبرو خبرو کښې زمونږ خلورواړو سره بوقی شروع
کړے . اوزمونږ د معشوقو په حال ئے افسوس شکاره کړو . چې
هغوے یوازے پاتې شوے . مونږ ته د کولو اووئیل موږ په مونږ
هند وستان ته نه ځو . مونږ صرف باکو پورے ځو اوبیا به زمونږ
ټرین مسکوته واپس راځو . خوهغوے دا نه منله . اوغبس ئے وکړو
چې مونږ هند وستان ته روان یو . یوچینی پکښې په ډیر مالونو
اسویلی اوکړو اووے ویل " هوښیار اسانه خبرو ورسره
اوهو مونږ یتر به یه خبر سال کښې وے "

مونږ دځان صفائی پیش کوله اوتر هغه مو کولو

منزلنی وادی (معدنی اوبه)

سحر وختی کاډے منزلنی وادے تہ اورسید و. داوړو کی ستیشن دے. خوجنکشن دے. ددے ځایے نه یوشاخ قطب خوا اوبی دے. موبن تر اطلاع راکړے شوه چه دا کاډے مخکښی نه ځی. دے به بل خوا ځی. ذباکو د تلو به بل کاډے ماښام راځی.

موبن د کاډے نه کوز شو. د آرام دپاره مے موبن تر دیوه بی پایو کاډے راکړه. ستیشن دومره وړوکی وو. چه پښتنگ روم (دانتظار کمره) پکښی نه وه. د تولی ورځ دانتظار اطلاع موبن سفر کړو. ستیشن هم څه دلچسپی نه لرله. او وائے چه انتظار هم د مرګ نه کم نه دے.

موبن په کاډے کښی لږ ساعت کښیناستو. نو تنګ شر لاح موداوکړ چه چرته وتل په کار دے. تولو ورځ به تنګ شو. یخنی ته مواو نه کتل. او د ستیشن سره نزدے یو وړوکی کلی تر وان شو. تول وطن تک سپین میدان وو. د مکانونو د پاسه هم واوره پرته وه. اوبی هم په واوره سپینی وے. خو د غه وخت لا واوره نه وریده د وړځی یخنی سره د ګرځیدو منع نه بندوے خو شپی یخنی د جاندار دپاره ښاهی ده.

دستمیش نړچې روانیدو. نړیوسړے را مخکښې شو: "معافی غواړم تاسو نه یوه پوښتنه کولی شم: تاسو د یو دلچسپ خلق ښکاړئ" دَدے خبرے سړه مونږ بلد وو. روس کښې زمونږ رنګ به خلق مونږ تر راکښل. خو مونږ ترهم ددا سی سړے ضرورت وو.

"پۀ السته" (مهربانی اوکړئے) مونږ جواب ورکړو.

"تاسو د کوم وطن خلق یئ" هغه وړاندے پوښتنه اوکړه:

"مونږ د ترکستان یو. ته مهربانی کولی شئ چه مونږ ته د ا نزدے کلی اوښائ. مونږ غواړو چه د خلقو سړه مو تعارف اوشی. او مونږ وړسړه واقف شو."

هو په دیړه خوشحالئ: هغه جواب راکړلو.

هغه دلچسپ سړے وو. زمونږ سړه روان شو. خو چه کلی ته ورښتو تو. نو د هغه نه زیات دلچسپ سړی هلکان موجود وو. او زمونږ دهڅې پوښتنې جواب تیار وو.

دَدے کلی نوم منزلنی وادے وو. دغه علاقه کښې معدنیات زیات پیدا کیږے. او معدنی چشمی هم وړسړه دے. په دے وجه وړته منزلنی وادے (معدنی اوبه) وئیلی شئ. کلی وړوکی وو. د نقشې مطابق جوړ وو. مکانونه ئے دلرچی جوړ وو. خو د منزکی نه ښه اوچت په دکانچو ولاړ وو. پلنی کوڅی وے. د کلی مینځ کښې کلب وو. او د اکلب دیوښه لوئے میدان په مینځ کښې ولاړ وو. په لږ ساعت کښې لس پنځلس ښځی سړے زمونږ

مړ راتاو شول. چې ورته معلومه شوه چې موږ د هغوی د حالاتو پوښتنه کوو. نو زموږ د پاره ئې د کلب ورلوړې کړو. او موږ ئې کښینولو. جمعې د جلسې شکل اختیار کړو. خو ما سخت دلس پنځلس منټه نه شو.

کلي وړوکی وو. خو ښایسته وو. او ولې به ښایسته نه وو ښایسته خلق تل په ښایسته ځایونو کښې اوسی. دلته یورپ اوایشیا یو ځای کیږي. دلته د قفقاز علاقه شروع کیږي. نو که زړه نه مانی ورله د ښا پیښو نوم ورکړے وو. نو بې ځایه خو نه وو. لږ ې روس کښې سره سپین رنګونه. شنې ستړکی وي. دلته د قفقاز په غاړه سپین سور رنګ په غم کښې بدل شوے وو. او د سړو ویښتو په ځای موږ تورے نرلفی او تورے ستړګی لیدلی. زموږ رنګونو ورته وئیل چې موږ د یوان یو. او د هغوی د ښا پښت پلو شو وئیل چې هغوی ښا پیړے دے. چې موږ ورته حال اووے چې موږ باکو ته ځو. نو هغوی راته اووے چې په تفلس لار شئ. چې ښایست اووینی. موږ حیران شو چې د غه به څه رنګ ښایست وی، چې ښایست ئے صفت کوے.

د کاډی کاریدار کښې ملاسته

ما ښام ریزا کاډے راوړسید و. موږ ته داوں د ډجی

تکمونټ راکړے شول . اوراته اوویلی شول ، چه خفه کیږے مه . داورو کی ستیشن دے . افسوس دے چه دلته خاص کاډے نشته . کنی هغه به په خدمت پیش کړے شوے و .

موږ ډډے ته خودکاډے نزدے والړ وو . ستیشن ماستر خفه موږ ته رانزدے شو .

"بهتره به داوے . چه تاسو دلته شپه کړئ . نیمه شپه بل کاډے ځی . هغی کښی ځاے ډیر وے . هغه عام دمسافرو کاډے وے ډیر په آرام به لاړ شئ ."

موږ دستیشن ماستر خبره اونه منله . خپلو کښی مشوره وکړله چه دستیشن ماستر نه موږ په حق کښی داخیال دے چه موږ نوم عادت یو . موږ فرسټ کلاس ټکټ راوختو . چه ورته لږے کړو . نو مخکښی کاریدار وو . کاډے کښی دننه وړے وړے کمری وی اودهری کمری دروازه بلکه بنده وه . هره کمره ریزروه وه . موږ کاریدار کښی اودریدو . اوخپله کډه موکیښوده .

کاډے روان شو . شپه وه . کاریدار کښی نور څوک نه وو . دیر ساعت والړ وو . خپلی خودارے اجازت نه راکولو چه د پیزار په ځاے کښینو . خوچه ستړے شو نو دروږو کښیناستو اویو بل ته مواعتراض اونه کړو . نه موږ یقین هم اوشوچه دکمرو خلق نه راوځی . نواخر سملاستو . موږ خپل خپل کوټونه اونه ویستل . اونه مواوښده بوټان اخوا کړل . خوب په هغه غالب

دے . اوپه موږ ښه غالب شو .

د تهران د روسي سفیر د ښځې سره ملاقات

په دے کار دے کښې دوه ورځے کمے دے روسي سفیر د ښځې مقیم تهران په قبضه کښې وے . سحر وچه هغه راپاسیده . نو موږ خلور کسان ځے په کار وے د کښې ملاست اولیدو . دیره خفه شوله یو کمپاره تمنت دهغې د بکسونو نه وک وو . او یو کښې هغې اود هغې لور وه . زهر تر زهره ے موږ راپاسولو اود خان سره ے کښینولو .

دا موږ لور د انقلاب نه روستو روس نه اول خلې راغلې وے . موږ ے هم ښه انګریزے وئیلے . خو لور خوښے دا سې انګریزے وے چه هغې کښې او په انګریزانو کښې فرق نه شو کیدے . د دوے نه دا هم معلومه شوه . چه سفیر د انقلاب نه دیر وړاندے د روس نه تښتیدلی وو . اوپه انګلستان کښې ے پناه اخستی وه .

باکوته رسیدل

په څلورمه ورځ موښ باکوته اورسیدو. باکوته چرکاټي رانزدے شو نو دتیلوکویان اوچشمي دریل سړک ته نزدے شکاریدے لوئے لوئے دا وسپنی تاورونه ترحدِ نگاه پورے شکاریدل چه دسویټ دطاقت رانه پکښی پټ پروت دے.

په پلیټ فارم کوزشو. دکوزیدو ورانده دے دکاډے دروازے کښی راننه سړے ولاړ وو. زموښ په لید ومسکی شو. موښ هم پوه شو چه زموښ پیژندګلی ګران کار نه وو.

لږ ساعت زموښ مهماندار زموښ سره موټر کښی سور دباکو دښار لوئے والی راته بیا نولو. مانیګرے وو. اوباکو کښی په رښتیا مانیګرے وے. تراوسه موښ روس کښی داسی خوش شکله اوخوش لباسه خلق بل ځاے نه وو لیدلی. خوش شکله خو به خود وو، چه باکو دکوه قاف یوه حصه ده. خوپه دے پوهه شوچه په داسی سخت وخت کښی داخلق څرنګ خوش لباسه وو.

موښ په یوښاپسته مکان کښی دیره شو. مکان لوئے وو. داسی معلومیده چه نور خلق هم پکښی اوسیدل. خو موښ ځان تراوسیدو د نورونه لږے خوښ وو. زموښ کمره شپه آراسته

ACKU

وه . داسی فرنیچر مونږ ته مهیا شوے وو، چه کوم مونږ دمسکو په ډیلکس هوټل کښی هم نه وو لیدلی . سپرنګی پالنګونه وو. قیمتی صوفی او آرام کرسئ وے . قد آدم شیشی اوسنګار میزونه لګیدلی وو.

مونږ حیران وو چه سویټ کښی دومره تکلف خوپه سنو سنو کابینو کښی مونږ نه دے لیدلی. باکو کښی څرنګ داسی فرنیچر اونه مونږ غوندے خلقو دپاره مهیا شو. مونږ خپلو کښی په دے نتیجو اورسیدو، چه دده صرف یوه وجه کیدلے شی. اوهغه داده چه زمونږ آخوے ورځی دے . اوځکه زمونږ دومره عزت افزائی او قدرکیږی خو اصلی وجه زمونږ ښکاره شوه. یوه ورځ زمونږ کمرے ته یوسړے راغلو . ورسره اوتکولو مونږ ورته " پټ السته " اووے هغه دننه راغلو. ورسره کتاب وو. زمونږ په مینډاپو څښلویو ښایسته دشیشی جګ پروت وو. کتاب ے پرانستو. مونږ ته ے اووے " ملګرو! داجګ ځما دے "

مونږ حیران شوچه سویټ کښی داڅرنګ کیدے شی، چه څوک اووائے چه داځما دے . مونږ ته عجیبه ښکاره شوه پوښتنه موږے اوکړه " تواړش ته څرنګ وائی . چه داځما دے . سویټ کښی خود چا ذاتی څیز نشته "

هغه مسکی شو. کتاب ے راواوسپړلو. کتاب کښی دتول کورد کمرو بیلی بیلی نمبرے وے . دهرنمبر کوټی بیل سامان وو. زمونږ دکمرے جګونه ګلاسونه ے راته

په شمار کړل، اود نړیوالی جګ دعوا ئے اوکړه . اوصرف د حالاتو معلومولو دپاره .

"تواړش ! تر څوک ئے اوتر څه رنګ زموږ ډکمرے د نړیوالی څیز دعویدار جوړیدے شی ؟"

"دا مکان اوداتول فرنیچر څما وو" هغه قصه شروع کړه داجګ څما ننه دے ضبط شوے . اوځکه ئے زه حق لرم . اوزه ئے دعوا کیږمه ." موږ پوهه شو .

"ښه تواړش ! تر مهمانداره خبرے اوکړه . موږ مسافریو . زموږ ستاسو څیزونو هیڅ دعوے نشته . امید کوو چه تر به نه خفه کیږے ."

بیا موږ پوښتنه اوښکړه . چه د جګ څه فیصله اوشوه خوچه ترکومی موږ وو . نو جګ زموږ سره وو .

باکو د بحیره خضر په غاړه یو لویه ښکلی بندرګاه ده . د ایران اود قفقاز تر مینځ د تجارت مرکز دے . د باکو لوے والی د تیلو په سر دے . ښاروالی اوبو په غاړه جوړ دے . بې شماره واړه جهازونه دابو د پاسه ګرځی راګرځی چه د ښاروشان اوخوند کښې نړیوالی راولی . وړے موټر کشتئ هم پکښې زغلی رازغلی .

کولایت (سیل)

دباکو مانهیګوبے دیرخوبد ناک دے . موبنږ چه به موقعه اومونده نوضروربه موټرے فائده اخسته اودسیل دپاره به غاړه ے تړاتلو دسمند ریه غاړه لوئے لوئے چمنونه جوړ دے اوپرکښی بڅوونه پراته دے . شنځی نړدے چمنونوکښی ناست وے . اوکله کله داسی حال وے . چه په سوونو خلق یوه دایره کښی یوبل پسی روان وے . اکثر شنځه اوسړے لاس په لاس دیو بل ترڅ کښی ے لاس ورکړے وے . په دایره اوپه قلاره روان وے . خپلی پتی خبرے کوے . څوک دیوبل دخبرو داوریدو کوشش نه کوے . دے دایره کښی عاشق دمعشوقی ترڅ کښی شنځی دخاوند ترڅ کښی ، لوړ دپلار ترڅ کښی . خوږ دروږ ترڅ کښی لاس ورکړے . اوپه قلاره روان وے اوپتی پتی خبرے کوے . دیوبل سره کار نه لوے چه اودریږی ے . نوردایرے نه بهرته اوځی . چه بیا په دایره کښی شاملیږی ے . نوداسی په قلاره په خالی ځای کښی ورننوځی چه دچاپه مجلس کښی مداخلت اونه شی .

داسی چمنونه دتاشقند دښارپه هره حصه کښی وو . خو

فرق دا وو، چې هلته به پرده وه. ژبانه د سړو سره خلط ملط کیدلی نه. باکو کښې هم اکثریت مسلمانان دے. خو پرده پکښې نشته. باکو کښې ترک مسلمان او عیسایان اوسی. چې په لباس کښې او شکلونو کښې موږ مسلمانان د عیسایانو نه نه شو بیلولی.

زه وړاندے هم باکو ته راغلی وم. هلته ما ذکر کړے دے چې د حکومت په سر اکثر مسلمانان دے. خو ښځیا خبره داده چې باکو کښې دا فرق څوک نه محسوس کوے. او که محسوس کولوے. نو موږ مسافرانه یو پوهه شوے.

باکو کښې هم د مسکو او تاشقند په شان تهیټرونه، سینما، وغیره خوشحالئ انتظام وند دے. هره ماښام چې دوړې د کارخانو نه کار ختی. نو دے باغونو ته راوځی. او د ماښام تیارې پورے خانونه خوشحالوے.

مسکو کښې د بنا ر مینځ کښې د یوسړه بل سړه پورے لوئے باغ دے. د ماښیګړه پکښې میله لګیدلی وے. چرته یوسړے د زړه ویونانیا نوپه لباس کښې رباب یا سرینده وهی. بل ځای د عرب په لباس کښې یوسړے شپیلئ وهی. خلق ورته په بچو نو ناست وے. چرته مدارے اخته دے. رنګا رنګ کرتبونه کوی تماشبین خند وے. او خوشحالوے. د غسی باقی کښې هم خلق ژوند نیروے پس د ماښام د ډوډۍ

عام خلق سینما او تهیتر ونه گوری سرکس هم هرسنار کښی
د دلچسپئ ذریعه ده .

ډوډئ

دباکو د وډئ ډیره سنا یسته ده . دسیر او پریو ه
د وډئ وی او عجیب خبره داده . چه دا په تنور باندی پخوی
خیر په هوټل کښی ئی چه پخوی خو صفا د تنور د وډئ شکاری .
زمونږ وطن کښی هم په خیبر کښی مونږ د تنار ه لونی
لونی د وډئ لیدلی او خوړلی دئ . دیری ښی پخ شوی وی
او د سیر او پر ه نه کمی نه وی جوړی شوی . خو د باکو تنار ه
د وډئ چه عام بازار کښی خرڅیدلی د کتو قابلی وی د ناشقند
د وډئ هم سنا یسته دئ . خو پیښور د تنار ه د وډئ نه گوره .
کابل ، بخارا او تاشقند کښی په د غه رنگ د وډئ پخولی شی .
خوروس کښی د شپاړسو پونډو یعنی اتو سیرو یو د بل
د وډئ وی . اویا مخکښی ایران خو د تبئ د وډئ پخوی .
مونږ ایران کښی د تنار ه د وډئ او نه لیده . خو د تبئ د وډئ
زمونږ د وطن د تبئ د د وډئ په شان نرمی خوږیاتی او ښدی
وی . د اد وډئ هم د سیر او پونه کمی نه وی . خو ډیر ی
پستی وی . د د وډئ نه علاوه باکو کښی اینگلولی په ایشیائی
طریقه پخیږی .

باکو کښی زمونږ ژوندلږ وو. کل دوه میاشتی موتیرے کړے وے. خوښی موتیرے کړے وے. او وجه داوه چه مونږ ته وطن دتلو دپاره خوښ راکړے شوے وو. دحکومت دخوښ نه علاوه مونږ دلا رهے دخوښ نه هم خوښ کولو. زمونږ دا خیال وو چه مونږ به زر رخصت شو. اوحکه مولاس خلاص سائلی وو. مونږ پنځو ملګرو ته دولس سوه دالره چه دسږ زره روپئی شی. رے جوړیدے راکړے شوے وے. شپیر سوه روپئی دیوکس برخه وه. قلیل رقم وو. وطن لږ وو. خو مونږ سره کالم پیسی سره عادت نه اوو او حکه مو پیسو ته اهمیت نه ورکوو.

د پنځو د پردی برخلاف احتجاج

یو مازیګر مونږ دسمندر په غاړه ناست مهاندارهم راسره وو. مهاندار په اصل کښی دفلس وو. جبرئ توکی وه. او په روسی اوفارهی سه پوهیدو. یوجلوس د پنځو راروان وو. هلته یو دیه جلسه جوړه شوه مونږ خپله هم تاشقند کښی د یوکال کیږدیه برګ په ترکی لږلږ پوهیدو. خو مهاندار ورته وهره د تقریر ترجمه به ګوله. دوه درے تقریر وونه اوشول. د

تولو مطلب یووو. دپردے مخالفت وو. هرقدر د مسلمان ملکونو دپسماندګئ وجه پرده ښودله. آخرکښی د پردے بجسمه باندے ځے اوراولګولو. اوپه خندا خندا جلسه ختمه شوه.

د باکونه لاړهوندل ګران شو

باکو ته درسیدو نه څو ورځی روستو ګوهر رحمان د ترکستانا نډرا اورسید و. د هغه په رسیدو سره ټول خوشحال شو. د وطن وتلو لاړه سخته خطرناکه وه. زاړه ملګرے د یوبل د اډګیرنه وه خو نهسره هم سخته خوښه وه چه په آرام به شو نو تنګ به شو.

نهسره خیال وو چه موږ به نهسره روان شو. خو څو ورځو کښی معلومه شوه. چه د افغانستان سفیر نهسره د افغانستان په لاړه د پریښودو نه انکار اوکړو. موږ چه خبر شو چه نهسره تلل به د افغانستان په لاړه وے. نو د باقی افغانستان د کتلو تجویز ونه موکول. په واپسی کښی نهسره د باکونه مرو. کشک. هرات. قندهار. غزنی. کابل او جلال آباد وه. خو زړه تورزړه معلومه شوه چه هغه طالب علمان چه چا د سکو یونیورسټی کښی تعلیم حاصل کړے دے. حکومت افغانستان هغه قطعاً د پاسپورټ ورکولو د پاره

تیار ہند دے ۔

دویمه لاړه د ایران وه. د دغه ملک سفیر هم موږ ته د پاسپورټ را کولو نه انکار را وکړو. اوس موږ له وطن څخه د لاړې پاره یوه لاړه هم داسې پاتې نه شوه، چې موږ پرې په څرګنده تلی شوے. د پټې د تلولا رهے خو موږ چاپند ولی نه شوے. خو موږ پوهه شو چې موږ پنځه کسان په یو ټولی کښې سفر نه شو کولی.

پس له موږ د پاړه دوه لاړهے خو ښې کړے شوے. یوه د باکو نه عشق آباد. مشهد اود مشهد نه د سیستان په لاړه د زاهدان اوکوټه بلوچستان ته اولاړه مشهد نه د هرات، قندهار په لاړه د هند وستان ته. خیر چې یوځل مشهد ته ورسیدل او شی نو بیا د سفر کولو نکی خپل اختیار نه وے. د الاړ نسبتاً آسانه وه دویمه لاړ، ګوټه او نا بلده وه. د باکو نه تفلس. ارمنستان، تبریز او د بغداد نه هند وستان ته .

موږ دوه ټولی شو. یو ټولی مجید، فیروز او سلطان محمد خان وبل ټولی کښې زه او ګوهر مجید، فیروز او سلطان سمد ستی ستق آباد ته روان شو. چې مشهد ته پورې له اوځی. د الاړ تیاره وه وزه او ګوهر لا باکو کښې ناست وو. چې درے واړه یاران بیرته راغلل. معلومه شوه چې د مجید او فیروز د سند وق نه چا ښه ے ښه کړے ده. موږ دیر خفه شو. مجید مو ملامته کړو. هغه دیر قابل سړے وو. خو د رقم سنبالولو کښې ناکامیابه ثابت شو. موږ

حیران وو او په سخت مشکل کښې نښتی وو. چې په دے کښې ذکریا را اورسید و، ذکریا په موښ داخبره څرګنده نه کړه. خو معلومیده چې رفیق رائے زموښ په باکو کښې په ایسار ید وسخت ناراض وو. ذکریائے راواستو وچه زموښ درویښ وانتظام اوکړے.

دباکو نه تفلس ته

ذکریا یو پنجابی انقلابی وو. دکال ۱۹۱۴ء جنګ عظیم په وخت کښې دلاهور نه میډیکل کالج نه څو طالب علمان افغانستان ته تللی وو، چې دوطن د آزادے دپاره کوشش اوکړے. ذکریا اوس باکو کښې شپږ اوه کاله پوخ سړے وو. دیو اعتبار سره وو. او په کار ایستو کښې ماهر وو. دوه څلور وخته کښې ذکریا زموښ دپاره بندوبست اوکړو، په لومړے خل موښ ته معلومه شوه چې موښ به تفلس، ارمنستان، تبریز او بغداد په لاره هند وستان ته ځو.

"ملګرو ستاسو سفر به ډیر لمبے وے. تاسو به د تغفان نه بن راهد ے ایران کښې داخلیږے. او په خپله به ځان ته ځ

بغداد درسید ولاړے لټوئ: ذکریا موبن تړپه دے الفاظو الوداع اووے .

"دیلی گیتسکی واگون"

د نمائنده کانو کاډی

زه اوگوهړدما سختن کاډے تفلس ته روان شو. دمسکو د یخنئ نه خوړا وو تو خود قفقاز ساړه هم خاشته څواوئ. موبن بستړے اوغوړولی. دبوتا نو اوکوتو نو سره بستر وکښی نوتون خو ساړه وے چه نن نړیم نوکله به یم. اوساړه به ولی نړیات نه وو. کاډے اوښده ډډ رهیمی درجی. شیشی پکښی نه وے. په کهرکو کښی په ټاوړ کښی سیلئ چلیده. دواوړے دسیلی یخنئ! خدائے دِ تړے هرڅوک اوساتی .

زموبن اوښده کاډے کښی صرف یوبل مسافر وو، چه کاډے څه منزل اوکړو. نوهغه راپاسیدو اوپه ګډیدو شروع شو. کاډے کښی تیاره وه. موبن نه پوهیدو چه څه چل دے. مسافر ګډیدو سره به دنظم په شکل کښی په ټاوښئ شړه کښی دانئ اخته وو.

"دیلی گیتسکی واگون. دیلی گیتسکی واگون.

اِنه دیلی گیتسکی واگون. کک کراسیو دیلی گیتسکی واگون".

اول خو موږ په مطلب نه پوهیدو. خوچه فکر مو ورته اوکړو نو معلومه شوه. چه هغه ډیر سارې دلاسه مجبور شوے وو. اود خان کړه مولود پارې په ګډیدلو شروع شوے وو. اود خان سره ے د موقعې مطابق یو شعر وے. دهغې مطلب دادے

"دنمائنده ګانو ګاډے ده. دنمائنده ګانو ګاډے ده"

"داده دنمایندګانو ګاډے. څرنګ بنایسته دنمائنده ګانو ګاډے ده"

دا مسافر حکومت دباکو نه تفلس ته دنمائنده په طور استولو اوحالات داسی خراب وو. چه سخت ترهی کښی پوه ماه کښی په داسی وطن کښی دګاډے شیشی مانی وے، اویخ هوالکه د واوړو دسیلۍ ګاډے کښی چلیده. تولې شپه ګاډے روان وو. په هر سټیشن به اودریدو. رفقا ئے هم ډیر سست وو. نمائنده موږ نه او وے چه لږ ے ورځی شوے دے چه د تفلس اود باکو ترمینځه ګاډے چلیدل شروع شوے دے. حکه کهرکے بې شیشو اوماتی دی.

تولې شپه موږ درے واړو ستر ګه پټه نه کړه. د قفقاز سارې په بستر ونه دے. داورګډی ئے علاج دے. اوخړ یو خوا ته کړه چه دګاډے محکمه دومره تنګه وه. چه یو خو تختی ئے د شیشو په ځاے کهرکیو کښی تکو هلی وی. نو ښه به وه. نه موږ خو لیونی ځوانان وه. نه په سارې وو. نه په ګرمئ. نه په سمه وو. نه په غوه. د انقلاب نشه وه. په هر څه کښی مزه وه.

تفلس

سحر تر ډب لس بجی د تفلس سنبارته اورسید و. د با کو د
مهماندار خپلوانو کره کوزشو. د تعارف چتئ مو اوښودله.
د کور خاوند د مهماندار سخر وو. زمونږ ځه د یر عزت اوکړو
لږ ساعت کښی تړام کښی کښینا ستو او بیا الریا ستی دفتر
ته د جواز د حاصلولو د پاره لاړو. په دویمه ورځ مو جواز حاصل
کړو. تفلس کښی انقلاب نوے نوے شوے وو. بغیر د جواز نه به
څوک د گرجستان د ریاست نه باهر نه شو وتلی. تفلس د تفقاز
مینځ کښی دے. دایرانیا نو کوه قاف دے. د بنا پیړو وطن دے.
تفقاز کښی درے جمهوریتونه دے. یو اذربایجان چه
با کوئے صدر مقام دے. دویم گرجستان چه تفلس ځے صدر
مقام دے. دریم ارمنستان دے چه اروان ځے صدر مقام دی.
خو د تول تفقاز مینځ کښی تفلس دے. دا بنار د خپلواوسیدونکو
په شان سنایسته دے. په تنگه اوچته ډه کښی پروت دے.
د واړو خواؤ ته د غرونو په لمنو ورځور شوے دے. چه سړے
مینځ بانار کښی اودریږے نو د بنار د واړه لمنی به ورته څرگندی

شکه ورسه، چه په غږونو وړښتی دی.

موږ چه څه رنګ اوریدلی وو، د تفلس اوسیدونکی د هغې نه نړیات بنایسته وو. د منزلنی د خلقو خبرې ښه تیاوې خو د یورپ بنایسته ګې محکمې هیڅ وو. غم رنګ چه سپین بخن وي توري ستړګې چه د پښتو ادیبانو وړته د کوتاچو ره تشبیه ورکړې ده. او اوږدې نرالفې چه وړته ګې بنا ماران ویلی دي اوچتې نږې اوني سروقد موږ په تفلس کښې اولیدې. مسکوئ په حقه صفت کولو. دا موږ کې او یورپ خلق ګې هم په حقه دکنلو د پاره اوږده مزلونه کوي. او ایران کوم نږدې چه دوي ترې بنا پیرې وي. اوخا نوټونه ګې دیوان ویل.

موږ د سحر چایه یو هوټل کښې څښلې. چایه را کوونکې د ومره جادو اثر لرلو، چه ګوهر یوه غوږه پیسټرې اوخوړه او پیالې هم د چینئ نه نوره نفیسې وه غوښتل اوخوړاک ؟ او وړه ولو.

میان صاحب! کیا زندګی هی، بس یه خواب کل ختم هو جائے ګا او هم تفلس سی چل پړینګی. کیا بغیر همارے انقلاب هند ادهورا رهجائیګا. ګوهر جس باندې پرانشوړے وو.

ګوربچستان کښې ترشپږ میاشتې وړاندې یورپ ما شوکې جمهوریت وو. تر بالوم د بحیره اسود یه غاړه خور شوړے وو. خوچه یوخوا تر آذربائیجان اوبل خوا تر ارمنستان

پورے انقلاب اوشونیما بشویکی حکومت نښې اوخوئیدے.
د انقلاب د اوچتید وخت وراند. ے سپین پوش منشویک سره
د مال دولت د امریکی په جهاز وتو کښینا ستل اوپه عزت
سره هجرت اوکړو. بې وینې توئید و انقلاب اوشو. بیا د سپین
پوشو د موقع شناسی په وجه صفا ستهره سرخ پوشو ته پاتی شو.
د نوے اقتصاد ے پالیسی ماتحت پرائیویټ تجارت شروع شوے
وو. واړه دکانونه او هوټلونه پرانستی شوے وو.

اروان

په دریمه ورځ موږ د واړه ملګرے د تفلس بنایسته
ریلوے سټیشن ته راوو ختو. اوګاډے کښې کښینا ستو. لس ګهنټی
کښې اروان د ارمنستان صدر مقام ته اورسیدو. د ګاډے د
ډیلی کیټسکی واګون نه نه بند نه وو. اګرچه د شیشو په خاے پکښې
تختی لګیدلی وے. خو ګاډے د دومره ډک و وچه ساه موپکښې
بند یده. لوستونکی اندازه لګولی شی چه دګاډے کښې څومره خلق
وو. چه سره د دے چه واوره په ټوله وشوره وریده خو بیا هم
د مسافرو د زوره نرمونږه ساه بند یده. کله کله چه به موږ
موقع اومونده اودګاډے نه به موبهر اوکتل نو حیران به پاتې

شو. چه کاډے په داسی واوړه وکښی څرنګ لاړا وباسی. د ریل د
کوښی دواړه خوانته جنګله جوړ شوے وه. چه سیلی واوړه دکاډے
په کوښه نه شی غوړیدلی. هسی هم په کوښه تړپنډ وپنډ وواوړه
پرتے وه اود پاسه پرے وړیده.

ما بنام تیاره اروان تړاوړهیدو. یوتړکی هوټل کښی مو
شپه شوه. د هوټل مالک دیر ښه سړے وو. هغه زموږ د رنګونو
نه زړه معلومه کړه چه موږ مسافر یو. خپله راپاسیده و موږ سره
کښینا ستو. زړے راته د ودۍ مخکښی کیښوه. یره لوبه خالی
رکیبۍ اوبه شوربه دکه کتوے سره د سمسۍ موږ تړا مخکښی
کړه. داړو مبۍ حل د وچه موږ د سویټ روس په څوند کښی
پی کا شکوپه لاسو د وے خوراک ته کښینا ستو. اول سره کښی موږ
د واړه لاس نیولی شو چه بی کا شکه به وے خورو. خو ما ک زړه
فهم وو. زړه زړے د ودۍ په تالی کښی پورے کړه. او شوربه سره
د غوښو ے وړاندے وړ و چوله. ما په داولیده. نو زه هم د بابا ګ
بسم الله اووے اولاس م پرے پورے کړو.

"داخو د پښتنو د خوراک طریقه ده. شابه ښه! خوړه ے"
ما گوهرته اشاره اوکړه. خوگوهر کرکجن سړے وو. هغه ډکوتو
په سر خوراک شروع کړو. مالک د هوټل ډکوتو په اشاره اوپه خپله
ژبه خما په طریقه ښه اووے

صبا موښا ر ښه اوګتلو. پیرلوے نه وو. څلورمه حصه

روان شوے وو. دانور پاشاه مشهور ترکی جرنیل روښنۍ پاشا انقلاب روس کښې دارض روم نړۍ دے لاړې باکو حمله کړے وه. او قبضه کړے وو. پرې دے لاړ کښې پرې دغه جنګ کښې سارونه او ریلوے سټیشنونه ورانه شوے وو. اوارمنستان تباه شوے وو. ډډے تباهئ وجه داوه چه ارمنی قوم اوترک ډ زمانو نه سره خپلو کښې سره نه وو. حکمدے خلقو دنورے پاشا مخالفت کړے وو. اووطن تباه شوے وو.

ارمنستان کښې قحط

اروان کښې بدحال وو. خلق اوږے وو. یوسړے دبل د لاسه ډوډئ تښتولے. گوهر دیو دکان نه ډوډئ واخسته د کاندا روله خبر دارے هم ورکړو. خوچه هغه پرخان پوهیدو نو ډوډئ ے په لاس کښې نه وه. داوږے دپنجی نړے ډوډئ بچ نه کړے شوه.

هغه ورځو کښې دے وطن کښې سخت قحط وو. دامریکی انجمن امداد قحط زده گان پرې ورشو سره امداد کولو. اروان کښې ے دفتر وو. اوړه به ئے تقسیمول. خوامداد کافی نه وو.

خلق اوږے وو. محونو کښی ئے وینه اوچه وه. ږنگونږ ئے تکږه
وو. ددے خلقو په بد حالئ حما زړه ډیر غمګین شو. ماروس
کښی هم تحط لیدلی وو. خوهلته دحکومت دقا بولاندے وو.
د قحط خوفناک شکل ما په ژوند کښی اول حل دلته اولیدو.

باکو کښی موږ د ډالرو بدل کښی لیږے (ترکی اشرفئ) اخستی
وی. اویا مرد دوولیرو بدل کښی شل لکھ مرکزے روبل اخستی وو
دا مرکزے روبل تول سویټ روس کښی چلید ے شول. خو د
تولو جمهوریتونو په شان ارمنستان هم خپل نوټونه چلولی وو.
یومرکزے روبل د ارمنی دشلو روبلونو برابر وو. موږ دحده زیات
دولتمند وو. هسی خو زموږ سره په دواړه تنه څلور پنځه سوه
د الره وو. خوچه ترکی لیرو کښی موږ بدل کړل نوحالت موښه شو.
اویا به چه یوه ترکی لیره په مرکزے روبلو کښی بدله شوه نو دیره
زیاته فائده به موږ ته اورسیده. اوراشه راشه چه بیا په ارمنستان
کښی چه دیولکھ مرکزے روبلو په بدل کښی موږ ته شل لکھ
ارمنی روبل راکړے شول.

دلته داخبره ضروري ګڼم چه د ډالرو به بدل کښی
ترکی اشرفئ د ترکی اشرفو بدل کښی مرکزے روبلونه موږ باکو
کښی غل بازار کښی اخستی وو. ترکی اشرفئ خو موږ برجس
کښی ګټلی وے. اود سویټ کاغذے روبلونه مود خرڅ دپاره
جیبونو کښی ساتلی وو.

انقلابی ریل گاډی

زموږ سره د ګاډي ټکټ د نقشبند د پاره وو. اروان کښې ګاډي په څه وجه ترصبا ما سپېنبنه لیټ شو. موږ د اروان د سیل ښه موقعه او موند له.

کوز ما سپېنې موږ په ګاډي کښې اروان تر روان شو. سخته یخنی وه. واوره وریده. خو زموږ ګاډي کښې دومره خلق راغونډ چه ناست او درید ې نه شول. او او درید لی کښینا ستی نه شول. موږ دباکو بی شیشو ګاډي ته پسی اړهان اوکړو.

زموږ نه چا پوښتنه اوکړه. چه څوک یئ. موږ ورته تیار جواب ساتلی وو. چه موږ د امریکی د "انجمن امداد قحط زده ګان" ممبران یو. یو خلمی نوډي ناست وو. هغه اووې دا امریکن نوډي دا څوک د انګریزانو مقبوضی باشنده ګان دي. دا خبره موږ باندې ښه اونه لګیده. کومه خبره چه موږ نه پته ساتله هغه څرګنده کړه.

توله شپه ګاډي روان وو. خو ډیر کم وو. او په ځنی ځنی سټیشن به په ګھنټو ولاړ وو. روستو معلومه شوه چه د انقلاب نه روستو د اوبو بی ګاډي دي. چه په دغه لارلاړلو

دورونتار وجه داوه . چه انجن دیر زور وړوکی وو. خاے په خاے دا سی سټیشنونه به راغلل چه د هغه سټیشن اودسل سټیشن ترمینځه به دتار سلسله منقطع وه . کله به داسی اوشو چه په خوشی میره کښی به اشاره اوشوه . گاډے به اودریدو. او مزدوران به د گاډے نه کوز شول . لاره به ئے سمه کړه . بیا به گاډے روان شو.

دانجن ډرائیور ته بدی

په دویمه ورځ زمونږ گاډے په یو سټیشن اودریدو. مونږ تړے کوز شو. اود سټیشن نه بهر د خاورو یو کچه دوکان کښی موناشته اوکړه . د سټیشن کجیر ویتنگ روم او نور عمارات رنگ وو. چه پوښتنه مو اوکړه . نو جواب هم هغه زور وو.

ما زیگر نا وخته گاډے کښی جنبش پیدا شو. مونږ ه ور اوختوئیم گاډے چه مونږ دیه هم پکښی شامله وه . پاتی شو. او باقی دانجن سره جدا د روانید وتیار ے شروع کړه. په سټیشن کښی غوغا شوه . د پاتی شوے د یونه اولس اود نگل او په روانید ونکی حصی ئے حمله اوکړه . مونږ هم خپل وس اوکړو. خو

کامیاب نه شو . مایوسه حیران اودریږو .

زهوښ لاړه اوږده وه . یوه ورځ نه بله ورځ به پاتې کاږے کښې ناست وو . خو په ستیشن هسې هم جوړ مکان نه وو اوبیا دومره اولس کښې به زهوښ څه حال وو . موښ چارچاپیره کتل . دا ښځې سره موخه سره اولیدل . چه د دې ټیوږ سره ے خبرے کولې . موښ ورته ودنګل . ګوهر د جیب نه دوه مرکټے نوټونه را اویستل اوحمانه ے دستر کو رپ کښې اجازت واخستو . چه لاس کښې ے دوه لکھ مرکټے روبله پریوتل . نو دا ښځه د دې ټیوږ ستر ګی بقی لاړه اوچغې ے کړے :

پټ السنا توارښې ۔ (ملګرو مهربانی اوکړئے)

د لاس په اشاره ے راته اووے چه راخیږئے . په عزت سره ے کښینولو . د دې ټیوږ لاس نه څلویښت لکھ[1] ارهنی روبل ورغلل . د خوشحالئ نه ځان نه ے ورک شو . موښ ے جوخت د اوږدخلی سره کښینولو . چه سړه مواونه شی .

کاږے روان شو یوه ګهنټه به تلی وو . چه زهوښ دبډ قسمتئ نه اوږمړشو . کاږے په تیلو چلیدو . چیرې پکار شوه . چه بله ے دا ښځه په ګیډه کښې غوږ ږولی وے . نوهله به د تیلو اوږجارے شوے وو . د دې ټیوږ یوبل د دې ټیوږ د خوب نه

---

[1] د وه لکھ مرکټے نوټونه د څلویښتو لکھو برابر وو .

راپاسولو. او چیرې ئے ترے اغوښتے. دویم کس چې ستر ګی
او چتی کړے او موږ ئے اولیدو، نو د قهر نه ئے را تاوپ کړو.
په موږ ئے ستر ګی را اویستی چې تاسو دلته څه رنګ ناست یئ.
زه تاوپ کړے کنی لاندے موغوړ ځوم.

زموږ دوست تسلی ورکړه.

"فکر مه کوه. ستا حصه شته."

نو هله د هغه د حرص په اوریدلو اوبه توے شوے. ګاډے
د ومړه شیبه په مړاوړ روان وو. بیا ئی په جمع زمونږ چیرې را-
اوویستے. تیلو کښی ئے دوبه کړه. تیلی ئے ورته کړو. او بله چیرې ئے
دانجن خیټی ته وراغوزه وله. پرک شوچه بیا په انجن کښی اوربل
شو.

نقشبند

اوایرانی شرلی شوی انقلابی کمیټی

بله ورځ موږ نقشبند ته تیاره ماښام وراورسیدو. یو
هوټل کښی موشپه تیره کړه. موږ د ایران شرلی شوے انقلابی
کمیټئ په نامه یو خط راوړے وو. چه د ایران نه په اوړیدو کښی
زموږ سره لاس اوکړے.

دکمیټی صدر اوناظم سره زموږ ملاقات اوشو. هغوی چې خط اوکتو نو موږ ته ئې اووې چې په آذربایجان (د ایران یوه صوبه ده) دې وخوکښې سفر کول غلطي ده. قبایل پخپلو کښې په جنګ دي. د ایران مرکز ئې حکومت کمزورې دي. امن نشته. تاسو لې. هره خوا بدامنۍ ده.

که موږ صدر اوناظم هرڅومره پوهول، چې موږ دخطرو پروا نه کوو. اوزموږ بله لار نه ده پاتې شوې. اویو وطن هم موږ په خپله لاره نه پریږدي. خو ایرانیانو نه منله. اوناظم چې د هغه نوم محمد رضا وو. موږ ته ئې سینډا وتپوله.

"زه به موږ په طهران بې پاسپورټه بوځم. اود طهران نه به مونږ کویټه بلوچستان ته اوړسوم. تاسو فکر مه کوئ."

اوموږ وړسره وعده اوکړه چې باکو کښې ذمه وار وخلقو د هغه تلل موږ سره ایران کښې خوښ نه کړل. نوموږ به د هغه د واپسۍ خرڅ ادا کول ذمه وارئ.

بیرته باکوته

زموږ خوش قسمتي وه، چې د نقشبند د ضلع سویټ

حاکم باکوته روان وو. هغه ته دکمیټی ناظم زموږ حال بیان کړو. هغه په خوشحالی خپلی کاډ ئ (دبی) کښی موږ ته ځای راکولو دپاره رضا شو.

بیرته سفر کښی هم دانقلاب اثر وو. دمسافرودکاډ ئ سره دمال کاډ ے یو. دبه اوترلی شوه. دے کښی موږ بستر ے اوغورځی. موږ پکښی شپږ مسافر ملګری شو. دحاکم صاحب بیګم. حاکم صاحب. دوه ایرانیان اودوه موږ ۰

ماته دچارجوئ ے نه تر بخارا زموږ اولنی سفر رایاد شو. هغه وخت دبخارا دانقلاب ابتدا وه. اودا وخت دقفقاز دانقلاب ابتدا وه. مال کاډ وکښی د سفر په وخت سره داسی محسوس کوی. لکه چه انقلاب کښی عملی حصه اخلی. زموږ سفر عجیبه وو. کله به موږ په اوچتو درجو کښی دیږ په شان سره سفر کولو. کله به مال کاډ وکښی په دیږ خوشحالئ روان وو.

خو دے مال کاډ ے شان دسفیرانو دکاډ ونو کم نه وو. موږ شپږ تنه مسافر وو. پوره دبئ زموږ دپاره محفوظ وه. بستر ے موپکښی غورځولی وے. په لویو لویو سټیشنونو مو سنه استقبال کیده. اګرچه دعزت وجه حاکم وو. خو محمد رضا به داسی ګرځید ولکه دا عزت چه د هغه کیږے ۰

د شرابونشۍ او انقلاب ایران زنده باد

ارهنستان د انګور ودشرابو دپاره نړیوال مشهور دے.
داشراب داور ښکودشرابونه هم نړیوال ارزان معلومیدل. محمد رضا
او محمد وافر دوارو ناظم اوصدر صاحب نه مونږ بیل کړو
اوواړه ے څه رقم د خرڅ دپاره اوغوښتو. چه د حاکم په محکمې
خرڅ غوښتل به مناسب نه وے. مونږ هم علی الحساب یوښه
رقم د رته پیش کړو. نه مونږ خیال وو چه دوے به ترے لږ واخلے
خو محمد رضا تول خپل جیب کښې واچولو. مونږ هم غلی شوچه
نه مونږ مسافر و پیسې به پرې احتیاطئ سره نه لګوے.

د پیسو د قبضه کولونه زړه روستو محمد رضا په یو ستیشن
کوز شو. اولږ ساعت کښې ے یولوے چائے جوش او څلور بوتلونه
د شرابو ک را وخیژول. خو دا ے کافی اونه ګڼل بیا کوز شو.
او څلور بوتله ے نور را وخیژول. مونږ حیران وو. خو محمد رضا
را نزد ے شو او په غوږ کښې ے راته او وے.

په دے ځاے کښې شراب ارزان دے. نه په دے خبر و کښې
ماهریم. او ځکه د تولې لارے فکر کوم.

موږ پوه شوچه دانګریوسره شراب زموږ دوینوجوړ وے . خوغږ مونږ شوکولی . اونه داسی مناسب وو.

موږ په دے هم حیران وو. چه په تول سویټ کښی په ارمنستان کښی شراب څوک آزاد خرڅیږے . خودا خبره زموږ زړه کښی نه خایده . موږ سره دخپلو پیسو فکر وو. موږ نه معلومدوه چه زموږ لاره اوږده ده . او محمد رضا کرتوکو نه بلوچستان دارنګ خرڅ کوے . نو حال به موخدشی . خما او خما د ملګرے دَد غه دوو ایرانیانو نه زړه تورشو.

دشراب نوشئ تیارے شروع شوه. پیالئ ے ډکے کړے. موږ نه ے هم پیش کړے . خوموږ معافی اوغوښته. وئی زموږ دانکار هغوے پروا اونه کړه اوپیالی ے لاسو کښی اوچتی کړے خپلو کښی به ے جنګولی .

دایرانی کمیټی دنا ظم خوصرف څښلوسره غرض وو. خوصدر محمد وافر به پیاله د حاکم سره اوجنګوله اوآواز به ے کړو :

" انقلاب ایران زنده باد "

حاکم به جواب ورکړو

" انقلاب روس زنده باد "

د واړو یارانو به پرپوه ساه پیالی اوخښلی. ناظم محمد رضا به د اخپل فرض ګنړل چه پیالی تشی پاتی نه شی . دستر کو ړپ

کښی بهٔ ے وکی کړے وے . اوبیا به د ایران اور وس انقلابونه
زنده باد شول . ګاډے روان دے . بهر واورے وړیږے او د
شرابو بوتلونه تشیږے . د انقلاب زنده باد نه ور ورو نور وخبرو
بحث شروع شو . څنی خبره به نه ختمه شوه او څنی به اوږده
شوه . حتی چه خبرو کښی ربط پاتی نه شو . ناظم صاحب محمد رضا
خوانټ شراب خوړو . خبرے ئے کمی کولی او دیوے پهٔ ځای
به ئے دوه پیالی څښلی . خود صدر صاحب محمد وافر اود حاکم
خبرے نه بندیدے . یوبه دبل نه د خبرو وارنه مونډو . یوبه د
بل نه وار تښتولو . محمد وافر پکښی کوز اوکتل . خوبیا هم لا دور
چلیدو . په خبرو خبرو کښی حاکم د خپل سخوږ کر شروع کړو . د
هغه نه ئے شکایت اوکړو . چه ځما د ښځی نه ئے قلم نه د ے کړے .
ایرانی صدر محمد وافر د لنین د ټول سویټ د صدر نه سخت نارا-
ض و وچه د ګیلان انقلاب ئے واپس کړو . اود بادشاه ایران سره
ئے سمجهوته اوکړه . دومره بکواس د واړو اوکړو چه د حاکم ښځه
چه تر اوسه غلی ملاسته د خورده او وتله او په درے واړو شرابیانو
ئے دبکی شروع کړے .

تاسو خانته انقلابیان وایئ . تاسو ته شرم پکار دے .
تاسو خود ذلیل نه ذلیل شرابیان او بخښل ؟
هغی خپل خاوند ته دیر بد رد اووے .
کهٔ ته بیا د ے ایرانیانو بد معاشانو سره په مجلس ما

اولیدے نوزہ بہ تاسرہ کورم"
نہ حاکم اونہ ایرانیا نو سوبن کولی شو. غلی شول. د مزکی
غبن ختو خود هغوئے نہ ختلو.

بیا تفلس

واپسی کاږے دوہ لندینی نہ دیر تیز رفتار وو. بغیرد.
خو واقعی موبن تفلس نہ پہ لږ وخت کښی اورسید و. دلتہ هم
ایرانیا نو زموبن د تجربہ کارے نہ دیرہ ناجایزہ فائدہ واخستہ
محمد رضا بہ زموبن نہ رقم اخستو اود ے تہ بہ ئی نکشل چہ موبن
دلرے مسافریو. پہ تفلس کښی موبن یوہ ورځ تیرہ کړے وہ.
د خلورو کسو صرف د دوہ ډی دوہ توکی لیرے خرڅ راغلی وو.
سرہ کړے چرگان وو. چہ زموبن د حلق نہ نہ تیریدل، او محمد
رضا بہ پہ مړے کښی اووے.

"معاف بکنید. مایک شراب هی خوریم" او دوہ درے
بوتلہ ئے اوخښل. موبن تہ معلومہ شوہ. چہ دا ایرانیان بالکل
لوچہ سړے وو. دوے دپولئی پیک تہ ناست وو. اوبیا ئے هم
زموبن مال پہ دیرے بی درد ے سرہ خرڅ کړو.

بیا باکو

کله چې محمد رضا موږ سره د ایران په لاره روان شوی وو نو امید دې چې موږ به هره ورځ سنا رته نه وو ویم ته نه وو رسیدلی. موږ ډډ وو نه بالکل مایوسه شوی وو. حاکم خو په تفلس کښې پاتې شو. خو موږ نه وو نو ته جواب نه شو ورکولی. او پدې وجه موږ باکو ته څلور ولاړه یوځای لاړو.

ایرانیانو ته موږ اووه. چې باکو کښې نه موږ زورځای شته خو هغوی دا خوښه نه کړه. او موږ نې یو هوټل ته د شپې دپاره بوتلو.

باکو کښې موږ ځان تکړه کړو. او خرڅ موخپل لاس کښې اونیوو. معمولی دودئ مو د خوړه. شپه موتیره کړه. سحر د هوټل د بل اداره کولو د پاره غل بانا رته دیوې اشرفئ د بدلولو د پاره نه او کوهولاړو. ما نو تو نه خپل بهر جیب کښې واچول. بیرته هوټل ته را غلو چې بل اداره کړو. چې جیب ته مولاس کړو خالی وو. چې د جیب نه رقم ویستی وو. ما کوهن ته او کتل. او مسکی شوم. هوټل والا یکدم اووې "چا د نه جیب اووهلو."

دی نه پس نه رته نه موږ زورځای ته ځان را ورسولو.

مهماندار چه مونږ اولیدلو. حیران شو. مونږ ورته قصه اوکړه
مونږ لاد ایرانیانو د فضول خرڅئ غږ نه ووکړے چه مهماندار
په قهر شو اووے وے چه دغه ایرانیان بدمعاشان دے.
"تاسو نه څه غلا خوئے نه ده کړے".
مونږ ورته دهغوے د فضول خرڅئ او د شراب نوشئ
قصه اوکړه. هغه پرځغه شو. او ایرانیانو ته ے سپے وواستو-
لو. (ایرانیان لاندے په سړک ولاړ وو) چه په حیا کښی تښتئ.
کنی نو پولیس ته موحواله کوم.

مجید او دهغه ملګری هم بیرته راغلل

دوه ورځی پس مجید. فیروز او سلطان هم راواوړسیدل
مونږ حیران شو. هغوے هم حیران شول. مجید اووے "ما
فیروز ته وئیل چه حساب لاندے جیب کی ساتہ. خوده په
سوټ کیس سائل. عشق آباد کښی چه کوم ځاے کښی مونږ دیر
وو. هلته یوخدمت کار به هروخت لیدل چه پیسی سوټ کیس
کښی دی. هغه ویستلی دے. مونږ په هغه دعوے اوکړه. د
هغه تلاشئ اوشوه. خو هغه ځان سنبال کړے وو. مونږ ته څه

لاس تدرانه غلل:

"تاسو نه ټولی پیسی لاړے:" ما ترے پوښتنه اوکړه.

"نه یار! صرف دفیروز سره د خرڅ دپاره موږ څه کیښی وو. نو هغه لاړے." مجید جواب راکړو.

"هغر خو به لږ شی وو." ما خبره اوکړه.

سلطان راتوپ کړو او په غصه ے چغه کړه "دا تولو غلطی د مجید ده. ما خو ورته خپله حصه بیله کړه اوداد ے پوتو ښکنی می گندلی دے. او مجید ته به م ویل چه فیروز هلک دے هغه سره غټ رقم مه پریږده. د خرڅ دپاره څوک دومره رقم بهر ساتی."

"آخر څومره رقم لاړو. تاسو پرے دیر زهیر ښکاریږ." ما ترے بیا بیا پوښتنه کوله.

"څه رقم لاړو؟ موږ ه ختم شو. مخکنی دقدم اخستونو یو. د ریواړه پرے رسیدے نه شو. او یوکس پریښوے نه شو."

مجید مایوسه جواب راکړو.

"یارو عجب انصاف هی که اتنا بهی نهیں تبلاتی هوکه کتنی رقم سورت کیس سی نکالی گئی هی." ما ترے په قهر پوښتنه اوکړه.

مجید پوه شو. او نه ړے او ښودل. چه دیوکس حصه پته شوے ده.

ځما مطلب داوو، چه که لږ فرق وے نو باقی څلورو ملگرو به د خپلی خپلی حصی نه د پنځم ملگرے دپاره خرڅ جدا کړے وی.

خو مهماندار دا خوښه نه کړه . هغه موښ ته تسلی راکړه . چه انتظام به اوشی فکر مه کوئ .

خوچه مجید نه موښ دایرانی کمیتی قصه واوریده نو وے خاندل او ورته ئے لږ لږ جوړشو . دانسان دا فطرت دے چه کوم وخت ده ته نقصان اورسی . نوچه دے دا واوریے چه نور چاته هم هغه رنګ نقصان اورسیدو . نو دده خپل غم کم اوتسلی ئے اوشی . بیا هم موښ پنځه واړه ملګرو د غم غلطولو د پاره د باکو یوا علی اُپیره ، Opera ، ته لاړو . دیوسف علیه السلام او زلیخا د محبت قصه په روسی ژبه کښی ذکر کیده . دلوبی دختمیدو نه روستو مجید بی اختیاره اووے .

نژه خو دلوبی نه په بی لوبی وخت په اُپیره کښی نریات خوشحال وم . چه بریښنا (بجلی) به شوه . نوچه چا پیره به م نظر په سټیج و پریوتو . اوچه لوبه به روانه شوه . نو تیاره به شوه . مابه څوک نه لیدل .

" سټیج کرستا خوښ وے . نو تابه موښ دے سټیج و پیره پریږدو " کوهر ورته توقی وشتی کولی . دغسی موښ ځان مشغولولو او وخت شپی به تیریدے .

سلیمان ذکریا

زهموږ به شپږ ورځې پوره کیدے چه په دے کښې سلیمان ذکریا د مسکونډ اوسیدو. ذکریا د کال ۱۹۱۴ء د جنګ عظیم د شروع کیدو نه ر وسته. سره د نورو طالب علمانو د میدیکل کالج لاهور نه افغانستان ته اوړیدلی وو. دا انقلابیان په یورپ اوایشیا کښې ځاے په ځاے د هندوستان انګریز ے حکومت نه د هندوستان د آزادے په کوشښونو کښې مشغول وو. ذکریا مخلص انقلابی وو. اودرائے معتمد وو. ده موږ ته اووے چه رائے ډیر خفه دے. چه دوے کښې دومره دلیرے نشته چه دوے تراوسه د ایران او افغانستان غوندے ملکونو ایسار کړے دے.

تاسو موږ ته صرف دومره اجازت راکړے چه موږ ستاسو د حکمونو انتظار نه کوو. نوبیا ګورے چه دنیا کښې کوم طاقت دے چه زموږ له لاره کښې اوډریږے. موږ ذکریا ته اووے.

ذکریا دوه درے ورځو کښې خپلو اوګوهړ سلمان د پاره

پاسپورټ تونه پیدا کړل. او موبږ ته دانزلی، طهران په لاره وطن ته رخصت کړو. او فیروز ته بیرته ماسکوته بوتلو او مجید او سلطان د مزید احکام په انتظار کښی باکو کښی پاتی شول.

یوکال پس زموبږ دتولو ملګرو سره مبئ ملاقات د پیښور په جیلخانه کښی اوشو مجید، فیروز او سلطان سره د نورو ملګرو د پامیر په لاره چترال ته راغلل او هلته ګرفتار شول. او د هغه ځائ نه ئ بیا د پیښور جیل ته د مقدمی د پاره راوستل.

ایران

ACKU

ACKU

بند رانزلی

"ربوچی" رفتار کړو. چا چغه کړه "انزلی" "انزلی"
موټر دواړه پاسیدو. په تخته اودریدو. په شاموا وکټل هر
څه پاتې شول.

"تر څو خفه شوے. څه چل دے." گوهر رحمان رانه
پوښتنه اوکړه.

"حما څوک رایاد شول. ما جواب ورکړو.

"څوک؟"

"تر ے څه پیژنې. چا چه پیژنده، هغه با کوکښې پاتې
شول." هغوے سره په تبادله خیالات حما نه مشغولید و." ما
جواب ورکړو.

ما دجیب نه تصویر را ویستو او ورته م په خیر خیر اوکټل.
گوهر حما نه تصویر واخیست. اوبیا بیا به ے ورته کټل. "داخو
ما لیدلی وه یونیورسټۍ کښې نه وه؟" ما جواب ورکړو.

گوهر دیونیورسټۍ د څو ورځو شیر ولو نه پس د کټرو ے
صحت په وجه سبتاً کوم حا ے بخاراته تلی وو. حکه هغه

تر څما او د آسایان د مینی حال نه وو معلوم ۔

جهاز بند ته روږو ورنږدے شو او د لرګی ډډ نکاچے سره او درېد و ۔" نن څویم تاریخ د ے چه یاد ے لرو ۔ ګوهر پوښتنه اوکړه ۔

"نن دویم مارچ ۱۹۲۲ء د ے یاد ے لرو ۔" ما ورته اوښیلو ۔ ما او رفیق ګوهر دواړه د انزلی سپینو عمارتونو ته کتل او غلی ولاړ وو ۔

"اینه همه دوه سپاهیان سپینی قرانقلی توپۍ په سرهونې ته راغلل ۔

"بیا که برویم" دواړه ے د بندر نزد ے یو مهمانخانی ته بوتلو او هلته ے کښینولو ۔ موږ ته ے پوښتنه اوکړه ۔ چه رهونې د ایسارولو وجه څه ده ۔ جواب ے راکړو ۔

"حاکم بندر تاسو سره ملاقات کول غواړے ۔"

پوهشو چه رهونې د راتلو خبر رهونې نه وړاندے ے راږ ۔ سید لی دے ۔ یو ساعت ناست وو ۔ چه افسر را ښکاره شو ۔ شین قرا قول ے په سر ۔ لنډے کوټ او برجس ے اغوستی وو او په پښو ے اوږده ترکوډو بوټان وو ۔ د راتلو سره ګوهر جان ته مخاطب شو ۔

"ته هنډے ے خو ا روسی چرته ځی ؟"

ګوهر د خپل عادت مطابق مسکی شو جواب ے ورکړو ۔

"زه هند ے نه یم . زه افغان یم ."

گوهر تة ے بله خبره اونکړه اوزه ئے مخاطب کړم

"تاد ے راوستی د ے اوته وطن ته په ستنه کیږ ے ."ما د جواب ورکولو دپاره ځان تیار ولوچه هغه پاسپورت اوغوښتلو پاسپورتونه ے سنبه اوکتل . یوساعت غلی وو . اوبیا ئے اوویل :

"خوب به هوجایکه می خواهید برویدبه ماچه ؟"

ما ورته اوویے : "گوره ! زمونږ پاسپورتونه تاا وکتل . مونږ دواړه افغانان یو . اودطهران په لاره کابل ته روان یو ."

حاکم سره دسپا هیانو لاړو . مونږ ے پریښودو . مونږ دواړه بیا کښینا ستو . اوخپلوکښی په فکرکښی شو . چه اوس څه اوکړو . گوهرماته په پټون ټس راکړو .

"تااولیدہ ؟"

"څوک " ماترے پوښتنه اوکړه .

"بیگم تمباکوف سره دزامنولونړوداوبویه غاړه په سیاله کښی کښیناسته ." گوهرهغه پلواشاره اوکړه .

مونږ ـ تمباکوف ښځی پلو ورغلو . زمونږ په لیدو دډیره خوشحاله شوه . دمزکی راپاسید ، جوړتاړه ئے راسره اوکړل . لونړه اوخامن ئے هم پیرخو شحال شول اوراغاړه وټل .

بیگم تمباکوف خپلی سختی نرمی مونږ ته بیان کړے چه تمباکوف د طهران سفا تخانه کښی دے . اومونږ ټول ټبرے غوښتی

یو خو عجیبه ده چه نه خپله راغلی دے اونه ے څوک راستولی دے . مونږ دیر اوکړید و ."

ما اوګوهر دوارو ورته خپل خدمات پیش کړل .

"چه مونږ یو . نو دبل چا څه ضرورت دے . مونږ ستاسو دپاره دهر څه انتظام کولی شو ."

بیګم نرمونږه بیا شکریه ادا کړه .

مونږه بیګمه سره د هوټل پیرس (Hotel De. Paris) ته بوتلله . او مونږ ترے هله رخصت واخستو . چه هغه په آرام شوه . هغی اووے چه نه به هله مخکښی قدم اخلم چه تمباکو ف موتر راواستوے . مونږ تسلی ورکړه چه مونږ طهران ته اوږو نو تمباکو ف به اوو بیا واستاد رسید و اطلاع به ورکړو .

انزلی ښار د بند ر نه دوے ته دے . مونږ په کشتی کښی سوار شوا و ښار ته ورننوتو . یو هوټل ته د غرمی د دوډی دپاره لاړو . په میز کښینا ستو . یو خدمت ګار راغی . پوښتنه ے ورنه اوکړه ،

"آغا چه می خواهید . پلاؤ یا چلاؤ ؟"

مونږ په ژوند کښی د اخرے ځل نوم نه و واورید لی . خکه موحکم اوکړو : "چلاؤ "

بیره خشکه راوړه . ساده سپینی بی غوړه وریجی . درسره کچ وو . او وبزه ے د غوښی تیکی کباب وو . میز په مغربی طرز

جوړوو. کانټه چاړه وهړه وه. خوراک مشرقی وو. خوطرز او صفائی ئے مغربی اودل خوش کن وو. دسمندر غاړه وه مزه ئے اوکړه.

تمامی ورځ موږ ښار کښی اوګرځیدو. ښار وړوکی وو. سواد هوتلونو نه پکښی ښه عمارات نه وو. یوځای دحسن حسین یادتازه کیدو. موږ ورته اودریدو. زنانه دسړو نه پکښی نه پیژانده وے. پرده ئے کوله خو برقعی ئے نه وے. تورچادرونه ئے پرونی وو. مخونه ئے مخکښی جال اویزانلو. یوه نیمه چه نه پیژانده ولنا کړو. دهغی مخکښی دجال توته استرے داسی لګیدلی وه. چرګ به ئے ښکارهیدو. خو اکثرو سخته پرده وه.

دایرانی فوج اودپولیس لباس کښی صرف دتوپئ فرق وو. دپولیس توپئ دسپین قراقول وه اودلښکرے د تور وه.

دسویټ اوایران نیمایت تجارت پرده لاړ کیږے. اوځکه دانزلی مستقبل ښه ښکاره ے.

جواز

موږ ته معلومه شوه چه دخلقودپاره دانزلی نه د روانیدو په وخت دجواز ضرورت وے. یوفټن والا زموږ سره دجواز دفټو ته لاړو. هغه موږ ته اووے چه جواز اخستو

کښی تکلیف نه وے . خو موښ سره غم وو. زموښ په زړه کښی شک وو. د حاکم بنده" به هرجائیکه می خواهید برویدبا چه!" څه مطلب کیدے شی . ما اوکړه هر پرے بنه تبادله خیالات اوکړه خو زموښ خیته کښی گیدړ ناست وو زموښ پاسپورټ درست وو. خود طهران پورے وو. شاید دغه وجه وه . چه حاکم موښه اونه نیولو. هغه وخت نے پریښودو اوبیاد طهران نه مخکښی به مونیسی .

فتن والا زموښ زړونه تینګ کړے وو. وئیل نے هر ورځ دمسافر وضا من کیږم اوجواز ورته اخلم ."

"دادے دفتن" فتن والا په زړه اووے چه موښه ور اورسید و. موښ په لویه دروازه ورننوتو. چپراسی یو کمره کښی کښینولو. اجازت راکړے شو. مخکښی بلی کمرے ته ننوتلو په درشلی شپه کیښودو سره مونظر په حاکم بنده پریوتو "بخیر امدید" هغه په موښ وخندے شو:

"خیال موکولوچه تاسو به بخیر د جواز نه لاړشی" حاکم اوخندل .

ما په درشلی شپه کیښودو سره اووے "السلام علیکم" د حاکم "بخیر آمدید" اوځما سلام دواړه په یوځاے زموښ دخلونه اووتل . ما اوځما ملګرے پخپلو کښی یوبل ته په ستړګو کښی مسکی شو . چه دیار په لاس کښی بیا راپریوتو .

حاکم بندر په کرسئ ناست وو. مخکښی ئے بند مین پروت وو. مونږ ښی طرف ترکوسو باندے کښینا ستو. زمونږ نه ورپاندے څلور کسه مسافر نور هم ناست وو. هغه ایرانیان معلومیدل. یو پکښی معتبر ښکاریدو. لوئے دفرکوټ ئے اغوستی وو. اود فر قیمتی توپئ ئے په سر وه. د درئ سکی خاوند وو. خبر وکښی به حاکم ورته "آغا ئے کلان تجار وے. هغه به خبر وکښی زمونږ سره چالاک معلومیدو.

حاکم زمونږ نه پاسپورټونه واخستل اوهغه ته ئے ورکړل. هغه خپل درونده سره خوږ ولو. اود څلی ئے اودوړیدل.

"آقا غنداز قوم دلیراند. هیچ چیز در راه شان مانع نمی شود." کوهر حما نه پوښتنه اوکړه. "کیا کهتا هی؟"

"بکواس کوتا هی" ما اووے.

ستاسو دنامن شته" حاکم راته پوښتنه اوکړه.

"هو صاحب" اوزه بهر شوم. فتن والا مې راوښتنه کړو.

"توکی ئے" حاکم پرے چغه کړه.

"درشکه ران" فتن والا جواب ورکړو.

"بروتزاکه اوږده" حاکم پرے دبکه اوکړه اومونږ ته ئے په غصه کې راواړولو. "باید آدم معتبر بیا رید"

"صاحب! مونږ مسافر دبل وطن یو. معتبر سړے دکومی راولو"

آغا ے کلان تجارنہ نہ دیر ویریلم . خما خیال ووچہ دے بہ ضرور موبن تہ نقصان راکوے . خو زموبن دخطر برعکس هغہ نہ موبن سفارش پہ حاکمانو لہجہ کښی شروع کړو .

"دا مسافر دے . دبل وطن دے . دکوم خاے معتبر ضامن پیدا کولی شی ؟" حاکم سمدستی اومنله . جوابونہ راکړو موبن د دفتر نہ راوتلو . اوے تہ راغلو . خو کوروچہ آغا کلان تجار هم اوہ کښی گوښی .

موبن وریته ست اوکړو . چہ زموبن فتن ستا خدمت کښی حاضر دے . خو هغہ زموبن درخواست منظور نہ کړو .

"نہ کمزورے سړے یم . بغیر دا فتو موبیل (موټر کار) نہ شم تلی ."

کیلان

رښت

کوز ماتیبین درښت پہ ارادہ فتن کښی سوارہ شو . تقریباً لس میله فاصله وہ . بنہ پوخ سړک وو . انزلی د گیلان د صوبی لوے بندر دے . اورښت ے صدر مقام دے . دانزلی تہ رښت سوسبزہ علاقہ دہ . دے علاقہ کښی وریژے پیدا کیږے . اوشمالی ایران کښی بی ددے وریژو میلمستیا بنه

میلمستیانه شی کنړلی.

لږ ساعت کښې رښت ته اوږسیدو. اسلامیه هوټل کښې کوز شو. موږ لا پوره دمه هم نه وه کړې. آغا کلان تجار راننوتو اوخان سره ئې یوبل سړے راوستو.

"آشنا بشوید به سکرټر کمونست پارټی رښت. هرکار که میخواهید به این کس بفرمائید." آغا تجار کلان داسې مخاطب شو او متصل ددے سره ئے داهم اووے.

"رفقا تسلی ساتئ. زه هم رفیق یم. خما خوے داذربایجان دسویټ دخوانه مسکو کښې سفیر دے."

زموږ جواب نورځه کیدے شو. اوخندیدو. ما ورته اووے:

"آغاے کلان تجار! موږ مسافرین. کمونست یا غیر کمونست پاڼه سره زموږ کار نشته."

رښت معمولی ښائسته دے. پکښې یوخوښه هوټلونه دے. نور نو پدے. دلته ان دخوا یوحاکم پکښې اوسی. زموږ د وطن په شان پکښې صفائے غیر ضروري کنړلی شی. موږ بازار ته اوتو چه د توپو دپاره یودقراقل څرمن واخلو. چه کوم دوکان ته به ورتلو اودقراقل پوښتنه به موکوله. نو په جواب کښې به دوکاندار زموږ نه تپوس اوکړو.

"تاسو سره څومره قراقول دے. اوموږ ته به ئے په

څه نوخ راکړے ؛ که باربار به موټیل چه موږ مسافر یو خان ته توپئ جوړوو . سود اګرنه یو . خوچا اعتبار نه کولو . اوبغیر د اخستو واپس شو .

مرزا کوچک خان اورضا خان سالار

رښتیا کښی ما قابل ذکر څیز اونه لیدو . سوائے دیوڅو سپاهیانونه . ددوے وړدے ماته دایرانی سپاهی نه بیله معلومه شوه . ماتپوس اوکړو چه دا څوک دے .

دهوټل ناظم راته په اسویلی قصه شروع کړه .

روره ! افسوس دے چه تا دمرزا کوچک خان نوم نه دے اوریدلی . اودهغه دتورے نه نه ئے خبر . مرزا کوچک خان په کربلائے معلی کښی منجاوروو . کال ۱۹۱۹ کښی ؛ ډیر خوب اولیدو چه ما ایران غواړے . چه ما بخارا بی نظامانو او اندرونی خائنانو دپنجی نه خلاص کړے . کوچک خان چه څنګه پاسیدو ملائے اوترله طهران ته راورسیدو . هغه وخت کښی محمد علیشاه تاجارښاهنشاه ایران فرانس کښی په عیاشئ کښی مشغول وو . کرنیل خان گیلان کښی دمرکزی حکومت نه بغاوت کړے وو .

خراسان او آذربایجان برابے نام د طهران مرکزیت منلو.
شاهی افواج د تقی خان د کوشمالی دپاره روانیدونکی وو.
موزا کوچک چارچاپیره یوځو تقویرونه راوکړل. اوځوورځو کښی
ئے یوتولی جمع کړو. اوپه گیلان ئے حمله اوکړه. او تقی خان ته
ئے خبر واستولو چه د مرکز د فرمانبردارۍ اعلان اوکړه."
ناظم تقریر جاری اوساتلو.

"طهران دنورایران نه په بهتر حالت کښی نه وو. نه څوک
قابل سردار وو. اونه د عام شهرے آباد ے اخلاقی جرات پاتی
شوے وو. بنارکښی نه د ځان اونه د مال امن وو. تجارت تقریب
بند وو. دوډئ ورځ په ورځ گرانیده. خو طهران د کوچک
خان په اعلان تکړه شو. یومات گوډ لښکر د کوچک خان د امداد
دپاره روان شو. په دے لښکر کښی یوه مرغلره وه چه لږه لږه
پرقیده. رضا خان دسربازانو سپاهیانو، دیوتولی سردار
شوے وو."

په طهران کښی موږ ته سلطان (کپتان) محمد علی خان
هم دیو رضا خان واړه روستنی حالات بیان کړل. رضا خان
د جنوب مغربی ایران د پهلوے قبیلی نه دیو زمیندار ځوے
وو. وئیلی شی چه نا خوانده وو. رورو فوج کښی سپاهی
شو او بیا افسر شو. تر دے چه د مملکت ایران سالار سپه شو.
ناظم خپل بیان بیا شروع کړو: "چه کوچک خان کامیاب

شو. خو ایران سپیره نصیب وو. چه د سویل نه انګریز
راوخت. او سره د هند نه اجرتي بې پناه لښکرو. د مشهد
نه تر طهران او تبریز په ټول ایران خور شو. کوچک خان ددے
دښمن برخلاف جنډا اوچته کړه. خو طهران ته بچ نه کړے
شو. د ګیلان کوهِ البرز ته روستو شو.

انګریز انوډ اپیش قدمی د بالشویک روس برخلاف
کړے وه. انګریز د بحیره اسود نه باکو او د بخارا دریا نه آمو
پورے قابض شو. خو مشویک ورځ په ورځ روستو کیدل. او
ځکه انګریز هم د مناسب اوکړلے چه بیرته ایران ته راستون شو.

"د انګریز په ایران مکمله قبضه وه. خو کوچک خان د
ګیلان په غرونو لکه د غضب ناک زمریے غرمبیدو. په انتظار
کښې وو. چه په موقعه او موسم به په دښمن ورد انګم. بالشویک
د انزلی په لاره ایران ته را ننوتل. او انګریز روسي وپه شاکیدو.
تر دین د انګریز او د روس پوله شوه."

د هوتل ناظم دلته غلی شو. ما ترے پوښتنه اوکړه
"بیا نو کوچک خان څه شو؟"
ناظم بیا خپل بیان جاري کړو.

نو ټول ډله بالشویکو او انګریزانو سره وغږ اوکړه او دوا په
فریقه د ایران نه اووتل. کوچک اعلان اوکړو چه ایران به جمهوریت
وے. د اوخت رضا خان سالار جنګ وو. د کوچک خان برخلاف

ګیلا ن ته روان شو. رضا خان دخپل تربیت یافته اوخوشحال فوج په برکت کوچک خان ته شکست ورکړو. کوچک خان دیو څو وفادارهمرایانو سره کوه البرز ته اوختو اوزړتن زړه واورو یخ کړو.

دکوچک خان دوفات څومره موده اوشوه؟ ما ترې تپوس اوکړو.

"دمرګ خبرې پرون راغلی دے." ناظم جواب راکړو.

څورځې روستو چې موږ طهران ته اورسیدو نوخبر شوچې دکوچک خان مړے ے دالبرز دا اوچتو سرونو زړه راکوز کړو. اولس ما تم کولو.

دکوه البرز په واورو کښې ایساریدل

ماسپښین مورشت کښې یوموټر کرایه کړو. دوه پکښې موږ کښینا ستو اویو طهرانی دوائے فروش زموږ سره ملګرے شو. دموټر دانیورپیوارهمنې سنا ینسته خلمی وو. ماښام موږ کوه البرز ته اورسیدو. اوپه ستغ ختولو تیاره وه. لارهنه سنکاریده. ځکه زموږ ګاډے دسړک نه یوخوا اوخویده. او نزدے وه چه اوړیدلی و. نوموږ به دکمرنه تا ترین کندے

ته پریوتی وو. اوپرخه به مونږ وه معلومه شوے.

نږدے یوه قهوه خانه وه، چه هغی کښی موشپه اوکړه تماميشپه ژمونږ دپاره اوربلیدو. کنی دیخ نه به کنګر شوے وو. د مارچ میاشت وه. خبرے کیدے چه دواورے د پریوتو ورځی دے.

د قهوه خانی نه سحر روان شو. ډیر وسړک دغره سره اوخته دغرپه سر په موړ کړو. ژمونږ گاډے په میلونو اوزغلیدو. لاندے نیغ کښیو. خوږه موجوړو وچه دسړک په غاړه غاړه تیت تیت مضبوط دیوالونه به مولاندے نه پریږدی.

لاړه کښی ډیر دبارکښی مونا شته اوکړه. کچ پنیرا و اکئ سنه اوزان وو. دروبارنه چه مخکښی شو. څه ګوډ وچه دلارے دحفاظت دپاره مقرر شوے سپاهی باندے یو افسر په چابک راکښی دے. توپک اودکارتوسونو پټئ ے ترے واخیسته. اوپه اوښ ے سور کړو. مونږ ترے پوښتنه اوکړه چه ولی داسی اوشول معلومه شوه چه سرباز دلاری دحفاظت په خای لاړه شوکوله.

بین الاقوامی جمع

ماښامه پورے مونږ هغسی البرز کښی روان وو. ماښام

یو قهوه خانی ته اورسید وچه هلته موشپه کړه. خو دا قهوه خانه درودبار د بیخ قهوه خانی نه بهتره وه. د مسافرودپاره دوه درے کمرے پکښی وے - او د خوراک څښاک هم پکښی انتظام شنه وو.

سحرچه راپاسید وغرتک سپین وو. اوپسته، پسته واوره وریده. زمونږ دگاډے سره درے څلور نور موټر ے ولاړے ږے. یوگاډے کښی د روسی آذربائیجان د جمهوریت تجارتی نمائنده وو، چه د انزلی دکبانو د تهیکی دپاره د حکومت ایران سره د خبرواترو دپاره طهران ته تلو. عجیبه سړے وو. هروخت به ئے څله

"چورت زناسیت"[1]. "خویازناسیت"[2] وو. اگرچه زوړ بود اسړے وو. دویم موټر کښی یوتاتار نائب سفیر د طهران وو. دے سنجیده غلی سړے وو. خو د اکوشش ئے کولو چه خپل خان اوټول ملگرے خوشحاله اوسائی.

دریم موټر کښی زمونږ دوست آغاے کلان تجارهم را رسیدلی وو. آغا خانته ډیر غاوره وو. اوچت غټ سړے وو. د سمورلوے کوټ ئے اغوستئ وو. د خود پسند ے بوے ښکاره ږدونږے وهلی، چه خبرے به ئے کولی - نوخنده به ئے د سینی څخه

---

(۱) شیطان به خبر وے. (۲) پښتو کښی د الفظ عوام استعمالوے خو معنیٰ ئے غیر شایسته وے.

نزدے کړه ، ستړکی به ئے وارے کړے ، تندے به ئے کونجی غټ غټ اواوږده لفظونه به ئے د خلی نه وار په وار را ایستل .

بل موټر کښی پینکر ، صراف ، وو . دے په وجود دروند وو . خو په خوش اوواحئ کښی دچا نه کم نه وو . زړه ئے آزادی غوښته خوشرمید و . ده سره د طهران یو ایرانی انګریز ے مخامخ وو او ده دومره پریوتی وه چه هرڅه ئے اوارکړے وو . خو موږ نه ایسا ریدو ، تر تیاره نه وو . موټر و نه یو بل پسی روانیدو تر تیاره شول . نو موږ موټر مخکښی شو . لږ چرته لاړو نو پایی پنځی شوے . را پسی دنورو موټرونو هم دغه حال وو . هرڅاڅه به چه زړه مضبوط کړو او د روانید و کوشش به ئے او کړو نو پس دیو ساعت د تریدو به غلی شو .

هرچا خپل وس او کړو خو مخکښی تګ ناممکن وو سړک نه ښکاریدو . بیرته قهوه خانی ته یوځای ته راجمع شو خبرے شروع شوے .

په خپله خپله ژبه کښی سندری

رنګا رنګ کپ شروع شو . دیوړپ خلق چه چرته د غسی حالاتو کښی را ګیر شی - نو د کوشش کوے چه تول ملګرے وخت

په خوشحالئ تیر کړے . هرکس څرګپ ویشتو. خوځما او د
ګوهر کار صرف خندیدل وو. موږ په روسی ژبه ګذاره کولی
شوه . خو مجلس مونږ شوګرمولی. په فارسئ خبرے اګرچه
ماښی کولی شوے . خو اوریدونکی صرف ایرانیان وو. د ا
موجوده خلق په ترکئ تول پوهیدل . دوے یا په روسی یا په ترکی
ګپ ویشتو . موږ هم دوارو ملګرو په روسی او په ترکی ډګ مزه
اخستی شوه . او ځکه به خندیدو خوشحالیدو . خو بار بار چه
نر موږ وار به راغی نو موږ به ویل چه موږ افغانان یو. او په
افغانئ تاسو نه پوهیږے . نو موږ څه اووایو. تاسو دے مجلس
مشر ښکاریدو . هغه ټخوږ پیش کړو، چه هرکس به خپله خپله
ژبه کښی سندره اووایے .

اول سړکښی تاتار په تاتارے ژبه په خوږ آواز یو غزل
اووے . هغې پس د هغه روسی سکوټ په روسئ ژبه کښی
سندره اوویله . بیا بودا تجارتی نماینده خان تیار کړو، په
خله کښی ے غاښونه نه وو. خو کوشش ے اوکړو چه په سُر
شعر ونه اووائے . موږ تر ډیره خندا راغله . خو خندا
سره سره هغه دوینا صفت هم کولو. بودا څه اوښده . قصه
شروع کړے وه . د چا روسی جلات مجبوره قصه ښکاریده .
چه ختم ے کړه . تولو لاسونه اووهل . او د هغه دوینا آفرین زیات
صفت اوکړو . بودا ښه خوښ دل وو. خان ته ے داسی کنزل

اوکړل چې موږ به ئے اوخندولو.

آغائے کلان تجار اونورو ایرانیانو نه نه خپل وارتیر کړو.

زموږ په وار موږ اووے چې زموږ دوینا به څه فائده نه وے. زموږ په ژبه څوک پوهیږے نه. خوتاتار جواب راکړو ستا سو ژبه به دیره دلچسپه وے."

کوهر یوارد وغزل اووے. "تاتار دیر خوښ کړو

"سُرخوے ترکی اوتاتار ہے دے." هغه اووے.

چه کوهر ورته مطلب ئے بیان کړو. نوهغوے پوښتنه اوکړه چه دا کومه ژبه ده.

"دا افغانی ده." کوهر جواب ورکړو.

حُما وار راغی. ماته شعر یاد نه پاتی کیږے. حُما هم زهٔ ووچرته هم دارد وخو شعر اووایم. خوما ته یاد نه وو. دسره نه چه حاضرینو یوپه بل پورے خندل. ماکوشش کولوچه ماته هم څه را یاد شی. خوبغیر دسندرو څه را یاد نه شول.

"نو چیو تیسیا توارش!" (اوته به څه وائے ملګریه!) تاتار ماته خ راواړولو.

زهٔ هم تینګ کړو. په غوږم لاس کیښود واوداتپه می اووے:

په مسافر وباران مه کړے!
یو مسافر وے بل دکوره لرے وینه!

تول په خندا شول . اوبه دے طمع وو . چې په دے پسې
به څه نور ښکار وے . چې ما ورته اووے چې دا صرف دغه هومره
وے نو تولو چغې کړے "دا کافی نده . نور اووایه !"

بیام په غوږ لاس کیښود .

" په مسافر ے راځه نه تللی !
اوس م دکلي وخوا ته مدراځه چې مرمد !"

داسنده ما د نه دجوشه اوویله . تولو خپلې اوږې د
خندا نه رغړیدل . تجارتي نمایشنده خان تینګ نه کړے شو .
آخوئے چغه کړه .

" اے ته ککوے چې ت بازیک " دادکو موشیطانانو نوڅه ده ؟
ژه پوهوم چې دوے به دلې سندرے مطالبه کوے . نوڅه اخته
وم . هم دغه سندره م بیا بیا دغلجو په وزن ویله چې ما تل
نوکوهرے حمن هم دخندا نه رغړیدل و . کوهرے د درویش هرے
پورے اوسیدل و نکی دے . په پښتو سنه نه پوهیږي ، ویلکه
په سندره اوږه ولکه دنور کسانو نه هغه هم حیران وو چې
تول نه خندا نه رغړیدل نوکوهرے یکښې چغه کړه .

میاں کمال کی ته هو

ځما نه هم مسالبه اوشوه . چې اوس دده معنی اوکړه .
ما ده . سندره توله قصه وړنه بیان کړه . چې کوچي په
نامې لښې د افغانستان نه هندوستان ته کوږیږي . خپلې

معشوقی تہ وائے چہ ما سرہ ھند وستان تہ لارہ شہ ۔ ھغہ ور
سرہ نہ ځی ۔ چہ واپس دھند وستان نہ راشی ۔ نو معشوقہ
ورتہ راشی اودخپلی مینی اظھار ورتہ کوے ۔ کوچی ورتہ وائی
"پہ مسافرے راسرہ نہ تلی!
اوس مې دکډ وخواتہ مسراحہ چہ مومہ!"

کډا

ناتار پاسیدو ۔ اوتقریرے شروع کړو ۔
رونړو! موبن تول مسافریو ۔ بیابان کښی پراتریو ۔ دانہ
دہ معلومہ چہ زموبن لارہ بہ کلہ خلاصیږے ۔ واورہ دومرہ
پریوځی چہ موتہ نہ شی تللی ۔ موبن بہ تنګ شو ۔ داضروری خبرہ ۔
دہ چہ دوخت تیرولو دپارہ ځان مشغول اوساتو ۔ نرہ تجویز
پیش کوم چہ وارپہ وار بہ کډا شو ۔ ھرکس بہ خپلہ قومی کډا
کوے ۔ دائے اووے اومینځ تہ ئے راواوښکل ۔ موبن تول روستو
میدان موخالی کړو ۔ تاتار پہ کډا شو ۔ څہ رنګ چہ دھغہ سندرے
ایشیائی وے ۔ دغسی ئے کډا ھم ایشیائی وہ ۔
دتاتار نہ پس تجارتی نمائندہ کډ شو ۔ بودا ځان ستړے
کړو تولو دلاسونو پہ تپارہ ھغہ حوصلہ افزائی اوکړہ ۔

ماته کوهر غلی په غوښ کښی اوویل چه پاسه دواړه د خټکواتو واچوه. موښ دواړه پاسیدو. شا دوله مو واچوله خانونه موګرم کړل. میدانځم ګرم شو. تول ملګرے خوشحال شول. اونه موښه صفت ے اوکړو. دغه می دډوډۍ وخت شو پلاؤ راغی. ټوس کښی وریژے کمی پیدا کیږے. دخلقو خوراک غنم دے. خو ایران کښی پلاو دا اولس عام خوراک دے. او قهوه خانه کښی خو صرف وریژے وے. نور خو د چا رچا پیره نه نه شوراتلی.

کاشکونه نه وو. دتاتا ټهسکتر د چا ے پوچ راواخست وے وینځلو وریژو ته ے اړم کړو. پوچ نه ے د کاشک کار واخستو. او په خا ے د کاشک ے په پوچ خوراک شروع کړو. موښ او ایرانیان په فائده کښی وو. لاسونه مو او وینځل. پرلت مو او وهله او خانونه مو مارې کړل. واوره شپه وړځ په یوځ وریده. د مارچ میاشت وه. کوټو کښی او په یوځ بلیدو. او موښ تول په مزکه ملاست وو. هسی هم ایران کښی خلق په مزکه سملی. دیره یخنۍ وه. خو پیا هم د جنورے د میاشتی یخنی نه وه.

بیکم تمباکوف راپسی راورسیده

په دریمه وړځ چه موښ سبه مجلس کښی ښغ وو. تاتا،

ما تہ را نزدے شو.

"تہ دتمباکو څخہ پیژنې؟"

"هو" ما ورلہ جواب ورکړو.

"تاغواړے؟"

ہغہ ورا ووتم. بیګم تمباکو نزدے کوتہ کښې وہ.

"زدورا سویتی توارش" (السلام علیکم، بیګم راپاسیدہ جوړتازہ ے راسرہ اوکړل. لونړہ اوخا من ے پہ کومہ کوتہ کښې پہ قالین پراتہ وو. دیرہ خوشحالہ وہ.

"اوس دتمباکو نہ ستاشکایت نہ وے" ما بیګمی سرہ اوخاندل.

"تمباکو تل ځما دپرخیال ساتی. اوستاسود انزلی د رخصتید و نہ روستو زموبن دپارہ موټرد طهران نہ راورسیدو بیګمہ دیرہ خوشحالہ وہ.

ما نرے پوښتنہ اوکړہ "توارش سلیم! ستاسولارہ وطن تہ آسانہ دہ. اوکہ ګرانہ دہ؟"

"آسانہ دہ" ماسراوخوزولو. موبن سرہ پاسپورټ نو طهران دے. موبن دافغان سفارتخانی د ملازمانو پہ حیث سفرکوو. طهران کښې افغانی سفارتخانی تہ موبن ځان اوخپل پاسپورټ سنودلی نہ شو. اوبیا مخکښې خو موبن خبر نہ یو چې زموبن پہ څہ حال وے. اوپہ کومہ لارہ اوپہ کومہ طریقہ پہ سفر جارہے ساتو.

لارہ کښی خصوصاً جنوبی ایران کښی دانګرین ډیر اثر وے نو موبن به د آباد ے نه وړے تربیه یا تر زورکوو.

"ګوره توارش سلیم" بیګم په دے وخت کښی په ډیر اخلاص کښی وه "تر ضرور ما د تهران سفارتخانه کښی اوینی. زړه جوړ ساتئ، زه به کوشش کوم. چرتا سونه په لاره څه تکلیف اونه رسی۔ اوپه خیر وطن تر اورسئ؟

"بیګم تمباکوف" ما اووے: "همیشه تا اوستا خاوند خما او خما د ملګرو امداد کړے دے. موبن مسافر یو اوتا سو مو اسره یئ."

د تمباکوف وړے لور زموبن خبرو تر غوږ ایښی وو، او خپلی مورته مخاطب شوه،

"مه زموبن بابا دوے سره امداد اونکړے نوزه به تړے خفه شم."

د تمباکوف سنځی اوخندل. لورته ے تسلی ورکړه چه د دوے امداد به ضرور کیږے.

ګوهر باندے م زړے اوکړو چه بیګم تمباکوف هم راورسیده او موبن تر په ډیره مینه کښی ده. هغه وائی چه تمباکوف به تاسو سره ضرور لاس کوے. ګوهر خوشحال شو. د خوشحالئ نه ے ما نه تړی راکړه.

"طهران کښی زموبن پشتی په کار ده؛ چه د مخکښی دپاره لاړ اوباسو. کنی دوره غرق به شو."

موټری مخکښې نه شي تلی

قهوه خانه کښې تنګ شو. آغاے کلان تجارپوهېږنه ایسارېدو. موږ خو دوړاندے نه تیارووو. دالسږو دغږ څوکې نه اوخته. اولږ ساعت کښې پراوته اورسېدو. دالسږو دځوکې نه سړک تر ښکته وو. په سیند داوسپنې مضبوط پل وو. سویلی حصه اوس عارضي دلرګي جوړه ده. دپل توپۍ سیند کښې پرتې ښکارېدے. ملګرو راته اووے چه داد بالشویکو اوانګریزو جنګ کښې غوږه ولی شوے دے.

زموږ ګاډے دپراوه نه یو میل مخکښې لاړل. دلارے اثار نه ښکارېدل. یوه شیبه موکوشش اوکړو چه واورے اولترو. اوپه هرصورت چه وے چه مخکښې لاړشو. خو دایو راته خطره ظاهره کړه چه هسې نه چه واوړه وکښې سره دګاډے غرق شو.

په اسونو سورلی

آغاے کلان تجارد پراوه مهتمم راوغوښتو. هغه ته

ئې په رُعب اووې چې زمونږ د پاره آسونه راولې . مهتمم دحکم تعمیل اوکړو . نږدې آسونه راووېستل . خوبې نږدې وو . آغا پرې ډیرې دبګې اوکړې خو مهتمم عذر پیش کړو . "آغا داد ډاک ګاډۍ آسونه دي . زمونږ سره زینونه نه وي ."

آغا خفه شو . خوځه کیدې شول . په بې زینه آسونو سواره شو . خو بې زینه اس سورلۍ ګرانه وي . ډوډۍ ترې یو یو کوز ښه و پنځه شپږ میله به تلی وو ، چې ما بنام شو . آسونه موپستنه کړل او یوکلی کښې موشپه کړه .

آغا ته کلان تجربه خلقو سره داسې سلوک کولو چې لکه . هغه ملک حاکم وی .

دایرانی کرسۍ لاندې شپه

د کلی د ملک میلمانه شو . یوکوټۍ ته ئې ننویستو . دا کوټه زمونږ د کلود زمیندار و د کوټو په شان دخټو ټیټه جوړه وه . د کوټۍ په مینځ کښې انغړې وو . انغړې د پاسه یوټیت شان مینز پروت وو . اود مینز د پاسه یوه اوږده پلنه بړسټن پرته وه . موږ د انغړې نه چا پیره کښینا ستو . پښې موږ پرسټن لاندې کړې . بړسټن کښې عجیبه براس راګیر شوے وو . زمونږ

پښې چې رانه پريوتې . دا سې ګومې شوې - چې زموږ طبيعت ، خوشحال شو. آغاے اوچتې اوچتې خبرې کولې ، سنه طبيعت کښې وو. ددوو دريو کسانو خاے ښې نيولې وو.

قزوين کښې د آغا غلام تجارۀ

ګرفتاری

صباچه موږ پاسيد و نوکر به رابانده ے ښې چاے اګئ، يخ اوخوړل . دخوراک انتظام هم د آغا کلان تجارپه لاس وو- اوحکم سنه وو.

زموږ دپارۀ داسو نوکوشش اوکړے شو. خواسونه پيدا نه شول . کټ کړے خوړه حاضر کړے شول . آغا پيو مضبوط خرسوړ شو. يوخوا ړينګړے خرځما برخه کښې راغې آغا مخکښې اوموږ وروسې تول پرخرو سوارۀ قافله روانه شوه . ديرساعت نه وو شوے چه آغا بدمد شروع کړل. کوز شوا وپيا ده روان شو .

غرمه غرمه موږ پرخرو سوارۀ د قزوين په شمالی دروازه ورننوتو . دروازه کښې يوسپاهی ولاړوو . موږ نے تول کوتوالئ ته بوتلو . پس د معمولی پوښتنې اوسوال وجواب

آغاے کلان تجار نږدې حواست واخستی شو. او موږ ته اجازت راکړی شو. آغاے کلان تجار دیر بد رد مخامخ پولیس افسر ته اووے.

ځماخوے د آذربایجان دجمهوریت دمخی سفیر دے.

اوزه به گورم چه زه تاسو ته دا او سنایم چه د کلان تجار بی عزتی آسان کار نه دے:

ځما هیله یقین راغی چه آغا کلان تجار موږ ته زړه کښی ښکلی نه لوله.

تجارتی سفیر هند وستانیانو ته

شیطانان وائی!

زه او گوهر قزوین کښی یو هوټل کښی د موټر انتظار کښی دیره شو. بله ورځ تجارتی سفیر هم دغه هوټل ته را اورسید و او زموږ سره لیدو خوشحال شو.

په قزوین د انگریزانو فوج قبضه پاتی شوے وه. او زموږ درسید و نه لږ وړاندے انگریزانو فوج قزوین پریښی وو زموږ هوټل کښی او موږ کمره کښی د هند وستانیانو فوجیو تصویرونه اویزان وو. یو سحر موږ د دیوال انکهتی ته ناست وو. ناشته موخوړه. د سفیر صاحب نظر په تصویرونو

د قهـره ے اووے :

"توارښی ! اے تاکوے چورتی

(دوستانو ! داځوک شیطانان دے)

"نه نایم" (موږ نه نه ده معلومه) موږ ورله جواب

ورکړو .

"خدمتګاره ! دادِ چا تصویرونه دی ؟"

"داد هندوستان سپاهیان دے ." خدمتګار جواب

ورکړو .

سفیر موږته مخاطب شو :

"ماوے چه داځوک شیطانان دے کنه . "موږ ے توارښی

داځرنګ کـډ ے بڼے خلق دے . دې ے سوه میلون باندے

یوځولکه انګریزان حکومت کوے ؟"

"سبا ..... ؟" ماورله ســـتر ګی بقـــی

اونیولی اوپوښتنه مِ تړے اوکړه چه "داځرنګ خلق دے دوے

دآزاد ے دپاره هیڅ کوښش نه کوی ؟"

"توارښ تا هند لیدلی دے داځرنګ وطن دے ."

ماترے مزید پوښتنه اوکړه .

"وطن ښه دے . خوسړے ښے بې ښی دے ." هغـه

لـنـد جـواب راکړو .

په قزوین کښې افلاس

د قزوین ښار د ایران په هغه ښارونو کښې شمارلې شي چه کوم په نورو زمانه کښې په نوم ډول جوړ شوی دی. عما. رات یې پاخه دي. کوڅې یې پلنې دي. مینځنۍ کوڅې یې ډیره پلنه ده. مکانات یې بیل بیل او ارت ارت پراته دي.

خو ځما په خپل عمر کښې اولنی ځل و وچه مادومره نیستی غریبی او فقیري اولیده. افغانستان، بخارا، ترکستان روس او قفقاز کښې ما ګډاګی او فقیران نه و ولیدلی. قزوین کښې ما فقیران اولیدل چه داوږه کښې پرانه سره پیدل. چه زه دغه منظر رایاد کړم. او د قزوین بی توسه داوږه او یخ سیلی م راپه زهه شی. نو د وین یې اوریږدم. او ما تر دې دنیا د تهذیب دعوې باطله سنګاره. ځما یقین اوشی، چه همدرد دې دنیا کښې مفقود ده. چا نه وئیلی دي چه "دنیا کښې ځا نځانی ده" مونږه په سویټ یونین کښې داحال نه و ولیدلی. دا م رومبی ځل و و دیر خفه شوم.

د وه ورځی قزوین کښې تیر ولو نه پس ګوهر تهران ته

روان شو. اونه په موټر کښې پاتې شوے اسباب د پاره قزوین کښې ایسار شوم. نه چه یوازے شوم. نو هوټل کښې کښینا ستل راته گران شول. دښار کوټه کوټه کښې اوگرځیدم. اهم اوغیر اهم ځایونه م اوکتل. ښایست. لوبزه او افلاس خوا په خوا اوسیدل.

طهران

په څلورمه ورځ نه هم طهران ته وراوسیدم. په دروازه قزوین ورننوتم اونیځ د سویټ سفارتخانې ته لاړم. تمباکوف ځما په لید و دیر خوشحال شو او د بیګم صاحبے ځما د امداد د پاره شکریه اداکړه. تمباکوف په انګریزے حاوی د انګلستان امریکه او هندوستان کښې ۷ عمر تیر کړے دو. شپږم په سفارتخانه کښې اوکړه. تمباکوف په خبرو کښې ماته اووے چه سفارتخانه کښې نهوښ اوسیدل خطرناک دے. اوپه دے وجه دگوهر هم د اوسید و بل ځاے انتظام شوے دے. بله ورځ صباد عبدالکریم نومی یوسړے په کور کښې دگوهر سره یوځاے شوم.

موبن دوارو خپل پاسپورتونه اوشلول . هسی نه چه راسره .
اونیولی شی . پاسپورت کښی موبن د افغانستان د کونسل خانی
نوکران بیان شوے وو . که چرے په طهران کښی د افغانستان
کونسل گرے خبر شوے وے . یا حکومت ایران موبن گرفتار
کړے وے . او راسره ے پاسپورتونه نیولی وے . نو د بین الاقوامی
پیچیدگیو د پیدا کیدو خطره وه . حکه موبنه اوشلول .

موبن دوارو کریم آغا کره اوسیدوا و طهران کښی مو
دوه میاشتی تیرے کړے . په ۱۵ مارچ کال ۱۹۲۲ زه را
رسیدلی وم او د مئی په شپاړسم تاریخ ترے رخصت شوم .

طهران کښی د ژوند ضروریات گران دے . د خلقو
معیار اوچت دے . د متوسط درجه سړے د دوه ویشت اوداستو
گنی د میاشتی خرچ تقریباً اتیا تومانه دے . چه زموبن د وطن د ډیرے
سوه روپئ ترے جوړیږی دے . موبن غریب الوطن مسافر طهران
جنت نشان کښی خرنگ پاتی کیدے شو . د دے صرف یو
جواب دے . د غه جواب حماد تول سفر تشریح کوے . د اسلامیه
کالج پیښور نه د روانیدو په وخت حماسره صرف یو کم دیرش
روپئ وے . خو نصیب ته گوره چه ما باندے ډیر څومره سیلونه
او کړل . د مسکو نه د روانیدو په وخت کښی موبن ته ډیر کم رقم
راکړے شوے وو . چه په هغی باندی موبن په مشکله شیرانړا
بوشهر ته رسیدلی وی خو زموبن نصیب د دومره بی کاره نه وو لکه

څرنګ چې ښکارېږي. اوځکه دا په عقل ګران سفر مونږ
اوکړے شو، تکلیف، ارام، بې عزتي او عزت زمونږ وخت پرې وخت
ځاے په ځاے استقبال کړے دے. که ترکمانانو زمونږ سره
ښاکاره سلوک اوکړو. نو ترمذ کرکې زمونږ عزت کړے وو. که
ققفاز کښې حالات مایوس کن شول. نو طهران کښې امید افزا
شول.

[illegible] بیتي په کریم آغا وو. په خپل جیب زمونږ
[illegible] خرچ وو. خو اهم دومره درولند وو، چې وخت په وخت
به مونږ مجبور شو، چې د برجس ګیندلے اوسپړوا ویوسو
غولند ترکي پوند تر ے را اوسپړو. خود ے حرکت به زمونږ زړه
پورے ایستو هریو پوند چې مونږ خرچ کولو، دومره دخپلې وطن
نه لرے پاتې کیدو.

زمونږ طهران سره د شامران غوره پلویانو طهران
جوړ ے. ورځ په ورځ ښارد ے خواته پلنیږے. د ښارد طوایف-
الملوکۍ د زمانې فیصل نه آباد رو، رو، بهر اوځي. د فیصل
بنیاد ځاے په ځاے د نورے حصې میږځ کښې ښکارے. د تولو
حکومتونو سفیران نورے ښارکښې اوسي. مشهور ے سفا-
رتخانې د انګرېز او روس دے. چې خان خان لرسمي ورځ
ورځے ښارېږي دے. دے سفارتخانو کښې واړه واړه فوجونه
اوسي. هریوکښې وائرلس سټیشن هم شته. د واړه سفیران

دبا دشاهانو په شان تړند کړے . اوپه خپل شان اوشوکت د
خپل وطن عزت دایران دخلقو د حکومت په ستر کو کښې زیاتوی

آغا سالار رضا خان اړه

دایران سیاست

څرنګ چه ما وړاندے وئیلی دے ، آغا سالار رضا خان
دیو نړیند اړهسړے ځوے وو . په خپل لیاقت ئے ترقی اوکړه .
اودایران دفوجونو سالار شو . دے بی تعلیمه دے خو طهران کښې
د دنیا سیاسی نماښند کانو د هغه حکمت عملئ ترحیران دے .

ایران غریب دے . امن پکښې نشته . حکومت د وطن نه
مالیه نه شی وصولوے . فوج اوپولیس ډپاره خرچ په کار دے مو-
جوده وخت کښې ایران سره فوج سائ . خرچ به دکوم ځاے نه راځی .
آغاے سالار کله د روس نه اخلی . کله د انګریز نه . کله ځان یو
خوانته نزدے کړے اوکله دبل ملک خوانته . خو ځان د چا دلاس
لاندے نه کوے . اوځکه کامیاب دے

دروسی سفیر له خوا آغا سالار ته دعوت

د کال ۱۹۲۱ء په میخ وخت کښی روس کښی سخت قحط راښکاره شوے وو. اوس دروس د سفارت له خوا نه د قحط سا- لئی دلوے کیدو په خوشحالی کښی د طهران روسی سفارتخانه کښی یو جشن منعقد شو. په دے موقعه آغا سالار رضا خان ته دعوت ورکړے شوے وو. د دوستانو ملکونو سفیران او د حکومت ایران لوړ لوړ افسران هم پکښی مدعو شوی وو. زمونږ دوست تمباکوف د غه دعوت ته زمونږ هم راوبللو. او داسی څائے کښی ے کښینولو چه مونږ ته لوے لوے میلمانه څرګند ښکاریدل.

مونږ ما سختن په تیاره کښی تللی وو. تماشه وه. د روس نه ګډیدونکی اوسند رغاړے جینکی راغوښتی شوے وے. تماشه تیاره وه. خو هلته به شروع کیده چه آغا سالار تشریف راوړے. دایران سالار راوړسید و. ورسره د روس وزیر مختار راوسفیر هم راغلل.

دا وو مجلس څلور وو. چه ما رضا خان اولیدو. غنم رنګ

اوچت ، غټ او مضبوط سړے وو. د شپږو فټو نه زیات اوچت وو. عمر به ۷۰ کلو یشت پخه خلویشت کاله وو. خپل فوجی لباس ۷۰ اغوستئ وو. برجس او ترکو د واورېده بوټان ۷۰ په پښو وو.

یوروپی او ایشیائی جینکی کډ ۷۰ شوے . د کمال موسیقی پکښې او سنود لی شوه . د رامی پکښې اوشوے . نا وخته د شپې مجلس خورشو .

د شاهی خاندان تش نوم وو. حقیقت کښې هرڅه د آغا سالار رضا خان په لاس کښې وو.

د ایران د تباهئ اسباب

خو د ایران اوچتیدل څه آسان کار نه دے . د دغه بدنصیبه ملک بد نصیبی نه نه شی لرے کیدلی. شاهان ایران د روستنئ صدے نه نه خت نالایق راغلی دی رضا خان د پاره دیره موده پکار ده . چه سامراجی د اکوانو نه ځان خلاص کړي.

ایران دیرش څلویښت کاله مختلف اقتصادے، سیاسی مراعات روس او انګرېز تر ورکړے دے . روس تر ۷۰ د انزلی نه تر طهران تار برقی ، تیلفون او د جلفی نه تر تبریز ه

ریل، تار، سړک او تیلفون اودغسی ترمشهده. شمالی ایران کښی هر یو ښار کښی روسی بینک وو.

د تیلو تهیکه دسلوکالو د پاره یو انګریز ے کمپنی سره ده. دا المفهان نه تر طهران د سړک، تار برقی، تیلفون د بلی انګریز ے کمپنی سره دے.

په جنوبی ایران د انګریز ے فوجی قبضه ده. حکومت اګرچه برائے نام د ایران وو. خو انګریز د (ساوتهپرسین رائفلز) په ذریعه سره په جنوبی ایران قابض وو. د طهران نه تر بوشهر او دغسی په نور جنوبی ایران کښی د انګریز انو بینکونه دے. ایران وخت په وخت د بینکونو نه قرضه اخلی. کله د یو ځای کله د بل ځائے مال بطور ضمانت ورکوے.

د روس او انګریز ے سرمایه دارانے او سامراجی مظالم د پاره د مستر شستر کتاب "The strangling of Persia" لوستل په کار دے دا د وه قومونه د ایران د تباهئ ذمه وار دے.

لوستونکو ته به معلومه وے، چه ننګ ورځ په دنیا کښی بنګ څه حیثیت لرے. او د دنیا سیاسیات کښی ئے څه درجه ده. هغه زمانه تیره شوه (بغیر د بد نصیب هند وستان نه) چه یو قوم به په بل قوم حکومت کولو. اوس دیو قوم سرمایه دبل قوم د محنت او دولت نه ناجائزه فائده اخلی او بوټ ئے.

د ایران خوښ نصیبی وه چه نه له د روس سره د روسی

سرمایه دارهم دخا وروالاندے شول. بالشویکی حکومت ایران تدتوله مراعات اوبخښل. اواعلان ے اوکړوچه دامراعات دایرانی قوم وینه وه. موږ ے ایران تدبیرتدورکوو. نن ورځ شمالی ایران کښی دروس تول مراعات بینکونه تیلفون، تاربرقی، سړک ریل وغیره باندے دایران قبضده. وسطی اوجنوبی ایران لا هغسی دانګریزے سرمایه دارے په ښکیروونوکښی ښښتی دے. دآغا سالارمرضا خان حکمت عملی به ے توے خلاص کړے شی خووخت به پرے ډیراولګی.

زموږ په دغه دوومیاشتوکښی دآذربایجان (ایران) اوخراسان (مشهد) بغاوتونه مات کړی شول. دمرکزضبطیه دے دوو صوبوکښی قایم کړے شو. په دغه وجه رضاخان ډیر هرډ لعزیز شو اولاس ے مضبوط شو. دطهران تجارت پیشه خلق اوتعلیم یافته طبقه دهغه پشا مضبوط والړه دے.

د طهران معاشره

د ښځو تحریک

نړه اوګوهرچه دبهشت نه راروان شو. نوزموږ ملګری یوطهرانی ځلمی داکتر وو. د موټرمالک ارمنی هم ځلمی هلک

وو. دواړو زمونږ خیالا تو معلومولو کښې دلچسپی اخسته. دوئے
به مونږ تر هر وخت وئیل:
"مابشما خیلی الفت داریم."
مونږ دد وے سره ښه دوستان شوے وو. دوے به کله کله
دجینکو خبرے راوا چولی. چه لهران کښې ډیرے ښکلی جینکی دے.
ښې جامی اغوندے. دښار مینځ کښې تر پخانه میدان کښې د
مازیګره سیل تر رااوځی. جینکی تعلیم یافته دے. په میوزیک ښې
پوهیږے د ستار ماهر دے.
داکتر چه به د محبت ذکر شروع کړو نو مطلب ئے داهم
وو چه زمونږ حالات معلوم کړے. بیا به داکتر ددے نه هم مخکی
لاس اوږد ے وے.
"ډیره خدمن کوے چه سړے دخپلی محبوبی سره لاس په لاس
یو باغ کښې هواخوړے کوے." اوبیا به ئے مونږ مخاطب کړو.
"تاسو خوبه ښه سیلونه کړے وے. ډوس کښې خو آزاد ے
دے."
مونږ به جواب ورکړو: "ستا خبرے ښې دے. خو مونږ مسا-
فریو. مسکو کی مسافروو. واقعی چه دهغه ځاے خلق ښه عمر تیروے
خو مسافر مسافروے اودد غه خوشحالی نه محرومه وے."
ارمنی به ددا کتر سره بحث شروع کړو.
"ستاسو مذهب کښې هم داخبره نه لکی چه دخدائے پیدا وخت

مودکورونو په قید خانو کښی بند کړے دے ۔ او چې دکوره بهر
تر اوښی نو وربانده ے موتور تورخادرونه اچولی وے چې
ساه ے هم بنده شی ۔"

داکتر اوارهنی به پدے بحث موښ ترمخ راوارولو ۔

"ستاسو وطن کښی هم پرده شته؟"

موښ به جواب ورکړو ۔ "هو"

ما اوګوهره به د ښځو د آزادۍ مخالفت شروع کړو او د
خپل وطن د سختی پردے موږ به تائید کړو ۔

داکتر دیر خفه شو ۔ پخوس کاله وراښه ے زموښ دلطهران
هم داحال وو ۔"

آخر کښی موښ پوه شو چې داکتر خطرناک سړے نه دے ۔
د جینکو خبرو هغه ته مزه ورکوله ۔ زموښ د داکتر سره دیر ښه
پیښه شوه ۔ لطهران کښی به ے هیڅه دکان ته د کپ دپاره ننوتلو
ده به مرانه رهنګا رهنګ خبرونه راکول ۔

خوک چې د لطهران حال معلوموے نو صرف اخبارونه
کافی نه دے ۔ هغه ته پکار دے ، چې قهوه خانی ته ځی ۔ اود چا ے
خبلو وخت کښی هر قسم خبرونه غوږ کیږ دے ۔ بازار کښی
د چا داکتر یابل دوکاندار ے کښینی پاسی ۔ اود مانزیکره تر پخانه
میدان او خیابان لاله زار ته ځی ۔

په ۱۹۰۹ وږ چې زه لطهران ته راورسیدم نو ما اولیدل ۔

چې ښځې اګرچه پرده، کوي. خو پرده صرف په فوم پرده ده.
انزلي، رشت. اوقزوين کښې پرده شته. خو طهران کښې د
کورتول سود سود انرنا نه کوي. تورخادر وند ے په سر وي
چه تر نيمو پښو وي اويزان وي. د خادر لاندے يورپائی
جامه اغوندے داوچو پوندو بوټان ښے اچولی وي. اوتولو
کښې عجيبه خبره داده چه هغوئے د قانون د نرمدنه ډيچ کيدو
ډپاره يو پرده جوړه کړے ده، چه هم پرده ده هم فيشن دے.
د ښځو ډپاره ايران کښې په مخ نقاب اچول ضرور دے.
د طهران زنانه ډير کوشش کړے وو، چه د دے پابند ے نه
خان خلاص کړے. خو کامياب نه شوے. نو اخر چا هوښيار ے
پکښې دا ايجاد اوکړو. يو ليشت اوبنډ اويو ليشت پلن ارت ارت
اودلی جال نه ے سخت بټ ورکړے وے، چه د ښځے د پاسه
ے شادر کښې په کونډ وسره اوښلوے. دا جال ايغ نيغ اودښځه
د ښځې مخ څرګند وے. غاړه ے خليږے. نقاب ورله د يورپائی
توپۍ د مخکښې چيجی کار ورکوے. طهران کښې چه فيرنګيان به
په دے خبره پوهه شول. نو د ايران د ښځو عقلمند ے تعريف به
ے اوکړو. چه هغوے خان د قانون د ضد نه ډيچ کيدو د پاره
سنه ايجاد کړے دے.
د طهران ښځې تر يبأ په سلو کښې څلور نيمی شلی تعليم
يافته دے.

د ښځو جلوس او اقتصادی مطالبات

د طهران ښځې د یورپ د ښځو په شان تعلیم یافته دي. دوي کښې ډیرې داسې دي، چې هغوي یورپ کښې او خصوصاً فرانس کښې تعلیم حاصل کړے دے. طهران دایران صدر مقام دے. په قول ایران کښې حکومت کوي. حکمه معیار ئے هم اوچت دے. دنوي زمانې رهنما په دوي لګیدلی ده. یوخو خو دوي خوش نصیبه دي، چې د تعلیم حاصلولو موقعي ورته حاصلي دي. بل خواد شوند معیار ئے اوچت شوے دے. او حکمه ئے خرچ زیات دے. دوي خپل مصیبت محسوس کوي. یو وړ ځ زهګونه ښځې د طهران د ښځو کلب کښې راجمع شوے. او متفقه تجویز ئے پیش کړو. د تجویز مطلب لاندے لیکلی دے.

"ښځې د هر قوم نیم طاقت دي. ښځې بیکاره سائل قومي نقصان دي. هر مهذب قوم ښو د اکوشش کوي چې ښځې هم د سړو په شان د قومي امدن په وسیلو کښې اولګي. چې د قوم د آمدن معیار اوچت شي.

قول ایران او خصوصاً طهران کښې د ښځو اقتصادي حالات ناګفته به دي. وجه داده چې دوي د خپلو سړو په

اوبزو یوزیایی بارد ے . چه دکومی بنځی پلارنیا خاوند دا بارنه شی اوچتولی نود بنځی ژوند تباه وے .

" طهران دایران مرکز دے . بنځی نے بنی تعلیم یافته دے . په دوے داسی پابندے عاید کول چه ددوے اقتصادی ژوند پوے تباه کیږے په دوے ظلم دے . اود توی ژوند تباهی دے ."

"موږ د طهران بنځی دحکومت نه مطالبه کوو چه :

۱ - بنځو ته دے دحکومت دملاتړ متوقو درواز ے آزاد ے کړے شی .

۲ - بنځو ته دے اجازت اوشی چه تجارت کولی شی .

۳ - په بنځو دے جبرے پرده نه عائد کیږے . جبری پردی سره بنځی نه د قوم خدمت کولی شی اوند خان اوند دخپل ټبر د سائلو د پاره لاس ښپی وهلی شی ."

داکتر سحر وئیلی موږ نه خبر راکړو . اوزمونږ ډه موږ "حقیقت" "ایران" او "ستاره ایران" اخبارونو کښی اوکتل چه لس بجی سحر به د بنځو جلوس اوځی . اود وزیر داخله دفتر ته ځی . " ایران " د بنځو په مطالبا تو خا موشی اختیارکړے وه . خو د طهران نورپریس د بنځو د مطالبا تو تائید کولو .

جلوس د بنځو د کلب نه روان شو . اود سویل طرف نه په خیابان لالزار را ننوتو . تول ترافیک بند شو د تانګو موټرو

او تراام تک راتګ بند کړے شو. ایرانی پولیس په ډیر شمار دلالانو
زار یو خواته په فټ پات اوبل خوا ته د تراام په پټوړے اودریدل.
بې شمارہ تماشبین د پولیس ور وستو ولاړ وو. جلوس روان
راښکاره شو. د اتو اتو ښځو قطار په یوبل پسې راروانې وے.
نقاب ئے د سر نه لرے کړے وو. د طهران خوبصورتی په پوره
زور کښې وه. اوپه دو قدم تله. ریښمی تورځا دروڼو کښې پټین
د کلاب د ګلو په شان محونه په پوره رُعب روان وو. د خارجی
سفارتخانو فیرنګیان په فټ پات ځاے په ځاے غلی ولاړ وو.
دا سی معلومیده لکه چه مخلوق د شهنشاه احمدشاه کج کلاه د
سلام د پاره حاضر شوے دے. ځمایقین دے چه فیرنګیان د
د جلوس په طاقت او اهمیت پوهیدل. ځکه د فرنګستان ښځو
هم د آزادے د پاره د قربانئ ډک جد وجهد کړے دے. هر
څوک پوهیدل. چه د ایران ښځې هم د آزادے په جنګ روانې دے.
د دنیا هیڅ طاقت د دوے لاره کښې نشو حائل کیدے. ٥

د طهران حاکمانو کښې د دوے رونړه اوپلاران موجود و.
هیڅ طاقت دوے ته پوره نه شو کښلی. د ښځو د جلوس په سر د مختلفو
صوبو د ګورنرانو. کمانډرانو لونړه اوخویندے روانې وے. طهران
پیژندلی. ځکه ورته د هرچا سر تسلیم خم وو. جلوس تیر شو. بیا
هم د جلوس رُعب کم نه شو. عام تماشبین حیران ولاړ وو.
موږ څه ساعت پس د ډاکټر د وکاء کښې راجمع شو.

د بخود مطالبا تو مخالفت د چا په ژبه نه را تلو. موبن لا ناست
وو، چه یوزور آغا چه سر اوبنیره ئے د کوه البرز په شان سپین
وو، راغی، اوبی پوښتنی شروع شو:

"جلوس بطرف اداره شیخ السلام رفتند؟"

(جلوس د شیخ السلام دفتر خواته لاړو؟)

موبن کورته بیرته راروان شو. د غرمی د دوه بجو نه
روسته به بیا د داکتر دکان ته راځو. په لاره کښی د پارلیمان
عمارت مخکښی پیر خلق جمع وو. اویو نے غټی اوښی ته ټول
متوجه وو. تقریر مواورید و خو مقرر موبن لیدو. دلته غوږ نه
پس مواولید و چه مقرر صاحب به اونه کښی ولاړ وے، او تقریر
کوے. ده د بخود مطالبا تو په تائید کښی تقریر کولو. معلومه
شوه چه اونه د دے د پاره خوښه کړے شوے ده چه د پارلیمنټ
ممبران (اوکلائے ملت) ؛ے وو ے.

موبن د دے خبرے نه کور ته روان شو. بیا لږ نه وروسته
چه را پسی چغی شوے:

"برادر فتح! بردر علی: "(دا زموبن د شمالی ایران نومونه وو)
د داکتر نوکر چغی وهلی. موبن اودریدو، او پوښتنه موتر ے او کړه
"خیر یا شد؟"

هغه اوویل: "آغائے دوکتور ذکر خیر شمایان میکند."
موبن واپس شو. داکتر ډیر کرم وو، او یوازے ناست وو.

. روښړو! خدای خیرکړو." داکتر په پریشانی مونږته غلی غلی اطلاع راکړه ،"چه ډیرو خانمودخان سره لمسانجی اوبمونږ راوړے وو. خودوزیر داخله په ښه سلوک خیرشو. وزیرصاحب د جلوس ډیرعزت اوکړو اوورپسے وعده اوکړه چه کله شیخ السلام اجازه اوکړے ، نومطالبا تو باندے همدرانغوړ اوشی . دوزیرصاحب په درخواست جلوس خورشو. اودپنځو نمائندګانو یووفد د شیخ په خدمت کښی حاضرشو.

د شیخ السلام جواب

شیخ السلام قابل سړے وو. هغه وفد ډیرساعت په خبرو مشغول اوسائلو اوچه پوهه شوچه اوس به جلوس بیرته کورونو ته رسیدلی وے . نوآخرکښی یی ورته اووئیل :

دعاکوے چه خدای دولسم امام پیدا کړے .

د ټولو تحریک هغه وخ دغه نتیجه اوخته . حکومت د دے تحریک د غلی کولو دپاره دوستو رنګا رنګ احکام جاړے کړل . ایرانی پریس د وزیر داخلهٔ او شیخ السلام په جوابونو ښه تنقید اوکړو.

متاع یا صیغه

ښځې په ایران کښې دیوبل لعنتی رسم لاندے ورځ په ورځ اخلاقی ذلت کښې پریوځی . یوسړے دیوے ښځی سره موقتی نکاح تړلی شی دیوے شپی ، ورځ ، میاشت نو ترکالونو موقتی نکاح کیدلی شی .

شاید چه ددے نکاح فلسفه داده ، چه مسافر به زنا ډ گناه نه بلل شی . خو ددے نتیجه دومره نقصانی اوخته چه تول قوم د دنیا په سترګو کښې بدنام شو .

موجوده زمانه کښې د بد اخلاقئ علاج متاع نه زمانه نه بدله شوه . حالات بدل شول . دسړے تر ښځه او اخلاق په اقتصاد ے بنیاد ونه ولاړ دے . څو پورې چه دیو قوم اقتصادی حالات سمبال نه وے ، نو د بد اخلاقئ نه نه شی خلاصیدے . دایران اقتصاد ے حالات ناګفته به دے . حکمه پکښې بد اخلاقئ زیاته ده .

متاع خپله هم د بد اخلاقئ بنیاد دے . طهران دایران صدر مقام دے . دلوے اونزدے سود اګر ورته راځی . دوئے

دولتمند دے. میا نئی ئے دکی وے . بل خوا طهران دایران پیرس کنړلی شی . حاجتمند ے ښځی خپل عصمت په پیسو خرڅ کړے . اوکه څوک ډکناه نه ویږی ے . نو دمتاع په طریقه واده او کړے .

دمتاع دلاسه تباه شوے ډیرے ښځی طهران کښی ناستی دے اوپه متاع یاپه رنا ژوند تیروے . یوځل چه یوه ښځه د متاع ښکارشی ، نو هیڅ شریف سړے بیا هغه نه واده کوے نو لانهأ دداسی ښځی ژوند تباه شو.

اوس خارجی مسافرچه ایران کښی دابد اخلاقی اوبی ..... نوهغوے د تول ایران بد وائے . متاع حقیقت کښی قانونی شوکه ده . په رښتا ورځ به یوبد رنګ غل یوه ښایسته ماه جبینه د پیسو په برکت اوشوکوے . غل به لاړشی اوماه جبینه به تول عمر د ذلالت ژوند تیرولو باندے مجبوره شی . یوپلوپه ایران دقدرت بی انتهأ فضل دے ، چه سبه وطن ئے ورکړے دے . بل طرف ته د اکوان او غله ئے دورځی شوکوے .

په ایران کښی شهری آزادی

څه رنګ چه ماورانده ے وئیلی دے ، دایران تاج برائے

نام د احمد علیشاه قاجار په سر دے . حقیقت دا دے . چه تول اختیارات د آغا سالار په لاس کښی دے .

ایران کښی نامنهاده حکومت د کال ۱۹۱۲ نه قایم شوے دے . خوښول طاقت د رضا خان په لاس کښی دے . چه کله وغواړی نو وزارت ماتولے شی . فوج او پولیس دواړه د آغا سالار ماتحت دے . او دواړه محکمی ترے بنی رضا دے .

یا هم چه تکومی وزارت کار کوے ، نو لږه ډیره شهرے آشوب وی . خو په وزارت مستعفی وے . نو طهران کښی مارشل لا وے . اخبارونه اشاعت بند کړے . قوم پرست انتها پسند په سوچ و فکر کښی ځما شنه یاد شی ، چه یوه شپه دولس بجی کابینه مستعفی شوه . موږ د آغا کره اوده وو . د خوبونو نه را ویښ کړو . اویل ځانے ته ځے شپه په شپه او سبا لو . آغا کریم مارشل لا نه سخت ویریدو . اودا ویره ځے وه ، چه په کور مو حمله اونه شی .

موږ هم ویریدو . زموږ نه گرفتار ځے زموږ د پاره مصیبت وو . نه موږ چا ته نه ښایسته کولی شو . نه به چا زموږ د خلاصی کوشش کولی شو . موږ ګډوډیلی وو ځے ، چه موږ هند وستانیان یو ، نو بیا به موږ خلاص شوے وے . خو بیا به موږ د انګریز ځے سفارت په نظر کښی ډاغلی وے ، او خپل وطن نه محفوظ داخله به موګرانه شوے وو .

موږ ظهران کښی دوه میاشتی تیرے کړے . اودوه ځله مودکابینی استعفی اولیده . دویم ځل مانریګرو . چه آغاکریم راغی حسب معمول سیکارټ په ټحله کښی وو . اوراته ټ په تعدی دبل ځلئ دتلو دپاره اووے . لږ ساعت کښی موږ د سلطان محمد علی خان ځای کښی محفوظ ناست وو . ځکه چه هغه شمالی ایران کښی امن قایم کړے وو . اوامید کیدے شی چه هغه به ټول ایران کښی امن قایم کړے شی .

سلطان محمد علی خان

ایران کښی فوجی کپتان ته سلطان ویلی شی . محمد علی ظهران کښی دښار د خاص محافظ فوج کپتان وو . ځان باندے ئی مسلمان نوم کیښی وو .

محمد علی دذات مرهټه هند وو . پوښی ښار کښی یوسکول کښی دزده ملستن وو . کال ۱۹۱٤ ، کښی دجنګ عظیم شروع کیدو سره دهند وستانیا نو انقلابیانو مره یی د خوږ وطن نه هجرت اوکړو .

محمد علی اود هغه ملګرو ځان په ټحه طریقه بغداد ته رسولی وو . اود هغی ځای نه جنوبی ایران ته د انګریزانو فوج د مقابلی دپاره راغلی وو . داوخت انګریزانو په جنوبی ایران قبضه کول غوښتل ، چه کوښټه اوبصره سره یوځای کړے . د جنوبی ایران خلقو ښه مقابله اوکړه . خو د قبیلو د سردارانو په غداره اوبدو ایرانی لښکرو ماته اوکړه . زموږ کورنۍ دهغه وخت د آغا سپه سالار

رضا خان سره واقفیت پیدا کړے وو.

څه رنګ چه ما وړاندے ویلی دے، سلطان محمد علی خان د طهران د محافظ فوج کپتان وو، یوه شیبه یئ نږه او ګوهر رحمان دواړه خان سره په ګشت ګرځولی وو. او پهره دار ے کتلی. هر ځاے به ورته سلامی کیدے. یو ځاے سپاهی ے په خوب اولید و او وده ے راالاند ے کړو. او د هغه افسر ترے سبا ته د پیښئ حکم وکړو.

سلطان محمد علی خان موږ ته د ایران د انګریزے ایمپیریالیزم د مخالفت وینا قصی کړے وے دا یوه به د هندو ستانیانو په ځانګی ملګرتوب کښی د آزادئ د جد وجهد د نمونی کار اوکړه شی.

صوفی صاحب

یو بل هندوستانی چه د سلطان محمد علی خان په ملاتړ کښی د انګریزے فوج سره مقابله کړے وه، صوفی صاحب وو. دا ځوان هم هندو وو. خو د ے پوهید و چه د انګریزے ایمپیریالیزم مقابله هر ځاے او هر ولس کښی داسی ده لکه چه

هند وستان کښی ۔ د ایرانی مجاهدینو دده سره ډیره مینه وه ۔
ده ته به ئے صوفی صاحب ویلو ۔

انګریزانو ئے فوج د جنوبی ایران په جنګ کښی صوفی ګرفتار
کړو او د پهانسی حکم ورکړ شو ئے او شو ۔ جنوبی ایران کښی ماتم
وو ۔ اوخلق د صوفی په غم غمژن وو ۔ دوئے نه معلوم وه چه
صوفی صاحب هند ته ځی ، او د ایران د حفاظت د پاره ئے
ځان قربان کړو ۔

اولس سحر وختی د میدان نه نوم چارچاپیره جمع شوئے
وو ، او د صوفی په پهانسئ کیدو خفه وو ۔ هند وستانی فوجونه
د پهانسی میدان نه چارچاپیره سنګینونه ایستلی والړ وو ۔
چه د خپل وطنی ساه اوباسی ۔ د صوفی ګناه دا وه چه هغه د
هند وستان د دښمن برخلاف جنګ کیدلی وو ۔ شیراز کښی
ښځو نرو مخونه وهل او د صوفی د پهانسئ په حکم ئے دستورکو
نه داو ښکو رودونه روان وو ۔ او د اخرئے دیدار د پاره ئے
والړ وو ۔ چه په دئے کښی خبر راغی چه د صوفی روح د تنه
پرواز اوکړو ۔ خلقی حق حیران پاتی شوئے ۔ د صوفی د شهادت
قدر او عزت د خلقو په نظر کښی نور هم زیات شو ۔ شیراز کښی
د صوفی د قبر پوره عزت دئے ۔ او څما خیال دئے چه خپل وطن
ته هم د دسره پیژنی هم نه ۔

سلطان محمد علی خان د شیراز نه اصفهان ته د ایرانی

مجاهدینو سره روستو شو. دا اصفهان خو ارشا ایرانی
مجاهدینو دا انګرین سره مقابله اوکړه . خو دا ایران طاقت مات
شوے وو. انګرین ے فوج بیخ طهران ته اوو تو . او د بل
انګرین ے فوج سره یو ځاے شو: چه کوم د بغداد نه طهران او
قزوین ته رسیدلی وو.

د هند وستانیانو انقلابیانو د پاره ایران غیر محفوظ شو.
بغیر د محمد علی نه نور هیڅوک دایران نه اوو تل . د آغا سالار دوستئ
محمد علی ایران کښی پاتی کړو . کوچک خان چه یوه موقعه
کښی د حکومت په امداد کښی د ایرانی باغیانو سره جنګیدو، نو
زخمی شوے وو، او یو ځنګل کښی پروت وو، او سپه سالار نه
ے د محمد علی سفارش کړے وو چه:

"دا محمد علی هند ے د خان سره ساته . د ے د یر تو ږن
د ے ، پکار ده د ے شی"

د غه وجده چه رضا خان محمد علی د طهران د فوج کما-
ندا ر لګولی وو. داد محمد علی د طاقت راز وو.

موږ به همیشه په نازک وخت د سلطان محمد علی خان
کوه میلمانه وو. د سلطان محمد ایرانی وه. او هند وستانیانو
سره ے ډیره مینه وه . او زموږ په میلمستیا به خوښ ځانه وه. و ځ
د وه کښی کا بینه جوړه شوه او موږ به آزاد ی طهران
کښی کوښیدو.

د ایران فوج

د رضا خان نه وړاندے د ایران د فوج حال خراب وو .
هغه نوے ایرانی فوج منظم کړو . یو فوجی سکول ے طهران
کښی قایم کړو . او دا سکول د وچه د ایرانی فوج د پاره لی
افسران پیدا کول . د رضا خان قابلیت د دے نه معلومیږی
چه هغه یو فیرینگی افسر نه سکول کښی او نه فوج کښی ساتلی وو .
او دغه وجه وه چه روس او انګریز د واړو تر ے د ګلی موقعه
نه وه ورکړے .

د ایرانی سپاهی وسله قابله تعریف نه وه . توپک ے
لا انګریزے اولا روسی وو . ایران کښی توپک نه جوړیدل .
د ایرانی فوج سره بله وسله مشین ګن او توپی وے . مشین
ګن او توپی هم د خارجی ملکونو وے ، خو په ډیر کم تعداد کښی
وے ، چه لښکر به جنګ ته روان وو ، نو د سره مشینګنونه
او توپی به د دومره لږ وے ، چه سړے به حیران شو ، چه ایرانی
فوج څه رنګ په باغیانو فتح حاصلولی شی ، ځکه چه حکومت او
باغیانو د واړو سره یو قسم توپک وو . خو د دے خبرے جواب
فوجی تنظیم ورکولو . ضبط او تنظیم د طهران فوج کښی قابل

تعریف وو. او څومره چې موږ د ایران نورې حصې اولیدې
او د ایرانی فوج اود باغیانو مقابله مو اولیده. نو موږ ته معلومه
شوه چې عام ایرانی شاهي فوج ته د تقدس په نظر ګورې. مقابله
ئې په سختۍ نه شي کولی.

رضا خان دا خیال سائلو چې فوج ته د میاشتې په ډوډۍ
تاریخ تنخواه ورکړي. دې خبرې د فوج په زړه کښې د آغا سالار
ډیره مینه پیدا کړې وه.

د فوج د لباس په هم د رضا خان قابلیت ظاهر ولو. د
ټول فوج بې د افسرانو جامه د ایران جوړا کانو اوو دلی وه. د ایرانو
وطن د غټ ګډ سره رخا متا، په دول وه. سپاهي برجس او
قمیص ئې وړدې کښې شامل وو. او په ژمي کښې ئې دوطنی
شهرې لوړې کوټ وو. په اوړې ژمي کښې ئې ډکه د څرمنې
توپۍ په سر وله. په پښو ئې ګرمۍ کښې کرچۍ او په ژمي کښې
د څرمنې بوټان وو. د البا س ټول ایران کښې جوړیدو. او ځکه ئې
ایران د خارجي سپا یسته خوګرانی کپړې د خرڅ نه ږغ کړې وو.
بیا هم د افسرانو جامه ټوره قیمتی او خارجي وه. د ایران فوج سپاه
هم د افسرانو په پرتې د فوجي وردې نه شي لیدې. او نه د کوټ یا قمیص
بټن ئې پرانسټي لیدې شي. د دوو میاشتو په موده کښې ما چې
رضا خان هر ځله لیدلی وو. هغه خوګوم جاکټ، توره برجس او
او ږده توره بوټان اچولی وو. او په سر ئې همیشه فوجي توپۍ وه.

فوځی کلیزه دستوره

ایران کښی "نوروز" ټولوکښی لویه دخوشحالی ورځ ده. په دے ورځ طهران کښی جشن وے. موښ په دے ورځ خیابان لاله زار کی ولاړ وو. او فوج په خپله ښه جامه، پوره مسلح په بازار تیریدلو. اول سرد فوجی درسکاه هلکان په توره فوجی لباس کښی په سرد فولاد خودونه تیرشول. ورپسی پیاده فوج تیرشو. روستو د ایران توپخانه راغله. فټ پات باندے زموښ سره نه نه ے یو بوډا راهنی ولاړ وو. هغه باندے ډیرانژشوے وو. هغه موښ نه اووے. چه زهما په ژوند کښی ما داسی منظم یا ضبط اوښه ملبوس ایرانی فوج نه دے لیدلی. اگرچه په موښ دده ے مظاهرے اثر دومره زیات نه وو شوے. دلوے ایران په پایه تخت کښی دنوروز د جشن په ورځ دومره لوی فوج او زړه توپی په اسونو اوپه اوښا نو پسی ترلی. خود یو خیز نه موښ هم بی اثره پاتی نه شو. هغه دا چه ایران د روروډ ترقی پرلاړه کامزن وو. ایران د تولو کیدلو نه د بچ کیدو خښی ښودلی. ایران کښی خارجی سازشونو طوائف الملوکی جوړه کړے وه. خودد ښمن

نړۍ به نړۍ ا وچوے . ایران به متحد شی . دانوے فوج به د بغا وتونو بیخ کنی اوکړے . اوایران به آزاد اومضبوط شی .

د ایران د خشکی د فوج حال ما څه نه څه تحریر کښی راو. ستو . هوائے طاقت خوئے دنیشت براب وو . اوسمندرے طا . قت ئے هم نه دارد وو . بحیره خضر کښی ئے یو جهاز نه وو . خلیج فارس باوجود دقول اهیت یو ایرانی سمندر ے جهاز نه لرے . د خلیج فارس یوه غاړه ایرانی سمندر دے . که چرے د د ے قابل شی چه یو بنه سمندر ے بیړه اوساتی ، نو د سویل د خوا نه به یو دښمن هم پرے حمله نه شی کولی . د خلیج فارس په څله کښی جزیره هرمز داسی جزیره ده ، چه هغی کښی د نوے زمانی توپی چه کیښودلی شی ، نو یو جهاز هم خلیج فارس ته نه شی رانتوتی خو ایران هیله ساه واخسته . لا پاسید ے نه شی . نو د خلیج فارس یا بحیره هرمز به څه غم اوکړے شی .

د ایران صنعتی ترقی

ایران کښی یو صنعت هم د ذکر قابل نه د ے . لوئے صنعت چه ایران د هغی په نوم د عمر نه مشهور دے ، هغه قالین بافی ده د قالین بافئ صنعت د بد امنی په وجه په تنزل دے . قالین

ایران کښی جوړښتی ، خو په ځای پروت وے. د تافلی لاړے خطرناکی دے . خارجی ممالک تړئے څوک برآمد کولی نه شی. د تالین بافئ د صنعت د ترقئ انحصار په برآمد دے. او برآمد د بدامنئ په وجه کم شوے دے .

دویم صنعت د کوریئ خامتاد ے . ایران ته د هند و ستان نه تول سوتی رخت درآمد کیږے . ځکه ایرانی جولاګان بیکاره ناست دے . د هند وستان مشین سره د ایران د جو لاګو سے مقابله نه شی کولی .

معدنی پیداوار ایران کښی د تولی دنیا نه بیش بها دے . د خاورو رتیل **ثروت ایران** ته عطا کړے دے . خوانکریزے سامراج ترے غصب کړے دے .

تعلیم :

تعلیم په تول ایران کښی صرف طهران کښی په اوچت معیار دے . د طهران یونیورسټی صرف طهران پورے محدود دے . د طهران نه بهرنی حالات نه د تعلیم اوند د تجارت په حق کښی دے . طهران د حکومت صدر مقام دے . ځکه خلق ځے زیات سند حالت کښی دے . او ځکه پکښی تعلیم یافته خلق زیات دے . بنځئ نو د واړه پرشان تعلیم یافته دے . طبی انجینرے کالجونه پکښی شته او تربیت ورکوونکی دیورپ تعلیم یافته ایرانیان دے .

تھیټر او سینما

سوائے د طهران نه ایران کښی سینما، تھیټر نشته. او طهران کښی سینما یا تھیټر هم نیم حکومتی ادارے دے. که حکومت تر ضرورت وے، نو سینما او تھیټر وے، کمی نه وے. د طهران په لږه فاصله باکو کښی کوشښ کوشښ تھیټر او سینما ده خو طهران کښی حیران کن فرق دے.

خیابان لاله زار کښی دگرانډ هوټل نه لاندے د بازار د واړه پلوته د بوبل مخامخ دوه سینما هالونه دے. د دواړه د فوج د پاره محفوظ دے. دیو دوست په امداد موږ دواړه ملگرے یو خل دکیډ تانو سره سینما او کښله د ټولین حمله او واپسی ئے ښودله. یوخل موږ المقابل هال کښی ایرانی د رامه "کاوه" او کښله د رامه کښی د خلقو د ظالم بادشاه برخلاف بغاوت وو.

قهوه خانے

طهران کښی قهوه خانونه عام خلق راځی. او قهوه چائے څښی. ایران کښی نه موږ د دوه میاشتو موده کښی موږ دیرو قهوه خانو کښی چائے څښلی دے. عجیبه چائے دے. ورپه ورپه د شیشی پیالی وے. نه پکښی چینی وے نه پکښی پئی وے. خلق ئے هم په شوق څښی. او ورباندے مجلس گرم وے دے قهوه خانو کښی گپ شپ ډیر ښائسته شی. د طهران

د بارډ امیرانو وزیرانو محلونه ذکر کښی راځی . د حکومت ایران خارجه تعلقات او پالیسی باندے هم بی اندازه سے گپ لگی . زیاتی خبرے د منلونه وے . خو خلق سے په شوق اوریے . دے قهوه خانونه اوچت انسان اویږد ولتمند خلق راځی .

د طهران نه روانیدل

زهوبن طهران کښی دایسا رهید وخیال نه وو . اول خو زهوبن دگرنټارسے خطره وه . اوبل زهوبن میانئی موبن نه د زیات ایسا رهید واجازت نه راکولو .

طهران کښی با قاعده حکومت وو . که چیرے موبن باندے د چاشک راغلی وے . نو گرنټارشوے به وو . طهران کښی هندوستانیان هم وو . او زهوبن بابت انگریزے سفارتخانی ته د خبر رسید وخطره هم وه . یوه وړځ موبن تو پخانه میدان کښی په بنچ ناست وو . شنه خوشحال وو . زهوبن هیرشوے وو ، چه موبن ته پټ پناه اوسیدل یکار دے . څرگوند وچه زهوبن یو ملگرے هندوستانی مهاجر

چه کرکی او د ترکمانو په بند کښی زموږ سره وو، او د ترکمانانو قید کښی ورک شوے وو. خُموږ په خوا کښی شاکړے ولاړ دے. زه کوهر په ترخ کښی او وهلم. د مهاجرو په لیدو رانه دم اوختو. مهاجرو هند وستانیانو د رائیو رانوسره په خبرو وو. موږ پښی اویستی.

یوځل یو هوتل کښی ناست وو چه "بچه" هلک دوړو کوریدو موږ ورته پوښتنه اوکړه چه ولی؛ خو "بچه" هغسی کوریدو. دوړوے وئیل "نجس هنډے"

خُما نه زړه لاړو. ما خیال اوکړو چه جوړے موږه یاد وے. خو چه شا تړم اوکتل. نو یو پنجابی دانګرین سفارتخانی سوار اوږده شمله ناست وو. شاید چه د بچی دوړوے سخن هغه نه وو. هغه به خُما او کوهر ته ولی خبرے اوریدلی وے. موږ چه پنجابی اولیدو، نو زړه مو پسی ورکړے، او پښی مو اوویستی.

موږ نه زړه نه زړه طهران پریښودل غوښتل. اوکه داسی مو کړے وے نو فائده کښی به وو، خو تمباکو ختمه اووے چه زړه نه زړه به هغه شیوازه ته بطورِ کونسل خی. نو موږ به خان سره یوځی. دے کښی زموږ دوه فائده وے. یو به بی خرخه شیوازه ته اوړسو. او بله لاره کښی زموږ نه څوک دپاسپورټ پوښتنه نه شی کولی.

خونن خواوصبا خو کښی موښ طهران کښی دوه میاشتی ایسا
شو. تمباکوف نه موښه مالی فائده لتوله. اونه موښ دوه میاشتے
کښی سل توما نه خرڅ اوشو. دوے موښ له آغاے عبدالکریم
راکوله. د مکان کرایه په موښه نه وه. دومره خرڅ نه موښ نه څونګ
اوشو؛ داد طهران د هرشی د ګرانئ نتیجه وه. سل توما نه قریباً
سل ډالره وو. خو په نه کښی موښ خفه وو. طهران بیا موښ نه
شوکښلی. موښ سنه سیلونه اوکړل. کله کله به سنا نه بهر یوخوا
بل خوا لاړو یوه ورځ مونږ شاه عبدالعظیم زیارت هم کړے وو
څوځو ځله د شمران سیل موهم پکښی کړے وو.

دکال ۱۹۲۲ د مئی په شپاړسم تاریخ نه د طهران نه
رخصت شوم. اګرچه ما د ګوهر د پاره تمباکوف نه پیرا وویل
خوهغه رضا نه شو. تمباکوف ے چه د ګوهر رنګ نه صفا معلو-
میزے چه هغه هند وستانی دے. ځما کونسل ګړے به بدنامه
شی. آخر ګوهر رحمان خو بنده ګړه چه هغه به د ډاک په ګاډے کښے
نو شیراز نه ځی. د ډاک ګاډے په شپږ واسونو چلی. شپه او
ورځ سفر کوے. نه د تمباکوف په پارټی کښی په موټر کښی روان شوم.

د تمباکوف پارټی سره درے موټرے وے. یو موټر چه
تمباکوف د خان د پاره په بیړه اخستی وو، هغی کښی تمباکوف
د هغه ښځه اوولاړه بال بچ وو. دویم موټر کښی د تمباکوف

لوئے دومحا من او آغائے عبدالکریم چه د تمبا کوف سیاسی سکرټر
وو، اویوکس بل وو. دریم هوټر کښی د تمبا کوف ذاتی نوکران او
نږه وم. تمبا کوف خپله سره د نوکرانو مخکښی مجلس نه کولو. تل به
ئے ما ته د هغوئے مخکښی "شوفر" ویل. شوفر یوریپ کښی د رایبور
ته وائے.

تمبا کوف به د ملکرو مخکښی ما سره داسی خبرے کولی لکه
چه مالک یی د رایبور سره کوے. خو وروسته وروسته به ئے د هغوئ
مخکښی کله کله خپله د لجوئے په داسی الفاظو سره اوکړه.

"تاوارش لیتش! (دلتویا اوسید ونکی ته لیتش ویلی شی)
تا ته دیر تکلیف دے. ته د یخ ملک اوسید ونکی ے. او ایران گرم
دے. خفه کیږه مه، ته به شیرازکښی په آرام ئے."

داسی خبرے به ما ته تمبا کوف هله کولی چه هغه به پوهه
شوچه زه د رایبور انو د لاسه ..... ښه تنګ شوی یم. کله کله به تمبا-
کوف نږه د خان سره په دوده کښینولم. ما به ورته غلی غوندی
اووے، چه داخبره د هیڅ نه ده. خو هغه به اصلا اوکړو. نو
نږه به وروسته کښینا ستم. د تمبا کوف مطلب به داووچه
د رایبوران مانه تنګوے. د رایبوران نو زما سره حسد کولو. هغوئے
به خیال کولو چه دے نا واقف دے او اجنبی دے. که تنګ ے کړو
نو د نوکرے خیال به پریږدے. او دده خائے به موږ او موکله
کله به چه موږ ته موقعه ملاؤ شوه. نو تمبا کوف او نږه ښه

خپلو کښې اوخندې ویدو. تمباکو ئې وبراوویل.

"افسوس چې حُمّا دماغ کښې د دې رایو را نو دحسد خیال نه وو راغلی. کنې ما به ستاسو بابت دا نه وه مشهوره کړې، چې ته د رایو ورځې. اوس ستا کسب نه نه شم بدلولی."

"اوس نه شوفریم" ماوېره اوخندل.

قُـمْ

مونږ ماښام قم ته اورسیدو. د طهران نه تر قم پورې لاره خشکه ده، اوهیڅ څه خاص واقعه پیښه نه شوه. سحر وختی مونږ د قم زیارت ته تلو تو. لوی عالیشان ګنبد پرجوړ دے. اسلامی دنیا کښې د اولی الله دیر شهرت لرے.

څه موده وړاندے د قم ښار دیر ښه حالت کښې وو. خو اوس یوه غلیظه قبضه ده. اوخلق ئے په بد حال دے. د ښار مینځ کښې تنګ سړې پوش بازار دے. نمر پکښې نه لګی.

قم د قالینو د صنعت دپاره شهرت لرے.

اصفهان

د طهران نه تر اصفهان لاره خشکه ده. اکثر حصه سطح

مرتفع دہ. خاے پہ خاے پکښی رودونہ اوکاریږی ونہ بهیږے
خوپہ دے لږ ے مزکی اوبیږے .

دمئی پہ اتلسم کال ۱۹۲۲ موږ اصفهان تہ اورسیدو.
اوروسی سفارتخانہ کی کوږ شو. اصفهان کښی موږ څلور
ورځی تیرے کړے. تمباکوف اصفهان کښی زړہ خان سره سفا.
رتخانہ کښی اوسائلم. ماا وبرتہ اووے چه زړہ بہ د پرائیورانو او
نوکرانو سره اوخورم. خوهغه دا خوښه نه کړه. هغه دا نه غوښتله
چه زړہ د بیاد پرائیورانو د لاسه مصیبت کښی پریږدم. دقسم او
اواصفهان ترمینځه هغه دوه درائیورانو ته داذهن نشین کړل
چه آنوچه لیټش شوفر دے. خوهغه زما میلمه دے او اصفهان
تر رسیدونه وړاندے درائیورانو خما طرف ته رویه بدله
کړے وه. موږ به د وړی دسفیر سره پریږدم خوږه. د وړی
چه خومره تعریف اوکړم کم دے. تمباکوف سنه سپے وو د
د وهمبی ورځ د وړی نه روستو ے ماته اووے:

"اوګورہ تورلرش! تاشقند اوماسکو کښی به داسی وړی
اونه مومی."

خماد تمباکوف د تاشقند ژوند ډیاد شو. دے د خپلے
بنځی او بچو سره دایم. این. ډرائے کور کښی یو کوټه کښی په فرش
پروت وو. د تمباکوف په مقابله کښی موږ هند وستانیانو
سنه ژوند تیر ولو. خوبنصیب ے سنه د وړچه خارجه د فتر کښی

ے ملاتړ مت او مونډ لو. او اوس په ایران کښې د تاشقند نه لوړے په مزه کښې ټوندکوی خوبیا هم تمبا کوف شریف سړے وو. او پنځه ے هم ډیره شریفه وه. خما او دګوهر به بد حال شوے وو په ایران کښې. که تمبا کوف او د هغه پنځے زمونږ سره زوړ واقفیت نه وے. او د زوړ واقفیت لحاظ ے نه ساتلی.

تمبا کوف اصفهان کښې خما نه ډیره معافی اوغوښتله خوچه ما تسلی ورکړه چه تکلیف د انقلابیانو لاره اسانوے. نو د هغه تسلی اوشوه.

خلور پنځه ورځې زه په اصفهان کښې شه اوګرځیدم. د ایران د زړو بادشاهانو خصوصاً د خاندان عباسیه د بادشاهانو دلاس یادګارونه م اوکتل.

اصفهان د ایران مینځ دے. زه زمانه کښې اصفهان به همیشه صدر مقام وو. دلته ے زمانې راسې طهران پایه تخت شوے دے. اصفهان زوړ بنا ردے. د تجارت لوے مرکز دے. د اصفهان نه چارچاپیره علاقه ښه شیرازه ده. د کارپین ونو په ذریعه ے اوبه خورکیږے. په ځنې ځنې خایونو کښې د اکارپین ونه د زړو نفرونو هومره اوبه لوړے.

ایمپیریل بنک آف پرشیا۔ اصفهان

اصفهان ته ما خان سره یو نخوا ایرانی نوټونه طهران ته راوړي وو. دکاندارانو نه اخستل. ماته ئې اووې چې بینک کښې ئې بدل کړه. بینک ځما نه هر تومان پسې یو قران واخستو او په بدل کښې ئې نوي نوټونه راکړل. په هغو تحریر وو:

"ایمپیریل بنک آف پرشیا۔ اصفهان"

په زړو نوټونو د اصفهان په ځای طهران لیکلی وو. ما له معلومه شوه چې ایران کښې هره صوبه کښې د ایمپیریل بنک شاخ دی. د اشاخونه د خپلو خپلو صوبو د پاره د نوټونو چاپ ئې کولو حق لري. دیوې صوبې نوټ بله صوبه کښې نه لګي. بنک خپل کمیشن اخلي او بدل کښې د خپلې صوبې نوټ ورکوي.

ایران خپل نوټ نه لري. صرف ایمپیریل بنک آف پرشیا حق لري. په نوټونو چاپ ئې کښې د. د. ئې نه عدو وه نوټونه ایران تجارت ته هم ملګري سره دي. بینک په ذریعه کښې د. د غسې د ایران اقتصاد. ئې ذریع دانګلې ئې. ایمپیریل بنک آف پرشیا په لاس کښې دي.

د طهران او اصفهان تر منځ د اقتصاد. نوټ یوه

بله طریقه هم ځما په نظر راغله. د طهران او قم ترمینځ ځای په ځای د یوخارجی کمپنئ محصول چونکی مقرر دے. سړک د دے کمپنو سره اجاره وو. څومره تجارتی مال یا موټر وو نه یا کاپی چه په دے سړک تیریدل، نو محصول چونکی به ئے ورکولو مخکښے ما ته معلومه شوه، چه د غسی لوئے سمندر ے نه بند رونه هم د فیرنګیانو په لاس کښی کا نړه دے.

جنوبی ایران کښی د تیلو تهیکه هم د انګریزے کمپنی سره ده. دَدے مراعاتو د محفوظ ساتلو د پاره انګریز انو جنوبی ایران کښی یو فوج د پولیس په نامه کښی ساتلی وو. او د زیاتی مضبوطیا د پاره د مجلس یو څو ممبران ئے هم خپله تنخواه کښی پټ ساتلی وو. خو بیا هم د اقسم ممبران ایران کښی بند څرګند وو. هغوے ته به ئے "د انګریز پرده دار" وے. او چه کوم ممبران به د روس په پرده کښی وو. هغوے ته به ئے "د روس پرده دار" ویلی. خو زمونږ په زمانه کښی د انقلاب روس په وجه د روس پرده ختم شوے وه. دابد نامی صرف د انګریز د دوستانو د پاره وه.

اصفهان کښی لوی کوښه چار باغ ده. طهران کښی دومره کشاده کوښه نشته. دا کوښه د تاشقند د مرکز ے کوښی هومره پلنه ده. د کوښی مینځ کښی پوخ سړک دے. چه کله ئے پرځی راځی د سړک مشرقی خواته سره سر د یرش فټه پلن پارک د ے. د سړک او د پارک نه یو خوا بل خوا د پیاده ولاره ده.

د شـــرقی پیاده لارہ نمونخاته تر بیا سرا سر پارک دے. او بیا دکا نونہ دے. قبلنیز طرف ته هم دوکا نونہ دے. اودا الخبا رونو دفترونہ دے. اصفهان زوړ لوے ښار دے. خو صفائی صرف چارباغ کښی ده. نورښار کښی صفائی نشته.

شراب خوری

ټول ایران کښی شراب عام څښلی شی. ښار یوا وکلو کښی شراب جوړیږی. اوڅښلی شی. دا صفهان سره نږدے جُلفه کلی دے. په دی کی اکثر ارمنیان چه په مذهب عیسایان دے اوسی. شراب فروشی د دوے کار دے. ایرانی مسلمان هم شراب سازے. فروشئ اونوشئ کښی دارمنی نڅکم نه دے.

زهونږ طهرانی کوربه آغائے عبد الکریم زهونږ سره هم سفر وو. دے دتبا کوو ایران سکتر وو. دا صفهان نه د رخصت په وخت جُلفی ته لاړو. اوکا فی خریدلے اوکړو. دا خوان به شپه اوورځ د شراب پو په نشه کښی وو

ایران کښی شراب دوه قسمه دے. یو عرق چه ساوړو کی بوتل کښی خرڅیږی دے. پرتین دے. آغائے عبد الکریم به دا څښل اوسر ے ستړ ی به کړ ے. دویم عام شراب دے چه

دایران خلق ے دانگورونہ جوړوے . انگور سخا کړے اوبیا ے
پخوړکړے . اوپه لویو بوتلونو کښی ے خرڅوے . داشراب ووچه کوم
ایرانی انقلابیانو اود نقشبند صدر صاحب دشپی په کاډے
کښی زمونږ په پیسو تفلس ته واپسی سفر کښی څښل .

هر وطن کښی شراب خوړے شته . دد ولت سره عیاشی
راځی . شراب خوړے دعیاشی ضرورے جزدے . اکثر وطنو
نو کښی شراب خوړے تر بنبار ونو محدود ده . خود ایران کلی هم
په دے مصیبت کرفتار دے .

شراب خوړے یورپ کښی هم عام ده . خود هغوی
په ذهن ے دومره قبضه نده کړے . ایران پویوټی وطن دے .
ددے وطن دمشرانو ذهن او ضمیر دوارهٔ دشرابو په منګل
کښی کرفتار دے . ایرانی شراب خور و ایران دیورپ دشرابو
په بدل کښی خرڅ کړے دے . دَدوے ایران هیر شوے دے .
دوئے ته ایران بی قیمته شی ښکارے .

دایران نوے کهول به جد وجهد کوے . اوهله به دَداخلی
او خارجی دښمن تر خپل وطن خلاصوے .

لوستونکی دانقص په خپل وطن کښی هم لیدے شی .
زمونږ مشران دخارجی حاکمانو جاین اوناجاین پره کوے .
او په دے خبره نه شرمیږے ، چه د وطن دآزادے خواهانو
الفت کوے . اوبده خبره داده چه دوے ځان په حقه کښے

بیشک چه د پښتون قوم د شرابو د لعنت لاندے نه دے راغلے خو بیا هم د وی خپله مشرے د انګریزے سامراج په امداد سائل غواړے ۔

د ایران مشر انو د رضا خان د راتلونه وړاندے قوم او وطن څو څو ځله خرڅ کړے دے ۔ د وے لکه زمونږ د وطن د قوم فروشو په سودا نه پوهیدل ۔ ځکه ځے ایران د یوار زان خرڅ کړی دی یو لویه بنګله ، درې لوئے باغ ۔ ماه جبینه او شراب چه ځے او موټر نو بس ۔ وطن د دے نه نزهیات قیمت نلری ۔

د اصفهان نه روانیدل

اردغلو سره مقابله

په پنځمه ورځ موږ د اصفهان نه روان شو ۔ د سفیر او د هغه یار و یو ځ نه علاوه د هغه د رائیوران او نږه په دله کښے شامل وو ۔ د اصفهان نه به پنځوس میله مخکښے تلی وو ۔ چه مخکښے د موټر ونه اودریدل ۔ د تمباکو فروسی سپاهی سره روسی پنځه درے توپک د موټر نه کوز شو ۔ او د سړک نه کښ طرف ته روان شو ۔ د تمباکو خپل د رائیور روسی هم تکړه سړے و هغه هم د موټر نه کوز شو ۔ خپله لویه طماچه ځے د لاس کښے و ۔ او د محافظ نه په شپه فاصله روان شو ۔ د لوئے

لاړے په غاړه د غونډے په سر د حکومت د څوکئی برج ولاړ وو. د برج د لاندے سړک په غاړه تقریباً پنځوس قدمه فاصله کښی یو سړے په کوهی کښی ولاړ صرف سړے ښکاړیدو. توپک ے بهر نیولی وو. سپاهی او د رائیو تړے یوبل خوا فاصله باندے اودریدل. او شیش ے ورته اولګولو. د برج نه شپږ: اته توپک راښکاره شو. په موږ ے آوان اوکړو چه خون ے مه. دوه کسه توپک په لاس راکوز شو. موږ نه نزدے راغلل اوپه فارسی ے ورته اووے،

"مابه فرنګی کار نه داریم، راه خود را بګیرید."

پاس په غونډے باندے د غلو قبضه وه اوداسکاړے څوکئی ے قبضه کړے وه. د اغلے د چاړچاپیره غږونه راکوز شوے وو. دوئے د راتلونکی قافلی په انتظار کښی ناست وو. موږ بیا مخکښی خبر شوچه قافلی نه درونده رقم واخستے شو. اوهلته مے مخکښی تلوته پریښوه. د اصفهان د حکومت لاچارے وه، چه د اصفهان سره نزدے شوکی کیدے. د سپه سالار رضا خان دنوے لښکر انتظار وو. حالات افسوسناک وو. خود رضا خان نوم د خلقو د پاره د امید خبر وو. زهوږ هم یقین وو. چه زر تر زره به د اغلے تباه کړے شی. رضا خان په هر قیمت امن غواړے

یزدجرد (گرد)

د سفیر په اشاره ئ موږ ۵ قافله روانه شوه . د اصفهان
ئ سړک ئ وو . کند ے . کوند ے . خور . ستغ . زویړ او
میدان ئ موږ سړک وو . په ټوله ورځ کښی به موږ په مشکله یو
نیم سوه میله لاړ وهلی وو . ما شام ستړے ستومانه د سړک
خوا کښی یوے باند ے کښی موشپه راغله . کټ پیدا ئ شو .
سفیر هم په مزکه سملاستو . خو اګنۍ او چرګوټی ډیر وو .
د ودۍ باند ے ماړه سملاستو . موږ سره پوره رسله وه .
ښه محفوظ وو . وار په وار موږ پیره ورکړه چه صبا شو .
کچه غوسه یزدجرد ته اورسیده . د اسو رکلی د ے ئ ډه
زمانه کښی د ایران پایه تخت وو . خو اوس د اسی ښکار ۵ چه
کمتی و په کمو کښی تا خونه جوړ کړے وے .
ماد سا وتم پرشین رائفلز وراند ے هم ذکر کړے دی
انګرین انود بوشهر ئ نه تر یزدجرد سړک جوړ کړے وو . هغوے
د روسی انګرین ے عهد نامی په موجب د ایران ئ نه اوتی وو .
خو سړک ے پاتی وو . موږ یزدجرد کښی ایسار ئ شو . د یزدجرد
په ستغ خلقو ئ موږ سره موټر و نو خیټ ولو کښی امداد اوکړو

ACKU

سفیر دده خلقو تصویر واخست . اوشکریه ئے اداء کړه . د
سفیر محافظ روسی سپاهی دځوانئ غلی غلی خپلو کښی خلقو
په فارسئ ژبه صفت کولو . دشلو کالو عمر کښی قدرت مضبوطه
اوښکلی ځوانی ورکړے وه .

د طهران نه ترشیرازه سړک

دیزد جرد نه ترشیرازه پورے سړک ښه دے . د موټر
سړک دے . خود طهران نه تریزد کرد سړک ښه نه دے . د موټر
لایق نه دے . تمباکو ف طهران کښی موټر اخستو . د موټر
قیمت زیات وو . اولاړه خرابه وه . ځکه ئے واښخیست . د
دے اوښد سفر نه روستو نوے موټر په بی کاره شوے وو . خو
هغه نه معلومه شوه چه د طهران نه ترشیرازه د موټر په کرایه
نوے موټر کیدو . تمباکو ف یو استعمال شده موټر په بیعه وا -
خستو اوبل موټر ئے په کرایه اوکړو .

د موټر اندازه وه چه د طهران نه موټر اوسط فی
کهنته دولس میله مزل اوکړے شو . دیزد جرد نزدے یو ستغ
وو چه د خلقو په همت سره اوخیژولی شو . ولی دے وخت
کښی ماته خپل وطن رایاد شو چه د فیرنگی موټر به چیرته

اونښتو نوخلقو به ورته ویستو، فیرینګی به ورته لاس په توپک ولاړ وو. نه به په داسی وخت کښی دې خفه کیدم، خما نه په کښی داسوال راوچت شو. چه ایران خو آزاد دے، نوخلق ئے ولی د فیرینګی دومره خوشامد ے کوے. خو جواب ئے کړان نه وو. ایرانی په ظاهره آزاد وو. خو فیرینګی دهغه ذهن غلام کړے وو. په موټن انګرین دفوج په زور حکومت کوے. په ایران کښی داسی لاړے استعمالوے، چه موټن ئے لیدے نه شو.

دلاړے دخوا بتیا یو پخه خښنه داهم وه. چه د طهران نه تر شیراز موټر یا لاړے اونه لیده. شک راتګ پیاده په کچه وا و اوښانو دے. خو بیا هم د طهران نه تر شیراز لاړه هواره ده. حکمه موټر تګ ممکن دے.

دانګلی تر طهران پورے سړک ښه دے. او حکمه پرے عامی لاړے ځی راځی. پخه لاړه ده. د ایران قطبی سړکونه زاړه وو جوړ کړے وو. او سویلی سړکونه انګرین. سویلی سړکونو کښی د انګرین تګ راتګ د بغداد، همدان او طهران په لاړه وو. د بندر بوشهر نه د شیراز په لاړه تر یزد جوړ پورے انګرین انو د ساوتهمپټن رائفلز د پاره کچه سړک جوړ کړے وو.

د موټن د راوسید ونه وړاندے، د انګرین او بالشویک روس ترمینځ معاهده شوے وه. د واړه طاقتونو د ایران نه خپل فوج بیرته ویستنی وو. او حکمه د یزد جود او بندر بوشهر

تر مینځ کچه سړک ځای په ځای بی مرمته پروت وو. د شیرانو
او بوشهر تر مینځه خوکاوی موټر هډ وچلیدے نه شو. دسړک
مرمت به چا کولو. ایران کښی خو په نوم حکومت وو. او هغه
هم تر لویو لویو سنا ریو پورے محدود وو. د شیرانو نه تر
بوشهر څما سفر په دے حالاتو او سړک سره زړا غورځی.

شیرانو

دمئی د میاشتی په شپږ ویشتم موږ شیرانو ته اورسیدو
نږه اود تمبا کوف ایرانی سکوټر آغاے عبد الکریم دسنا رښه درلے
ته کون شو. اوبی لارے سنا رته ښوتو. او تمبا کوف سره دخیلی
عملی خپلی سفارتخانی ته لاړو. کریم نږه یوو پروکی دختو کور
کښی دیره کړم. ایران کښی عام خلق پر مزګه کښینی او اوده کیږی
په دے کور کښی صرف یوو پروکی بی کهرکو اوږو شنه انو بوکوټه
وه. څما دپاره پکښی یو وپروکی لمسی غورپیدلی وو. نږه پرے
کښینا ستم پر خطره سفر کښی چه سړے غواړے چه محفوظ وی
نو دداسی کورنه زړیات محفوظ ځای نه شی کیدے. وځکه د
کور په لید وسره نږه دیر خو شحاله شوم. آغا عبد الکریم لاړ او
نږه ځے پریښودم ما دغولی وردننه مخی نه خیر کړو. او په

لسی سملاستم چا رچاپیره م کتل نوپه دیوالونو نیم تازه
خواشکی پراته وو. طبیعت م دیرخراب شو. کورم اوکتل ستر
گی م پتی کړے. سملاستم دخواشکوخیال نه پریښودم. د
کوټی نه بهر راووتلم. خوغولی کښی نمر وو. څه بوټی سوری
هم نه وو. سوری مے به څه رنگ وے مټول کور کښی صرف دغه
کوټه وه. اود هغی مخکښی یا خواته دالان یا برانده هم نه وه.
نه په غولی کښی اوښه وه. په نمر کښینا ستی م غوره کړل. چه نمر
به تنگ کړم نو کرچ دل به م شروع کړل. کله پوځ ځاے مے اودریدم
کله به بل ځاے کښینا ستم. دمئی دنیا شتی آخرون کړی وه.
په مشکله م یوه کهنته په نمر تیره کړه. بیا کوټی ته ننوتم. اوپه
پټو ستر گو په لسی سملاستم. مانیگر عبد الکریم آغا راغلو.
ځما حال مے چه اولیدو، نو خفه شو. نه بیرته اووتو. اوبر سا-
عت پس نړه ځے دیوایوالی داکټر کورته بوتلم. داکټر خما
سره دیره هه درځے شروع کړه. دارځے راباندے اوښتنول
اوبیا مے دخپل کور پاس حصه کښی ځاے راکړو. تر ما نختن
ځے نړه یوانه مے پریښودم. ما نختن آغا عبد الکریم اوداکټر
د واړه راغلل. ځما طبیعت ښه وو. شپه م هم هلته تیره کړه.
اوبله ورځ ماښام مے بل ځاے ته بوتلم. دا مختصر سفا اوشته
ځاے وو. تولر شپه ورځ دے خواخوک نه شولیدے. آغا
بیدما ښام ډوډی نه رسته راتلو. اونه به ځے نړه مے خپلان

خان خانان کښی اوګورلم . دا نه سړک وو . دوارهٔ خوا ترے
اونی ولاړے وے . دے ځائے کښی ګورځید وسړه ځما
طبیعت به ډیر ښه شو.

دوه څلور ورځی چه تیرے شوے . نه دتنهایئ نه
ډیر تنګ شوم . ظهران مې رایاد شو . دګورځید وآزادے مې را-
یاده شوه . خیابان لاله زار اوتوپخانه میدان مې رایاد شو کله
کله مې به دآغا نور شیراز بازار اودآباد ے پوښتنه اوکړه . "دا
به ډیره عجیبه خبره وے چه نه د شیراز تاریخی ښار کښی ایسا
یم اوے نه وینم اوپه پتوستوګو تړے لاړ شم ."

آغا عبدالکریم مسکی شو: "تر انقلابی ے . سیاح خونږ ے"

دے خبرو به بله ورځ دسهره چه نه د چاے څښلو
نه روستو یوازے ناست وم . یو هلک ځما ځائے ته راغلو . اوراته
ے اووے . چه آغا راالیښلی یم . چه تاسیل دپاره بوځم . په لږ
ساعت کښی مونږ دحافظ دقبر په چمن کښی ناست وو . دا
د جمعی ورځ وه . شیراز کښی هره جمعه دسهره دحافظ په
قبر میله لګی . دحافظ دقبر نه چارچاپیره لوے چمن دے .
په دے کښی ښایسته ښایسته ګلونه دے . ځائے په ځائے پکښی
اونی دے . داونۍ سوروتر دوستان ناست وے . د چاے دور
چلیدو . نه اوایرانی هلک هم یوخواته یوازے سوړے ته کښینا.
ستو . چاے موخښلی . هلک روره رانږدے شو؛ که طبیعت

دغوا پرے نو عرق هم شته .

"تشکر" ما ورته جواب ورکړو . "حما چا ے خوښی دی"
ترلس پولس یحو ناست وو . ډوډۍ و میلمه خوړه شوه . مونږ
هم پیرته خپل ځائے ته لاړو .

ماښام تیاره تمباکو نه ځانته اوغوښتم . ددوډۍ
نه روسته یوانے شو نه ے خبر کړم . چه څوورځی روسته
به ته د قافلی سره یوشهر ته روانیږے .

"عزیز (کوهی) نده ے راپسیدلی؟" ما ورته پوښتنه اوکړه .
"ستا او د عزیز هسی هم ډډوالړ یوځائے ته نه دے پکار
ته به وړاندے ځی . او عزیز به درپسی وے ." هغه جواب راکړو .

ما چه شیرانو کښی تولی لس ورځی تیرے کړے . دی وخت
کښی تمباکو نه دوه درے ځله دشپی ځانته راغوښتی وم .
هر ځل چه ما هغه سره ملاقات کړے دے . همیشه به ے حما
نه حما د کړاو مسئله غوښته . زمونږ خوش نصیبی وه .
چه هغه ایران کښی موجود وو . مونږ د هغه د سنجی اود بال بچ په
انځلی کښی ډیر خدمت کړے وو . هغه ته خپلی سنجی زمونږ مخکښی
طهران کښی زمونږ د پیر سفارش کړے وو . هغی زمونږ د غه لس
خدمت نه پیر لوے کارجوړ کړے وو .

زمونږ دا هم خوش نصیبی وه ، چه تمباکو نه زمونږ ه
په تاشقند کښی واقف شوے وو . د هغه د هند وستانیانو

سره څورېدې تیرے شوے وے . تمباکو څخه چې تاشقند ته راپهسیدلی وو. نوکورئے اوند موند و. دا ئے کورکښې څو ورځې پریږده کمره کښې سره دبال بچ پروت وو. د دغه څورځو واقفیت پیدا شوے وو.

زمونږ ایران کښې به ضرور ورځ بده شوے وه. کله تمباکو نه وے . اوهغه دشیوازسفیرنه وکمقرر شوے . معلومه نه وه چې مونږ به څرنګ وطن ته ورسیدو کښې کامیاب کیدلو. محمد شفیق زمونږ ملګرے حکومت افغانستان دخپل وطن نه اوشړلو. مجبور ئے کړو چې د کابل نه تر هرات پرخپلو پښو منزل اوکړے . اویا ئے د هرات نه ایران ته اوشړلو. د منزلونو تندو دومره تنګ شوے وو. چې خان ئے سیستان کښې انګریزی سفارتخانې ته حوالهکړو . شفیق د سیستان نه بند ے ډکوټې په لار پښور ته راوستې شو. اودا ئے کالهقید شو شفیق خو آسان خلاص شو. داسې انقلابیان هم ماته معلوم دے چې هغوئے د خپل وطن نه لرے تنګ شوے دے. نوخو به کشي ئے کړے دے . اود آغا صوفي غوندے هم زمونږ دیر وطنیان د انګرین ئے امپیریالیزم دلاسه پهدارځلی دے خیر دانقلابي نوبه خو څخالی دخپلی معشوقې آزادے په تلاش کښې قربانیدلی دے . خو یرافسوس دے چې دیر پتنګان دوطن د آزادے دپاره په غیر ملګرو کښې حلبل شول . خوهغوئے د

آزاد ے پہ تاریخ کښی د ذکر نہ بہ محروم پاتی نشی. اودھغوے
ارواحونہ بہ د یتیما نو پہ شان ھرکال د آزاد ے د جشن پہ
پہ وخت خفہ ذھیں ولاړ وے .

د شیرازنہ تر بوشھرہ

کچی والا د موټر د رائیورانو نہ کم نہ دے . پہ لسمہ
ورځ زہ د روانید و دپارہ تیار شوم . چہ عبدالکریم آغا د
گوھر د راتلو خبر راوړو . گوھر د لھران نہ شیرازتہ پہ داک
کاډ ے کښی شپہ او ورځ منزل کولو: پہ یو ویشتمہ ورځ را
اورسیدو . د داک کاډ ے خلور اسونہ را کاږ ے پہ ھر یو او
اسونہ بدلیږ ے . پہ ایران کښی پہ موټر پسی پہ رفتار کښی
د تگ راتگ اھمہ ذریعہ داکاډ ے دے . د ورځی نمر اودشپے
شوگیږے گوھر تگ تر کړے وو . گوھر بہ ځائے کښی دیرہ
شوے وو . ھغہ باندے د اوږ د منزل سختتی تیرے شوے
وے . دارام مستحق وو . زہ ورتہ اغا عبدالکریم اورسولم .
چہ رخصت تر ے واخلم . مخکښی توړہ تیارہ وہ .
د قافلی د روانید و منډ ورانډ ے ځما د گوھر سرہ

ملاقات اوشو. نړه دکچې والا پېجامه کښې وړغلم. دولسو آنو یوړوست توږدارتو پینټو پر توګ اودخاصې یونړے عبام اغوستې وه. ښځې م پریښې وه. ایرانۍ کلو والا توپۍ م پرسر وه. اودتاروتو کورنۍ جوړشوے بوټان م پېښوړه دی عجیبه لباس کښې نړه ملګرے نه پرخیر ویلو اورخصت اخستو نه وړغلم. هغه خوشحال شو. اوے خندل. اووے ویل:

"ورونه! پوخ ایرانۍ کچې والا ئے. هیڅوک ډنه شی پیژندے؟"

"ګوهر رحمان دیوسودا ګر خا. نه کښې دیره وو. یوپوړه آراسته کمره کښې په صوفه ناست وو. نړه هم ورهړه په بله صوفه کښینا ستم. ګوهر ما ته خما د پوښتنې په جواب کښې اووے. چه بلکل نګ دکرائۍ دے. نړه ګونه تومان ګټې: ښه کار دے چه تا نه پیژنې". ما اوخندل.

هغه وے: "نړه رفیق دے. نړه خوشحال شوم چه خما ملګرے ښه ځائے مونده ے وو. دے نه پس ترے مارخصت واخستو.

ما نیګړ زموږ قافله دشیرانو ته اووته. نړه په یو مضبوط یا بو سوړوم. خوږجین چه م شیرانو کښې اخستې وو رالاندے وو. دا ښکور وباغونه دبادشاهی لارد واړه پلو مانیګرے باد ښورا ول. بوټۍ ے په تیټوڅپړ ونو

خواړه وو. ښه اړه ئے دکښلو قابل وه.

دوه میله د شیراز نه بهر ړ ومبئ سرائے وه. د شیراز قافله ډډے سرائے نه ړ وانیږے. خما د سورلئ د پاره یا بو مضبوط اوپلن وو. پلنه کټه پرے باندے وه. د پلنئ کټئ فائده چه څو ورځئ ړ وستو سفر د شپې شوړا معلومه شوه.

چا چه وسطی ایشیا. ایران کښئ د قافلو سره سفر کړے دے هغوئے نو به معلومه وے. چه داوبو اوچلی لوښئ د ځان سره اخستل پکار دے. عبد الکریم خما سره هیڅ داسی انتظام نه وو کړے. ړا معلومیږے چه هغه په دے خیال نه وو کړے چه کچ والا نژول د هغه ولښیان وو. نه ئے ورته سپارلی وم خو کچ والو صفت به درته څه کوم. د ړا ئیږ نه کوړه او هغه پرے نیسه.

صبائے قافلے کوچ اوکړو. قافله په ټکړو کښئ ویشلی شوے وه. د هرے برخی یو مشر وو. د ټولی قافلی یو سالار وو. خما خوش نصیبی وه چه قافله سالار ړ هوښ د برخی د قافلی مشر وو. ښکلی. اوچت مضبوط سړے وو. سینه ئے پلنه وه. سخت ژوند تل سفر او د جنوبی ایران گرمئ سوے وو. بی تعلیمه وو. خو خبرے به ئے داسی کولے چی د شیراز حاکم وے. ماته ښه معلومه وه چه آغا ورته نه سپارلی وم خو د هغه سپارښتنه خما د پاره ښه ثابته نه شوه. سحر

وختی یو چا رویدار د ایران کښی کچ والا نه چا رویدار وائے په لته او وهلم :

"پاسه! یا بودے کته کړه."

اوچت م تاپ کړو. تمتو باندے م کته واچوله. خورجین م پرے اوغورولے. دسرائے نه بهر اوځیدم. قافله مو ورته تیاره وه او دسرائے نه بهر مو راا وتله. ورته شوه. قافله تیاره وه خو ایسارہ ایسارہ کیدله. ما نه نه معلومیده چه څه چل دو. چه په دے کښی دسرائے نه څلور ایرانی باورد سره بازان راا وتل. خبرے جهون کیدلی. سپاهیانو ترکانو ون د بد رکی نه پوښتنه غوښتل. قافله دیر شوه نه نه ریا تیده. قافلی کوچ اوکړو. ایران کښی حکومت تر یوښتا ر محدود دے. بادشاهی لاره ے محفوظی نه دے حکمدبدرګو ضرورت دو.

لاره اوچه کړسه وه. دا وبو څښنه نه وه. خوګر می قابل برداشت وه. وخت تیریدو. حکم د چانه اوبه نه غوښتی اوکه غوښتی م وے، نو هم یقین دو چه چا به راکړے نه وے. ما نه یکر د ویم پرا و نه اورسیدو. بی پیو تر خی چا ے اودوډے پکښی خوړیده. شکر م اوویست چه د دودئ دپاره چا رویدار ا- نو نه محتاج نه شوم.

صبا سحر مولنډه شان لاره وهلی وه. پرا و را نه بنکاریدو چه په قافله دنه ے شروع شوے. د پرا و نه ورا ندے خورا

ښکیږي . موښ ته په غاړه ایسار شو. نزدے یوکلی نه غلو
پښی د سور وچغه اووتله . شپیه روستو د غلو نه څه پاتې
شوے څیښ سره سوار ه ښیرته راوږسیدل . غله هم په
اسونو سوار ه وو . اوځکه دچغې نه خلاص شول .

زموښ د قافله سالار زړه کښی ویره پیدا شوه . حکم
ئے جارے کړو چه قافله دے غوښه ځی . دبار کړے کچر و
چارچاپیره ځوانان روان شو. سالار مخکښی مخکښی تلو. د
چهل دختر د غونډه وړاندے د شوکی ویره وه . هروخت
به داسی معلومیده . چه لکه زموښ شوکیدل یقینی دے . ځما
دیا بو مالک ما پښی راروان وو. اوراته به ئے ساعت په
ساعت وئیل چه موښ ډیر سخته ویره کښی یو. ما به هم ډا
سره داسی خبرے کولی . چه لکه د قافلے په شوکیدو به زه ډیر
خفه شم . زړه کښی مې د غر تجوړی ته تلو سه وه . د شنوارو
د سختئ دلاسه موټر نیمی شپی اوږمرکړلو. اود ترکمانانو د
پهانسی حکم اود هغوے په قید کښی بندے پاتې شوے وم.
کر دایران په لوبه لاړ او شوکیږم . نوڅه عجیبه خبره به وے؟
د چهل دختر غره ویج کښی پراوته اوږسیدو . د کلی خواکښی
دیره شو. پئ . ماسته او آچکئ پریوانه اوارزان وو.

بله وړځ سحر روان شو. چهل دختر د ے زړه فټه
اوچټ غر دے . زموښ وطن کښی د ملاکند سره به تړے

اوچت نه وے . انګریزانو د خپلی قبضی په وخت کښی سبه سړک په دے غره ورځیژ ولی دے . داسړک د شیرانو نه بوشهر ته هغوے بوتلی وو . خو اوس دالاړه غره کښی ځاے په ځاے بارانونو اوړے وه . او ځکه موږ د تافلی په ښاره لاړ په غرو وړاوختو . سحر چه نمر څیره وهله . موږ د ویخ نه روان شوے وو . ما بنام ځے بل طرفته د رکوښ پړاو دغره په بره کښی جوړ شوے وو . خو سالار دغره بل خواځان ویخ ته رسول غوښتل .

ورځ زیاته ګرمه وه . خو دهوا د بدلون وجه وه چه ځمانځ نه خو دلاړو . اواوچاوُدو . چه لاسونه مِ اوکتل هغه هم چاوُدے وو . نمر راباندے بدلګیدو .

کازرون

ما بنام ښار ته ورانده ے موږ کازرون ته اورسید و . دا د شیرانو او بوشهر ترمینځ یو ډیر ولی ښار دے . کروند ه کچه دے . بازار کښی دوکانونه په څیرونو کښی دے . خو د مسافرو کار څیزونه پکښی عام او په ښه قیمت موندے شی . تجربی ماته اوښانیله چه مشکین ه د اوبو د پاره او د ودی

د دے څلورو وختونو دپاره ځان سره ساتل ضروري دے. دا اوخه نور څیزونه مِ واخستل.

کا زرون کښی د سفر وخت بدل شو. ورځ د آرام او شپه د سفر دپاره شوه. څوحا جیان زمونږ ه هم سفر وو. هغوئے کښی دَیو. محمد اکبر خما سره ښی خبرے اترے وی. ما په زړه کښی لویے کوله. چه دے میا شتو کښی زه پوره ایرانی شوم. دا ایرانیا نو مینځ کښی اوسم او دوے مِ نه پیژنی. د کا زرون نه بهر یو د کهجورو باغ کښی قافله کوزه شوے وه. دا ونولاندے موږ ډه لګولی وه. بوډا محمد اکبر راته اووے:

"برادر یوسف تو از کجائی؟"

د دے سوال په اوریدو زما وینښ شوم. چه څه چل دے.

"از تبریز" جواب راسره تیار پروت وو.

"توچیستی" هغه مخکښی تپوس اوکړو.

"مومن" لنډ جواب مِ ورکړو.

بوډا سړا وخوزولو" تر دسره ایرانی نه ئیے. زما معلومیږی چه مومن هم نه ئیے."

"زه مسکی شوم. زمونږ ه ژبه ترکی ده. تبریز کښی ترکی وئیلی شی. څکه نه راباندے غلط شوے؟ ما داخبره په خندا خندا تیره کړه. او څه نورے خبرے مِ شروع کړے. چه د حاجی خیال نه دا نا ترک مضمون اوځی.

د قافله سالار افسری خیمه

کښی ښکلمه شوم

ترکانو ون په قافله کښی زه داسی وم . لکه یوسوالی چه وے . د شیرانو نه تر بوشهره پورے خما صرف دوه نیم تومانه (اونیمی روپئ) کرایه ورکړے شوے وه . دلسو ورځو لار وه . دیا بو مالک د سالار د مخه نه شو تیریدے خکه نے دا کرایه منظوره کړے وه . په ماد هر لورے دبکی وے . دیر خلم زړه جوړ کړو چه یا بو والاته څه انعام ورکوم . خو ویریدم چه دام دښکار ښکاره وسبب اونه ګرځی . ما سره خرڅ هم کم وو . خما تولہ پنګه د پنځه پونډه د انګلستان دبنک نوټ . یوه ترکی اشرفئ . او درے څلور ایرانی تومانه وو . خما منزل مقصود هندوستان وو . چه بوشهر نه تر کراچئ د سمندر ے جهاز لاړه هم پکښی وه . نوټ او اشرفئ م پرتوک کښی ګنډلی وے . او تومان م بټوه کښی ساتلی او بټوه م د څادر کمر بند کښی ټومبلی وه . په څادر م ملاتړلی وه . د شپی سفر کښی په تمتو اپونه ناست وم . پښی م خنګیدے په لاسوم کټه نیولی وه . تمامه شپه یه لاړه ښه شوه .

سحر چې د یا بونه کوز شوم . اود ناشتی د پاره مې کمربند ته لاس کړو نو بټوه مې نه وه . لاچاره شوم . بل څه علاج نه وو. ویریدم چې د پوټ سنو دل مې د تباهئ سبب نه شی . خو زړه مې تینګ کړو د سالار په خیمه مې ستړګی وریتی کړے . خیمه کښی د سالار نه چار چاپیره څوکسان په قالین ناست وو بغیر د څه نورو خبرو مې سالار ته اووے .

" مهربانی اوکړے د اشرفئ مات کړاکړے ."

سالار یوه شیبه غلی شو بیا ئی اووے ." هر څو تومانه چې دے پکار وے اووایه . خما مال ستا دے ته نه ما روړے ."

دوه تومانه مې تړے واخستل اود خیمې نه را اووتلم . لږه شیبه پس را پسی سړے راغی چې آغا سالار د غواړے . راسره فکر شوچې څه وایے . د قافلی د نور سالار دلوړے اختیار خاوند وو. هر سړے به ترے لږ ویږیدو .

خیمې ته د ننه کیدو سره ما ته گرم گرم په خپل راغلے اووئیلی شو. د ستر خوان غوړیدلی وو. سالار د خانه سره کښینولم . په بیابان کښی مې پولاؤ اوموندو . خوکپه مې د کومې نه تیریده . ویرے نیولی وم . هسی نه چې پولاؤ مې د مرګه تیر شی . د ډوډے او قهوے نه روستو سالار ما ته مخاطب شو .

" زوره ! دا خیمه ته خپله اوشمیره . زه امید کوم چې

حُما غریب دستر خوان به ته تر بنده خپل اوکړے."

حُما جواب فورے اولنده وو

"تشکر - زه به خدمت کښی حاضر اوسم."

بله ورځ مونږ شپږ می سرائے ته اورسیدو. په لاره حُما دپاره یو مشکیزه په کچره ترلی شوے وه. دسالار په حکم کچره حُما دیا بوسره ښه ډے تله. چه ماته دا وبوتکلیف نه وے. قالین حُما دیا بو په کته واچولی شو. قوله قافله کښی مشهوره شوه چه سالار حُما خاص مهربان دے. حُما عزت نه یات شو. د قافلی د کوچ په وخت بل سړے به ماته په یابو کته اچوله. زه کښی م حیران وم. د دے بی بنیاده عزت نتیجه به څه وے. خو زه به م خیال راغی چه دے د رامه کښی حُما څه اختیار نه شته. چه څه کیږے هغه به کیږے.

اووم پراو

ازچشمانت معلوم میشود که نجس هستی

سره د دیر عزته سحر اووم پراو ته اورسیدم. ما وراندی ویلی دے چه زما د لاس م دهوا د تبدیلی له کبله چاودلی وو. د

د سالار په خیمه کښې ناست وم . هغه توقی ونشتی کولی .
او موږ حاضرینو به په خپله خندا او مسکی کید و ثابتوله
چه د هغه نه څوک نهیات هوښیار تر قمار نه وو . په خندا
دشنډ وچاودے او سپړدلی شو . سالار کوزے ته اشارت
اوکړه . اووے ویل :

"برادر یوسف طهارت بکنید ."

زه د تعبو نه بهر شوم . کوزه م په شوند ورا وارولـه
مخ م اوچ کړو . اوبیا پښتنه په خپل حاے کښینا ستم .
د سالار رنګ بدل شو . غلی شو کله به ے یوتر کنل کله
بل ته . تول مجلس بد مزه شوه . حیران شوم چه څه اوشو .
هیڅ نه پوهیدم . سالار څما حیرانتیا په لاند ینئ پوښتنه
مونږه هم زیا ته کړه .

"یوسف راست بګو تو مومن هستی ؟"

" الحمد لله " زهم جواب ورکړو .

" تا ولی طهارت اونکړو . هغه بله پوښتنه اوکړه

" طهارت نو بخدر رنګ وے " ما ورله په غصه جواب ورکړو

سالار هاته د طهارت مسئله راشروع کړه . چه هر کله ،
چه د مومن د وجود نه وینه اووتله . پکاږده چه ے اووینځی .
بیائے اوچ کړے . د غسی ے د رے ځله اووینځی . او د رے ځله
ئے اوچ کړے . نو هله به هغه ځاے پاک شی . چه سالار هاته

دانده کړه ورکوله، نو ما ته ورایاد شول. چه دغه تعلیم خومره هم په ورو کوالی کښی نرده کړے وو. په دے ځاے کښی د ا اقبال ما نه شو کولی وخت نازک وو. ما سالار ته جواب ورکړو چه موږ تبرین کښی دغسی کوو، چه لکه ما اوکړل. تاسو فارس کښی څه رنګ نرده کړے هغسی کوئے. د سالار په دی خبرو تسلی اونه شوه بی اختیاره ئے اووے: "برادر یوسف! دستر گو د معلومیږے چه نجس ئے. که ته مومن ئے نو کلمه اووایه."

چا رچاپیره نورو لګیا والو دا خبرے اوریدے. دبل تمبونه یو پکښی په زوره چغه کړه.

"حالاکه پیرشد مومن نتوانی کرد." (اوس چه بوداشو مومن ترے نه شی جوړولی).

په دے کښی سالار بیا اووے:

"سبه که ته مومن ئے نو کلمه اووایه".

ما موقعه اوموندله په چغه م اووے:

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

لا الٰہ الا اللّٰہ محمد رسول اللّٰہ علی ولی اللّٰہ ؛

په روستنی حصه م نړیات زور واچولو. ورسره ورسره نړه کښی خندا هم راللله. خو چا خندلی شو.

دیوے مخی آواز را اوچت شو: "مومن است" مومن دے یعنی شعیه دے. دبل طرفه چغه شوه:

"رحمت به پیروان علی۔ لعنت به پیروان عمرؓ د
لعنت په آوان کښې ځما آوازِ د تولو نه اوچت وو. د تول کیمپ
نه د عمر په پیرو کار و د لعنت او د علی په پیرو کار و رحمت
چغې راته اوچتې شوې۔ چه خبره لږه سړه شوه. نو فکرم اوکړو
چه بنده پښې اوباسه. دا پیره خوږه شوې. د مے خلقو
کښې به د ږنه بله خطا سرزد شی. بیا به څه کوے. ځان م خفه
کړو پاسیدم خو رجیین م په اوږه او د خیمې نه بهر اووتلم.
سالار معافی اوغوښته.

"بښین برادره تو مومن هستی۔ ما غلط شدیم" (کښینه
سړوره! ته مؤمن یے۔ موږ غلط شو.) خو ما دا ښه ګڼله چه د دا سی مجلس نه لرے ښه یم. هسې نه چه څه بله
غلطی اوکړم

د سالار د خیمې نه م شل دیرش قدمه لرے خپله
بستره اوغوړوله. او د ده م اولګوله. د مازیګر د ما ښځه وخت وو
د خبرونه د بیچ کید و د پاره د شعیه مسلمان په طریقه م د
مازیګر مونځ شروع کړو. یو تیګړے کښې م خاوره غوټه
کړه او په مزګه م داسی کیښوده. چه د سجدے په وخت کښې م
د تندی لاندے راتله. لاسونه م اویزان اوسائل. قافله سالار
او مشر انو راته کتل.

بیا زه حالت شو یا بو به م پخپله کتل کولو. مشکیزه به

م دکه ساتله اوچپه خله بهم سفر کولو. وبخ په وبخ د خلیج فارس غاړې ته نږدې کیدو. ګرمي زیاتیدله. وطن خشک وو. د کهجورو ونې خایې په خایې ولاړې وې. د وبخې سخته ګرمي وه. د کهجورو سورولاندې به قافله پرته وه. په نوم سورې وو. په غرمو به ناست وو. د وبخې هم بې آرامه شو. اود شپې خوسفر وو. کهجورې اړخ وانې وې. خما یادشي چه مادیو څوپیسو کهجورې واخستې. نوې ډوبخې مې د. د ډنې سره اونې ډوډۍ خوړلې. اوپاتې شوې مې اغوږ ونیولې.

برازون

شرکت عثمانی د درویش کې لباس کښې مخې ته راغلو

بل صبا سحر موږ برازون ته راورسیدو. دسرایې نه موږ بهر کتې ګوزې کړې. برازون هم وړوکی قصبه وه. د سیل اود سودا اخستو پاره ورروان شوم. دسرایې نه بهر شوم. شړنګار شو. دبوشهر دلورې قافله راغله. اودریدم چه تماشه ئې اوګورم. څه ګورم چه خما زوی مالګرې شرکت عثمانی چه خمانه تاشقند کښې جدا شوې وو. خما سره درې قدمه کښې

تیریږي . سرے پریښي دے . په سرے ایرانی ټوپۍ او په پښو ے چیترے دے . کند ے اغوستی دے . اوږه اوږ وے یو بوجۍ اچولی ده . ستر ګی م وږمه برابرے شوے . هک دک پاتی شوم . یقین م نه را تلو چه شوکت به په دے لباس کښی وے . هغه هم راته کښل غږ نے نه کولو . حیران ولاړ وو . آخر ے راته ستر ګه اور هله . هغه مخکښی اوږه وږپسی سر ے ته ټوټی ټوټی درے څلور واړه هلکان وږپسی ولاړ وو . هغوے ته ټینګ ار ه ښکاره شیده . د کچرے مالک هم وږته را غی . شوکت بوجی او غوږ وله وږپاندی کښینا ستو . ما شومان ترے چا پیره کښینا ستل . زه هم وږاو- رسیدم .

" السلام علیکم " ما پرے سلام واچولو .

" وعلیکم السلام " آغا بیائید بنشینید " راته ے جواب راکړو . شوکت عثمانی دخان نه یو نقیر سید جوړکړے وو . ما ترې پوښتنه اوکړه : " آغا سید! ته کجا آمدید ؟ (شاه صاحب دکوم ځاے نه موتشریف راوړو .)

د بوشهر نه " جواب ے راکړو .

شوکت کچر والا رخصت کړو . کچر والا لاس په نامه وږته ولاړ وو . چه که څه ضرورت وے . نوچه را وږم . شوکت هو- ښیار رسړے وو . دخان نه ے سید جوړکړے وو . حکه د درویشی لباس کښی هم کچر والا وږته په عزت کښل .

دهلکا نو شوق د دیدار پورہ شو. په چل ول موږ خصت کړل. بیا مو یوبل ته خپل مختصر خوضرورے حال بیان کړو. شوکت تازه تازه د هندوستان نه ایران ته راغلی وو وینه م تپوس او کړو. خو معلومه شوه چه په بندر کښی جهازته دخلو کامیابی په خپل عقل ده. پاسپورټ پیدا کول ناممکنه ده.

شوکت دگوهر په شیرازکښی د موجودگئ په اوریدو ډیر خوشحال شو. خوشحالی ئے په خاے وه. موږ د جلال آباد نه داکبر په قافله کښی د افغانستان په گرانو اوبدو ولاړو کښی نرمی او سختی یوخاے تیرے کړے وے. موږ باندے د ترکستانو سختی یوخاے تیرے شوے وے. نه صرف په سختو کښی یوخاے وو. بلکه د تاشقند سنی وړکی موهم یوخاے تیرے کړے وے. د تاشقند نه نرموږ په مخکښی شوکت عثمانی د اډیسر صحت افزا سینی تورییم تدلیل شوے وو. نوځکه د هغوی سره ے کښی چه ما اولیدو نوحیران شوم.

شیخ محمدی

بل سحر شیخ محمدے کښی ډیره شو. نه سره ے ته

ورښتم . خوشی پرته وه . قافله اوسالارم په نظر بدراغلل ؛
سبه به آرام اوده شوم . لس بجی وے ، چه د توپک ډزې په
آوازد خوبه راولویدم . یوخانزاده خلمی توپک په لاس
وروسی یونوکرسرائے کښی گرځید و . یوه شیبه پس ماته
راغی . اورانه ے پوښتنه اوکړه : چه ته څوک ے . ماورله
جواب ورکړو چه مسافریم . هغه بیارانه تپوس اوکړو چه د
کوم ځاے نه راغلی . ماورله جواب ورکړو چه د لهران نه یوشمیر
تن څم . هغه مسکی شو . اودسوائے نه بهر لاړو .

ما زیګو چه ماتیارے کولے . نویو سړے سرائے ته
راننوتو په حاکمانه لهجه ئے اووے

"پاسه شیخ دِ غواړے "

ماته معلومه وه چه د شیخ حکم بی چون وچرا منل
پکار دے . پاسیدم . خورجین مِ واخستو . اونږدے شیخ
محمدے کلی کښی یولوے کور کښی داخل شو . دښار یو په
شان میږخ کښی وړوکی غولی وو . چارچا پیره ترے کمری
وے . شیخ د استقبال دپاره راپاسیدو . زهٔ کښی کچه
شوم . توپی جامے مِ شلیدلی وے . لاس مخ مِ چاودے وو . بس
وږی مِ نه وو لا مبلی . د ګرمئ موسم ، خیږی جامی . دخو
لوبد بوے اوخمار دومره حوزت اوشو ، چه زهٔ حیران شوم .
قالینونه په غولی خوړبدلی وو . شیخ د خان سره کښینولم .

چاے ئے راباندے او خبنولی . پس دهغی ئے رانه پوښتنه
اوکړه "دکوم ځائے نه راغلی ئے ؟" ما ورله جواب ورکړو :
" د طهران نه ."

"څه وجه ده چه کونسل بوشهر ته جهرن رانغلی ؟" شیخ
تپوس اوکړو .

زه پوه شوم . مسکی شوم . او پوښتنه م اوکړه "دځه
کونسل ؟"

شیخ اوخندیدو او اوے وئیل "حکومت شوروے
ایران بیج کړو . شیخ څه نور څه وئیل غوښتل خو غلی شو . یو
سوړ اسو یلی ئے اوکړو .

" اے روره ! خمار زړه یخ نه شو . زه به تاته کومه کومه قصه
کوم . په موږ ډیره زیاته شوے ده . کوم وخت چه دانګریزے
ایمپیریلیستی فوځونو په موږ حمله اوکړه نو موږ د ے ځلورو
قبائیلو ے سره مقابله اوکړه . خمار نیکه چه لس کم نسل کاله
ئے عمر وو . او خمار پلار هم د شلو خامنو درې وړو نو سو
وخت په وخت په د ے جنګ کښی شهیدان شو . او س زه هم
د یوځو ورونو تر بورانو پاتی یم . په زړه م یو ارمان د ے . چه
د نیکه او پلار او صوفی آغا بدل م واخستی . شیخ غلی شو .
فکر واخست زه هم غلی ناست وم . چا رچاپیره م د بنډو
لاندے ګنل . د شیخ په لوے کور کښی هغه وخت هم د پنځوس

خواوشا خوانان سره د توپکو چارچاپیره ناست وو بیشک شیخ محمد ے لوے سړے وو. نړه ے په خبرو پوهه شوم خو شیخ تیر وتو. دهغه په خیال کښی نړه ړوسی استاذ ے وم.

"سبه د بوشهر نه به کلم راپستنه کیږے." شیخ مسکی شو او ټپوس ے اوکړو:

"پستنه څه کوم. اوږیدلی م دے. چه بوشهر کښی مزدورے ډیره ده. خیال م دے چه هلته به اوسم." ما ورته جواب ورکړو:

"کلم خو به وطن ته پستنه کیږے." شیخ بیا ټپوس اوکړو.

"وطن کښی خما څوک نشته. چه کوم خاے خما گذاره کیږے. هغه به خما وطن وے." ما اجواب ورکړلو چه په دے کښی قافله سالار رهاغی. او د قافلی د کوچ د پاره ے اجازت اوغو. سبتو نړه نړه پاسیدم چه د قافلی نه پاتی نه شم.

"کښینه! کښینه!!" شیخ راته اشاره اوکړه. او په بی پرواهۍ سره ے اووے.

"قافله دے ولاړه وے."

نړه نړه کښینا ستم د شیخ طاقت راته معلوم شو. نهوښ وطن کښی د ریل گاډے ایسار ول ایران کښی قافله ایسار ولای په دے کښی د وډۍ راغله. قافله سالار د فرش نه خو قدمه وړے نه اودریدو سلام ے واچوو. او په لمسی د عام خلقو سره کښینا ستو. په دستر خان صرف نړه او شیخ ناست وو. من

من غمټیدم . شیخ ړور وخبرلی کولی . اوما ورته په استقامت ډهو
نه جواب ورکولو . د شوکت عثمانی ذکر ئے اوکړو . ما د ے
موتعی نه نائده واخسته . ړوغوندم اووے : "تشکر" ما
په تولو خبرو اترو کښی دایوه خبره قصداً داسی اوکړه چه د هغه
غلط فهمی نوره هم زیاته شی . چه نه ترے فائده واخلم
خما خیال د ے . چه بی د د ے نه هم د شیخ خیال خما بابت یقین
نه ړسیدلی وو .

دوړئ پسی هم شیخ یوه شیبه خبرے اوکړے . ما
نه ئے په تینګه د شپی د تیرولو ست اوکړو او دائے هم اووے
چه سحر به د ے نه پخپله بوشهر ته اوړسوم . بوشهر کښی بیا
ماته معلومه شوه . چه د شیخ داست منل پکار وو . د رخصت
اخستو خیال مې ظاهر کړو . اودام هم اووے چه قافله باندې
ناوخته کیږے .

شیخ راسره په جلب کښی قافله پورے راغلو . اوپه عزت
سے رخصت کړم . نوره په نوره کښی د سالار خیال اوړے وم چه سلوک
پرے راسره څه رنګ وے . بوشهر کښی دایسا رید و فکر نوره
د سالار نه زیات محتاج کړے وم . ما چا رچا پیره خپل یا یو پسی
ستر ګی اړولی راړولی . چه په د ے کښی یو ښه نرین کړے اس خما
مخکښی اودریدو او یو خلمی د اس بل خوا ولاړ رکاب ئے په
لاس کښی نیولی راته وائے . چه سور شه . لنګتی مې پرے راواړوله

خلمی مخکښی اوزه ورپسی دقافلی نه پاتې نه روان وم .

نیمی شپی پورے مې خان په آس تینګ کړو. خوږ ستو چه به خوب نه ګولم . نو د اس نه به پریوتلم . تر سحره به کله پیاده اوکله په اس سور تلم . خپل خوږ یا بو اود هغی قیمتی کتی پسی مې ارمان اوکړو . چه نمر څرپیکه وهله . نو ما ته د خلیج فارس اوبه راښکاره شوے . شکر ونه مې اوویستل چه د ډاډ - ګیو راتو اوکچرو والا و نه خلاص شوم . میل یو نیم میل دا وبو په غاړه موږ ل اوکړو . د بوشهر ښار څرګند ښکاریدو . د شیخ محمد نوکر حماد اس کیږه اونیوله . دقافلی نه مے بیل روان کړم . ما غږ ونه کولو . زړه کښی پوهه شوم .

بوشهر

لیږ ورځی په یوکور کښی بند ناست وم

موږ په بله لار بوشهر ته ورننوتو . په تنګو تنګو کوڅو ږ شو . ما د بد رګوال نه پوښتنه نه کوله . چه موږ کوم خوا روان یو زړه کښی مې یقین و چه حماد حفاظت سامان دے .

دَیوسابق پولیس افسر پہ کورکښې م پناه اومونده

یوځوکوځونه تیریدو نه پس مونږ دیوکور مخکښې اودریدو دوربل بولو نه پس دروازه لرے شوه. دننه شو. دوه چتیز کورووو. دایرانی طریقی مطابق څلورواړه طرفه کمرے وے.

دروازه لرے کوونکی اس اونیو. مونږ دویم چت ته اوختو. کورغلی وو. خوبالاخانی تددَ ورښوتو سره م ستر گی دیو بوډا، سپین سرے سره برابر شوے. په مخ اوتندے ئی د پیرے اوسنجیدگی گونځی وے. خما په لیدو دهغه په څهره هیڅ فرق نښکاره نه شو. ماتړی دکښینا ستو دپاره اشاره اوکړه. "بفرمائید" اوبیا په لیکلو کښې مشغول شو.

زه اود شیخ سرے دواړه کښینا ستو. په فرش قیمتی قالینونه غوړیدلی وو. کمره کښې نور د آرایش سامان نه وو. په ایران کښې صرف د قالین نه دکور د خاوند معیار لگول سمه خبره نده، مونږ یوساعت ناست وو، چه کوربه د کاغذ نه سر اوچت کړو. اوهم په هغه تندے سے ماته اووې "بخیر آمدید".

"بخیر باشید" ماورله سر اوخوزولو.

"سید تطرتان آمد" پوښتنه سے اوکړه.

" نمی دانمش " ما ورله جواب ورکړو.
ستر ګی ئے پتی کړے سرئے اوخوزولو. یو ساعت غلی ناست وو. بیائے د شیخ سره ئے تر اووے چه د چا یو انتظام اوکړه. ماته ئے د فارسئ یو ناول راکړو. چه حان مشغولوه.
په دریمه ورځ شیخ راغی خبرے اترے کیدے. شیخ د خبرواترو په دوران کښی کوربه تر اوویل چه معلومیږے چه کونسل رانغی. اوداکس به دلته په پرده کښی کار کوے.
حما جاموته نظر اوشو. اودشلو ورځو نا ښه ئیلی ښکیږے تدم رو رولاس وراوړو. زړه کښی م اوخندل. چه عجب کونسل یم.
" خوب " کوربه بیا ماته متوجه شو. نه پوهیږو. کونسل، ولی نه راځی. موږ ئے دیږ وخت نه انتظار کښی یو.
" کونسل کیست - نمی دانمش " ما ورله جواب ورکړو چه کونسل څوک دے. زه ئے نه پیژنم. ما حان ناغوښه کړو. او دا سی طرز کښی م خبره اوکړه، چه لکه کونسل دچا نوم وے.
شیخ اوخندل. اودکوربه دبریتونه مسکا راښکیره شوه.
شیخ دوه ورځی پاتی شو. وخت په وخت هغه حما د حان حما د بوشهر د قیام او حما د وطن یاد کښی خپل خیالات ظا. هر ول. چه حما نه به تپوس نه وو شوے. نوره به خاموش وم. چه تپوس به اوشو نو به م اووے چه زه هندوستانی یم. روس

کښې مې څه وخت ټیرکړے دے. بیرته وطن ته روان یم.
هغوے به اوخندل. داسې به ښکاریده. لکه چې هغوے
ځما وینا صحیح نه ګڼلې.

ځما کرفتاری

لس ورځې ټیرے شوے. زه به صرف لا مبالغسل
خانې ته راکوزیدم. تمامې ورځ به په ځاے ناست وم. چې
تنګ به شوم. نوکمره کښې به مې ګرځیدل شروع کړل. جلال-
الدین اداکوربه نوم وو. زه به مې ټکله ټکله پاسپورټ ټپوس اوکړو.
هغه به عینک پرپوزه اوخنډونو اوږه ... اووے:

"کوشش ټوم."

پرپولسمه ورځ ... زه ... ګیدو. کوټه
را ننوتو. ما ته ے د غولې به ... ګن شوم. نوکوټه
ے اشاره اوکړه. اوما ته ے اووے "پیش برو" او ورپسې ځم. زه
پوهه شوم چې څه نا زکه موقعده. ما ورته اووے چې ځما خو-
رجین سنبال کړه. آغا تندے راوا چول اوپاس ے اودنګل
موټن بهر اوزغلیدو. یوه تنګه کوڅه باندے ورننوتو. پنځوس
قدمه به تلی وو چې کوڅه بازارته اووتله. نوکو ځما نه لس

تد مه مخکښی تلو. څه کورم چه د پولیس یو کارډ مخی ته راغلو.
د کارډ مخکښی یو سړی پیژنوجا موکښی روان وو. هغه چغه
کړه "دائے نو کړدے."

کارډ په نوکر راچمبر شو. خما د پاره د تبښتید ولاړه نه وه.
گرفتار ے م یقینی شوه. نوډے دوه فقیران ناست وو. دا و
چغی ے وهلی. "برائے علی" "برائے حسین" نه هم ورسره
کښیناستم. خما جا می دیر ے خرابی وے. خو فقیر نه ښکاریدم.
لیکن څه م کړے وے. ناست پاتی شوم. یولاس م مخکښی کړو.
او سر م زنگنو نو کښی ننو یستو. کارډ خما سره تیر شو. او تور مخی
مخبر هم ورسره. نه تر نړه نه د هغه خائے نه پاسیدم حیر.
ان وم چه کوم خوا لاړشم. د بازار بل پلو یو کوڅه کښی ورننوتم.
چه یو جماعت م په نظر راغی. ورا وختم. د دے نه بل سبله
خائے کوم کید ے شو.

څه شیبه ناست وم. چه د ما سپښین د ما ښام رخت
شو. په ایران کښی اکثر نمونځونه ماد شیعه په طریقه کړے دی.
د و مال کښی چه کوم ماخاوره غوټه سائلی وه. را نه پاتی شوے
وه. لږه تکړه قمیص نه م پرے کړه. او خاوره م پکښی غوټه کړه
د اخا وره پکار دے چه دیو مقدس مقام وے. خو خما مشکل
په دے هم حل کید ے شو. د ما زیګرا و ما ښام مونځونه تیر
شول. خما نصیب ښه وو. چا خیرات کړے وو. ښه په مړه

خیټه دودئ م وخوړه . دومره مو رپشوم ، چه تر یله ما سبا مه م نه جمع شو. یوخواته م دده اولګوله . نه ړه کښی م خیال ووچه د ما سختن ما نحه نه روستو به د مونځ ګذاروپه د ډه اوده کیږم . خو د غه صد مه د تولو نه زیاته وه چه ما نه هم د تشریف اوړلو د رخواست اوشو .

بازار بند وو. نه پوهیدم . چه کوم پلو لا رهشم . ستر ګی م پټی کړے . د یو دکان په تخته سملاستم . په زور به م ستر ګی بند ولی . نه بند یدلی . رهنګا رهنګ قصی به م نه ړه ته راتلی . دیو به لم اودبلی به سر وو. فکر م کولو چه صبا له به څرنګ د جلال ډکور خبر اخلم . چه چا د ملا په تیر راته لته راکړه . نیغ څلور د پولیس سپا هیان م سره ولا ړ وو. لږ ساعت کښی نه ه حوالات کښی دیو څو آواره کړ دو په صحبت کښی پروت قسما قسم ګپونه م اوړ دیدل . هوا ره ګرد و خما په رون تندے استقبال وکړ پدریمه ورځ سحر د وه کسان په ښو جا موکښی خما د کړی مخکښی راغلل اود دا روغه سره یوه شیبه اودریدل . د وه ګهنټی روستو نه ے د خپلو ملګرو نه جدا کړم . اویوه بیله تنګه کوټه کښی یئ بند کړم . د یا رانود مجلس نه جدا شوم . د هغوی مجلس کښی نه آزاد وم . هغوے خما د لهجی پروا نه کوله . د هغوی مجلس کښی ویره نه وه . چه نه به ئے اوپیژندے شم . ورځ په ورځ به نه ما خفګان زیاتیدو . نه پوهیدم چه د دے دیکو نتیجه

به شخه وے .

بله ورځ سحر وختی ناسا په هغه مخبر حماد کوتی مخکښی راناڅ شو. چه د چا په ویناد جلال نوکر په بازار کښی نرمونږ د تیښتی په وخت کښی گرفتار شوے وو.

"السلام علیکم آقاے طهرانی !" هغه په ماسلام واچولو.

زه دے ناسا پی سلام گروگور کړم . غلی پاتی شوم. د مخبر د خلی نه معلومه شوه . چه جلال الدین آغا د شیرانو د حکومت تر عریضه گړے ده چه پولیس بغیر د څه وجهی د هغه د کور تلاشی گړے ده . او نوکر ے گرفتار گړے دے .

د حوالات نه تیښته

ورځی او شپی تیریدے . غم مې زیاتیدو. هره ورځ حما خیال پخیدو . چه زه د ایران په بند بندے نه یم . او حکه اوس حما خلاصی نشته . ما ته دا نزلی د بند د افسر خبره راپاده شوه چه "هر پلو چه حئی نوحئی . نرمونږ د ریاند ے هیڅ کار نشته"

"د ایران حکومت د هندوستانیانو په مقصد اوجذباتو نه واقف دو چه د هغوے مقصد ایران کښی د ایران د آزادے سره مداخلت کول نه دے . د هغوے مقصد صرف د انگریزے

ایمپیریلیزم نه خپل وطن آزادول دے . حما یقین اوشو چه زه دانګریزے کونسل په اشاره بند ے شوم . دے خبرے حما زړه کښی داخیال راپیدا کړو . چه مابه هند وستان نه بند ی بوځی . د هند وستان ر سید وخیال زه په بندیوانئ هم رهنا کړم .

په اتمه شپه شومه دم وه ، چه په غوږ م آواز راغی

" یوسف ! یوسف !! "

د شیرانو نه تر بوشهره حما نوم یوسف وو . هروخت به را ته یاد وو . خو کړاو د څو ورځو نه حما د خیاله دغه نوم ایستلی وو . یو ساعت م فکر نه وو . ناګهانه نم را یاد شو اوچت کښینا ستم . د جنګلی سره څوک ولاړ و و ما ته آواز ونه کړے . بیا هم غلی وم . ګورم ے که یوسف دبل چا نوم وے . خو چه بیا بیا ے را ته آواز اوکړو . نو و رنه م پوښتنه اوکړه ، چه ته څوک ے . و رنږدی شوم . چه اوے پیژنم . د جنګلی نه لرے اودریدم . سره کښینا ستو او ما ته ے هم اووے چه را نزد ے شه . زه حیران وم چه دنیمی شپی د حوالات ځلی ته څوک راغی .

" ګوره یوسف ! د پیر وخبرو وخت نه دے . ځان تیار ساته . هروخت چه دا جنګله لرے شوه . نو بهر را اوځه . اوپه ایستونکی پسی ځه . دیوال ته به اندر پایه ولاړه وے . په هغی خیژه . د دیوال بلی خوا ته به د وه اسونه ولاړ وے . په

یو بہ یو سړے سوړ وے . د هغه پوښتنه مدګوه . بربل آس لګته راواړوه . هغه سوړ چه هر پلوخی . وړپسی اس نړغلوه ."

ددے هدایاتو د ختمید و سره سړے پاسید و . ما وړته آوان اوکړو چه یوه پوښتنه کوم . خو هغه په شا اونه کتل .

توله شپه م ستړګه پټه نه کړه . نړه پوهیدم چه اول بر په حوالات کښی څه نه څه راپیش شی . اوکنی په نیمه شپه ښار کښی په تیښته تلل اوبیا په اسونو سواره به ضرورے بی خیره انجام لرے . زړه کښی می د خیالا تو سلسله جوړه شوه . کله به کامیابی راته نا ممکنه ښکاره شوه او په خیال کښی دوباره هغے ځاے ته ښندیوان راغلم . حوالات د ښار مینځ کښی دے . په اسونو سوړ نړغلیدل . د ښار پولیس به مړ وے . په دویم ځل ځما ګرفتارے یقینی وه . اودتباهی نه ډکه وه . چه بیا ګرفتار شم . نو بیا خو به وطن ته رسیدل به ګران شی . ایران کښی به د قید معیاد وے . اوکه بی معیاده به پروت یم . د بوشهر حکومت دانګرین په لاس کښی دے . افسوس م په نړه را اوچت شو . چه مونږ په آزاد و وطنونو کښی هم دانګرین د پنجی نه بچ نه شو . او آزاد ایران کښی موهم آرام اونه موند و .

سحر شو و ړپسی اوښده و رځ تیره شوه . تمامه شپه ویخ پزوت وم . چه سنتړے به تیریدو نو اوبه لوبیدم چه دغه دے وړلوے شو . خو غسی دو رود انتظار کې شپه هم تیره شوه .

بیا سحر شو. په زړه کښې مې شک نه شوم چه جوړ مې ماخوب لیدلی وو. تولـه ورځ څه خاص خبره داسې ښکاره نه شوه. مایوسه شوم. د ماښام مهاوده شوم. دوه شپې مې رونړ مې کړې وې. داسې اوده شوم چه په ځان نه پوهیدم. نیمه شپه وه چه چا اوخوزولم. نیغ کښینا ستم ورلړې شوې وو. خوزه پرې نه وم پوه شوې. سړې مخکښې زه ورپسې. چه اندرپاڼې ته وراورسیدم. نو هغه روستو شو. غلی ئې راته اووې:

"خیژه"

د هغه وینا وه اوزه بیا د دیوال سره ځنلی وم. بـل خوا د کوټې دوه دپاره هیڅ نه وو. پسنه ټیولی شوم. چه څه اوکړم. چه په دې کښې ډنډ شو. گولئ ځما د سر نه تیره شوه. ستر گی مې پټی کړې. توپ مې کړو. دیوال اوچت وو. خو روغ پاسیدم. دپاسید و سره سم یو سړې ځما په اوښ وخرلوې فوجی کوټ ما اواچولو. اوبیا د ستر گو په سړ کښې موښ دواړه سوراخ اسوئ. مو په توپ ویشتی وو. موښ په مشکله اسوند دوه سوه قدمه نه غلولی وو. چه یوه تیره چغه چا راباندې اوویسته. ځما ملگرې نه راس اودرولو. ما ته ئې هم په لاکښلی آواز اووې چه روستو شه. توپک په لاس سپاهی پولیس مخکښې راته اودریدو اودوباره آواز ښه صفا ما واورېدو.

"کیستی ؟" (څوک ئې؟)

ملګرے فوراً خپل اس تہ پوښنده ورکړه . اونیغ سپاهی ته ورغی . ځنه ورپسی وم . په رُعب دار آواز ئے تړے پوښتنه اوکړه :

"دلته چا اوکړو ؟"

سپاهی زړحما ملګرے ته سلام اوکړو . اوګارد ته ئے د راوتو دپاره حکم اوکړو . خو ملګرے اس له پوښنده ورکړه . مخکښے روان شو . اوسپاهی اوګارد په خاے پاتې شول .

موږ بیا اسونه په دوړه پریښول . اویولوے بازار ته اوښتو . څه ګوروچه لس دولس سواره مخې ته راغلل . ملګرے ورته ځنه مخکښی شو . اوپه تپوس کښی پرے وړاندے شو . هغوے ورته سلام اوکړو . بیا ملګرے مخکښی اوځنه ورپسی . اوروستو راپسے هغوے ټولو سورو اسونه راخلاص کړل . ځنه حیران وم چه اوس به څه چل کیږے . خو ملګرے اس په بې پروا هئی سره زغلولو . شاندا رافسوو . سینه ئے ایستلی وه . پوه شیبه پس ئے مخ راواړولو . اواودریدو . سواره ورته په مخکښی یو قطار کښی اودریدل . ملګرے په فوجی اصطلاح کښی حکم ورکړو . نیم سواره یوخوا اونیم سواره بل خواپه تنګو بازارونو ورننوتل . هغه مخکښی اوځنه ورپسی . ما خپل خاے اوپیژندو . هغه وخت ځنه په خاے ډاډلی روان وم . اوما خپل ملګرے هم اوپیژندو . هغه څوک د پولیس ستر افسر وو .

موبن اوس په قلاره تلو. دخطرے دجرس دجیلخانی دمخی اوچت تنگار ے راتلو. دتول شار پولیس به پهلوان وو. خودغل نړه په قلار وو. کرفتار ونکی دهغه خلاصونکی وو. لږ څه نور لاړو. دښار دروازے ته اورسیدو. دواړه کوز شو. دا باندے حسب معمول آوان اوشو. ملګرے جواب ورکړو ماته ئے خپل اس حوالہ کړو. اوهغه پاس اوختو.

ماد واړه اسونه نیولی وو. هیڅاشک نه شوکولی چه زه اړولی نه یم. هغه دیوبل کس سره راکوز شو. دروازه دے بل کس لوے کړه. دستر کوړپ کښی سپاهیان تیار ولاړ وو. دوے د ملګرے په حکم زموبن سره روان شو. موبن به دښار نه نیم میل بهر تلی وو. چه ملګرے هم داس نه کوز شو. نه یکدم ورمخکښی شوم. اس مِ تړے اونیولو. ملګرے سپاهیانو سره پټ اوکنړیدو او ماته ئے حکم راکړو چه په ځاے ولاړ اوسم.

ملګرے مخکښی، سپاهیان وړپسی، دسړک نه یوخوا تړئی منډے کړے. نه ولاړ حیران پاتی شوم. خودا مِ یقین وو چه اوس به ملګرے ماته ځان راوړسوے. نه په انتظار کښی ولاړ وم چه په دے کښی ځما سوه نزدے یوے اوتی کښی څه حرکت شروع شو. څرانګی خوړیدے. نه اوبوبن تیدم. څه کوړم چه داوتی نه سړے راکوز شو. دباران نه نړغلیدم د برنالی لاندے مِ شپه شوه د حوالات نه اونړغلیدم به غلو واوړیدم. پخه ارادهٔ مِ اوکړه چه

توکومی ژوند ے یم اسونہ بہ پرے نہ شم . سرے د اونو د مونډ
پہ شا اودرید و . او رو رو ے او آزونہ شروع کړل .
"یوسف ! یوسف این سوبیا"
یکدم مې هوپ کړو . د ملګرے انتظام پوخ وو . ورځکښے
شوم . سرے را نه دوا ړه اسونه اوښیول . خرکوټ ے هم راښه
وا خستو . اوراښه ے دلاس په اشاره لاره اوښوولہ . چه نیغ
کله څوقدمه کښی به ستانوم څوک واخلی ، هغه سره شه .
ما هغسی اوکړل . نوے رهبرمې بیا موند . سحر وختی
یوکلی ته اورسیدو . د کلی بهر شیخ محمد ولاړ وو . راته
غاړه وتو .
"زهوښ خوښ ډیر یکړے شوے وه . دنیا نه شرمیدلی
وو . خو خدا ے فضل اوکړو ."
ما ورته جواب نه ورکړو "زما به حجره تاسو پیرا وکړیدئ
زه ستاسونه معافی مه ."
"به بخښید آغا شیخ ، ما غوښتو په لهجه کښی
اووے . شیخ مخلص سړے و . ډیر خوشحال وو . موږ نه کلی
ته ورننوتو .
حمانو نه کوره ډیر خوښ شو . یو باغ کښی یوکټ کښی
د څښتو سیو کوټه وه . چارچاپیره نرے د تو تا نو د بنی درنی
وني وے . حمانه وړاندے د کوټه کیو د هغان اوسیدو .

چه د هغی بنځی د اکوتـه یوه جمعه ورځ د ے لیږه کړے وه. هغوئ بنځه خاوند په کوانه دد ے کوټی په پریښولو رضا شوے وو. دا کلی وړوکی بانډه وه. پکښی پنځه کوټی وے. په د ے کلے کښی نه یی غمه وم. دهقانان نا اوزګاره خپلو خپلو کارونو کښی اخته وو. ما ته ئے خیال نه وو. ددو ے دپاره ایرانی او اجنبی کښی هیڅ فرق نه وو.

یوه شپه حماد وستان شیخ او جلال آغا اویونو ے ایرانی راغلل. آخر الذکر په روسی کښی مخاطب کړم:

"د وبرے وپرم توسپدین" (ستاما بنام د ے بنده شی صاحب).

زه پوهه شوم چه دا د ے سړے په روسی پوهیږی. شیخ په برق برق او خندل او جلال حسب معمول فکر ونو او ړے وو.

"دُبرے وپرم توارش" (وعلیکم السلام ملګریه) ما وړله جواب ورکړو.

د ے عجب کښینولو دپاره م په روسی کښی داهم ورته اووی.

"سچس ورسیادُ اپت توارش ای ته توسپدین" (روس کښی اوس خلق د لفظ "صاحب" په ځا ے لفظ ملګرے وائی).

سړے غلی شو. شیخ ته ئے اوکتل. شیخ ورته سر اخوزولو دا نوے ایرانی د زاړه زمانه کښی بوشهر کښی د کونسل سره

کلرک وو. کوشش ئے کړے وو. روسی ژبه ئے زده کړې
وه. ماته چه پته اولګیده چه کلرک په روسۍ پوهیږي.
نو ورته مې روسی کمه ویلې. فارسی کښی به مې جواب ورکولو.
شیخ به بار بار راته ویل چه په روسۍ کښی خبرے کوه. دا
ژبه ځما خوښه ده. نو ما به کله کله روسۍ کښی خبرے اوکړې.
اګرچه شیخ یا جلال چه کله ماته ځما د وطن پوښتنه
کړے وه. نو ما خپل وطن ریښتنه بنودلی دے. خو هغوے دا
نه منله. اوزه په دے خوشحال وم چه دے غلط فهمۍ کښی
ځما فائده وه. کلرک ځما نه پوښتنه وکړه. چه ته څرګند
ولی سره د سان وسامان راتګلی. ما ورته جواب ورکړو چه زه
هندوستان نه ځم. موږ آزاد ژوند په دے وجه څرګند
ګوځیدو او د سازومان سوال نه پورته کیږي.

443

خلیج فارس

AOU

494

АСКУ

دبوشهر نه وطن ته

مایوه میاشت بوشهر کښی تیره کړه. دوستانو به کله کله صلاح راکړه، چی مکی مدینی ته دحج په بهانه تلل آسان دی اود هغه ځای نه بیا د هند وستانیانو حاجیانو سره هند وستان ته داخلیدل به ممکن شی. هره ورځ به چه ځما دوستان ماته راغلل، نو د هغوے کوشش نو نه به معلوم شوه چه پاسپورت حاصلول گران کار دے، اوویزا ے هم مشکله ده. وجه ے دا معلومیده چه دبوشهر انگریزے سفارتی دفتر کښی د هغوے هیڅ درک نه وو. نه ورو ورو مایوسه کیدم. کله کله به مې داخیال نه کښی راپیدا شو. چه دبوشهر نه کوئټه بلوچستان ته روانیږم. ایران کښی نه اوس کافی بلد شوے وم. اوځما د پاره گرانه وه. چه نه پیاده خپل وطن ته روان شوے وے. موږ دقفقاز نه د ایران په لاره بغداد ته په خپلو پښو تگ ته تیار شوے وو. خو ایرانی بدرګی ناکامیاب کړے وو. اوس خو ما ته دبدرګی ضرورت نه وو. پیاده یوازی ایران کښی سفر اسان وو. دایران خلق دے. غریب فقیر اومسافر ته په میندو وډ ګورے. اول ځما سره دلاسے

خرچ وو. اوکه چیرے نه وے نو بیا هم دغه سفر مشکل نه وو. زه دے ته هم تیار وم، که زه لاړه کښی اوشوکیږم نو بیا هم زه په اسانه وطن ته رسیدلی شوم. کله مزدورے کړے، کوایه باندے دیو ځاے نه بل ځاے ته تللی شوم. اوکه مزدورے هم نه وے. نو مسافر په ایران کښی لکه زهوږ په وطن کښی چه مونځ اوکړے. نو جماعت کښی ودوډۍ بی ویناموی. خو یو شی ځما الړه بندین وو. او هغه د آنیا- اسایان ځما نه د ځانه خوښ تصویر وو. چه که زه هر ځاے ایران کښی هغی سره ښکلی شوے وے، نو بیا زه نه شم وئیلی چه ځما به څه حشر کید لو. دغسی سمندرے لاړه کښی هم ځما د پاره مشکلات وو.

اخر یوه ورځ کلرک په خندا خو شحالئ ځما کوته راننوتو.

"مبارک شه! مبارک شه! کار اوشو" هغه په ماذیرے اوکړو راته ے یو کاغذ اوښودلو، اووے وئیل چه پاسپورت خو پیدا نه شو، اوصرف دښئ دتلو جواز مې پیدا اکړو.

ما زه زر جواز اولوستو. اودزړه داخلا صدم اوخندل کلرک هم ځما سره اوخندل. کچه شو. اوبنے ے په شا اووهلی وئے وئیل چه دوره! زه څه اوکړم. داهم په دیره مشکلر پیدا شو. جهاز کښی به دے سور کړے شو. مخکښی ته اوستا نصیب.

داجواز دبوشهر یو تر کانر چا صل کړے وو. په دے

د تصویر ضرورت نه وو. حلیه ئے پکښی درج وه. د ترکانو رنګ ئے ګندمی لیکلی وو. ستړګی ئے تورے اوقد بلند. د ډیر واړه خبرے داسی وے، چه پاسپورټ کتونکی حاکما نو به یکدم نه پیژندلے وم. چه په جعلی پاسپورټ باندی سفر کوم.

څوځله دے نوے ځایے کښی ماد آغا نه خپل خوږجین غوښتی وو. خوږجین کښی دانیا اسایان تصویر وو. اوځکه نه ورپسی پریشان وم. د روانید و نه څو ورځی وروسته دے شیخ اوکلرک د اخوږجین ماته را اوړسولو. د دے نه روستو دوئے به ځما سره د اتوتی کولی، چه ستاسه د روس جینکئی یاد-یږے. هلته خو پرده نشته. جینکی ښایسته دے. دے ولیونی کښی به ته همیشه خفه ئے.

اوس خو د کلرک اوشیخ نور هم یقین خاص شو، چه نه د روس اوسیدونکی یم. اوپه څه مهم هندوستان ته روان یم. د راتلونه وروسته دے ئے ماته په زور دا الفاظو کښی اووے.

"رفیق! موږ ستا سوا انتظار نه کوو. خیال ساته چه په بله لاره روس ته واپس لاړنه شی. نوره لاره ښی نه دے. اوته به ضرور حکومت باندے زور اچوے چه بوشهر کښی کونسل خانه پرانزے. زه به مسکی شوم. اوخبره

به م بل خوا وا ړولہ .

جَهاز کښی سوریزم

یوه میاشت پس یو ماښام تیاره نړه بندر ته اورسیدو تیاره وه. ځاے په ځاے وړے وړے رڼا کانی ښکاریدے. خو بند رنه ښکاریدو. یوے وړے بیړے کښی نړه سوریشوم او جهاز ته چه دغارے نه لوے ولاړ وو وراوے ړسولم. بیړے د جهاز سره اودریده. نړه پر اند ړپاپه وراوختم. په تخته (Deck) کښینا ستم. د ډیمی درجی مسافروم. د یرش روپئ کرایه م تر بمبی ورکړے وه. په غارو اوبه پایاب وے. حکه جهاز لوے ولاړ وو. ستر کی م پتی کړے اوده شوم .

دایران په پریښو خفه شوم

سحر راپاسیدم. جهاز روان وو. دایران غارو ډ لوے ښکاریده ورپسی خفه شوم. ایرانیان مهذب شایسته اوخوانړه خلق دے. مختصر خبرو به په داسی الفاظو کښی ادا کړے چه سړے به پرے خفه نه شی. انسان ته د مینی او محبت په نظر سره گورے چه څوک ایران کښی ورځی شپی تیری کړی او بیا ورته الوداع وائی نو کله خفه نه شی نو ضرور به سنگدل وی.

اوزه به ایران پسی ولی نه خفه کیدم . په مائے احسان کړی وو . پناه یی راکړی وه . امدادی یی کړی وو . سره ددے چه په مائے اعتراض وو . خو" به هرجائیکه میروید بروید به ما چه؟ داخبره خمانه شی هیریدلی . خومره د اوچتو خیالانو نتیجه ده . پوهیدو چه زمونږ د ایران سره جهګړه نشته . نو ځکه ئے بی وجهی مونږ ته تکلیف رانکړو .

اوبیا خماد طهران دوه میاشتی هیریدے شی ؟ خیابان لاله زار او توپخانه میدان هیریدے شی ؟ اوپه آخر کښی شیران . د شیران د جمعی سحر د حافظ په مزار د ګلونو وطن پاتی شو . دانزلی نه تر بوشهر سپرلی وو . زړه می ورنه خوشحال وو . همیشه د خوشحالۍ وسی . سعدے او حافظ د ایران سره جوړ ید ل . شیران ئے تر اوسه قدر کوی د آغا عبدالکریم د وینا مطابق ،

ایران به بیا ورځی جنت وی خوارمان دی مونږ به نه یو
اوږی په ژمی به سپرلی وے خوارمان دی مونږ به نه یو

زړه په دے خیالانو کښی ډوب وم . چه ناسا په م پاس نظر شو . په سرم یونین جیک ړپید و . ورسره د جهاز نوم ایس . ایس بنګوره هم لیکلی وو . چارچاپیره اوبه وے . د جهاز په خوا کښی سنګلی سنګلی مهی ګډ ید ل . جهاز نه به راز علیدل لکه چه چا ورته دعوت ورکړے وے . خو زړه به حقیقت ورته معلوم شو . اوپه تیښته به لاړل .

دجهاز په تخته

په تخته حُما عجیب وغریب یاران وو. هند وستانیان دبغداد نه هند وستان ته. ایرانیان بندرعباس ته اوعرب به مسقط ته حُما هم سفر وو. خوپه ټولوکښی یوځوډ گواخلق وو. دوئے په سرکس کښی نوکران وو. دغه سرکس دبغداد نه هندوستان تردوان وو. په روسی سرکس نومید و. سرکس کښی څوکسه روسیان هم وو. نه پوهیږم چه سرکس ددوئ ملکیت وو. یا دوئے دسرکس ملکیت وو. دوئے هم دوهمی په تخته ناست وو. خوفوق داووچه دوئے په کرسو ناست وواو نهوښ نړیوانے ددے تړپه خپلوکښی په روسی ژبه کښی مشغولیدل. ماډیر وخت پس روسی کښی خبرے واوریدی دوے یوورپوکی داتوکالوجینئ ته دسرکس دپاره تربیت ورکولو.

موښ ناست دیوبل سره مورنگا رنگ خبرے کولی. چه یوکس حُما نه پوښتنه اوکړه. چه ته څوک ئے. ماورته جواب ورکړو چه زه دتبرین اوسیدونکی یم. هغه به غیږدخپه دیل نه جواب راکړو. چه ته هندوستانی ئے. زه حیران شوم. خوخپله حیرانتیا مِ په خندا پټه کړه. اوخبره مِ په بله واړوله. دارومبئ

سره وو چه زه نه په ټول سفر کښې پېژندلی وم.

دد ویمی درجی ټکټ

په دویمه ورځ ایس ایس بنګوړه ، بند رعباس ته اورسیده. خما دنه پېژندګلی دپاره تخته ښه وه. خو په ما دجهاز سفر کښې سر چورلید و. دهند وستانی هوټل نه م اچار وریږه اودال اوخوړل. ترسکون خوراک م طبیعت تر پریوتو. خو مړه خیټه م بیا د زړه خرابید وسبب اوګرځید ه. په بند رعباس م فیصله اوکړه چه تخته باند نه خان نه خرا بوم. جیب کښې م پنځه اتیا روپئ وې. هند وستان ته رسیدلی شوم. دجهاز کپتان نه ټکټ وغواړم. ملاړم په پټکی تړلی وه. اوبزه ترکیتو قمیص م اغوسته وو. بنیږه م دیوه میاشتی دوسو ورځو پېسې وې. سره د یا کې تاره کل شوې وه. ولې سپینه سپکه ښکلی بوټ م په پښو کې وه. دکپتان سره د نه مخ فیرنګیان وو. په فارسی م ورته دد ویمی درجی ټکټ اوغوښتو. نه پوهیږم چه څه په شو اوکړه. خو په انګریزی کښې نه جواب راکړو.

"بتمار نه لاړشه."

بتلم هند وستانی وو. ما سره تولی هند وستانی روپئی وے. ا وپه ملا پورے م تړلی وے. راپرام نسته: بتلم مسکی شو. نور وملګرو تړے اووے:

"دیکھو! دیکھو!"

ځما سره د بمبی د دریمی درجی ټکټ وو. بیائے هم راته د کراچئ د دویمی درجی شپین شپیته روپئ واخستی دے کښی ځمانه دوډے چائے هم راکوله.

دجهاز سیکنډ کلاس

ځما سره یو خادم (Waiter) روان شو. زه ئے یوی وړے کوټی ته بوتلم. په هغی کښی څلور ځایونه وو. دوه لاندے، دوه پاس. په لاندینو کښی یو فیرنګی اویو هند وستانی وو. او پاسنو کښی ئے ځائے مانه راکړو.

زه ما ته معلومه شوه چه ځما دواړه ملګرے انجینران وو. بغداد کښی یی کار کولو. او بیرته کلکته تړوان وو. فیرنګی د آئرلینډ باشنده وو. خو کورئے په کلکته کښی وو. او پلار په نیکه هلته آباد وو. هند وستانی عیسائی وو.

ځما د کوټی نوندے یوه بله کوتهه وه. چه هغی کښی یو

پوښ څمر عرب او وړسره دوه نوعمرۍ حلمي وو. دغرمي وو-
ډ ئ تړے موښه اوبللو. په مينز ماسره يوخوا بل خواعرب هلکان
اود هغوئ مشر کښينا ستل. نورپه مينز ټول هند وستانيان
وو. اوداسې معلوميده چه لکه دسرکس کمپنۍ دا وچتې
پائې ملا زمان وو. سرکښې موښ ته دشور وا ټالې کيښودل.
موښ په مزه پلوے کا شک اوخښلے. ګرانه هلم پيښه شوه چه
زموښ په مخکښې غوښه کيښودے شوه. اووړسره ئے کانټې
اوچمچے هم کيښودے. دټول مينز اوخادمانو توجه موښ پلو
وه. زموښ دجامې اوډيل ډول نه صفا معلوميده چه موښ د
يورپي طريقې خوراک نا اشنا يو. عرب هلکانو ماته کټل. دمينز
ماهرانو حضراتو په موښ پورے ټوټې شروع کړے. عربو څما
نه پوښتنه اوکړه. چه دوے څه وائې. ماورته اووے. چه دوئے
داخيال دے، چه موښه دغې طريقې دخوراک نه ناواقفه يو.
هغوے فوراً جواب راکړو، چه داخبره دهغوے صحيح ده. اوځما
نه ئے دخوراک په طريقه ځان پوهول غوښتل. ماورته اووے
چه تاسو ماته ګورئ، چه څرنګ زه خورم. تاسو هم هغسې خورے
د دے ويناسره ما دډبل ډوډئ ټکړه په لاس را واخسته. او
په خپله ايشيائې طريقه خوراک شروع کړو. دعربو لارآسانه
شوه. موښ سبنه په مړه خيټه ډوډئ اخوړه ورورو موښ
(زړه اوعرب) د هند وستانيانو سره دوستان شو. هغوے

به کله کله دچرته اوکا نقی استعمال باندې موږ ته ښه کړه
ده اکوله . او هغوی هیڅ شی چه مابې "کلیفر" نه کړ . خو بیا
هم ما په خپله طریقه پوره خوښ . او ښه عرب مالګن مې په
خوشحال وو.

کله کله به ځما د کمر مې خادم په اشاره زه پوهولم چه
پکار دے چه هم دغه یه شان سوټ بوټ اوتانئ واغوندم.
زیږه کله کړم . هغه پرکټه وډه انګریزې کښې ما ته داویل: "ته
مورپسې ئے . پکار ده چه د جنټل مینانو په شان بنې جامې
اغوندے ".

آئرش او هندوستانی انجینرانو هم داکوشش کولو
چه ما پوهه کړے چه یورپی جامه اغوستل پکار دے . خادم او
انجینرانو په ما د شیخ ګمان کیدو . شیخ د دغه علاقې دولت
مند سړے ته وائے .

ځما د ملګرو پخپلو کښې جنګ

څلورمه ورځ ده ، چه د بوشهر نه جهاز په خلیج فارس
کښې روان دے . چا چا پیره اوبه دے . اوچه نه ښکاریږے .
د سحر وخت دے . یخ باد الوزی . ځما طبیعت هم د جهاز

سره واقف شو. سمندر په قدر نه ده چه زهم په آرام روان دے. ماد ملګرو سره مانه ګوره انګریزے وئیله. زیاته فارسی لږه انګریزے. دهغوے خیال وو چه زه په انګریزے پوهیږم خو وئیلی نه شم. حکه زموږ ګپ شپ روان وو.

حما د دواړو ملګرو بنګالی اوفیرنګی په خپلو کښی سره لګیده. کله کله به ے مانه دیوبل غیبت کولو. دا دوے به هره ورځ په خپلو کښی په څه کور نئی معامله کوم بحث کیدو. دبحث دوران کښی به ے مانه کنټل. اوما به ورته هو! هو! کول.

یوه ورځ په څه خبره دا دواړو مینځ کښی بحث شروع شو. زه غلی خپل خاے ته اوختلم. ماد هغوے کوم نئی کښے مداخلت نه کولو. چه په دے کښی فیرنګی ورته هغه بد د اوویل چه کوم به هغه د بنګالی پښتی شا حما مخکښی وئیل.

"چوړیه! ته اوستا تول تبر چوړیا ګان نه وو. اوزموږ په چند وزموږ مشن تاته سبق نه دے درکړے. اوته اوس ماته داسی خبرے کوے؟"

زه په خپل حاے پروت وم. په انتظار کښی وم چه بحث به ختم شی. خوځه ګورم چه بنګالی فیرنګی اوچت کړو. او په خپل سیټ ے راخلاص کړو او ګوډے ے ورته په سینه ښخی کړے. ماد سیټ نه ورته وپ کړو چه خلاصی اوکړم. خو حما د حیرانتیا څه حد نه وو. چه فیرنګی دلاندی

ACKU

نه لاس راواویستو اوراباندې چغه کړه :

"You are not to interfere"

(تدتس مینځه مه راځه)

بیا هم ماکوشش اوکړو. بنګالی ترې پاسید وفیرنګی لاندې پروت چاقوې راواویستو. اودبنګالی دوهلوارادې اوکړه. بنګالی مضبوط اوبهادرسړی وو. هغه لاسونه خواره کړل. اوآوازې وکړوچه راځه. ولی فیرنګی سست شو. بنګالی ترچاقو واخستو. لاندې اوغورزولواوبیا یې په سوکوبوداسی اووهلوچه خمانړه پرې اوسولو. خمادې ډیرې غصی نه هیرشو. چه ماځان پټ سائلی دے. بنګالی ته په انګریزې کښی غصه شوم.

"Are you not ashamed of yourself by beating a fallen foe so mercileasly."

(ته شرمیږې نه. چه پریوتی دښمن داسی په بې رحمئ سره وهی.)

تابه وې چه خما په دې الفاظوکښی څرخاص طاقت وو. دواړه په خپل خپل خاې غلی کښیناستل. مامحسوسه کړه چه ماغلطی اوکړه. خمانړه کښی تیره شوه. کربیا یوفریق اعتراض اوکړې چه ولی دمداخلت اوکړو.

ددغه وخت نه روستو هغوې کښی ماډیره تبدیلی

اولیده . سنه دوستان شو. فیرنګی به ورته په عزت سره کتل . زه حیران وم . چه دومره اوچت تعلیم یا فته سړے ته هم دبدنی سزا ضرورت وو .

مسقط

په اوومه ورځ موږ مسقط بندر ته اورسیدو. دبوشهر اوبندر عباس نه ئے مختلف منظره وه . داوبو یولوے پلن نهر دسمندر نه پرغوړه کښی دنیم دائرے په شکل کښی ورننوتی دے اودننه بیائے یولوے غونډ د بندر کښی چمانه په غاړه اودریدو. دغره دپاسه بارکونه وو. اوپه غاړه سپنا بیسته عمارتونه وو .

مسقط ایشیا دے خود فیرنګی مقبوضه ده . حکمه سنه جوړ دے. چمانه یوګهنته ولاړ وو. مانزدے غاړه اوکتله. شپږ ډبلی مسقطی حلومې واخستې. اوچمانه تهبیر ته راغلم. کیلا اوسنګتره دیوان زانه اونیا ته خرڅیده .

بحیره عرب

د بلوچستان غاړه

د مسقط نه روستو موږ ویږ سمندر ته راووتلو. اته ورځې اوبه په قلاره وې. خو په نهمه ورځ د بحیره عرب چپې دغړونو په شان کوزیدې او ختې. نه د خایه ښه شوم خوزیدې. ویتر به ټاټلو او خفه به راته او دریدو. چا ئې دوډۍ به ئې راته ست کړې او خفه به ښیرته لاړون په خپله ما ته کوده عربۍ. نارسۍ کښې به ئې خما حوصله او چتوله خو خما حال خراب وو. د خایه نه شوم پاسیدې.

یو منټ به نه په خپل سیټ کښې نیخ ولاړ وم. او بل منټ کښې به خما سر لاندې او پښې به مې پاس وې. جهاز به چې په چپه خټلونو تاب وې چې په غوږیز ې. او چې کوزیدو به نو تاب وې چې دغړه نه او خوښیدو. ټوله ورځ شپه مې باقئ کوله. او کوزم کښل.

د بلوچستان په غاړه یو بندر وو، چې هلته جهاز ټوله ورځ ولاړ وو. او بې حسابه کښان ئې د جهاز په خیټه کښې واچول. د جهاز په اودریدو سره مادمدا و موږ نه اول ښ په ارام شوم.

خیبل وطن

ACKU

ACKU

د کراچئ بندر

زړه خړنګ یخ اوځم!

د بوشهر نه په لسمه ورځ د جولائ په دیرشم کال ۱۹۲۲ زه کراچی ته راورسیدم. ایس ایس بنګوړه په دیرشان سره روان وو. چئ بندر ته ورننوتم. دغه ډیر سیدو سره سم د لئ دجهاز ملګرو پایئ ته جمع شوی.

یو قلی خما نه پوښتنه اوکړه. "سامان هی؟"

ما ورته دستو کو پیرې کښی خوږین په سر کړه. هغه مخکښی اوزه وم پسی په اندې پایو کوزیدو د اندرپائ په سر پاسپورټ کنټلو افسر چې فیرنګی وو. ولاړ وو. هغه د یوکس پاسپورټ کنټلو کښی مشغول وو. او قلی اوزه وم ډیر تیر شو. افسر پاسپورټ کنټلو او خما زړه ډزیدو. چه ساعت دے کډ کهرے نه به او نیولی شم چه په دے کښی قلی ماته اوو ے. "جاؤں" (ځم) ما ورته سر اوخوزولو. هغه مخکښی اوزه وم پسی په اندې رهپایه ورکښو شو. د بندرګاه نه بهر راوتلو. تلاشئ افسر ته مے خما سامان پیش کړو. په یوشو. قیقو کښی زه فتن کښی ناست نبا رپلو روان

وم. یو خل بیا خما خیر نوچا مونږ سا امداد اوکړو. د بوشهر نه روستو ما چا می نه وے ویښلی دلسو ورځو خیر لی وے. او د دوو ورځو راسی ما مخ لاس هم نه وو ویښلی. خما حال دومره خراب وو. چه داسی را معلومیږے چه جوړے د پاسپورټ افسر په ما او قلیانو کښی فرق اونکړے شو.

ماسره د بمبئ د ریمی درجی ټکټ وو. او د کراچئ د دویمی درجی. نازک وخت وو. ما نږه سره مصلحت کړے ووچه کله اوښلی شم. نو وایم به چه کراچئ کښی ضروری شیزونه اخلم او بیا راځم. د راهدارئے خو هډو وما خیال پریښی وو. د هغی کنټل او خما گرفتارے وه سره تړلی وه. ما ستړگی پټی کړے یا به اوخم. او کنی نیول خو می یقینی وو. چه د بندرگاه د احاطی نه اووتم. نو پرمبئ کار چه ما اوکړو. هغه د راهدارے نږے نږے کول وو. چه د سفر تحریرے ثبوت راسره او نه مونده ے شی.

دَ اِفغانستان یو هزاره اُوښیزندَم

د ما نږیګی وخت وو. نقن والا یو مسافرخانی نه تر اورسولم پاس یوه کمره راته راکړے شوه. نږه راته معلومه شوه. چه د مسافرخانی کرایه نه وه. خما د کمرے سره بله کمره کښی یو هزاره دا افغانستان هم هلته دیره باشنده وو د رسید وسره هغه خما نه پوښتنه وکړه. ما ورته جواب ورکړو چه نږه

ین ن یم . هغه ما خبره اونه منله . اوما ته ؤمے لنز اً جواب راکړو
" پیښه ده : ته ایرانی نه ؤمے . افغان ؤمے . دروغ وائی ."

پوهه شوم چه تیار نه وم . ناسا په ما نه تپوس اوشو . غلطے
م اوکړه . ویل پکار وو چه پښتون یم . د مزدورے د پاره
ما علی یم . ما ایران پیج پورے تړل نه وو پکار . نه وم چا ے او
بسکټ ما اوخوښتل . اود خوشامند ونه م هزاره میلمه کړه .

دغسی چل یوځل ما سره د بند ر بوشهر اوبند ر عباس
ترمینځ هم شوے وو . کله چه یو ایرانی ما نه تپوس اوکړو اوما
ورته جواب کښی اووے چه ایرانی ترک دآذر بایجان اوسیدو
نکی یم . نو هغه اوخندل . ورته ؤمے اووے . چه ستاکړه ورځ د
هند وستانیا نو دی .

کله کله زه خپل خان پټولو کښی بنکامیاب شوے یم . خو کله
کله داسی پیښ ندلی شوے یم . چه زه ے حیران کړے یم . جامه
بدلول هنر دے . مشق سره بند زده کیدے شی . کمی خبرے
او خان د مزدورپه لباس کښی سائل لوے کړ دے . د ما بنام
نه وړاندے . وړاندے د دغه مسافرخانی نه اوتښتیدم .

په کراچئ کښی مُلاشوم

زه دوه ورځی کراچئ کښی پاتی شوم . دوارو ورځی م

پښتنو مزدورانو سره تیرے کړے . یو ځل مې اما متی اوکړه .
او په ملا مشهور شوم . چه چا به پوښتنه کوله . ما به ورته ویل
چه د مزدورۍ دپاره راغلی یم . پښتون په کافی تعداد کښی
کراچی کښی مزدورے کوے . خو بیا هم عمر په عزت تیروے
او ځان اوچت ګڼے .

یو ځل دَد و سند یانو په بازار کښی جنګ وو . زه
ورته ځے شوم چه خلاص ے کړم . خو نه خلاصیدل . پوښتون
راغی . زه ے تړے وړے نه کړم .

"کوره ملا صاحب ! دوے بے دَد ے نه نه پوهیږے ."

د واړه ے یو یو څپیړه اوږهل . یو یو پلو لاړو . بل بل
پلو لاړو . د مزدورانو په توله کښی ښه محفوظ وم . خو د اووه
میاشتو راسی نه د وطن په خیال د ماسکو نه راروان شوے وم
کراچئ کښی کله پای کیدے شم .

کراچئ کښی افلاس

کراچی کافی لوے ښار دے . لوے لوے عمارات پکښی
نوے جوړ شوے دے . او نور جوړیږی . کراچئ بندرګاه
دے . د افغانستان او د برصغیر مغربی حصی تجارت د

هر دنیا سره په دے بندرګاه کیږے. ماړه سوداګر پکښی اوسی. چه دکروړو روپو معاملی ےے روانی دے. ولی دا وخت چه په دے مزګرد انګریز د استعمار ے حکومت پنجی ښخی دے. هرچا چه کراچی لیدلی ده دغم ډک ښهٔ به ئی ښه تر وطن تر اوړے وے. دَ دے عالیشان ښار د پلنو پلنو بازارونو په دواړه غاړو بی شماره ټن. ښخی په مزګ پراته وے. دهغوی دغږګورد ے. سحر وختی راپاسی او اوږے تږے خواږی مزدورے تر روان شی. ماښام چه ستړے ستومانه بیرته راشی. نومزدورے دومره هم نه شی ورکیدے. چه مړه خپله دبال بچ سره په فټ پاتهٔ سملی. په نمر کښی دنمر ته اوپه باران کښی د باران نه دبچ کیدو دپاره دوے سره هیڅ سامان نه وے. تنګی تنګی بچی ےے په مزګ پراته وے. دا دهغوے عمر دے. چه خوک لږ انسانی حمیت هم په زړهٔ کښی لرے. کراچئ کښی خوشحال نه شی پاتی کیدے. دنیا وائے چه انسان په ترقئ دے. نه پوهیږم چه خلق ولی دے تنزل ته ترقی وائی. دَ هند وکش دغره په ویخ کښی خانه بدوش. په وسط ایشیا، کښی صحرانشین، په ایران کښی غریب کلی وال یووخت سنه پلاؤ خوړے. خو دکراچئ، قزوین په سنا رونو کښی دافلاس حد نشته. مزدوران نهړے تیږوے.

تاشقند، ماسکو، باکو او طهران سنا یسته ښارونه دے.

څومره کراچی چه ما اولیده . خوښدم نه شوه . معمولی ښاروی
ډیر لوے هم نه ښکاریے . ښایسته هم نه دے .

دکراچئ نه لاهور ته

پدریمه ورځ زه دریل سټیشن ته اووتم . دسټیشن
نه بهر دریلوے یو ملازم نه چه کانتی سره ولاړ وو . په
اردو کښی مې دګاډے دوخت پوښتنه اوکړه . هغه په ځایے د
جواب ما نه پښتو کښی تپوس اوکړو :

" ته د کوم کلی یے ؟ "

" زه د لوند خوړ یم " ما ورته جواب ورکړو .

ملازم نیغ شو . " څه دے اووے . ته د دغه کلی نه یے .
اوکه ته ر ښتیا د دغه کلی یے . نو پکښی څوک پیژنی ؟ "

" ولی نه پیژنم " ما په غصه جواب ورکړو .

" رښیدے خان پیژنم . ابراهیم خان پیژنم . " خو
هغه ځما خبره پریکړه . که ته تول کلی پیژنے . خود دغه کلے نه
یے . تاته د کلی نوم نه درځی . نو ته څه رنګ داوایے چه ته د دغه
کلی اوسیدونکی یے . رښیدے خان او ابراهیم خان خو خانان
ن دے . تول دنیا یے پیژنی . تاته ئے هم نومونه اورښیدلی

وے . تددچا غریب سړے نوم واخلہ . نوزہ بہ ئے اومنم .
تہ لامدہ خوړ تہ لوند خوړ وائی ."

زہ پوھ شوم چہ دد اسی خبرلوڅی سرہ بحث نہ دے
پکار دھغہ نہ اوږھم لرے اوکور ھم لرے .

"کورہ کاکا ! زہ تانہ څہ غواړم نہ . کہ تہ دگاډے وخت
راښودلی شی . نو اوسنا یہ . کنی دغہ دے لاړم ."

بغیر دجواب دانتظار نہ ستیشن تہ ورسېدلی شوم . تزہ
بہ ستیشن کښی وخت معلوم کړم . ځان سرہ "کوربیدم اوتلم
ملاتړم پښتانہ شو .

"مہ خفہ کیږہ روره ! مہ خفہ کیږہ روره !"

خو ما پښتی اوویستی . پہ پلیټ فارم گاډے ولاړ وو . د
درېمی درجی یوے خالی گاډے ته ډبی ، کښی کښینا ستم . خوږین
مې سوتہ بالښت کړو . اوشادرمې پہ تختہ واچولو . پرے سملستم .
ځ مې پہ پیسہ پټ کړو . گاډے لاړوو . روان شوے . چہ چا
راباندے چغہ کړہ .

" اوټھو . تم کون ھی "

مخ مې څرکند کړو . ستړی گی مې پورتہ کړے .

" زہ ستړے مشی . چیرتہ ځی ؟ "

" وطن تہ ځم " ما جواب ورکړو . اوبیا مې پیسہ پہ مخ
واچولہ . وطنی ځما سرہ پہ سیټ قبضہ اوکړہ . اوچت کښینا ستو

علی نه شو پاتی کیدے . ماته ئے آواز اوکړو .

" څه چل دے روره ! جوړ تولہ شپه دِ شوګیره کړے ده . چه په دا مال اوده ئیے .

"نه روره !" اوچت کښینا ستم . زه هم په ملاستی خوبن نه وم .

چه څوک به ګاډے ته را ننوتل . نو د ګاډے بل سر ته به کښینا ستل . او کرچا به نه خوبن خوانه د کښینا ستو نه زړه ورته وب اوکړو نو وطنی به ورله اوغوږیدو . "مت آؤ ...."

نو سړے به د راتلو نه پاتی شو . د اخبره په ماډیره بده لګیده . ګاډے روان شو . خو ستیشنه روستو تپکټ کتو نکی بابو را اوختو . بابو ئے چه تپکټ اوکتو ورته ئے اوی خان کون شته په غلطه لار روان ئیے . وطنی نه کوز شو . او زه یوازے پاتی شوم .

زه خو شحال شوم . چه خلق به ارت خو شحال کښینی خو د یرکم کسان څما خوا ته کښینا ستو ته تیار وو . څو کسو ته ما ست هم اوکړو . چه څما په بینچ کښینی . وخت تیریدو . نوے کسان ستیشن په ستیشن راختل .

ګوا چی نه روانید و نه پس یوه ورځ او شپه تیره شوه . بله ورځ ماسپښین شو . د به کښی ښه کافی سوریلی و . چه په د ے ئے کښی یوه بنځه او درے نور سړی کالو نو را اوخته .

موږے ځما ځانځ په بیخ کښینا ستہ. اولوږے ځما خوا تہ ځما په خورجین اوچتہ کښینا ستہ. موږ ورباندے دبکی اوکړے خولور د خورجین نه کوزه نه شوه. موږے ورتہ اووے چه په پردے سامان کښینا ستل ښه کار نه دے. جینی ماته بدبد اوکتل اونوره هم په غصه شوه.

"ولی دے دچانه لوے سړے دے. چه دَدہ سامان دِ په بیخ پروت وے. دے نه موږ نه زیا تہ کرا یه ورکوے؟"

ما نه د جهګړے ختمولو دپاره دهغی مورتہ اووے چه خیر دے جینئ ده. ناسته دے وے.

جینی د رنګه تکه توره وه. پیغله ښکاریده. جامی ئے د پنجاب دکلو په دول وے. تور لنګ ئے وهلی وو. اوسر رنګ کړے دخمتا قمیص ئے اغوستی وو. په دے ساده جامو کښی ښکلی ښکاریده. خو غصی وږه نه زیب نه کولو. اوداسی ښکاریده لکه چه غصه ئے مصنوعی وه. خو طبیعت ئے بیا هم ښه نه وو. ماته ئے مخ راواړولو.

"تاسو خلقو ته نور څوک هډ وخه ښکاړے نه؟"

ما اوخندل اوپه خدمت کښی مِ ئے په ادب سره عرض اوکړو.

"خوږے زه نه پوهیږم چه ځما څه غلطی ده. که ځما په دے ځاے څوک کښینی. نو هم زه تیار یم."

چه اودریدم نو چا رچاپیړه سور لوهم نر مونږ په خبرو کښې
د لچسپۍ واخسته. هغوے ورته اووے "پتهان ښه سړی دی
دے، چاته څه نه وایے. تر تون سے غلی شه."

دَدے نه پس گاډے کښې مونږ یوبل ته زیات نزدے شو.
دسور لو حُما بابت خیال بدل شو. او تر لاهوره مونږ یکدم رونړو
خپلو کښې په خبرو اترو راورسیدو.

لاهور

ماښام لاهور ته اورسیدو. دگاډے ملگر وحُما نه او
دهغوے نه رخصت واخستو. دالږ سفر دومره زیات خوږ ووچه
حُما نه غوښته چه سفر نور هم اوږد شوے وے.

نیدرهوټل

پرځوند کښې حُما دلاهور دگنلو اول حُل وو. په ریلوے
سے نه پوهیدم: تانگی والا نه مِ اووے. چه ماهوټل ته اوړسوه.
هغه یوهوټل ته بوتلم. چه دوړ نور توسره نه پوهشوم چه تانگے
والا خپل خوږ برخیره کړو. یوسړے راپاسیدو. او تانگی
سره اودریدو. نه پوهشوم چه دا حُمادا وسید وبندے.

د هوتل سړے تانکی والا نه پوښتنه اوکړه چه مسافر به د هوتل خرڅ برداشت کړے شی . نو هغه ورته جواب ورکړو . یار دګرمئ موسم دے یو کټکی ورکړه . غریب سړے دے د ډے ته به پروت وے . دوه روپئ به درکړے .

ځما په جیب کښی د پینځو سو روپو نوټ پروت وو . دوه د ے م ګاډے کښی خوړلی وه . پرواه م نه وه . ؟ یو هلک ځما خورځین واخستو او برا مده کښی ے کیښو . زه هم ورکوزشوم .

زه پوهشوم چه ښیره به د غه دوه روپئ د مالک نه پرته ځان د پاره اخلی . یوزور شلیدلی کټکی ے راته بهر په میدان یوے ډډے ته وا چولو . او یوزور بالښت ے هم راکړو . دګرمئ موسم وو . د جولائی اخرے ورځی وے . خو باد لګیدو . ځکه شپه م په آرام تیره کړه .

ګوره کان م په کټکو والی

سحر ځما په ویښا ځما د پاره چاے راغله . ښیره نه چه ما د چاے د پاره اوښیل . نو هغه خو شحاله شو . ځما د پاره ے غسل خانه کښی او به کیښودے . صابن نه وو . خو او به ډیرے وے . او ما ښی په ځان وا روړلی . په غسل م طبیعت ډیر ښه شو . تولیه نه وه .

وکړه چه ما هغه خپلې ډېرو ورځو غوستې جامې بیا واغوستې
اوخپلې جامې مې په بدن چه لوندې شوې . نو ما نه پکښې
ځان وپوښه . مه ښکاره شو . ولې دګرمۍ په برکت نه راوچې شوې
نو یا عم ښه وبد بوی نه تلو . چه د غسل خانې نه راووتم
نو د کټ په ښاخ خپاره دچای وړو کې مې اوږه سره
ګرمې پرته وه . نږه پرې کښینا ستم . اوچای څښل مې شروع
کړل . ما ښې توسټ خوړلی وو . چه د شادۍ یو ګټکی خماسره
نا پوهیوتو . حیران شوم . خو خیال مې اوکړو چه چا به په خطا یې
راغوړ ځولی وی . لږ ساعت پس په یوځای دوه ګټکی راغلل
په یو په ملا اولګیدم . بل مې په پښو کښې پریوتو . په شام اوکتل
ګوره ګان په کوسو ناست وو . چای مې څښله . خماد مخ اړولو
سره داسې په قلاره خپلې خپلې چای مې څښلو باندې اخته شو .
چه تابه وی . چه هغوی د ګټکو نه هډ وخبر نه دی . خو ما
ګوره ګان پیژندل . خما په پاکۍ شین سر د هغوی د پاره
داسې کشش اولو . چه هغوی بې ځه تو کونه شو پای کیدلی . کرسۍ
مې تاو کړه . هغوی ته مې مخ کړو . نږه کښې ویریدم . چه ځما بنیه
به د هغوی د پاره بله د لچسپی پیدا کړی . خو چاره د بنه
وی . نو ګټکی مې ړاکسذار نه کړل .

دسمبر ۱۹۳۷ء دی سپرنٹنڈنٹ

خان بہادر عبدالعزیز سرہ ملاقات

گورہ کان لاړل . زړہ م په قلار شو . ناشتہ م خوړله . په دے کښی دوہ شرفا راوړ سیدل . اود هغوے په خاے کښینا ستل . زړہ په چاے مشغول وم . یوکس دهغوے نه راپاسید واو ما تنه راغی . راته ے اووے :

"اے . تمکو صاحب بلاتا هی ."

موقعہ نازکہ وہ . خوزړہ هیشہ تیار وم . ما ترخپله لاړ معلومہ وہ . ما پوښتنه اوکړہ " صاحب کدهر هی ؟"

دواړہ ورغلو . خان صاحب خما نه پوښتنه اوکړہ

" تم کهال سی ایے هو ؟"

ما ورله جواب ورکړو " هم بمبئی سی آیا ."

خان صاحب : تم بمبئی کیا کرتی گیا تها ."

زړہ : خان کی ساتهه کی جائیگا ."

خان صاحب : کون خان ؟ تمهارے خان کا کیا نام هی .

زړہ : " میر گل خان "

خان صاحب : " تمها راگهر کهاں هی ."

نرہ : "شربت خیل - کوهاټ کا ضلع هی ۔"

خان صاحب : "تم کونسی قبیلی سی هو؟"

نرہ : "هم خټک هی ۔"

حُما خوش نصیبی وہ چہ خان صاحب واقف نہ وو۔ غمہ وخت پورے ماکوهاټ نہ وولیدلی ۔ اوحُما خیال دے چہ تولہ ضلع کښی شربت خیل کلی نشتہ ۔

خان صاحب : "تم کبھی ایران گئی هو ۔"

نرہ : "نہ صاب هم ایران خو نہیں دیکھا ۔"

خان صاحب : "تم ایرانی جوتا کهاں سی پیدا کیا ۔"

پہ دے خبرہ حُما د پښو نہ دم اوخت ۔ ښہ پوهیدلم چہ ایرانی پیزار کراچئ کښی لرے کول پکار وو ۔ خو پیسی نہ وی ۔ خدمِ کړے وے ۔

"اے خو بمبائ مین بہت هی ۔" ماسمدستی جواب ورکړو او دے جواب د هغہ تسلی اوکړہ ۔

خان صاحب : تمہارا خان کہاں هی ؟

نرہ : هم کا خان دلی مین هی ۔"

پہ دے خبرہ خان صاحب هغہ بل تر حُما بابت اووی چہ دا څوک شاہ شپږ سرہ دے ۔ پیرزدہ دے ۔ اومانتے دے تلو اشارہ اوکړہ ۔ نرہ خپل حُاے تہ بیوتہ راغلم ۔ لږ انتظار م اوکړو ۔ اوبیا د هوټل نہ اووتم ۔

حاجی مِعراج الدّین

ماسره د. ۵ وخت کښی د پینځو روپو نوټ جیب کښی پروت وو. په آسانه کورته رسیدے شوم. خو په چوستو کورته تلل راته سمه خبره ښکاره نشوه. زړه کښی مِ خیال اوکړو چه دلاهور مهاجرینو کښی خوک کنټل پکار دے. چه دوطن سیاسی فضا راته معلومه شی. نو بیا دکور دحاله به خان خبر کړم. دد و وکالو راسی دکور دحال نه خبر نه وم. د دی اوږد سفرا و سیاحت نه خما په زړه کښی دښار و نو دکنټلو یو عادت پیدا شوے وو. زړه کښی مِ خیال اوکړو چه دلاهور دکتو موقعه هم ده.

بغیر د واقفیت نه په یوه دډه روان شوم. کلمه یو خوا کلمه بل خوا. چه په یوه لویه دروازه ورننوتم. ارو ستو معلومه شوه چه دا دِلی دروازه وه. زړه زور پنبا رته ورننوتم. د بازار یو خوا بل خوا نظر چوم. بازار کښی هر رنګ خلق ګرځی. زړه هم ورکښی روان یم. یو دکان باندی د دوکاندار اوګاهک چغې ما وریده. شه ګورم چه حاجی معراج الدین چه د چاپه پُل جوړشوے تقریر کښی اسراف

کښې مهاجرین ناطول ته روان شوے وو، کوم بحث کښې بنځې وو. ورښه ورغلم. مخکښې لاړم اوبیا بیرته پرے راغلم او شوم. سندرې اوپیژندل چې حاجی صاحب دے. د دوکان مخکښې اودریدم. دحاجی په مانظر پریوت. خریدار ے پریښوده، چوچنی ستړی ے په ما را بنخی کړے. یوه کریفه ے اوو- یسته. اوراته غاړے وتو. خریدار حیران شو. حاجی زړ پریښوم. ړوستو شو. اوخریدار ته داسی مخاطب شو.

"اوګوره روره! غاړیان داسی وے. سبه ورته اوګوره! دده دیدن ثواب دے....."

"چپ شه حاجی صاحب ما ے خبره پریکړه."

حاجی پوهه شو چې څه چل دے. خریدار ے رخصت کړو. ماورته اووے چې حاجی صاحب ځما سامان هوټل کښې پروت دے. دده په اوږه وحاجی صاحب دوکان بند کړو.

"څه چې څوچې سامان کورته راوړو. هوټل کښې څوک زیات دے." حاجی صاحب جواب راکړو.

دواړه هوټل پلو روان شو. چې داحاطې پاتې تک ته ورغلو حاجی صاحب پښه نیولی شو. "دیکهو بهائی! وه سامنی شیطان بیټهی هیں."

حاجی نظر بنځ کړے وو. ما ته ځان سړ، وخوږ ولواو.

هغه مخکښی اوښه ورپسی ګرځند ے کړند ے ،پستنه شو.
"حاجی صاحب دا څوک دے." ما ورته پوښتنه اوکړه. ځکه
چه داهم هغه سړے وو. چه ورځند ے ئے ورته په مخه اخستی
وم. اونارک سوالات ئے راباند ے کړے وو. خوحاجی
صاحب په مخه نه غلیدو. اوښه ورپسی وم. چه پیر لږے لاړو
نوحاجی صاحب اودریدو او راته ئے خبر اکړو:
"داخان بهادر عبدالعزیز ډ سی. آئی. ډے. مشردی
موښ مهاجرین چه کوم ډروس نه بیرته راغلی وو. دده دلاسه
دیر پریشانه شوے وو."
ما چه ډ سی. آئی. ډے نوم واوریدو ونو د حاجی صاحب ډ
تینښتی اهمیت راته ښکاره شو. کله کله به حاجی صاحب تداوو ئیل
چه حاجی صاحب ځما پیر بنا یسته خوږجین هوتل کښی پاتی
شو. ځه چه لاړشو. اوخوږجین تر ے راواخلو. حقیقت داوو
چه خوږجین په بله وجه هم پیره بنا یسته وه. په هغی کښی ډ
ایسایان تصویر وو. اوځما تاریخی زړه ے خیرنی جای پکښی
پرتی وے. چه هغو کښی ماد شیرانه تر بوشهر سفر کړے وو
یوبل قیمتی شی هم پکښی وو. هغه یو باکټ بک وو. چه هغی
کښی ماد سی واقعات په یونوے نړۍ لیکلی وو. چه هغی بلند ے
حکومتونو اعتراض کولی شو. نړۍ ماد ځانه جوړه کړے وه. ټ
هغی ا.ب.ج.د. نوے وو. اوځکه پرے بی د ما هم نه پوه

اسانه څوک نه شوپوهیدے .

خوحاجی صاحب نه هوتل ته پرے نه ښودم .

حاجی صاحب اودلا هورنور مهاجرین درنګارهنګ مصیبتونو سره ښکار شوے وو . روس کښی هم دوے سخت سخت تکلیفونه زغملی وو . ما ددے ذکر په دے کتاب کښی کړے دے . دروس مصیبتونو زپلی چه پیښور ته راواوړسیدل . نوسی . آی . وے . خپل ټولیل کښی واخستل . یوځاے کښی ځے را پښه کړل .

ځما دلا هور اتلسو ورځو په دوران کښی مختلفو مها- جرو ما ته د پیښور اولا هور کړاونه بیان کړه . چه زه لږ خفه کړم . خو د غلامئ نه آزاد یدل اسان کار نه دے . دهغه د آزادے تاریخ چه تحریر کښی راوستی شی . نو دنیا ته به معلومه شی . چه څومره ځلمی ځدے مقدس مقصد دپاره د خپل وطن نه قربان شوے . او څومره خلقو په خوشحالئ خپل ارام راحت پریښی دے . اوپه رضا داسی مصیبت کښی ځے ځان ښلولی دے . چه په اوږد وبه ځے پردے هم خفه شی

ما به دے دوستانو نه هم دغسی جواب ورکړو . چه آزادے د ځمکو کوڅو نه نه دے . چه په سر په ډوډے کیږے . مادر وطن به هله آزادے مومی . چه ځلمی فرزندان ځے په ځان راحت ارام کړے . او دا زادے قیمت ادا کړے .

مونږ به تول غلی شو. حاجی صاحب به پکښی روشان اسویلے اوکړو.

"نه معلوم هم اس وخت زنده هونګی. یا مرے هوئے هونګی؟"

حاجی صاحب په یومبئ ورځ ماته یوه خبره په زوردارو ټکو کښی اوکړه،

"یاد لره! د سرحد سی. آئی. ډے به تا ضرور نیسی. د سودا عبدالحمید به هروخت تر په ځله کښی وے.. اودهر محمد جی نه ستا. د سلطان محمد خان. گوهر رحمان خان. فیروزالدین منصور اوایم این. اے مجید پوښتنه کوله.

لاهور کښی د سلطان محمد بابو انتظار

په دومبئ ورځ نږه حاجی صاحب کورته بوتلم. ځمائے نه میلمستیا اوکړه. ما ورته دنږه حال ښکاره کړو. چه ځماذ هغه کړه اوسیدل، دخطرے ډک دے. جماعت کښی شپه ستیرول به ماد خطرے نه بچ ساتی. هغه ځماسره اتفاق اوکړو. مونږ دا صلاح هم اوکړه، چه سلطان محمد بابو صاحب نه تار وهل پکار دے، چه د هغه په صلاح سره نږه د لاهور نه

د مخکښی تلو پر وګرام جوړ کړم ۔

سلطان محمد بابو د نوښار چها وخړے کښی یوه لویه انقلابی هستی وه ۔ ده یوه مدرسه جوړه کړے وه ۔ چه د هغی نوم "مدرسه تعلیم القران" وو ۔ روستو دا مدرسه اسلامیه هائے سکول نوښار شو ۔ ما په دے مدرسه کښی تعلیم حاصل کړے وو ۔ اوخکه سلطان محمد بابو صاحب سره م ښه واقفیت وو ۔

سلطان محمد بابو د نوښار د قومی تحریک مرکز وو ۔ ده دَدے مدرسی نه علاوه یوه یتیم خانه لوئے نوښار کښی چلوله ۔ دا یتیم خانه تیکنیکل مډل سکول وو ۔ په یو وخت بابو صاحب یوهائے اویو مډل سکول چلولو ۔

بابو صاحب پنجابی وو ، خو په ګرانی کښی نوښار ته راغلی وو ، اود فوجی انګریز انو په کلب کښی بابو وو ۔ خکه ورته بابو صاحب وئیلی شو ۔

بابو صاحب دا مدرسی په چندو چلولی ۔ هرکال به په مسلم کلب کښی د سیند په غاړه یوه لویه جلسه کیدله د تحصیل شته من خلق اودچها وخړے تجارت پیشه مسلمانانو به دے جلسه کښی په اخلاص چندے ورکولی ۔ دے مدرسه کښی ما د شپږم جماعت نه تر نهم جماعته پورے تعلیم حاصل کړے وو ۔ اود بابو صاحب په ما دیر اعتبار وو ۔

بابو صاحب انگریز دښمن وو. کله کله به چې د مسلمانانو فوج په مارچ اولید و اوښه به مسلح وو، نو ده به ځان سره اووست.

" اګر صرف تمهاری توجه راه راست پر آجائے بتو پهر کیا کمی هی "

بابو صاحب سره وستو د نوټونو مقدموکښی قید شوے وو. خو د نوښار د خلقو، کومو چې هغه پیژندل و. د اعامه راغے ده. چې بابو صاحب دَ دے خلاف قانون حرکت نه هیڅ فائده ځان د پاره نه ده حاصله کړے. په دومره لویه پیمانه تعلیمی کوششونه د دغه نوټ سازۍ برکت وو.

بابو صاحب به همیشه په مزګ خوب کولو. هغه پیسې پاڼې سره ډیر وو. تر ټول عمر ئے واده نه وکړه. د نوښار تعلیمی حالت کښی هغه انقلاب راوستی وو. د ننه تعلیم یافته نوښاري د بابو صاحب د پاره د تعریف نه بغیر نور څه په شریه نه راولی. د بابو صاحب خپل بال بچ نه وو. د مسلمانانو بال بچ به ئے خپل بال بچ ګڼلو.

مسجد وزیر خان

د بابو صاحب سلطان محمد په انتظار کښی لاهور کښی څو ورځی تیرول ضروري شوے. بابو صاحب هم د

پولیس په نظر کښی وو. ما او حاجی صاحب صلاح اوکړه .
چه نړه به شپه په مسجد وزیرخان کښی تیروم . او وړخ
چه کوم خای راغله .

دجولای اخرے شپی وړځی وے . دوړځی به سخته
گرمی وه . چرته داوده کیدو خای نه وو . غرمه به ما دلاهور
نه بهس داونولاسنده تیرولو . دوړځی خوب نه شوکیدے
ما بنیره پریښی وه . سر به م په پاکئ کلولو . اوبند قمیص م
اغوستی وو . بنه طالب سنگار یدم . لاهور کښی م اتلس
شپی تیرے کړے . او تولی م چما تونو اوزیارتونو کښی تیری
کړے . په لاهور کښی خما شپی وړځی د حاجی صاحب په
پروگرام تیریدے . هرخای چه به نړه وم . د دوړی او
دچاے په وخت به حاجی صاحب موجود وو . ه دوړی به
هغه پخپله اخستله . او په ما به ئے چه او خوړلو . نو دبل وخت
خای خایکی به ئے ما ته پرگوتر کړه . او بیا به رانه رخصت شو .

سره خما د صفا هدایا تو چه هیڅوک خما نه خبر نه شی
حاجی صاحب به په دویمه دریمه دوه څلور مها جر خما
سره یوخای بل خای یوخای کړل . لاهور کښی د دیر وملگرو
خما ملاقات اوشو .

د جهانګیر مقبرې کښې د آمونو صحبت

ما به حاجي صاحب منع کولو، چې ملګرے منځبرو وه. هر ملګرے پسې به سې. آئې. دے منډې لګیدلې وے ګډسې نه چډزه ښکاره شم. خو حاجي زما د ملګرو د مینې دګ وو. یوه ورځ ځه کورم چې تاج الدین ے ماته راوستو. دا ځوان ما په روميي ځل جلال آباد کښې لیدلی وو. دے تر بخارا ځما ملګرے وو. بیام باکو کښې لیدلی وو. دین زما ورسره وے وو. خو بربنګ وو. زه ترے ویریدم. خو هغه ځما سره دین مینه ظاهره کړه. حاجي صاحب سره ے لوئے جنګ اوکړو.

"حاجي صاحب تا خو میاں صاحب قتل کړو."

تاج الدین. سره ځما او د حاجي صاحب د منع کولو نه کوزه بوتلم. زه هم تنګ شوے وم. او مې منل. د تاج الدین سره مې په آرام شپه تیره کړه.

بله ورځ تاج الدین د جهانګیر مقبرے ته بوتلم. د آمونو یوه پیچئ ے ځان سره واخسته. او حاجي صاحب او د وه نور ځمانا- اشنا کسان ے هم راسره ملګرے کړل. باران شوے وو. ورځ ښه وه. د سحر خوږه غلی وه. خو تاج الدین غلی کله پریښوم ماته

بہ ساعت پہ ساعت ئے خلہ راچولہ

"مولوے جی! تسی بہ ہی، بزرگو، کچھہ فرماؤ۔" تولہ ورئ موپہ خندا خوشحالی تیرہ کړہ۔

خو پہ ومئ شپی ما مسجد وزیرخان کښی تیرے کړے وے۔ دورئ ربی آرامئ اوگومئ پہ وجہ بہ وختی ما بختن ما تہ خوب راغلو، او اودہ بہ شوم۔ حاجی صاحب پہ پہ ومئ ورئ خما تعارف د جمات د ملا سرہ داسی اوکړو:

"مولوے صاحب! دا پتھان طالب علم دے۔ دسرحد نہ راغلی دے۔ دلتہ خما یو خو ورئ میلمہ دے۔ اوبیا بہ دیوبند تہ ځی۔"

دَدے تعارف نہ ما تہ غټہ فائدہ اورسیدہ۔ نزہ بہ جماعت کښی سلا ستم۔ کہ مونئ بہ ہم کلہ نا کلہ اونہ ھم کړو، نو ملا صاحب بہ اعتراض نہ کولو۔ او خما سرہ ئے بند سلوک کولو۔ ما بہ کوشش کولو چہ د ما بختن او بخہ مونئ باقاعدہ۔ گی سرہ ادا کړم۔ خو کلہ کلہ بہ زہ دیر ستړے وم۔ او جماعت کښی بہ د ما بختن د ما نحہ نہ وراند ے اودہ شوم۔ ملا صاحب یو ورئ د بخہ ما نحہ پسی حاجی صاحب تہ شکایت اوکړو۔

حاجی صاحب دا خو رنگ طالب دے، چہ مونئ باقاعدہ گی سرہ نہ کوے؟

حاجی صاحب خدمات وگوډ جواب ورکړو۔ خو ھغہ

خو هغه جواب خبره نوره خرابه کړه . ولی حاجی مشهور سړے وو. او ملا صاحب ئے ډیر عزت کولو . او ځکه نړه بچ شوم . یو ورځ حاجی صاحب ورته اووے : " مولوے صاحب د مجاهدینو د کډاړ دومره پوښتنه مه کوه ."

په دے خبره مولوے صاحب په شک کښی پریوتو بل وخت چه حاجی صاحب نه وو. نو ځما نه ئے تحقیقات شروع کړل .

" تاسو کله جهاد کښی شامل شوے یئ ."

ما ورله جواب ورکړو . چه نړه طالب یم . د جهاد سره م کار نشته . حیران شوم چه ملا صاحب م که مجاهد او که نه نو نقصان ئے نشته . خو هسی نه چه دوی ئے م پولیس ته حواله کړی. پس ډډغی نه مسجد ونړ خان رانه پاتی شو.

پولیس راپسی دی

تاج الدین هم نړ پوه شو. چه نړه په دے طریقه غیر محفوظ یم . ځما په بار بار ویناړضا شو . او پس د صلاح مشورې نه نړه وتی دروازې سره نژدے د بنار نه بهر چارچاپیره چمن کښی یو زیارت کښی یو منجا ورته حواله کړم خو بله ورځ ترهیدلی

راغلو چې پولیس په مسجد وزیرخان ورننوتو اوستاپو نښتنه
کوے . څه چې ښاریانو تنوځو . ساعت ګډوډے لږه په دے
زیارت هم حمله اوکړے .

مادښاریانو بهر پاتې کیدل غوږه کړل . مانبام نزدې وو
تاج الدین دَباد شاهی قلعې خواته بوتلم . دَچرسیانو دا دے
سره ګے پریښودم . ما سخت پورے خو دچرسیانو مانه خیال
نه وو . خوچې سترګې ګے راسره اولګیدے . نو په مائے دمخبر
آواز اوکړو . ماخپله صفائے شروع کړه . اوورته م اووے چې
زه صرف شپه تیرومه . خوځما دَمنت جواب ګے په ګنځلوسره
اوکړو . اووهلوته راپاسیدل . چرس ګے دومره څښلی وو
چې ځان ته ویریدل اوپه شا تښتیدل .

دغه ځامے کښې شپه تیرول ما ته ښه ښکاره نه شوه .
خولې مے هم نه شوم تلی ، چې د ملګرو نه به خطا شم . لاچارم
دَچرسی خانی نه یوے ډبے ته ارخ اولګولو . سحر وختی تاج-
الدین راغی . مادشپې حال وربیان کړو . دوئی نه هسې هم
ناقله وم . تاج الدین دَراوے سیند غاړے ته بوتلم . دیوآم
دوئی لاندے م وربخ تیره کړه . مانبام تاج الدین زه بادشاهی
جماعت ته اورسولم .

دا سخت مونځ چې مو اوکړو . نو تاج الدین دجماعت
یومل زم ته ځما سفارس اوکړو چې د مولوے صاحب به جماعت

کښی شپه تیره کړه . خوهغوے موښ ته د جماعت پریښودو
دپاره اووے .

بابو صاحب سره ملاقات

تاج الدین تجویز پیش کړو، چه دهغه کور ته تلل پکار
دے شپه به په آرام سره کړه ، اوبیا دورځی به کتی څو ما
منظوره نه کړه . د جماعت همو باره درسره وه . دهغی خوا کښی
سملاستم . تاج الدین د تلو تیاری کوله . څه خبره نه راسره
کوله چه په دے کښی څلور کسان چمن ته راننوتل . اویوے د دے
ته پریوتل . ما تاج الدین ته وروروخندل او ورته م اووے چه
دا کسان زموښ غوښتے خانه بدوش معلومیږے . خوهغه خما
په څله لاس کیښودو . زه هم غلی شوم . په زړه کښی مې خیال کولو
چه ظالمان پولیس راورسیدل . کښی تاج الدین به ولی دا سی
ویریدلی وو .

تاج الدین ورورو ورنږدے شو او دیوکس سره ئے جوړ
ناڑه اوکړل . ما ته ئے آواز اوکړو . زه هم ورنږدے شوم .
څه کوے چه بابو صاحب سلطان محمد دے . ورته غاړه وتم .
یوساعت دواړه ولاړ وو . زړه ښه شو . موښ یوبل سره ښه

لیدل . خونږه مې جوړ شو چې زه په امن شوم . د بابو صاحب
دیر ساعت غږ نه ختو بیا ئې خپلو ملګرو ته رخصت ورکړو . مونږ
درے واړه پاتې شو . بیا هم بابو صاحب خاموش وو . لږ
ساعت پس ئے تاج الدین ته اووے . چې ته هم لږے کښینه .
هغه هم لږے لاړو . اونږه اوبا بو صاحب پاتې شو .

" اووایه کلمه " بابو صاحب حیرانونکی طریقې باندے
ځما نه پوښتنه اوکړه .

مابې د پس وپیش نه کلمه اووئیله

" دَ نږه نه مسلمان یې ؟ " دویمه پوښتنه ئې را نه اوکړه
ما اوخندل او اوم وے : " الحمد لله "

" بس دغه کافی ده . مونږ تعاون کولی شو " بابو صاحب
صفا خبره اوکړه .

بابو صاحب چې ځما ند سفر مختصر حالات واوریدل
نو ماته ئے ځماد پوښتنې په جواب کښې وے ، چې محمد اکبر
قریشی ئے صرف درے کاله قید کړے دے . او اصلاح
ئے را کړې ؛

" ځه نیغ کورته لاړ شه . او د پتیدو کوشش مه کوه ،
پت څوک نه څرګند څوک د سیاسی کار د پاره
بهتر دے . "

دلاهور نه کلی ته روان شوم

په اتلسمه ورځ دبابو صاحب په صلاح دپلتنې د سپاهی ورځې مې واغوسته. عبد المجید ځې ماسره کړو. چه نږه محفوظ وطن ته اورسم. ماعبد المجید تردجیب نه پینځه روپی راواویستی چه ټکټ پرے واخلی. خوهغه واند خستی. ځما ویناعبث وه. هغه په ټکټ پیسی ورکول گناه گنړله. قریب وه چه دلالہ موسیٰ په سټیشن موټر نیولی شوے وے. خوبلی دبی تراوتښتید و.

عبد المجید سپین دگار دانوکوټ اچولی وو. هرځای به ئے د ټی ټی سره ستړمشی کول. اودا به ئے ټا بتوله چه نږه ټی-ټی یم. په دے طریقه به ئے هغه تیرویستو. دلالہ موسیٰ په سټیشن چه ټی ټی نه موټر نه ټکټ اوغوستو. نوعبد المجید، ورته اووے "ځما اوستا خوبرادر ے ده. ته به ځما لحاظ کوے اونږه به ستا کوم."

ټی ټی ورته لاند ے باند ے اوکتل خوغږ ئے اونکړه چه هغه دگاډ ے نه بهر اووتو نوعبد المجید هم ورپسی ورته اووتو. خوبیا نږه نږه راننوتو. ما ته ئے آواز اوکړو. چه راوځه

نړه ئے بلی کاډ ے (ډبی) تربوتلم ۔ بله کاډ ے کښی ما هغه د لاسه اونیولو ۔ هغه د پینځو روپو نوټ م ورته اونیو ۔ چه کله ته بې ټکټه ځی خو ځما د پاره خو ټکټ واخله ۔ ماولی شو مو ے ۔

عبد المجید قسم او خورو "نړه انګریز سره ډخپله لاسه امداد نه کوم ۔ دا کاډ ے نړمونږ د ے ۔ نړمونږ په وینو زوو جو ړ شوے د ے ۔ تړم پرینږ د ه ۔ نړه ذمه وار یم "

عبد المجید د نوښار د اسلامیه هائے سکول د هید ماسټر عبد الرحیم و ارهٔ وو ۔ دبا بو صاحب خاص مرید وو ۔ د نوښار چها وڼ کښی ورو کی لوے شوے وو ۔ او په سکول کښی ئے نړمونږ سره تعلیم حاصلولو ۔

ځما د ورو کوالی هند و جماعتی

ماپیژنئ

ډپند ے اوکیمبل پورټ مینځه ځما یو هند و دوست چه په ورو کوالی کښی ځما سبقی وو ۔ ما ته را ننډ ے شو ۔ سلام ئے را باند ے واچولو ۔ ما ځان ناغړ ضه کړو ۔ ما د فوجی سپاهی ورد ئے اغوستی وه ۔ هغه تړم نه کتل ۔ خو هغه پرے نښودم ۔ را ننډ ے شو ۔ را ئے پوښتنه اوکړه :

"میاں صاحب تُسی هونر بولد ے بهی نهیں "

"هم کا تم کا نہیں جانتا۔ تم کون ہے" ماورلہ جواب ورکړو۔

هلک برچ وهل۔ بل ملګرے ئے په اوږه اووهلو۔

"دیکھہ ندیار! میاں هونڑ سیا نڑ دا بهی نہیں"

"راسره نزدے کښینا ستا وبیا ئے پوښتنه اوکړه:

"اب تم کهان سی ارهی هو اور کهاں جاتی هو"

"هم فرانس کا آئیگا۔ اوتیراه کا جائیگا" ماورته نیغ نیغ اوکتل۔ هغه حیران پاتې شو۔ ملګرے ته ئے اووے: "یار څه اووایم۔ بالکل د اکبر شاه په شان دی۔"

"تن وے وکنه۔ ته ئے څه کوے" ملګرے ورته جواب ورکړو:

خوپشاورے (دادده نوم وو) نړه کلهاسی پریښودم۔

هغه خماد ورو کوالی یار وو۔ موږ پرانس ے مدرسه کښی یوځاے سبق ویلی وو۔

"یار بالکل اکبر شاه دے۔ نړه ئے آوازپیژنم"

ورورو کلی ترانزدے کیدم۔ دخیرابادا واتک ترمینځ یوسړے راجوخت شو۔

"روره! چرته لحی"

ماورلہ جواب ورکړو چه تیراه ته څم۔

"گوره ورورهاد پښتنو وطن دے۔ که تاسو سره پرتوب وے وائے غوښتنه۔"

ما نہ د پښو وکی نہ پر توپ ږا او ویستو او د جانګی د دپاسه م واچولو. نه پوه شوم. پښتا نه په بربنډو پښو خفه کیږي.

زیارت کښی فخر قوم سره شپه

ګاډے د اکوړے په سټیشن کوز ماسپښین او درېدو عبد المجید بی حماد صلاح نه په پلیټ فارم کوز شو. او ما ته ے د کوز ید و اشاره او کړه.

د اکوړے نه د زیارت دوه ځلور میله کښی دے. پیاده روان شو. مولانا عبد الرؤف د ولئ چه حما نه دوست وو مخی ته راغی. نه ور سره تیر شوم. خو اوے نه پیژندم. زیارت ته اور سیدو. د ما ښام د ما ځر وخت وو. فخر قوم میاں جماعت کی د نمانځه په تیاری کی مشغول وو چی موږ جماعت ته ور ننوتو.

فخر قوم مشهور سړے وو. قومی تحریک کښی سنه سنګاره وو. هغه عبد المجید نه پیژندو. خو عبد المجید ور ته غاړه وتو. غلی ے ور ته حما بابت کښی اووے، چه د دے مولوے صاحب به ر وستو تاسو ته تعارف کوم. دے بابو صاحب را لیږلی دے. فخر قوم سنجیده سړے وو. لکه د

تجویز کارۂ انقلابیانو صرف سرا وخوړل ولو. خان ئے ناغړضه کړو. موږ موښځ اوکړو اوبیا ئے تړدے دیرے تلاړو. ناوخته چه دیره خوښی شوه. نوموږ ده دیوالړ بیل کښینا ستو. دباږ صاحب دسلام نه پس ئے وړسره ځما تعارف اوکړو. او د زیارت دتلو مقصد ئے صرف دا اوښنیلو چه ما بدرښو ته په خیرت اوړسوے.

مائے په خبرو کښی مداخلت اوکړو چه زه کلی ته په آسانه رسیدے شم. صرف شپږ میله دے. خو زه داغواړم چه اول زیارت ته ځما څوک خپلوان راا وبللی شی چه زه کور ته درسیدو نه وړاندے دحالاتو نه واقف شم.

کلی خما دَرسیدونه اول خبرو و

ماد ما سختن چهتئ اولیکله چه زیارت تړدے وښا ما زیګر څلوریجی ل ځما رو ړی اولاځما ماما دے ځما سره ملاقات اوکړے. نور څوک د ے نه راځی.

ما فخر قوم میاں صاحب ته تاکید اوکړو: چه داچهتی چه هر څوک اوړے، نو بدرښو ته به خپله ځی. او بی ځما د روړیا ماما نه به ے بل چاته نه وړکوے.

صباحُما ماما پورہ پہ خلورِ بجی پہ مقررِ خائے موجود
وو. خویوازے نه وو. حُما مور او نورے خپلی خپلوانی
زنانه هم ورسره راورسیدلی وے.

ماته د ماما نه معلومه شوه، چه تول کلی خبرد ے
اوچهتئ اول صدرته رسیدلی وه. هلته زمونږ د کلی
یوسړے ته ئے درکړے وه. چه زمونږ سره ئے وراته وه.
حُکه هغه یوبل سړے ته ور کړے وه. چه د هغه نوم کدے وو.
کدئے ښه سړے وو چه څوک به ئے لیدل. زیږے به ئے پرے
کولی. د ماما نه مِ ورته معلومه شوه. چه حُما رور او پلار د وا-
ړه پیښور نه تللی دے. نو هغه ور پسی په کاډے کښی پیښور
نه لاړو.

ماما مِ دا هم اوویل چه زمونږ د کلی دوستان زمونږ
خائے ته د مبارکئ د پاره هم راغلی وو. او د ماما په وینا
مِ غلی شول. او پته نخله بیرته لاړل.

زه ډیر خفه شوم. حُما تجربه د دومره اوږد سفر
نه روستو په خپل کور کښی ناکامیابه شوه. زه او ما ما مِ د
زیارت نه کلی ته راروان شو. نمر پریوتی وو. چه د بیت-
الغریب او زمونږ د کلی بدر ښو ترمینځ ریوه تانګه راروانه
وه. زه دلاړے نه دے ته ور وبولو ترکښینا ستم. چه
تانګه تیره شوه. حُما نه مخکښی شل ګامه کښی ما ما سره مِ

تانکه اودریده ه. خما پلار او رورتر ے راکوز شو. ما مام ورته زه اوښودم. د مختصر ملاقات نه پس خما پلار او رورتانکه کښی بیرته کلی ته راغله. خو زه او ما مازی دکلی نه نمر خاته خواته راتاو شو. او پت کلی ته داخل شو.

شپږم کلی کښی ستیره کړه. خو راته معلومه شوه چه کلی کښی پاتی کیدل محفوظ نه دے. د پوره حال معلومولو د پاره داضرورت ده، چه زه څو ورځی دکلی نه بهر اووسم. دے د پاره سحر وختی زه تنکی ته لاړم. یوه ورځ م هلته تیره کړه. اوبله ورځ معراجی ته لاړم. دوه ورځی م هلته تیرے کړے.

زه بندی شوم!

دکلی رسید و په څلورمه ورځ زه خپله دیره کښی ناست وم، چه په خړ وجا موکښی یوسړے زمونږ دیرے ته راننوتو.

"میاں صاحب! مونږ دا تو میا شتو راسی ستا په انتظار کښی یو. ته خو دیر ایسا رهشوے."

د خړ وجا موسړے خما سره په بیله کمره کښی کښینا ستو اوخبرے مے راسره کولی. په دے کښی مے یو

پاکټ بک وااویستو او لیکل ئې شروع کړل
خما فوراً خیال کښې راغلل چه دا څوك د پولیس
افسر دے. روستو معلومه شوه، چه هغه
د پیښور سی.آئی.ډے مشهور تهانیدار
شیخ عبدالعزیز وو، چه روستو خان بهادر او
ډے.اېس.پی شو.

اوډ ځلی دومره خوښ وو چه خما دا خیال
وو، چه دا خما ډ پلار یا ډ رور څوك دوست
دے. خو په نږه ددغی برعکس وو. او ځکه نږه
دوه کاله اوولس ورځی نږهم مسافر پاتی شوم. خو
فرق دا وو چه اوس نږه ډ بدبختو نه پښځه ویشت
میله فاصله باندے د پیښور جیل کښې بندے ګ.

PROPERTY OF ACKU 33267

دچاپ شمیر: ۳۰۰۰، توکه
دچاپ کال : ۱۳۶۶
دچاپ ځای: دولتی مطبعه - کابل
شماره : ۱۸۷



ACKU

Download from:aghalibrary